د پښتو ادب تاریخ

مؤلف:

ذخیره محمد اقبال مجددی لاهور

صدیق الله «رښتین»

۱۳۳۳

دوهمه طبع

کابل

د کابل په عمومي مطبعه کښې چاپ شو

137006

دا کتاب داعلیحضرت محمد نادرشاه
پاك اوسپیڅلی روح ته تقدیم شو

دا کتاب د معارف د وزارت له خوا د ۱۱ او ۱۲ صنفو نو
په تعلیمی پروگرام کښی منل شوی دی

Marfat.com

(الف)

ددې کتاب دمضمونونو فهرست

مضمون	مخ
دپښتو دادب تاریخ	ـ ۱
پښتون	ـ ۱
پښتو	ـ ۳
ادبی اصطلاحات	ـ ۵
اوله دوره له ۱۰۰ هـ ـ ۷۱۸ ع څخه	
تر ۹۰۰ هـ ـ ۱۴۹۴ ع پوری .	ـ ۹
ددې دورې ادیبان او شاعران	ـ ۹
ددې دورې شاعرانې ښځې	ـ ۲۰
ددې دورې پښتانه نثر لیکونکی او مورخین	ـ ۲۱
ددې دورې پښتانه ادب پالونکی پاچاهان	ـ ۲۳
دېخوانو سوریانو کورنۍ	ـ ۲۳
دملتان دلودیانو کورنۍ	ـ ۲۴
غزنویان	ـ ۲۴
دغوریانو کورنۍ ـ دخلجیانو کورنۍ	ـ ۲۵
دپښتو دملی ادب ځینې برخې	ـ ۲۶
(۱) دپښتو افسانې، نکلونه او ناري	ـ ۲۶
(۲) دپښتو لنډۍ	ـ ۲۹
(۳) دپښتو متلونه	ـ ۳۰
ددې دورې نظم ته یوه عمومي کتنه	ـ ۳۱
ددې دورې نثر ته یو نظر	ـ ۳۱
دوهمه دوره له (۹۰۰ ق ـ ۱۴۹۴ ع	
تر ۱۱۰۰ ق ـ ۱۶۸۷ ع پوری	ـ ۳۲
ددې دورې لیکوال او شاعران	ـ ۳۲
د دوهمې دورې پښتانه مؤرخین	۵۱.
ددې دورې ځینې عالمان او شاعران	
چه آثارئې نه دی پیداشوی	ـ ۵۲
ددې دورې پښتانه پاچاهان	ـ ۵۳
ددې دورې ادب ته یوه عمومي کتنه	ـ ۵۴
دریمه دوره له ۱۱۰۰ هـ ـ ۱۶۸۷ ع	
څخه تر ۱۲۵۰ هـ ـ ۱۸۳۴ ع پوری	ـ ۵۶

مضمون	مخ
ددریمې دورې شاعران او لیکوال	ـ ۵۶
دهوتکو دکورنۍ او ددوی ددربار شاعران	ـ ۶۲
دهوتکو دکورنۍ شاعرانې ښځې	ـ ۷۰
ددې دورې یوه ډله نامشهوره شاعران	ـ ۷۱
سدوزی شاعران پاچاهان	ـ ۷۲
داحمدشاه او تیمورشاه په زمانه کښې	
پښتانه عالمان او شاعران	ـ ۷۳
په دې دوره کښې دخوشحالخان اولاده	ـ ۷۹
دتاریخ مرصع نثر	ـ ۷۹
دحافظ رحمت خان کورنۍ	ـ ۸۱
ددې دورې نور شاعران او لیکوال	ـ ۸۳
ددې دورې هغه شاعران چه دکلام	
نمونې ئې نه دی لیدلی شوی	ـ ۸۹
ددې دورې تاریخی کتابونه	ـ ۹۰
ددې دورې پښتانه پاچاهان	ـ ۹۱
دهوتکو کورنۍ	ـ ۹۱
دپښتو پالنه	ـ ۹۲
دسدوزو کورنۍ دپښتو دادب پالنه	ـ ۹۲
په دې دوره کښې پښتو څنګه وه ؟	ـ ۹۴
دنظم کتابونه	ـ ۹۷
څلورمه دوره له ۱۲۵۰ ق ـ ۱۸۳۴ ع	
څخه تر ۱۳۵۰ ق پوري	ـ ۹۸
دڅلورمې دورې شاعران او لیکوال	ـ ۹۸
ددې دورې هغه شاعران چه	
دارمستتر ښودلی دی	ـ ۹۹
ددې دورې نور شاعران او لیکوال	ـ ۹۹
دغزلچیانو ډله	ـ ۱۰۳
یوه ډله نامشهور شعران	ـ ۱۱۵
ددې دورې دځینو نورو شاعرانو نمونه	ـ ۱۱۵
په دې دوره کښې دپښتو ځینې نور کتابونه	ـ ۱۱۷

Marfat.com

مضمون	مخ
ددې دورې عالمان بزرگان او نخنی نوراديبان	۱۱۷ـ
په پښتو کښې دخارجيانو تاليفونه	۱۲٤ـ
ددې دورې پښتانه پاچاهان او ددوی پښتو پالنه	۱۲۷ـ
ددی دورې ادب ته يوه کتنه	۱۳۰ـ
پښتو مرکه	۱۳۲ـ
اوسنی دوره له ۱۳۵۰هـ - ۱۹۳۱ع	
ښخه راپه دې خوا	۱۳۳ـ
اعليحضرت محمد نادرشاه شهيد او محمد ظاهر شاه	۱۳٤ـ
پښتو او پښتو پالنه	۱۳٤ـ
پدې دوره کښې دپښتو چاپ شوی کتابونه	۱۳٦ـ
دلغاتو کتابونه ـ گرامری کتابونه	۱۳٦ـ
تاريخي کتابونه	۱۳۷ـ
ادبی کتابونه	۱۳۸ـ
فقه اللغه اوفيلولوژی	۱۳۹ـ

مضمون	مخ
له خارجی کتابو ښخه ترجمی	۱۳۹ـ
درامې	۱۳۹ـ
تعليمی	۱٤۰ـ
په صوبه سرحد (پېښاور) کښې پښتو آثار	۱٤۰ـ
دموجوده عصر دځينی ليکوالو او شاعرانو نمونه	۱٤۲ـ
دپېښاوردليکوالو نمونه	۱٤۳ـ
موجوده نثر	۱٤۳ـ
موجوده نظم	۱٤٦ـ
دپښتو دعاموالی سببونه	۱٤۸ـ
يوڅو ياد داشتونه	۱۵۰ـ
د اشخاصو نومونه	۱۵۲ـ
دپښتوپه باب دمستشرقينو کتابونه	۱٦۹ـ
دوه نور ياد داشتونه	۱۷۰
مأخذونه	۱۷۰ـ
دموجوده وخت يوڅونور کتابونه	۱۷٤ـ

بسم الله الرحمن الرحيم

د پښتو د ادب تاريخ

د لوی ښتن په نامه د پښتو ادب د يو لنډ تاريخ په ويلو پيل کوو، مګر ښايي چه لومړی پښتو او پښتون وپېژنو، بيا ادب او ادبيات په معنی ځان پوه کړو، او بيا له هغه په مطلب لاس پورې کړو.

پښتون

د پښتون قوم د آرين له قومونو څخه يو قوم دی چه د دې وطن اصلي او پخواني اوسېدونکي دي. د تاريخ بيانونکي وائي چه ټول آريانيان پخوا يو ځای اوسېدل او يوه ژبه يې درلوده. دوی تقريباً څلور زره کاله (ق، م) له خپل اصلي مسکن يعنې د آمو درياب له سرچينو څخه (۱) راو کوچېدل او په باختر (بلخ) کښې يې يو ښکلی مدنيت جوړ کړ، پس له هغه يې د خپرېدو په وجه له دغه ځايه هم لېږدېدنه شروع کړه، ځينې د هرات پرخوا د پارس خاورې ته ولاړل، ځينې د هندوکش په شمالي او جنوبي لمنو کښې د آباسيند تر غاړو پورې خواره شول او ځينې تر آباسيند پورې وتل او د هندوستان په ځنګلو کښې آباد شول. اولی برخې ته ايراني او دوهمې برخې ته مرکزي او باختري او دريمې برخې ته هندي آرين وائي. دغه مرکزي او باختري آريانيانو ډېرې قبيلې درلودې، چه يوه مهمه ډله يې (بخت = پکت = پښت) وه.

په ريګويد کښې چه د هندي آرينو يو مشهور کتاب دی او په (۱۹۰۰ ق، م) يا (۱۴۰۰ ق، م) کښې ليکل شوی دی د آريانيانو د لسو قبيلو د جګړې ذکر راغلی دی. په دوی کښې يوه قبيله د (پکت = پښت) په نامه ياده شوې ده. دا رنګ په ويدا کښې «پکتها» د پکت د پاچا په ډول هم څو ځايه راغلی دی.

د يونان لوی مورخ (هيرودوت) چه په (۴۸۴ ق، م) کښې تېر شوی دی، د دې قوم نوم اخستی دی او وائي، چه د (پکتي = پکتويس = پکتيس) غښتلي او مړني خلق د (پکتيکا = پکتيځا (۲)

---

(۱) - که څه هم د آريانيانو په اصلي ځای کښې اختلاف دی، مګر دا نظريه نسبتاً قوي ده.

(۲) - دا نوم بيا وروسته په پښتونخوا بدل شوی دی، او د شپږم قرن په ادبياتو کښې په همدې شکل ليدل کېږي ښکارندوی د غياث الدين غوري معاصر وائي:

پښتونخوا ښکلي زلمي چه زغلي هند ته + نو اغليه پېغلې کاندي اټڼونه

Pushto Academy
University of Peshawar

(۲)

پاکتیا) په مملکت کښې اوسي . بطلیموس هم چه د یونان یو جغرافیه دان ؤ د پښتنو هیواد (پکتین) بللی دی چه د پکتیانو مسکن ؤ . د یورپ ډېرو مستشرقینو او پوهانو لکه (لاسین - ترومپ - ګریرسن) او نورو ، دویدا پکهت او د یونان پکتویس) له موجوده پښتون سره تطبیق کړی دی او دا خبره ئې منلی ده چه دغه د (پکت = پښت ، پکتویس) قوم چه دری نیم زره کاله د مخه ئې ذکر راغلی دی همدا موجوده پښتانه دی . صرف یونانیانو د خپلې لهجې د تغیر موافق (پکتی = پکتیس = پکتویس) لیکلی دی . په دې ډول د الفاظو ، کلمو او نوموړو اوښتلو له مخه هم د فیلالوژی علماؤ دا خبره منلی ده چه د (پښت = پکت = پخت = بخت - بخدی = پخدی) نوموړنه ټول یو اصل او یوه ریشه لري .

او د پښتون (۱) کلمه هم له دغو څخه راوتلی ده نو له دې تاریخی او نورو دلیلونو څخه دا نتیجه راوځی چه پښتانه د آریائیانو یوه مهمه څانګه ده ، چه لومړی په بخدی (بلخ) کښې اوسېدل بیا له هغه ځای څخه د خپل نامه (بخت = پکت) او خپلې ژبې سره د پښتنخوا په علاقو کښې خپاره شول او دغه خپل نوم ئې تر دې وخته پورې وساته .

د مغلو د زمانې تاریخو نو پښتانه بنی اسرائیل بللی دی ، مګر دا خبره صحیحه نه ده ځکه چه بنی اسرائیل د یعقوب (ع) اولاده ده او له هغه نه وروسته پیدا شوی دی او د « پښت » قوم نوم تر هغه د مخه په (ریګوید) کښې ذکر شوی دی . پښتون ته په هندوستان کښې (پټان) وایی چه غالباً (د پښتان) کلمه ئې اړولی ده . د غزنوی پاچاهانو د وخت او نورو راوروسته تاریخو کښې ورته افغان ویلی شوی دی .

ګریرسن وایی : چه د افغان (۲) نوم پر پښتنو ایرانیانو ایښی دی اصلاً دوی د « پکهت » قوم دی چه په (ریګویدا) کښې ئې ذکر راغلی دی مګر په خپله پښتانه بې له پښتون څخه بل نوم نه پېژنی او نه ئې ځانته وایی نو یقیناً ویلای شو چه دا نور نوموړنه پری د نورو له خوا ایښودل شوی دی . دا مو وویل چه د پښتون قوم له ډېر پخوا څخه موجود او د دې وطن زاړه اوسېدونکی دی خو دوی د اسلام نه را وروسته ډېر مشهور شوی او د اسلام د قبلولو نه پس ئې د اسلام د پاره ډېر خدمتونه کړی دی د اسلام په ابتدا کښې سړبن ، غرغښت او بیټ یا بیټنی بابا د پښتنو مشهور نیکونه تېر شوی دی دا درې واړه ورونه وو او ډېر اولاد لري . ځینې پښتانه د اسلامی فتحانو په لښکرو کښې په فتحه هندوستان ته تللی او بیا اکثر هم هلته مېشت شوی دی .

دوی په هندوستان کښې اوږې لوئې پاچاهی هم کړی دی لکه چه بهلول لودی ، سکندر لودی شیر شاه سوری ئې مشهور پادشاهان وو .

بیا په دوی پسی د مغلو د پادشاهی دور راغی پس له هغه په قندهار کښې د هوتکو پښتنو پاچاهی شروع شوه چه حاجی میرویس خان ئې نوموړی مشر ؤ .

---

(۱) - دا سی معلومېږی چه دویدا ده « پکهت » اصلی تلفظ « پښت » ؤ په اول کښې « پښت » قوم او « پښت تون » ئې د اوسېدو ځای ته ویل کېده ځکه چه (تون) ځای ته وایی .
مګر وروسته دا کلمه پس له تحقیقه په مفرد صورت د دغه قوم د پاره استعمال شوه چه جمع ئې پښتانه راځی دا هم کېدای شي چه « ون » د نسبت د پاره له (پښت) سره یو ځای شوی وی .
(۲) - اوغان په ارمنی ژبه کښې دغرو او سېدونکو ته وائی .

دهو تـکو په وخت کښې ایران هم د پښتنو په لاس کښې ؤ بیاد سدوزو وارراغی او مړی پادشاه ئې احمدشاه بابادی چه تر هند وستانه ئې د پښتنو یوه زبردسته پاچاهي جوړه کړی وه، آخر په (١٢٤٢ه) کښې د پښتنو پاچاهي محمد زیو ته ورسېده ددې کورنۍ او مړی پاچا امیر دوست محمدخان وو. دا پاچاهي تر اوسه پوری په دغه کورنۍ کښې چلیږي.

په موجوده وخت کښې پښتانه له دریاب آمو نه تر اباسینده پوری، هرځای آباد او خواره واره پراته دی، ټول په یوه ژبه پښتو غږیږي د یوه دین اسلام تابع دی. په عاداتو رواجونو او خویونو کښې ئې یوله بله هیڅ توپیر نشته. ددوی د هر سړی د پراخ تندی، ښایسته څېرو غنمی رنګونو، تورو وېښتو غټه توره، مړانه زړه ور تیا، غیرت، ناریتوب، عـزم اراده، ایمانداری، دینداری، صداقت، وفا او نورلو ړاو سپېڅلی خویونه څرګندیږي پښتا نـه پخپله آزادی۔ اوخپلوا کۍ مین او په خپله خاوره اوخپل وطن له سره تېر دی دغو ټولـو صفتونو ته دوی پښتو، پښتونولی، او پښتنواله وایی او هر پښتون پردغو او صافو پېژندل کیږي.

پښتو

انسانان د یو بل د پوهولو د پاره یوه مهمه وسیله لری چه ژبه ده ژبه هغه الفاظ او کـلمات دی چه دهغو په واسطه هر اولس د خپلو مقاصدو تعبیر کوی او یو بل ته پری خپل مطالب ښکاره کوی، څومره چه په دنیا کښې ملتونه او اولسونه ډېردی نو هغو مره ئې ژبې هم زیاتی او ډېری دی: د دنیا په ژبو کښې ځینې داسې دی چه الفاظ ئې څو را لنډه او یو هجائی دی او د اسم فعل او حرف فرق ئې نه کیږي، دې ژبو ته مجرد دی ژبې وایـی لکه دافریقا د زنګیانو یاد چین او سیام ژبې.

ځینې نوری دی چه هغه هر راز وسیع تعبیرونه لری او الفاظ ئې له څوهجاو څخه مرکب دی په دې کښې ځینې د تصریف او اشتقاق قابلیت نلری او په بنا کښې ئې تغیر نـه راځی لکه ترکی او مغلی ژبې ـ او ځینې د تصریف او اړ واو قابلی دی چه یـوه کـلمه پکښې ډېر شـکونه پیدا کوی، دې ته متصرفه یعنی او ړیدونـکی ژبی وایی.

دا پیاد وې شعبی لری یوه شعبه ئې سامی او حامی ژبی دی، چـه آرامی، کـلدا نـی، عبرانی، لیبی، حبشی ژبی له دې شعبی څخه دی. بله شعبه ئې آریایی ژبې دی آریائی ژبې بیا په خپل منځ کښې دوې څانګې لری چه یوه اروپائی او بله ایشیائی څانګه ده دادواړې څـانګې په ږغونو او الفاظو کښې یوله بله فرق لری او په دی لحاظ د اروپا آریایی ژبو ته (سینتم) او د ایشیا آریایی ژبو ته (ستم) وایی. فرانسوی، انـګلیسی، جرمنـی، روسی او د یورپ ټولی مشهوری ژبی د (سینتم) له ډلی څخه دی او سانسکریت، پرا کریت، زند، اوستا، پهلوی، زړه پارسو، پښتو په (ستم) کښې داخلی دی لکه چه معلومه ده ټـولو آریائیانو دمخه یوه متحده ژبه درلوده چه غالباً (آریاك) نومیده داژبه تقریباً تر(٢٤٠٠ق م) پوری موجوده وه که څه هم اوس ئې څه معلومات نشته، کوم وخت چه آریائیان له یو بل نه جلا شول نو پس له څه مودې ئې ژبی هم سره بېلی شوی او د هرچا لهجه ځانله یوه مستقله ژبه شـوه

Marfat.com

له دغې ژبې څخه سانسکریت، اوستا اوزند فارسو جوړې شوې دي، پښتو هم له دغې اصلي آریایي ژبې څخه راوتلې ده. ددې خبرې یو مهم علمي دلیل په پښتو کښې دپخوانو آریائي الفاظو وجود دی لکه چه پخپله د (آریا، آرین، آریانا ویجه - آریاورشه) کلمو ریشه په پښتو کښې تراوسه موجوده ده دکتور جیگر الماني وايي چه آرین له (ار) څخه مشتق دی چه په سانسکریت کښې د اصل او بنیاد په معنی دی دارنگه (آر) دکر نی په معنی هم دی.

نو (آرین - آریا) چه دواړه نسبتي صفات دي د شریف او اصیل او یاد کرونکي اوزارع معناگانې ورکوي، په آریائیانو کښې زراعت یو شریف کسب و نو زارع ته شریف هم ویل کېدای شي، لکه چه څرگنده ده (آره) په پښتو ادب کښې د اصل په معنی راغلی ده ملا الف هوتك (۱۰۱۹ هـ) وايي (دي له آره، وښاغلي - څه که تو په ویر نتلي) ددغې کلمې سره دپښتو دگرامر مطابق د نسبتي صفت علامې (ین، یا) لگېدلې دي او (آرین ، آریا) ترې جوړ شوي دي لکه له خاورې څخه خاورین اوله جل څخه جلیا، بله د (آریانا ویجه) کلمه ده چه آریائیانو به خپل مسکن او ټاټوبي ته ویله دا کلمه په اوستا کښې هم راغلې ده وايي چه (اویجه) په ننگرهار کښې اوس هم دمځکې او سر زمین په معنی مستعمله ده بله د (آریاورشه = ورته) کلمه ده چه دهندارینو دخپل مسکن دپاره استعمالوله د (ورشه) کلمه اوس هم د آریه ؤ په مرکز او اصلي وطن کښې د (ورشو) په شکل موجوده ده چه (مرتع او چراگاه) ته وايي، هر کله چه دوي دېو نه گلې اوزراعت سره مینه درلوده نو خپل وطن به ئې یوه ښکلې ورشو بللو، دا کلمه شاید بیا په هند کښې په (ور ته) بدله شوې وي، له دغو کلمو څخه دپښتو رابطه له اصلي آریائي ژبې سره څرگندېږي دپښتو په باب کښې د یورپ پوهانو او مستشرقینو هم خپلې پلټنې ښکاره کړې دي دوي ټول په دې متفق دي چه پښتو یوه آریایي قدیمه ژبه ده، ترومپ وايي چه پښتو د آریایي ژبو یوه مستقله څانگه ده چه نه په ایراني او نه په هندي څانگو گډېږي دا نظریه فان سپیگل، دکتر هارنل او گریر سول هم منلې ده والتر بیلیو وايي چه پښتو دسانسکریت خورده راوړتي دپښتو او اوستا او سانسکریت د کلماتو ترمنځ پوره مشابهت او نږدېوالی ثابت کړی دی دارنگه پروفیسر کلپره او دورن روسي هم پښتو یوه آریایي ژبه بولي او وايي چه دا نه په الفاظو کښې دسامي ژبو سره څه مشابهت لري او نه په قواعدو کښې دار مستتر هم په دې نظریه دی مگر دی ئې دزند او اوستا سره نږدې بولي خلاصه دا چه ددېرو دلیلو او تاریخي سندونو له مخه دا خبره ثابته ده چه پښتو یوه زړه آریایي مستقله ژبه ده او د اوستا او سانسکریت سره دخورولۍ نسبت لري (۱)

اوستا او سانسکریت دوې مشهورې آریایي ژبې دي چه داولې مرکز بلخ او ددوهمې مرکز هندؤ، پښتو په کلماتو او لغاتو کښې د سانسکریت او اوستا سره ډېر نږدېوالی لري او ډېر لغات ئې سره شریك او یو شان دي. مثلاً (شپه - انگار - ځمکه - سپین) چه په سانسکریت کښې هم (شپا - انگار - جما کا - سپېته) بلل کېږي دغسې نور ډېر لغات ئې هم سره شریك دي.

---

(۱) پدې مخو کښې دپښتو ادب د تاریخ له اومړي جلده استفاده شوې ده چه دحبیبي لیك دی

ښتو د «ښت» قوم ته د نسبتي واو په زياتوالي منسوبه شوې ده ، او د اقاعده په ښتو کښې عامه ده لکه فارسو چه فارس او د يګانو چه ديګان ته منسوبيږي ، مونږ د مخه ويلي دي چه « ښت او ښتون » يو شي دي نو په دې لحاظ ويلای شو چه ښتو د ښتون قوم ژبه ده او د اقوم په هندې ژبه ښتندل کيږي ، له کوم وخته چه تاريخ د دې قوم نوم ساتلی دی له هغه وخت نه ورسره د دې ژبې وجود هم ضروري دی د اخبره د مخه ثابته شوه چه ښتون يو آريائي قوم دی چه په ريګويد کښې ئې ذکر راغلی دی نو په دې اساس د ژبې تول پوهان ښتو يوه قديمه آريائي ژبه ګڼي او د اوستا او سانسکريت (١٤٠٠ ق ، م) هم زولې ئې بولي دوی وايي چه ښتو هم د اوستا او سانسکريت پشان د آريائيانو د اصلي ژبې يوه څانګه ده .

مګر دا په يقين نه ده معلومه چه د ښتو قديمې اوزوړ شکل څنګه و ؟ ځکه چه د هغه وخت کمه تحريري نمونه په لاس نشته غالباً د اسې معلوميږي چه د زمانې په تيريدو ئې خپل زوړ شکل بدل کړيدی او دې موجوده شکل ته رارسيدلی ده . داهم په يقين ويلای شو چه ښتو په دې موجوده شکل د اسلام نه د مخه هم موجوده وه . ځکه چه د اسلام په اول کښې چه کم اشعار ويل شوي او زمونږ لاس ته را رسيدلي دي هغه ډير پاخه او متين دي او په يوه داسې ژبه دلالت کوي چه بايد لنږ ترلږه يوه يا دوه پيړۍ د ې پرې او ښتي وي .

ادبي اصطلاحات

ادب : د عربو په لغت کښې د پوهې ، زيرکۍ ، بلتې او د هر شي د اندازې د ساتلو په معنې راغلی دی او په اصطلاح کښې ادب پر دوه ډوله دی يو نفسي ادب دی چه اخلاقي فضيلت او ښيګړې ته وايي او بل درسي ادب دی چه له دې څخه مطلب په ښه طريقه ويل او ليکل خپل مطالب ښکاره کول دي .

دادب علم : دادب علم په اوله معنی د اخلاقو له علم څخه عبارت دی . او په دوهمه معنی دادب علم هغه پوهنه ده چه د ويلو ، ليکلو او ښې وينا ډولونه راښيي او د نظم او نثر حالات ښه والي بدوالي او نوري مرتبې بيانوي ، په دې لحاظ هغه ټولې پوهنې چه سړی ته د وينا ډولونه په ښه طريقه ليکل او ويل زده کوي د هغه ادب علم بالـه کيږي . هر کله چه نظم او نثر د علومو د بيان ، د تاريخ د ليکلو ، او د پوهولو را پوهولو دوې لويې لارې دي . او په دې واسطه خپل مطالب او خيالات ښکاره کول دادب غايه او غرض ګڼل کيږي . د جديد ادب په مفهوم کښې د انتقادي روح ارل هم داخل دی .

اديب : اديب په لغت کښې يوه زيرك ، رابلونکې او د هرشي د اندازې ساتونکې ته وايي .

او په اصطلاح کوي اديب هغه څوك دی : چه په ادبي علومو کښې د پوهې خاوند وي او د دغو علومو په اصولو برابر نظم او يا نثر ويلی او ليکلی شي ، اديب بايد يو د اسې ملکې څښتن وي چه د هغې په واسطه ښه او بد ، ټيټ او لوړ کلام و پيژندلی شي او په خپله هم قادر وي چه له هرې معنې څخه په پوښه ، خوږ او خوندور عبارت تعبير وکړاندی . لنډه دا هغه څوك چه د هغه تحرير او تقرير د لسانی علومو په اصولو مطابق وي اديب باله شي .

Marfat.com

ادبي علوم : هغه علوم چه دژبې خدمت کوي او دهغو په واسطه دنثر اونظم په فن کښې مهارت پيدا کيږي ادبي اويالساني علوم دي . دادب پوهانو داورو سته علومو ته دادب علوم ويلي دي : (لغت ـ صرف ـ اشتقاق ـ نحو ـ معاني ـ بيان ـ عروض ـ قافيه) دا اته ئې اصول دي (خط ـ انشا ـ تاريخ ـ دشعر فن ـ محاضره) او داسې نور ئې فروع بلل کيږي .

ادبيات : هغه نظم اونثر چه دادبي علومو پراساس او برابر او خوندوروي هغو ته ادبيات ويل کيږي يعنې هغه متلونه ، خوازه اشعار ، اوبيانونه ، غوره وينا گانې چه په هره زمانه کښې ئې دژبې پوهان او اديبان وايي او يائې ليکلي دژبې ادبيات بللکيږي ، ادبي علوموته هم ادبيات وايي .

دادب اقسام : ادب پردوه قسمه دي يوته نظم اوبل ته نثر وايي ، دمشرق خلق نظم ته شعر هم وايي مگر ديورپ دخلقو په نظر کښې شعر عام دی ، او ځينې نثرونو ته هم شامليدای شي .

شعر : شعر په لغت کښې پوهې او خبر بدو ته وايي او په اصطلاح کښې هغه خوندور کلام دی چه وزن او قافيه ولري . اروپايان هر هغه خوندور کلام ته چه ديونبه خيال او تاثير لرونکی وی شعر وايي که څه هم وزن او قافيه ونه لري دشعر غوره برخې دري دي .

۱ـ اخلاقي شعرونه : هغه دی چه موضوع ئې پند ، نصيحت او يا داسې نور وي لکه داخون درويزه دمخزن ځينې برخې ، درحمان بابا اوخوشحالخان په ديوانو او داسې نورو ديوانونو کښې هم اخلاقي اشعار شته ځينې اخلاقي افسانې چه په هغو اخلاقي غرض ليکل شوي وي هم په دې قسم کښې داخليږي .

۲ـ وصفي اشعار : هغه دي چه شاعر په کښې دطبعي شيانو اودزړه دجذباتو نقشه ويستلې وي لکه ديسرلي ، ژمي ، اور اوسپوږمۍ او دعشق دحالاتو بيانونه درحمان بابا ، خوشحالخان اونورو ټول عشقي اوغنائي شعرونه په دې برخه کښې داخل دي . دپنگار نوی مشهوره قصيده چه ديسرلي صفت دی هم يووصفي شعر دی چه يو بيت ئې دادی :

ديسرلي ښکلو نکې بيا کړه سنگارونه بڼاری واوړل په غرونو کښې امبلونه

۳ـ قصصي اشعار : هغو ته وايي چه شاعر په کښې تاريخي واقعات بيان کړي وي يا ئې ځينې خيالي قصې په نظم کړې وي لکه په فارسي کښې شهنامه او په پښتو کښې دريا خان ، محمودنامه ، دغازي محمد جان خان قصه يا دملا نعمت الله دقصو کتابونه . اروپايان اخلاقي اشعار په تعليمي (ديداتيك) اشعارو کښې داخل بولي او يوبل قسم اشعار لري چه هغو ته تمثيلي (دراماتيك) وايي تمثيلي اشعار هغه خوازه او داچسپ مضامين دي چه دنمايش اوښودنې په صحنه ، يعنې په تياترونو اوسينماگانو کښې وايه شي او مقصد ئې عملاً ښودل کيږي . دا قسم اشعار لا تر اوسه په پښتو کښې غوره مثالونه نه لري .

نثر : په لغت کښې پاشلو ته وايي اوپه اصطلاح کښې هغه کلام دی چه دوزن له قيده څخه خالي او آزاد وي . نثر دمعنی په لحاظ په دري قسمه دی .

ـ هغه خبرې اترې چه مونږ ئې ديو بل سره دپوهولو راپوهولو دپاره کوو .

Marfat.com

۲ - خطابه (وینا) هغه تقریر او وینا ده چه پوهان او مشران ئې داویو مهمو مقصدو او داورېدونکو د قانع کولو دپاره په مجلسو او ټولنو کښې کوي دا قسم نثرونه که څه هم په پښتو کښې ډېر ویل شوي دي ، مګر تحریري نمونې ئې په لاس نشته په اروپا کښې خطابه د ادب یو مهمه نوعه بلل کیږي او ډېر اقسام لري لکه سیاسي ، دیني ، حقوقي ، علمي ، ادبي او داسې نوري خطابې .

۳ - تحریر (لیکل) هغه نثر دی چه د علمونو ، مطلبونو او کتابونو د لیکلو دپاره استعمالیږي تحریري نثر بیا ډېر قسمونه لري لکه تاریخي ، قصصي ، مذهبي او نور په پښتو کښې د تاریخي نثر مثال د افضل خان تاریخ مرصع او د قصصي نثر مثال د منشي احمد (ګنج پښتو) او د مذهبي نثر مثال داخون قاسم فواید الشریعه او نور دي .

د خلکو د حالاتو بیان (بیوګرافي) هم په تاریخي برخه کښې شاملیږي نن ورځ انتقاد هم د ادب یو مهم جز ګرزېدلی دی وائي چه تنقید باید د یو اثر اصلي روح او ماهیت ته متوجه وي مګر دا برخه په پښتو کښې لا تر اوسه کمه ده د لفظ په لحاظ نثر په دوه ډوله دی یو هغه دی چه قافیه نه لري ، دا قسم آزاد او بې قافیې نثر بلل شي بل هغه دی چه د قافیې التزام پکښې وي یعنې جملې ئې په آخر کښې سره قافیه داري وي دې قسم ته قافیه دار او مسجع نثر وائي مګر کامل نثر ئې اول قسم دی په موجوده وخت کښې ټول لیکونه ، کتابونه او اخبارونه په همدغه آزاد نثر لیکل کیږي د قافیه دار نثر نمونه دا ده :

ښې ویلي دي رحمت دې وي په ده ، مرګ به ورشي وسړي وته ناګهان .

نشته په دنیا کښې د سړي تل د تله مقام ګوره د دغې زمانې آدمیان -

نظم : په لغت کښې د مرغلرو پېلوته وائي او په اصطلاح کښې هغه کلام دی چه موزون او قافیه داروي په پښتو کښې د لفظ او ظاهر په لحاظ دوه قسمه نظمونه موجود دي یو هغه دي چه د عربي او فارسي نظمونو په قاعده ویل کیږي او د عربي اوزانو تابع وي دې ته عروضي نظمونه وائي او هغه دا دي (قصیده - غزل - رباعي - قطعه - مثنوي - مربع - مخمس مسدس مثمن - معشر - مستزاد - ترجیع بند - ترکیب بند)

بل قسم هغه دي چه د عربو د اوزانو او شعري اصولو تابع نه وي بلکه ځانله مخصوص طرز او طریقه لري دې ته ملي نظمونه ویلی شي (۱) نومونه ئې دا دي (لنډۍ ، ناره ، نیمکۍ ، لوبه بګتۍ - بدله چاربیته سندره)

متلونه او نقلونه : متلونه او نقلونه د پښتو ادب یوه غوره برخه ده او په نثر کښې داخلیږي متلونه په اصطلاح الفاظو کښې هغه فصیحې جملې دي چه یوه ښه جامعه او پوره معنی ورکوي . په ادب کښې د متلونو د معنی د هغو د منشا او سبب او د استعمال د ځای پېژندنه ضرور ده مثال ئې دا دي (چه څه کري هغه به رېبي - بدعمل د لاري مل)

د ژبې او ادبیاتو تاریخ : په دې باید پوه شو چه هره ژبه د زمانې د تغیراتو تابع ده ، ډېر شیان شته چه د ژبې په بدلون ، ترقي او پرمخ تګ او یا تنزل او ټیټوالي کښې تاثیر لري

(۱) اول قسم ته کلاسیکي او تحریري او دوهم ته رومانتیکي او شفاهي ادب ویلی شو .

چه مهم مهم ئې زمانه، محیط، حکومت او مذهب ګڼل کیږي په دې تغیرونو کښې کلمه، یوه لهجه په بله اوړي، کله نوي لغتونه راپیدا کیږي او زاړه ورکیږي کله یو شان مطلب رواج مومي او کله بل شان نو که چیرې یو سړی له اول څخه د یوې ژبې د حالاتو او تغیراتو بیان راواخلي او د هغې د ترقۍ او وړتیا یا د تنزل او کښته والي ټولې مرتبې د زمانې د تأثیر او د نیټې د ښودلو سره بیان کړي دا د ژبې تاریخ بلل کیږي د ژبې په تاریخ کښې دوه بحثه شامل دي اول ئې د کلمو د پیدایښت او د صیغو د جوړولو او راویستلو بحث دی چه د پښتو فقه اللغه وايي دوهم ئې په ذخیره او ثروت یعنې، په علومو او ادبیاتو کښې بحث کول دي چه د پښتو د ادب تاریخ وائي (۱) د ادبیاتو تاریخ ډېر یو عام مفهوم لري او په عامه معنی د یو ملت د علمي ادبي فکري ترقي او یا تنزل د حالاتو بیان ته د ادبیاتو تاریخ بلل کیږي.

نو په دې اعتبار د ادبیاتو تاریخ د هرې دورې د حالاتو ښوونکی، او د هر ملت د افکارو آینه ده مګر په خاصه معنی د شاعرانو او لیکوالو، کتابونو او آثارو د حالاتو او د ژبې د ادب د دورو بیان ته د ادب تاریخ وايي.

د پښتو تاریخ دوه برخې لري یو د ژبې تاریخ دی چه څه ناڅه د اسلام نه وړاندې زمانې ته راجع دی او بل د ادب تاریخ دی چه څه ناڅه د اسلام له اول وخت څخه شروع کیږي مونږ هم په دې دوهمه برخه کښې غږیږو او بحث مطلب یعنې د ادبیاتو په تاریخ پیل کوو.

په دې برخه کښې به د هر وخت په شاعرانو، لیکوالو، کتابونو، شعر او نظم او د هغو د ترقۍ او تنزل په موجباتو بحث کیږي او هره دوره به بیله بیله ښیو.

د پښتو د ادب دورې او عصرونه

هر کله چه هره ژبه او د هغې ادب د سیاسي، اجتماعي، او دیني حوادثو تابع بلل کیږي او د هر عصر ادب د بل عصر له ادب نه ضرور جلا او بېل وي نو ځکه ښايي چه د پښتو ژبې د ادب تاریخ د زمانې په لحاظ په څلورو دورو وویشو:

اوله دوره: له دوهمې هجري پېړۍ ۷۱۸ ع څخه شروع او تر ۹۰۰ هـ - ۱۴۹۴ ع پورې چلیږي (د سوریانو، غوریانو او لودیانو عصر)

دوهمه دوره: له ۹۰۰ هـ تر (۱۱۰۰ هـ - ۱۶۸۷ ع پورې ده (د بابر او د هغه د اولادې زمانه)

دریمه دوره: له (۱۱۰۰ هـ) څخه تر (۱۲۵۰ هـ - ۱۸۳۴ ع) پورې رارسیږي (د هوتکو او سدوزیو زمانه

څلورمه دوره: له (۱۲۵۰ هـ - ۱۸۳۴ ع) څخه را په دې خوا شروع شوې ده (د محمدزو عصر او اوسنۍ دوره)

---

(۱) تاریخ جلال الدین همائي.

اوله دوره له ۱۰۰ هـ - تر ۷۱۸ ع څخه تر ۹۰۰ هـ تر ۱۴۹۴ ع پورې

موندږ د پښتو د تحریري ادب تاریخ ، د دوهمې هجري پېړۍ څخه شروع کوو ځکه چه د پښتو کم او مړي شعر چه لاس ته راغلي دي هغه په (۱۳۹ هـ) کښې ویلي شوي دي ، نو دادی ددې دورې د شاعرانو په بیان لاس پورې کوو .

ددې دورې ادیبان او شاعران

امیر کروړ جهان پهلوان : امیر کروړ د امیر فولاد سوري زوی دی . امیر پولاد ملك شنسب له زامنو څخه و ، چه په غور کښې ئې پادشاهي کوله ، امیر کروړ په (۱۳۹ هـ - ۷۵۶ ع) دغور په مندیش کښې پاچا شو . دی یو تکړه غښتلی کلك او محکم سړی و په یوه تن به د سلو تنو سره جنګېده نو ځکه کروړ او جهان پهلوان بلل کېده .

پټه خزانه د تاریخ سوري په حواله لیکي « چه دا امیران له پېړیو څخه په غور کښې وو ، او دغه (سور) اولاده ، چه د (سهاك) له پښتو » امیر کروړ د پښتو یو زبردست شاعر دی . وایي چه دی یو عادل ، ضابط سړی او د ښې وینا خاوندو ، او هر کله به ئې شعرونه ویل - هغه وخت چه په جنګو کښې ئې ډېری فتحې وکړې نو یو زبردست حماسي شعر ئې وو ایه چه « ویاړنه » ئې بولي ددې شعر یو څو بندونه دادي !

زه یم زمری پر دې نړۍ له ما اتل نشته - په هند و سند و پر تخار و پر کابل نشته
بل په زابل نشته - له ما اتل نشته

غشی د من مې ځي برېښنا پر میر خمنو باندې - په ژوبله یونم یرغالم پر تښتېدونو باندې
په ماتېدونو باندې - له ما اتل نشته

زما د پر یو پر خول تاوېږي هسك په نمنځ و په ویاړ - د اس له سوومې مځکه رېږدي غرونه کاندم لتاړ
کړم ایوادونه اوجاړ - له ما اتل نشته

زما د توري تر شپول لاندې دي هرات و جروم - غرج و بامیان و تخار بولي نرم زما په اودوم
زه پېژندویم په روم - له ما اتل نشته

پر مروز ما غشي اوني داري د ښمن را څخه - د هریوالرو د پر ځنو ځم تښتي پلن را څخه
ربي زلمن را څخه - له ما اتل نشته

خېلوو کړو لـره اور پېرزوینه کوم - دوی په ډاډینه ښه بامېښه ئې رو زنه کوم
تل ئې ودنه کوم - له ما اتل نشته

پر او یو غرومي وینا درومي نه په ځنو په تال - نړۍ زما ده نوم مې بولي پر دریغ ستایوال

❀ ❀ ❀

دا شعر د پښتو یو ډېر قیمتي ، پوخ او متین شعر دی ، کلمات ئې سهم جن دي ، د پښتنوالي د زړورتیا او شجاعت اصلي خیالات پکښې ښکاره او څرګند دي . وزن ئې هم ملي او د پښتو له خالصو اوزانو څخه دی . د پښتو ډېر پخواني لغات پکښې راغلي دي لکه : اتل - نابغه او پهلوان ، من - عزم اراده ، میرخمن - دشمن ژوبله - جنګ ، یونم . - ځم ، یرغالم - یرغل کوم ، اودوم - سیاس - د ښمن - دشمن ، پلن - پیاده ، زلمن - دلاور اور -

Marfat.com

رحم ؛ پالم = پرورش ورکوم ، دریغ = منع : ستایوال = مداح .

دامیر کروړ دشعر دپوخوالی او متانت څخه ثابتیږی چه پښتو د اسلام ترمخه هم خامخا شعر او ادب دراود ، مگر ترڅو پوری چه بله پخوانی نمونه وی پیداشوی ؛ نو دا شعر د پښتو اومړی شعر او امیر کروړ دپښتو اول شاعر گڼل کیږی . شیخ کته په خپل کتاب «ارغونی پښتانه» کښې لیکلی دی چه امیر کروړ په (۱۵٤ ھ) کښې مړشوی دی .

ابو محمد هاشم : دی په (۲۲۳ھ) کال دهلمند په (سروان) کښې زیږیدلی دی او بیا ئې په (بست) کښې له عالمانو څخه درس ویلی دی . ابومحمد په عربی ، پارسی او پښتو کښې شعرونه ویلی دی دمشهور عربی ادیب (ابن خلاد) شاگردؤ ، او د هغه ډیر عربی اشعار ئې په پښتو نظم ترجمه کړی دی . دده دیوه شعر څو بیته دادی :

دخاوند په لاس کښې چه ئې وینه   ژبه هم به وینا کاندی زر او در همونه
ددرهم خاوندان تل وی په وینا ډونه   ژبور وراه ورکړی وینا ئې اروی
ده وسله که څوک ژبه ور کیږی   درهم ژبه ده که څوک پری کاندی قتالونه

وایی چه ابو محمد دعربی شعرونو دفصاحت او بلاغت په بیان کښې په پښتو ژبه یو کتاب لیکلی ؤ چه د (سالووزمه) نومیده ، دی تخمیناً په (۲۹۷ھ) په (بست) کښې وفات شوی دی .

شیخ رضی : شیخ رضی دشیخ حمید اودی وراره ؤ دشیخ حمید کورنی له (۳۵۱ ھ) څخه تر (۳۹۰ ھ) پوری دهند په ملتان کښې حکومت دراود . شیخ رضی یو نیك سړی او دپښتو ژبې ادیب ؤ . وایی چه دی خپل تره شیخ حمید اودی دپښتونخوا غروته د اسلام د تبلیغ دپاره استولی ؤ هغه وخت چه دخپل تربور (نصر) له الحاد څخه خبر شونو دا شعرئې ور واستاوه :

د الحاد په اور دې تر پلال   گروه دې زمونږ وکوراوه
مو نـږ رو نیلی په زیارته   تا په تـور و تـوراوه
ارغون والی گرو هیدلی   چه دې گوښی الداوه
اودی ستا په نامه سپك شو   که هر څوم ود رناوه
نصره نه مو ئی له کها له   او دی نه ئې په کاوه
زمونږ رغاده ستاله گروهه   دورځلوی په رغاوه

له دی شعره دشیخ رضی رح د دینداری سپیڅلی افکار ښکاره کیږی او ډیر زاړه لغات پکښې راغلی دی لکه = گروه = دین ، وکوراوه = وران کړ ، ارغون = اول . گروهیدلی = معتقد کیدی کاوه = کړه ، رغا = بیزاری ، ورځلوی = قیامت .

امیر نصر اودی : دشیخ حمید اودی زوی دی ، دپلار دمرگ نه ورسته دهغه پرځای امیر شو .

وایی چه دی د ملحدانو عقیدې ته او ښتی ؤ ، دا پښتون پاچا هم د پښتو ژبې ادیب او شاعردی دالاندی شعرئې له «پټی خزانی» څخه را اخلو چه دشیخ رضی د دغه وړاندی شعر په ځواب ئې ویلی دی :

دالحاد په تور تورن شوم   زه ارغون خو ملحد نه یم
زماد ښنه هسی تورا کړی   که ملحد یم د د ښنه یم
له اسلامه نه تر پلمه   تورانو نه په تر پلمه یم

Marfat.com

گروه می هغه ارغونی دی — اوس هم کروړ په ارغونه یم
د لو دی زوی سپنتی یم — د حمید د لوړ کها له یم
دد ښنو و ینا مغبزه — زه لو دی په خو زه یم

په دې شعر کښې هم ځینې پخوانی لغات لکه: تورن = تهمتی ، ارغون = اول ، تورا = تهمت ، کروړ = محکم ، مغبزه = په اوره راغلی دی .

شیخ بیټنی یا بیټ بابا: د پښتنو یو مشهور نیکه دی . سلیمان ماکو په خپل کتاب تذکرة الاولیا کښې وایی چه شیخ بیټنی یو نیك سړی او لوی بزرگ ؤ - د کسې په غره بانډی واسیده ، تواه شپه به د خدای په عبادت بوخت ؤ اودا مناجات به ئی په ډېره زاری وایه :

لویه خدایه ، لویه خدایه — ستا په مینه هر ځایه
غرولاړ دی درناوی کښې — تو له ژوی په زاری کښې
د اسه دي د غرو لمنی — زمونږ کېږدی دی په کښې پلنی
داو گړی ډېر کړی خدایه
لویه خدایه ، لویه خدایه

داته لیز زمونږ اوربل دی — ووړ کور گی دی ووړ بورجل دی
مینه ستا کښې موږ میشته یو — با د چایه مله تله نه یو
هسك اومځکه نغښته ستاده — د مېړو وده له تاده
دا پالنه ستاده خدایه
لویه خدایه ، لویه خدایه

بیټ بابا

بیټ بابا دا شعر یوه ډېره مؤثره او خوږه دعاده ، د پښتو په ملی وزن یوساده اوروان شعر دی ، د پښتو پخوانی خالص لغات لکه ژوی (حیوان) هساك (آسمان) پکښې راغلی دی . مضمون ئې د پخوانو آریانی سندرو پشان دی لکه چه په ریگویدکښې هم د خدای د محبت ، د هغه د پاکی او وا کمنی او د کورنیو او او لادونو د ډېر والی مناجاتونه راغلی دی .

د بیټ بابا د ژوندانه وخت له ۳۰۰ ه څخه تر ۴۰۰ ه پوری تخمین کېږی : دی د پخوانیو غوریانو معاصر دی ، چه له غزنویانو د مخه ئې باچاهی کوله .

سلیمان ماکوواتی : چه د بیټ نیکه وروره او زامن د (کسي) په غره کښې اوسېدل چه اوس ئې د سلیمان غر بولي . د بیټ نیکه دمړګي نېټه او مزار ښه نه دی معلوم ، مګر د ننګرهار په تور غره کښې د بیټ بابا په نامه یو زیارت شته ، او ګمان کېږي چه همدا بیټ بابا به وي .

اسمعیل سړبني : دی په اصل کښې د بیټ نیکه زوی دی مګر ځکه چه د خپل تره سړبن په کورلوی شوی ؤ ؛ نو په سړبن مشهور شوی دی . اسمعیل د (۴۰۰ هـ) په حدودو کښې ژوندی ؤ دی هم لکه د خپل پلار یولوی بزرګ ، عارف ، سترستانه ، او د پښتو ژبې یو ښه شاعر او ادیب ؤ . دده یو شعر سلیمان ماکو په خپله تذکره کښې راوړی دی .

یوه پله خوږه ناره ئې په «پټه خزانه» کښې راغلې ده . دا شعر ئې هغه وخت چه دا کاږوی (خرشبون) ور څخه جدا کېده ؛ ویلی دی چه یو خوبیته ئې دادی .

کږېدونه یون دی مخکښې پلټون دی — له کسي غره څخه ، ځي خرشبون دی
کږه وروره وروره ، خرشبون وروره — ته چه پلټون کړی ، زماویرته ګوره
د خدای دې پاره ، خرشبون یاره — چه هېر مونکړې زموږ کهول واده
زړه مې ریږېږي ، یارمې پېلېږي — پلټون ئې اوړدی ، ځان پرې سوځېږي

❀ ❀ ❀

خرشبون : د سړبن زوی دی . پټه خزانه د پخوانو تاریخونو په حواله لیکي چه دی په (۴۱۱ هـ) په (مرغه) کښې وفات شوی دی . (۱) دا زمونږ اوله نیکه هم د پښتو یو ښه شاعراوادیب ؤ او تل به ئې دخدای عبادت کاوه . کوم وخت چه دی دا سمعیل څخه جلا کېده یعني د کسي له غره څخه غوږي مرغې ته تلونو دا سمعیل د شعر په ځواب کښې ئې د مربع (ځلورځیز) په ډول یو خوږه سوزناک شعرووایه ، د غه شعر په پټه خزانه کښې راغلی دی چه دسر بندئې دادی :

پیلتانه ناره مې و شوه په کور پاندې — نه یوهېږم چه به څه وي پېښ په ودانئ
له خپلوانو به بېلېږم په سرو سترګو — دواړه سترګي مي په وینو دي ژړاندي

❀ ❀ ❀

دادواړه شعرونه د پښتو خالص اشعار او په ملي وزن دی . په دې اشعارو کښې د پخوانیو آریانانو دخپلوۍ او دوستۍ پاک احساسات ایدل کېږي اوداترې څرګندېږي چه زمونږ نیکونو د بېل سره دزړه مینه دراوده او د بېل په پلټون به ئې سوزناک اشعار ویل .

شیخ اسعد : پلارئې محمد نومېده ؛ دی دا میر محمد سوري ، همعصر اوهغه ددبارشاعر ؤ ، په غور کښې او سېده او هلته ئې د سوري خاندان په پاچاهۍ کښې ښه عزت دراوده ، شیخ اسعد په (۴۲۵ هـ) کال په بغنین کښې وفات شوی دی د شیخ کته روایت دی : «چه شیخ اسعد د پښتو یو زبردست ادیب ؤ او ډیر ښه اشعار به ئې ویل» ده دا میرمحمد

---

(۱) وائي چه خرشبون دری زامن درلودل (کاسي ـــ کند ـــ زمند) دوی هم په (مرغه) کښې او سېدل مګر بیا ورو سته د کاسي اولاده کسي غر او پېښین ته ، او د کند او زمند اولاد د ننګرهار او پېښور اتوته ولاړل او هوری مېشته شول .

Marfat.com

سوري په وفات چه د سلطان محمود غزنوي په هند کښې مړ شوی ؤ، یوه سوزناکه قصیده (بولله) ویلې ده، دا قصیده په پښتو کښې یوه اوله بې جوړې قصیده ده چه یو څو بیتونه ئې دلته راوړو:

د فلک له چارو څه وکړم کوکار   زمو لوی هر گل چه خاندی په بهار
هر غټول چه پسه پیدیا غوړېده وکا   ریژوی ئې پاڼې کاندی تار په تار
د پر مخو نسه د فلک څپېړه شنه کا   د پر سرونه کاتر خاور ولاندی زار
دوا کمن له سره خول پر بیاسی مرشی   د بې وزلو وینې توی کاندی خونخوار
څه تېری څه ظلم کاندی ای فلکه   ستا له لاسه نه دی هیڅ گل بې له خار
ستا له لاسه دی پرانه ژوبل زګیروی کا   هر پلو ته تېی زړو نه په ځار ځار
کله غورځوي واکمن له پلازونو   کله کښېنوي په خاورو کښې بادار
زمو زبرژ ړونودي نن بیایو غشی وویشت   ودې ژوبل له په دې غشی هزار
په سوریو باندی ویر پربووت له پاسه   محمد واکمن چه ولاړه په بل دار
په دې ویر دغوور ګړی تور نمری شول   په دې ویرر نا ایتیاره شو له دښار
لاس دې ماتشه ای فلکه چه دې وکا   محمد غوندی زمری دمرینی ښکار
شین زړګی فلکه وای لاولاړ یې   ای دغور غرو نو پر څه نشوی غبار
ملکی ولی په رنځ دلو نه پرېوزی   لاندی باندی شه چه ورک شی دا اشعار
چه زمری غوندی واکمن ځی له جهانه   نور څوک نه کړی په نړۍ باندی قرار
سخ په تسا ای محمده د سور نمر وې   په نړۍ به نه وی ستا د عدل سار
ته په ننګه وې ولاړ په ننګه مړ شوې   هم پر ننګه دې پر ننګه کاځان جار
که سوري دې په ننګ وير کاندی ویرمن شول   هم به ویاړی ستا په نوم ستا په تبار
په جنت کښې دې وه تون زمونږ واکمنه   هم په تادې وه د پر اسور دغفار

❀ ❀ ❀

په پښتو کښې لمړی قصیده چه لاس ته راغلې ده همدا د اسعد سوري قصیده ده دا قصیده د پښتو د پخوانو اشعارو له خورا پخو او لوړو اشعارو څخه ګڼل کېږي چه د پښتو سوچه لغات پکښې راغلي دي لکه: زمولوی - مړاوی کوی، واکمن - بادشاه، پلاز - تخت، ژوبل - زخمی کول، نمری - جامی، ویرمن - غمجن، تون - ځای، اور - رحم.

شیخ تیمن: پټه خزانه د شیخ بستان بړیڅ د (بستان الاولیا) په حواله لیکي چه تیمن د غور په کجوران کښې اوسېده او بیا د سلطان علاؤالدین حسن په زمانه کښې (۵۰۰ - ۵۵۰ ه) وفات شوی دی داهم وایي چه دی د کاکړ بابا زوی ؤ، د ده پر نامه یو قوم هم شته چه تایمنی ئې بولي او ځان د کاکړو یوه پښه ګڼي.

د شیخ تیمن دا ور وسته شعر په پټه خزانه کښې راغلي دي چه ښه خوند ورملی وزن اری.

کشیخ رنا د نمر څېره شوه   زما په کور دوېر ناره شوه
د پلتون ورځ توره تیاره شوه   زغ شو ناڅاپه چه پلتون راغی
زده می له دې ویر نه شین دی   په ژړا ژاړم څه ناورین دی

زړګون له اوښو مې سادين دى — په نول (١) نوانږم چې تاخون راغى
نه به بيا يم نه به بيا راشى — نه به تيا ره شپه زمارنيا شي
نه به شهى را نه به پخلا شى — بيلتون ى بهر نى اوس ديون راغى
دښمنان يار دى هېر مې نکړى — اغلبه مېخ چه په ډيا نه کړى
اور بل دې پرېښوده وانه کړى — پر مادبل اور کړ وون راغلى

۞ ۞ ۞

تايمني : دغوريانو ددربار يو بل شاعر دى . تايمني دسلطان غياث الدين غوري يو مدح ويلى ده له دغى مدحى نه معلومېږى چه دى ددغه پاچا وخت كښى (٥٦٠ هـ) ژوندى و، دغه ستاينه په مثنوى ډول ده او د پښتو اومړى مثنوى ورته ويلاى شو چې يو څو بيته ئي دادى :

نن زه غواړم په صفت دسلطان — چې دى ټولدار نامورى ملك دجهان
دفيروزکوه او غور رڼا له ده دى — هم د تېرو نورو رڼا له ده ده
چه نوره وكاږى چه تون كى خالى — غنيمانى كله كړى په توره سيالى
غياث الدين دغور زمرى عاليشان — داسلام دين ده په توره روښان

داشعر هم د پښتو له پخوانو شعرونو څخه يو روان او ساده شعر دى دتورى او مړانى خيالات او دغور د دربار لوئى او عظمت څخه ئى څرګند يږى .

شكارندوى : شكارندوى هم دغوريانو ددربار شاعر دى چې دشهاب الدين غورى (٥٨٠ هـ) په دربار كښى يو مخور او قدرمن سړى و، دى يو زبردست شاعر او په قصيدو ويلو كښى استاذ دى پلار ئې احمد نوميده چه دفيروزكوه كوتوال و، دتاريخ سورى ليكونكى محمد بن على ويلى دى «چه ما په بست كښى دشكارندوى دقصيدو يو لوى كتاب ليدلى و» وايي چه دى دشهاب الدين سره چې پرهند ئې يرغل كاوه ملګرو، په «پته خزانه» كښى دده يوه بې جوړې قصيده راغلى ده، چه د پښتو ادب شاهكار ګڼل كيږى .

دا قصيده ئي د شهاب الدين محمد په مدح كښى ويلى ده، ددغى قصيدى يو څو بيته دلته راوړو .

د پسرلى ښكلو نكى بيا كړه سينګاروونه — بيائي واوړل په غرونو كښى لالونه
مځكه شته لا ښو نه شنه امنى شنى شوى — طالان زمردى وا غر سته غرونه
دغتو لو جندوى خاندى وريدى تنه — زرغونو بڼو كښى نا څى زلمى ونه
لكه ناوې چه سور ټيكى په تندى وكا — هسى ګلانيل غټو او سره پسولى نه
هر پلو رنى والى بيا اندى خاندى — له خوښيه سره هى په سنګرو نه
هر پلو د ګلو وزم دى لوتالى — نه وار اعلى له خته كار وا ونه
په غور ځنګ غور ځنګ له خولى زګونه باسى — لكه شپ هاتى شنا كاندى سيندونه

بياد پسرلى له صفت څخه وروسته وايي :

---

(١) نول — غم .

نه به چونۍ په ستایه د ګلو موړ شي ‌ ‌ نه بیا به موړ شم د سلطان په صفتونه
د شنسب د کهاله خټلی امر دی ‌ ‌ د پسرلي په دو دودان له ده رڼونه
په زابل چې د بري په نیلي سور شي ‌ ‌ پر لاهور ئې دمړاني ګډا روانه
نه بوده غوندي رون ستوري په هسک ځلي ‌ ‌ که څه پورته شي له غوره ډېر مړونه
پوخاوند شهاب الدین دی چه ئې وکا ‌ ‌ په هر اوري هر ایواد ته پر غلونه
په جوپوجوپو جګړن ئې هندته یون کا ‌ ‌ چه دغو ربادار همت وکا زغاونه
په هر کال اتك دده ښه راغلي کاندي ‌ ‌ غوړوي په خندو خیل ښایسته سا او ه
پښتونخوا ښکلي زلمی چه زغلي هندته ‌ ‌ نواغاي پیغلي کاندي اتڼونه
په رڼا اوسي ته تل د دین شهابه ‌ ‌ نوم دي تل وه پر دریځ په نمزدګونه
ستا په زړه مه دي خاونده اوی ښتن وی ‌ ‌ موږ خوستا په مرسته یونه څوچه یونه

❀ ❀ ❀

دا قصیده څوار (٤٥) بیته ده د پښتو پوخوراقوی او پوخ شعردی او ډېر زاړه لغات پکښې ویل شوي دي . لکه : لاښ = کمر ، پسول = زیور ، جناه‌ی = ګل ، سنګرونه = کانړي ، شڼ = مست ، چونۍ = بلبل ، ایواد = وطن ، جګړن = عسکر ، یون = سفر ، سالونه = شګې ، اغلې = ښایسته ، دریځ = منبر ، نمزدګ = مسجد .

ملکیار غرشین : غرشین د پښتو یو مشهور ستانه قوم دی ملکیار له دغه قوم څخه یو بزرګ سړی ؤ د پښتو پخوانو مؤرخینو دولیانو په ډله کښې ذکر کړی دی .

دی د پښتو پوښه ادیب او شاعر ؤ سلیمان ماکو لیکلي دي چه غازي شهاب الدین غوري چه پر کفر یرغل کاوه نو ملکیار ورسره ؤ نقل کا چه په یوه جنګ کښې مسلمانان پر شا ولاړل نو ملکیار راغی یرغل ئې وکړاو په جنګ کښې ئې دا وروسته یاد کې (اشعار) وویل نو غازیان ویاړیدل ډېر دښمنان ئې ووژل او فتحه ئې وکړه .

ښتن مـومل دی ـ راوس مویرغل دی ـ هیواد دبل دی
غازیانو کوري ـ ښتن مـومـال دی
توري نیري کړي ـ دښمن مو پرېکړي ـ منګولي سري کړي
څله بـه تښتو ـ ښتن مـو مـل دی
که ټپنګ کړو زړونه ـ پر بري بونه ـ چه زمري یونه
اسلام راڅخه دی ـ ښتن مـو مـل دی
غازیانو راشي ـ ټول شاو خوا شي ـ دشهاب په ملاشي
دښن موغوځ کي ـ ښتن مـو مـل دی

دملکیار دا دغزا سناره په ملي وزن یو سپیڅلی او له جوشه ډك شعردی چه قدیمي اشعارو قوت او خصوصیت لري او د پښتو د ملي روح او ملي ذوق په نماینده ګي کوي .

سلیمان ماکو وائي «چه شیخ ملکیار به تل تر تله د شیخ اسمعیل سترستانه یاد کي ویل» دی د سلطان شهاب الدین معاصر او دغه دملتان په لمري یرغل کښې (۵۷۱ ه) ژوندی ؤ ملکیار په ډیلي کښې وفات او هوري ښخ دی .

قطب الدین بختیار : دېلار نومې احمد او دغېلي زماني یومشهور عارف و . دی په قوم بختیار دی چه د پښتنو یوستانه قوم یادېږي سلیمان ماکو وائي : چه دده نیکه (موسی) له بختیارانو څخه هندته تللی ، او په سیند کښې مېشت شوی و ، قطب الدین په هند کښې ډېر شهرت در اود دی بیا په (۶۳۳ - ۶۳۴ ه) کښې وفات او په ډیلي کښې ښخ شو چه تر اوسه ئې زیارت مشهوردی .

سلیمان ماکو په تذکره کښې دده خوږ اشعار رانقل کړي دي او داسې وائي : بختیار په پښتو سندرې کړېنه ، اوښې تویوینه ، خدای ته زاري کړي ، غلبلې کړي یادګي ارینه چه یودادی :

ویرمې زده سوری کړ — راته وګوره ملوکي

په بېلتون کښې دی وباسم — له خوږمنه زړګي کوکې

راته وګوره ملوکي

د بېلتون اورونه بل دي — هر ګړې مې زړګی سوځي

اېونې یمه د مینې — سوځم زه الګه بېلوځي

راته وګوره ملوکي

غوږ وني دي اور بل دي — اورزما په زړګي بل دي

زه بختیار خاوري ايري شوم — پهاور سوی می کوګل دی

راته وګوره ملوکي

په دې اشعارو کښې هم د پخوانو اشعارو سپېڅلتوب ، ساده ګي او خوږوالي پروت دي خورا خوږملي وزن او کسرلري او خالصه مینه پهکښې ښکاره ده نو په دې اعتبار د پخوانو شعرونو په لړ کښې داخلېږي .

شیخ متی : دشیخ عباس زوی دی چه په پنځه پښته خرښبون بابا ته رسېږي دی په (۶۲۳ ه) کښې زېږېدلی او بیا په (۶۸۸ ه) کښې د (۶۵) کالو په عمر وفات شوی او د (کلات) پرغوندي ښخ دی . دی په کلات بابا مشهوردی یو عارف ، زاهد ، عالم ، او ادیب سړی و . دخدای په مینه کي ئې ډېر اشعار او مناجاتونه ویلي دي . دده کورنۍ یوه ادبي او علمي کورنۍ وه ډېر شاعران او لیکوال پکښې تېرشوي دي لکه شیخ کته شیخ قاسم ، او نور ـ دده اولاده بیاد پېښور په لوئ تــه ولاړه او هلته مېشته شوله ، ده یو کتاب دراود چه د (خدای مینه) ـ نومېده دا کتاب ئې تردېره وخته پرمزار پروت و او خلقو به وایه مګر او س ورك دي . محمد هوتك په خپل کتاب پټه خزانه کښې دده یو ډېر لوړ الهامي شعر رانقل کړی دی چه یو څو بنده ئې دادي .

خاوند ، ښکلې ستا جمال دی — ښکاره ئې اور په لوړ کمال دی

کهورځ کهشپه کهپېری کال دی — ستاد قدرت کهکي مثال دی

ستاد نورو نو یوه رڼا ده

دلته چهچوړه تماشاده

پر لویو غرو هم په دښتو کښې — په اوی سهار په نیمو شپو کښې
په غاړه زغ او په شپېلکو کښې — یاد وېږ ژ او په شپېلو کښې
تو له ستا د یاد ناری سوری دی
د ستا د مینې ننداری دی

دلته لوی غرونه زرغونیږی — دژوند وږمې پکښې چلیږی
بو راوی شا او خوا کړېږی — ستر ګې لید وته ئې هښېږی
او په خاو نده تو له ته ئې
تل د نړی په ښکلېده ئې

بابا هوتک، د (بارو) زوی دی چه په (۶۶۱ھ) کښې زېږېدلی او په (۷۴۰ھ) کښې وفات

شوی دی دده یوه جنګی ترانه چه د مغلو په جګړو کښې ئې درامود شوق او جوش راوستلو د پاره ویلی وه په پټه خزانه کښې شته.

په دی ترانه کښې د پښتو دغیرت او توری ملی روح، دمړانی او نارینتوب جوش، دوطن د ساتنې جذبه ښه څرګنده ده او دا په پښتو ادب کښې لومړی شعر دی چه دمغلو د مخالفت جذبه په کښې لیدله کېږی لکه چه وائی:

پر سو رغر بل راته نن اور دی — وګړ په جوړ راته پیغور دی
پر کلی او کور باندی مغل راغی — هم په غزنی هم په کابل راغی
غښتلیو ننګ کړی دامو وار دی — مغل راغلی په تلوار دی
په پښتونخوا کښې ئې ناتار دی — پر کلی او کور باندې مغل راغی
آ دمرغی (۱) غښتلیو راشی — پر ننګ ولاړ د پښتونخوا شی
توری تېری غشی ترملا شی — پر کلی او کور باندی مغل راغی
زلمیو په غېشو کړی وار ونه — د تېرو تورو ګذارونه
ورولاندې کړی خپل تورونه — پر کلی کور باندی مغل راغی
پښتو هلی پر غره جنګ دی — سور غر په وینو ددوی رنګ دی
مهال د توری دی د ننګ دی — پر کلی او کور باندی مغل راغی

شیخ ملکیار، دهوتک بابا مشر زوی او د پښتو یو ښه شاعر دی چه د (۷۴۹ھ) په شاوخوا کښې ژوندی و

ترپلار وروسته ئې د قوم دمشری پګړی په سر کړله، ده دمغلو سره سخت جنګونه کړی دی په پټه خزانه کښې دده یو عشقي سندره راغلی ده چه د (ترنک) رود ته خطاب او د عشق له جوشه ډک یو آزاد ملی شعر دی په دی شعر کښې ځینی زاړه لغات لکه: نیز = سیلاب، نمنځنه = احترام راغلی دی لکه چه وائی

ترنک بهیږی ترنک بهیږی غاړی ترغاړی
زمازړ ګی خو خپل لالی غواړی
که روده، روده، د ترنک روده
خاوندی وج کا چه زړ ګی مو می زما خپله سوده

(۱) مرغه دار غسان او دسلیمان دغره تر منځ د پښتنو اصلي علاقه ده (پټه خزانه)

که تېز دی تېز دی تېز د پښتون دی
زړه تېز وېلی په وېرژلی، په غم زبون دی
که اوردی اور دی په زړه مې اور دی
دا اور په وچ کادو پر تېوز نه بل ده پر په زور دی

نمنځنه یوسه سپینی سپوږمۍ، ورته ووایه چه ترلک تال کرم ستا له خو لګیه

❀ ❀ ❀

شیخ ملکیار: (۱) دقبر ځای یقینی معلوم نه دی، مګر په خوګیا نیو کښې دسپین غره نه دراوتلی تنګی په خوا کښې، دملک فقیر د کلی سره نژدې یو قدیمی زیارت دی چه دخواجه ملکیار په نامه مشهور دی نو احتمال لری چه همدا ملکیار به وی.

اکبر: اکبر دزمینداور اوسېدونکی و، زمینداور دغوریانو اوغزنویانو په وخت کښې یو مشهور ښار تېر شوی دی دا اکبر دا شعرا رو له دیوان څخه فقط یو څو پانې دقند هار دهلمند په غاړو پیدا (۲) شوی دی او نور دیوان ئې ورک دی په یوه بیت کښې دمغولی تیمور دظلم وخت دا سې ښیی:

دمغلو تیمور هسې یه او روسوم — چه به هېر یه دې ماتم زمینداور کرم

له دې بیت څخه معلومېږی چه دی د ګود تیمور په وخت کښې (۷۷۱ھ - ۸۰۷ھ) ژوندی و چه دمغلو ظلمو نه او چپاوونه ئې لیدلی دی دا کبر له یو څو شعرو نو څخه معلومېږی چه دی دپښتو یو ښه او خوږ ژبی شاعر و، یو شعر ئې دا دی:

دعشق وېر به تل په خپله پتول کرم	د خپل ځان له حیرانیه څه ویل کرم
اوس به ځم په سر تور سر فراق د ګل کرم	مامد ام لکه بورا په ګلو ګشت کړ
ځنی هېر به دیار بزم ګل اومل کرم	دغماز لړمون به زه په لمبه کېږدم
زه به سر اومال ښندم دید به حاصل کرم	زما دیار دمېنی اور په زړه کښی بل دی
زه اکبر په خپل اشناد سر ښندل کړم	دپښتون له وېره ژاړم اوښکی وینی

سلطان بهلول لودی: دا سلطان دملک کالا زوی او دپښتنو یو نومودی واکمن و چه (۳۸) کاله ئې پر هند دپاچاهی بیرغ هسک کړی دی اوبیا په (۸۹۴ھ) کښې له جهانه تللی دی بهلول دلودی کورنۍ لومړی پاچا دی دا ستر واکمن په علم او ادب کښې هم دلوی لاس او پوهې خاوند و، دده دخلیل نیازی په جواب کښې یوه رباعی ویلې ده چه له پټې خزانې څخه ئې رانقل کوو.

رباعی (څلور یزه)

ګوره اوریځی دداد لـه پاسه	ملک به زرغون کړم په ور کره راسه
جهان به زیب مومی زما لـه لاسه	خول مې د عدل په درو رون دی

خلیل خان نیازی: دا سړی دسلطان بهلول لودی هم زمانه او دده د دربار شاعر و، دا وروسته رباعی دده ده: چه دبرسات په موسم ئې دپادشاه په حضور ویلې وه.

---

(۱) دا معلومات ښاغلی خادم په اتحاد مشرقی کښې لیکلی وو.
(۲) دا پانې ښاغلی حبیبی پیدا کړی دی.

خړې اوريځې ژاړي له پاسه — کوېله (۱) زغ کا بلبلتون له لاسه
په هغه لونې گوهر په خول ستا — دا مرحبا کاستا زمونږ مو اسه (محافظ)

❀ ❀ ❀

شيخ محمد صالح : دخپل عصر يو عالم او زاهد سړی و ، په قام الکوزی او د قندهار په (جلدك) کښې ئې په تدريس عمر تېر اوه ، د (۹۰۰ ﻫ) په حدودو کښې ژوندی و ، دده دوه غزلې په پټه خزانه کښې راغلې دي يو غزل ئې دادی .

چه په زړه ئې غشی خرخ شي د چشمانو — روغ به نشي په دارو د طبيبانو
چه نور تن له رنځه خلاص په زړه رنځوروي — دا د زړه دارو جوړه نکړه حکيمانو
مگر الله چه حبيب دی هم طبيب دی — کار سازی کا د خوارانو رنځورانو
هيڅ اثر را باندې نه کاندی عالمه — ښه ويل درو گوهر د ناصحانو
نصيحت زړه غواړي زړه نشته په کوگل کښې — زړه مې وړی په منگولو خوبريانو
که صالح غواړي د زړه په وينو پاڼې — نور دولت په دنيا نشته طالبانو

زرغون خان : په قام نورزی او د زمينداور «د نوزاد کلی» و ، په (۸۹۱ ﻫ) کال هرات ته ولاړ ، او د هغه وخت په ملي جنگونو کښې ئې ښه مېړانه ښکاره کړه . دوست محمد کاکړ وائی چه په (۹۱۲ ﻫ) کال چه زه هرات ته تللم نو په (کجوران) کښې مې د ملا ايوب تيمني سره د زرغون خان د غزلو او شعرونو ديوان وليد چه پانې ئې په شمېر دری سوه وې هم دده روايت دی چه زرغون خان په (۹۲۱ ﻫ) کال د قندهار په (ديراوت) کښې وفات شوی دی دده يوه خوږه روانه او خوږه مثنوی (دوه ئيز) چه ساقی نامه نوميږی په پټه خزانه کې شته ، ددې ساقی نامې څخه معلوميږی چه دی په پښتو ادب کښې استاذ او دقوی لاس خاوند و ، دساقی نامې يو څو بيتونه ئې دادی :

ساقي پاڅه پيالہ را کړه — مسرور يار مې پخلا کړه
او به تو ئې په لمبو کړه — اورمې مړ په دې اوبو کړه
پسرلی شو غنچه گل کا — زلفی تاوی د سنبل کا
بلبلان شور و فغان کا — ګر بدن په گلستان کا
په راغو کښې سرې لمبې دي — د غټولو ننداری دي
جهان ټول سور او زرغون دی — وچ راغه ښکلی گلگون دی
بهار وقت د بارانې دی — ښه موسم د پيمانې دی
نو ساقی پاڅه بهار دی — نن ژوندون سبا رفتار دی
مستان گرزی په باغو کښې — مستی کاندی په راغو کښې
لاس په لاس دی يارانی کا — يو په بل نازو نخری کا
تر تا وګرزمه راشه — ساقي يو ګړی پخلا شه
نو ساقی پاڅه بهار دی — بزم تا له اميدوار دی
ياران ناست ستر ګی څلوردی — ستا د جام په اميد نور دی

(۱) کوېله يو خوش آوازه مارغه دی .

بابرخان : داسړی ددوست‌محمد کاکړ پلارو ، دوست‌محمد کاکړ لیکلی دی : چه زما پلار « دتذکرهٔ غرغښت » په‌نامه یو کتاب نظم کړی ؤ ، مګر دپلار په مرګ کښې مې زه نه‌ووم ، چه‌راغلم دغه کتاب چاضایع کړی ؤ ، اوزه دپلار دمرګ څخه دکتاب په ورکیدو ډیر غمجن شوم . که څه هم دبابرخان اشعار لاس‌ته نه‌دی رارسیدلی مګر ویلای شو چه دپښتو یوزوړ ادیب اومورخ ؤ .

دوست‌محمد کاکړ : دبابرخان زوی اویو پښتون شاعر اومؤرخ ؤ . ده (په ۹۲۹ﻫ) کال په (ژوب) کښې « غرغښت نامه » نومی کتاب په‌نظم ولیکه داکتاب ئې دخپل پلار دتذکرهٔ « غرغښت » په ډول لیکلی اود هغې خبری ئې پکښې راوړی دی . « غرغښت نامه » یوادبی معتمد تاریخ ؤ چه د (غرغښت) له حالاتو ماسوا ، د نورو شاعرانو اوسړیو احوال اواشعار هم پکښې وو . داکتاب محمد هوتک لیدلی ؤ ، اووائی چه په مثنوی‌ئې ډیرخوازه بیتونه لرل اویودرسی کتاب ؤ چه کوچنیانو به‌په سبق‌لوست » .

دغرغښت نامې یوحکایت په پټه خزانه کښې راغلی دی ، دسړ یوڅو بیتونه ئې دادی :

له نیکانو روایت دی   هسې تو که حکایت دی
نورمحمد کاکړ راوی دی   چه ئې فیض تل جاری دی
د نیکونو له خولې وائی   چه منښت ئې دا نه ښائي
چه کاکړ نیکه زاهد و   اوی ښښتن له تل ، عابد و
تل تر تل به ئې عبادت کا   پر دی لیار ئې ریاضت کا

ددې دورې شاعرانې ښځې

زرغونه : دملا دین محمد کاکړ لور وه دقندهار په (پنجوائی) کښې اوسیده عالمه اوپوهه مېرمن وه اوخورا ښه خط ئې درلود چه ملغلرې ئې شرمولې . دې په (۹۰۳ﻫ) کښې دسعدی بوستان په پښتو نظم ترجمه کړی دی نوپدې اعتبار د (۹۰۰ﻫ) د وختو شاعره ګڼله کېږی وایی چه‌دې نوراشعار اوغزلونه هم ویلی دی ، له پټې خزانې څخه ئې داوروسته قصه چه دمثنوی په ډول ده دلته راوړو .

اوریدلی مې قصه ده   چه له شاتو هم خوږه ده
د اختر په ورځ سهار   بایزید چه ؤ ویدار
له حمامه راوتلی   په کوڅه کښې تېریدلی
ایرې خاورې چا له بامه   را چپه کړلې ناپامه
مخ او سر ئې شو ککړ   په ایرو په خاورو خړ
بایزید په شکر کښېو شو   د خپل مخ په پاکیدو شو
چه زه ووم د بل اور   چه‌په اور کښې‌شوم نسکور
له ایرو به څه بدوړمه   یا به اېز شکوه کومه
هو یو ها نو ځان ایرې کړ   له لوینی نی ځان پرېکړ

څوك چه ځان ته ګوری تل ‌ ‌ ‌ ‌ خدای ته نشی کړی کتل
او یی تل په ګفتار نه ده ‌ ‌ ‌ ‌ او خبره په کار نه ده
تواضع به دې سرلوړ کا ‌ ‌ ‌ ‌ تکبر به دې مخ توړ کا

رابعه : داپښتنه شاعره د (٩٠٠هـ) په حدود و په قندهار کښې اوسېده، وایی چه داشعارو دیوان ئی دراود دار باعی ئې له پټې خزانی څخه لاس ته راغلي ده :

آدم ئې مځکې وته راستون کا ‌ ‌ ‌ ‌ په اور دغم ئې سوی اړ مون کا
دوزخ ئې روغ کا پر مخ د مځکې ‌ ‌ ‌ ‌ نوم ئې دهغه، دلته بېلتون کا

(ددې دوری پښتانه نثر لیکو نکی او مؤرخین)

دا ښکاره ده چه پښتو ژبې له ډېر پخوا څخه پاخه لیکوال او زبردست مؤرخین در اودل مګر نن ورځ ددېرو لږو کسانو حالات او نوموونه مونږ ته معلوم شوی دی او اکثر ئې ورک اوبی پتی دی بیاهم څو مره چه معلوم دی وروسته بیا نیبزی :

سلیمان ماکو : داسړی د (٦١٢هـ) په شاؤ خوا کښې دپښتو یو پیاوړی لیکونکی او عالم دی دپلار نوم ئې (بارك خان) و، په قام سابزی اودقندهار په ارغسان کښې اوسېده، په شعر ئې علم نه لرو خو په نثر کښې یو ډېر قیمتی کتاب اری چه (تذکرة الاولیا) نومیبزی او په دغه پورته سن کښې لیکلی شوی دی، دا کتاب دپښتنو ولیانو او شاعرانو تاریخ دی، سلیمان یو کرزنده سړی و، او مړی دپښتونخوا په غرو او رغوو ګرځېد، دپښتنو وليانو او بزرګانو حالات ئې راټول کړل او بیائی دغه کتاب ولیکه مګر له بده مرغه چه دا کتاب ټول نه دی پیداشوی، صرف دسریو څو پاڼی ئې پیدا شوی دی چه دځینی پخوا نو شاعر او حالات او اشعار پکښې دی، دا کتاب دپښتو په نثر لیکلی شوی دی، او فعلا دپښتو ژبې او مړی نثر ګڼل کیږی او س ئې دنثر په نمونه کښې دا یوه ټوټه نثرو لو لی ء .

وایم حمدو سپاس دلوی خاوند، اودرود پر محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم چه دی بادار کونینو اورحمت دثقلینو لوی لوی رحمتونه دې وی دهغه استاځی په آل او یارانو چه دواړه جهانه پر دوی دی روښان اما بعد زه غریب خاوری سلیمان ځوی دبارك خان ماکو سابزی چه په ویاله دارغسان او سیېږم او په دی مځکو پاییبزم په سن د وولس شپږ سو ه د هجری تللی وم اود پښتونخوا په راغو او کلو ګرځېدم اومرافد داولیا اوواصلینو می پلټل او په هر لوری می کاملان موندل اودوی په خدمت خا کپای وم او هر کله په سلام ور ته ولاړ، چه له دی سفره په کور کښې کښېستم، تنا کی می وچاودلی دپښو بیا بیا څېدولم اوله ښښتنه مې مرستون شوم چه احوال دهغو کاملانو کاږم اودوی چه هغه وینا وی پاتی کړی دی او پښتانه ئی او لی او س.

په دې نثر کښې که څه هم دعربی جملو اوعبا راتو اثر لیدل کیبزی مګر په پخوانو نثرونو کښې ساده، آسان او مرسل نثردی بیاهم دموجوده وخت له محاوری څخه لیری دی .

محمد بن علی بستی : داسړی هم دپښتون یو قدیمی مؤرخ دی مګر له بده مرغه چه حالات او کتاب ئې تراوسه لاس ته نه دی راغلی ، له پټې خزانی څخه دومره معلومیبزی چه ده (د تاریخ سوری) په نامه دسوریانو دپاچاهی په حالاتو کښې یو کتاب لیکلی و دژوند وخت ئې ښه

معلوم نه دی مگر دا یقینی ده چه د (شیخ کته) له زمانی څخه (۷۵۰ھ) د مخه تېر شوی دی تاریخ سوری د سوریانو او غوریانو د زمانی یو سیاسی او ادبی تاریخ دی دا میر کروړ شعر هم له دغه کتابه رانقل شوی دی د کتاب ژبه ئې په یقین معلومه نه ده مگر غالب گمان دا دی چه دا کتاب په پښتو و، ځکه چه د پښتو اشعار ځنې رانقل شوی دی ،

احمد بن سعید اللودی : دا سړی هم د پښتو یو پخوانی مؤرخ دی د ملتان د اودی پاچاهانو په حالاتو کښې ئې په (۶۸۶ھ) کال یو کتاب لیکلی دی چه (اعلام اللوزعی فی اخبار اللودی) نومېږی د شیخ رضی لودی او امیر نصر لودی پښتو اشعار ا ه دې کتاب څخه رانقل شوی دی .

شیخ کته : دا سړی د پښتو یو بېره مؤرخ د شیخ یوسف زوی او د شیخ متی نمسی دی شیخ کته هم د خپلو پلرو پشان یو عالم او مشهور سړی و د پښتو ادب په لار کښې د د ه اوی خدمت دادی چه د پښتو شاعرانو ، پوهانو او مشهور و خلقو په حالاتو کښې ئې د (لرغونی پښتانه) په نامه یو کتاب لیکلی دی .

دا کتاب په پښتو و، او ډېر قیمتی معلومات او اشعار ئې درلودل . د شیخ کته د ژوندانه وخت د (۷۵۰ھ) په خوا و شا کښې اټکل کېږی دی که څه هم په پېښور کښې اوسېده مگر یو گرزند او سیاح سړی و . محمد هوتك وایی چه شیخ کته په (بالشتان) کښې د محمد بن علی تاریخ سوری لیدلی و او ډېر قیمتی معلومات او اشعار ئې ور څخه رانقل کړی وو « ارغونی پښتانه » د محمد هوتك لاس ته ورغلی وا و د ده یو لوی مأخذ دی مگر او س ئې چېر ته درك نشته ،

شیخ ملی . د ده نوم آدم او د ملی زوی و مگر په شیخ ملی مشهور شوی دی ، شیخ ملی د ملك احمد له ملگرو څخه و (۸۰۰ھ) په حدودو کښې د دوی د دا ډو په مشری د پښتنو ځینی ټبرې له کسی غره او ننگرهار څخه پېښور ته کوچېدلی دی .

شیخ ملی د پښتنو مشرا و یو معروف لیکوال او مؤرخ و ، د ده د پښتنو په حالاتو او د خپل عصر په واقعاتو کښې یو کتاب لیکلی دی چه نوم ئې (د شیخ ملی دفتر) و . راورتی مشهور مستشرق وایی ، چه شیخ ملی خپل دفتر په (۸۲۰ھ) کښې لیکلی دی او دا کتاب ماموندلی دی لنډه دا چه شیخ ملی سر بېره په دې چه د پښتنو یو مشر او تاریخی سړی و ، د پښتو مورخ او لیکونکی هم و دا ئې چه قبر ئې په پېښور کښې دی د ملك احمد وزیر هم و .

کجوخان رانی زی : کجو یا کجوخان پس له شیخ ملی نه د پښتنو یو خورا نومیالی مشر او یو بهادر سردار و ، او لکه د شیخ ملی یو پوه لیکوال او مؤرخ گڼل کېږی ده هم د پښتنو په حالاتو په (۹۰۰ھ) کښې یو تاریخ لیکلی دی دا تاریخ دراورتی لاس ته ورغلی و د کاجو کور او س هم په (سوات) کښې شهرت لری چه پخوا د خانی ځای و .

خان جهان خان لودی : دا سړی د سلطان سکندر لودی په زمانه کښې (۸۹۳-۹۲۳ھ) ژوندی او د دغه باچا د وزیر حیثیت ئې درلود ده د (مرآة الافاغنه) په نامه یو تاریخی کتاب په فارسی لیکلی دی په دې کتاب کښې د هند د پښتنو باچاهانو او مخصوصاً د سکندر لودی حالات بیان کړی دی غرض دا چه دا پښتون سردار هم یو عالم لیکوال او مورخ تېر شوی دی نعمت الله د ده وفات په (۹۰۱ھ) کښې ښودلی دی .

137006

ددې دورې پښتانه ادب پالونکي پاچاهان

دپښتوادب داولې دورې په بيان کښې مونږ ته دامعلومه شوه چه په دې دوره کښې ځينې پښتانه پادشاهان هم تېرشوي دي چه هغوی دپښتو دشعر اوادب سره بوره مينه لرله او دپښتو شاعران او اديبان به ئې پالل نودادی وروسته مونږ دغه پادشاهان او ددوی ادب پالنه په لنډ دول بيانوو :

دپخوانو سوريانو کورنۍ : دتاريخ بيانوونکي وائي چه په ډېر پخوا څخه دغور په غرونو کښې يوې سلسلې وډو پاچاهانو پاچاهي کړېده ، داپاچاهان د(سهاك ياساکا = سهاکا) له پښته وو ، وايي چه سهاك دوه زامن درلودل ديوه نوم (سور) اودبل نوم (سام) و چه دغور سوري پاچاهان هدغو ته منسوب دي داسلام دمخه دغور دسوري پادشاهانو څخه دامير بسطام اوامير شماخ سوري نومونه راغلي دي کوم وخت چه داسلام مبارك دين دغور په غرونو کښې قدم کېښو دنودغور محلي حکومت داسلامي خلافت سره ښه مناسبات قايم کړل دځينو مؤرخينو په قول دغور لومړی حکمدار چه په دې وخت کښې داسلام دخلافت دربارته ولاړ اواسلام دين ئې قبول کړ مشهورملك شنسب دخرنك زوی و، وائي چه ده دحضرت علي (رض) په وخت کښې (۳۶ - ۴۰ هـ) اسلام راوړی دی چه بيا هغه مبارك غورته يو فرمان ولېږه اوشنسب حکومت ئې ومانه دملك شنسب څخه وروسته دده زوی امير پولا دسوري په غور اودغور په شاوخوا ځايوحکومت درلود امير پولا ددمشهور ابومسلم خراساني چه په (۱۳۷هـ) کښې مړدی همکار اوملګری و اودهغه سره ئې ډېری مرستې کړی وی له ده نه وروسته دده زوی امير کروړ جهان پهلوان په (۱۳۹هـ) دغورپه (منديش) کښې امير شو ، دغور بالشتان، خيسار ، اوتمران، کلاګانې ئې ونيولې اوپه زميندارو کښې ئې هم قصر درلود تاريخ سوري ليکلي دي چه دې کورنۍ خوېږې په غور ، بالشتان اوبست کښې حکمراني کوله پس له امير کروړ څخه ئې زوی امير ناصر پر ځای کېناست او غور ، بست زميندا ور ئې په لاس کښې وو . له ده څخه وروسته بيا دامير بنجي غوري ذکر راغلی دی چه دخليفه هارون الرشيد په وخت (۱۷۰ - ۱۹۰ هـ) کښې ئې حکومت کاوه پس له ده څخه ديعقوب صفار په زمانه کښې (۲۵۳ - ۲۶۵هـ) دامير بنجي له اولادې څخه دامير سوري نوم ليدل کېږي . بيادسوري له کورنۍ څخه امير محمد اميرو ، چه د سلطان محمود غزنوي (۳۸۷ - ۴۲۱ هـ) په لاس بندي شو اوبيا له غيرته په بند کښې مړشو ، په دې وخت کښې ددې کورنۍ خپلواکي ولاړه اودغزنويانو دحکم اولاس لاندې راغله بياد بهرامشاه غزنوي په وخت (۵۱۲هـ) سلطان علاؤالدين حسين غوري غزنی ونيو ، دغزنويانو امپراطوري ورانه اودغوريانو لوی سلطنت شروع شو ، له دې کورنۍ څخه يوې څانګې په غور ، بلې په باميان اوبلې په تخارستان کښې سلطنت کاوه چه دا ټول په تاريخ کښې ډېرشهرت لري ، نومعلومه شوه چه دپخوانو سوريانو يوې برخې داسلام له اول يعني دامير شنسب له وخته (۴۰هـ) دخلورمې هجري پېړۍ ترنيمائي (۳۵۰ هـ) پورې داسلامي خليفه ګانو اوعباسيانو له خوا په غور کښې دمستقلو اميرانو په حيث پادشاهي کړېده او دوهمه برخه ئې له(۳۵۰ هـ تر ۵۰۰هـ) پورې

دغزنویانو دحکم لاندی حکمرانان وو : لکه چه معلومه ده دغورسوریان پښتانه او دپښتو دادب پالوونکی وو ، امیر کروړ سر بیره پردې چه یو غښتلی پښتون بادشاه و ؛ دپښتو ژبې یو زبردست شاعر او ادیب هم و (دشعر بیان ئې دمخه راغلی دی) ددوی پروخت کښې پښتانه شاعران لکه ابو محمد هاشم او شیخ اسعد سوری پیدا شوی او روزل شوی دی . ددغه وخت دپښتو پالنې اثرو ؛ چه ابو محمد هاشم دهلمند پرغاړو او (بست) کښې دپښتو شعر ونه ویل او خپل کتاب (دسالو وږمه) ئې په پښتو لیکلی دی . شیخ اسعد خود امیر محمد سوری ددربار شاعر او دهغه نږدی ملګری او دوست و ؛ چه بیائې دهغه په مرګ ژړلی او ساندی ویلی دی . نو ویلی شو چه پخوانو سوریانو خپلې ژبې پښتو ته توجه کوله او ددوی په وخت کښې پښتو ښه شعر او ادب در اود .

دملتان داودیانو کورنۍ ؛ په ملتان کښې داودیانو پښتنو یوی وړې کورنۍ له (۳۰۱ هـ) څخه تر (۳۹۰ هـ) پوری پاچاهی کړی ده . داسی معلومیږی چه دوی داسلام په اولو فتحو کښې هند ته تللی دی ، ددې کورنۍ اول امیر سلطان حمید لودی و ، وایی (۱) چه ده خپل ورا ره شیخ رضی پښتنخوا ته داسلامی دین دتبلیغ دپاره رالیږلی . . . . ن حمید نه وروسته دده زوی امیر نصر امیر شو ، بیا وروسته دنصر زوی ابوالفتوح داؤ ددپلار پرځای کیناست . مګر دده پروخت کښې سلطان محمود په ملتان حمله وروړه ددوی امیری ئې کمه وده کړه او دی ئې غزنی ته بندی راووست دا کورنۍ هم دپښتو ادب په پالنه او روزنه کښې ښه برخه اری ، دوی سر بیره پردې چه پښتانه بادشاهان وو په پښتو کښې به ئې خوازه اشعار ویل او یو له بله به ئې په شعر سوال او ځواب کاوه (لکه چه دشیخ رضی او امیر نصر لودی د اشعارو بیان دمخه راغلی دی)

غزنویان : دغزنویانو دبادشاهۍ مؤسس الپتګین دی دی دامیر نوح سامانی نوکر او دهغه په وخت کښې دخراسان نائب الحکومه و ، چه بیا په غزنی کښې مستقل پاچا شو دده نه وروسته دده نوکر سبکتګین ، او بیا دسبکتګین زوی سلطان محمود پاچا شو له (۳۵٦ هـ څخه تر ٤۱۲ هـ پوری) ددوی دپادشاهۍ دوره ده سلطان محمود دافغانستان یو ستر واکمن او لوی پادشاه دی مورئې دقندهار له پښتنو څخه وه ، پردې اعتبار دپښتانه دده په لښکرو کښې شامل وو ، چه دهندوستان جواهر سره او سپین به ئې ورله راوړل او ده به دفارسی په شاعرانو ښندل او بادول - وایی (۲) چه دده په وخت کښې دپښتو با قاعده لیکل رواج شوی دی ، په دغه زمانه کښې قاضی سیف الله دپښتو دتحریر اولیاث په اصلاح کښې کوشش کړی وو او دپښتو مخصوصو آوازونو ته ئې مخصوص توری ټاکلی وو پرته له دې څخه دغزنویانو په دوره کښې دپښتو په باب نور څه معلومات نه لرو ، مګر دا معلومه ده چه دپښتنو مشهور نیکونه او نو میالی شاعران بیټ بابا ، اسمعیل ، خرښبون په دغه زمانه کښې تیر شوی دی .

---

(۱) پټه خزانه

(۲) دقاضی خیرالله پشاوری دخیراللغات دیباچه ، مګر دا روایت کوم پوخ سند نه لری .

غوریان: لکه چه د مخه وویل شو د غزنویانو دولت امیر اطو ریې د ګډو وډ ید و نه وروسته په غور کښي د پښتنو غوریانو دولت پاچاهي بیرغ جګ شو، د پخوا نو غور یانو په اولاده کښي له سلطان علاؤالدین حسین څخه دا سلسله و نښته او دور ستني مقتدر پاد شاه شهاب الدین محمد پوري راورسیده دا دوره تقریباً له (۵۰۰ ه څخه تر ۶۰۰ ه پوري) وچلیده علاؤالدین جهانسوز، غیاث الدین او شهاب الدین ئې مشهور او زبردست پاچاهان وو، شهاب الدین دافغانستان له لویو فاتحانو څخه دی چه په (۶۰۲ ه) کښي وفات او پس له ده نه په هند کښي د ده نوکر قطب الدین ایبک باچا شو.

دغوریانو په وخت کښي پښتو ته ښه توجه شوې ده لکه چه په غزنوي دربار کښي به فارسي شاعران روزل کېدل، دغسې به دلته د پښتنو شاعراو پالنه کېده پښتو شعرونه او قصیدې به وویل کېدې به غزاګانو او جنګونو کښي به دد وي سره پښتانه شاعران ملګري وو او پښتو ترانې او سندرې به ئې ویلې په دې دوره کښي د پښتو ښه ښه شاعران لکه ښکارندوی، ملکیار غرشین تایمني، او نور تېر شوي دي (چه بیان ئې دمخه راغلی دی) تایمني د غیاث الدین ددربار مشهور شاعر دی چه د پادشاه په مدح کښي

سلطان شهاب‌الدین غوری

ځینې اشعار لري دارنګ ښکارندوی د شهاب الدین په دربار کښي پالل شوی دی د هغه ادبي مشاور او پادشاه ته ډېر نږدې و، ښکارندوی د شهاب الدین په مدح کښي ښې قصیدې ویلې دي په دې دول ملکیار هم دده ددربار شاعر او په جنګو کښي به ورسره و، چه د غزا یوه مشهوره سندره ئې په دغه رخت کښي ویلې ده په دې عصر کښي د پښتو یو بل شاعر چه شیخ تیمني نومیده هم موجود او د علاؤالدین په زمانه کښي ئې ژوند کاوه دا سې معلومېږي چه د محمد بن علي بستي (تاریخ سوري) هم د غوریانو په وخت کښي ددوي په توجه او مرسته لیکلی شوی دی.

دخلجیانو کورنۍ: (۶۸۷-۷۲۱ ه) په هندوستان کښي د شهاب الدین غوري له مرګه څخه وروسته دده نوکر قطب الدین ایبک پاچا شو له ده نه وروسته دده مریي شمس الدین التمش په تخت کېناست، دده کورنۍ ترڅه وخته پادشاهي وکړه نو بیا د غیاث الدین بلبن کورنۍ شروع شوه چه د دغه شمس الدین نوکر و، هغه وخت چه د بلبن د اولادې وروستنی سړی «کیقباد» مړ شو، نو د پنجاب حاکم فیروزخان په ډیلي قبضه وکړه، د جلال الدین خلجي لقب ئې غوره کړ او د خلجیانو د پاچاهۍ تاداوی کېښود دا کورنۍ د غور د خلج نومې ځای ته منسوبه ده چه له ۶۸۷ ه څخه ئې تر ۷۲۱ ه پوري په هند کښي پاچاهي کړې ده.

وائي چه د فیروز خان په وخت کښي هم پښتو او پښتنو ته توجه کېده له دې چاچه به پښتو

زده وه څه په دده په دربار کښې قدرمن او وزاندی و، دپښتو قدر او عزت به ئې کاوه او دوی ته به ئې په درنه سترګه کتل نور دده له دربار څخه معلومات نه لرو :

دهندلوديان: کوم وخت چه مغولي امير تيمور په (۸۰۱ هـ) کال په هند حمله وکړه او ډيلي ئې ونيو نو د را ګرزېدو په وخت کښې ئې سيد خضرخان له خپلې خوا دهند نايب السلطنه مقرر کړ دا سړی بيا څو موده وروسته پاچا شو .

خوشحال خان دخضرخان کورنۍ ستايي، او وايي چه ددې کورنۍ د محمد شاه په زمانه کښې پښتانه په عزت وو لکه چه وايي :

بيا له پسه چه تيمور په هند را کښېوت — خضرخان ته ئې ور کړې حکومت و
بيا سلطان مبارك شاه د خضر خان و — چه ښکاره ئې له جبينه سياست و
بيا سلطان محمد شاه دده وراره و — چه پښتون د ده په عهد په عزت و

بيا هر کله چه ددوی کورنۍ کمزورې شوه نو پس له دوی څخه په (۸۵۶ هـ) کال دډيلي تاج او تخت د پنجاب د حاکم بهلول لودي په لاس ورغی ده په ډهلي کښې په خپل نامه خطبه او سکه ووهله، ډير ځايونه ئې ونيول او دهندوانو د راجګانو سره ئې سخت جنګونه وکړل بهلول لودي دهند يو نوميالی پادشاه او د لوی عزم څښتن و، ۳۸ کاله ئې په هند کښې د انتظام او عدل سره زبردسته پادشاهي وکړه له ده نه وروسته دده زوی سکندر لودي په (۸۹۴ هـ) کښې پاچا شو او بيا په (۹۲۳) کښې ابراهيم لودي ته وار ورغی چه آخر دې سړي د بابر مغولي له لاسه شکست وخوړ پس له څه د لوديانو پادشاهي خرابه او د مغلو پادشاهي شروع شوه ، دهند د لوديانو کورنۍ هم په پښتو مينه او د پښتو د ادب پالونکې وه په خپله سلطان بهلول لودي د پښتو شاعر او يو علم دوست او ادب پالونکی پاچا و لکه چه خليل خان نيازی دده د دربار يو پښتون شاعر و.

(ددواړو د شاعرۍ ذکر وړاندې راغلی دی) دغسې د سلطان سکندر لودي په دربار کښې هم پښتانه ليکونکي ، پالل کېدل لکه چه خان جهان لودي دده د دربار يو زبردست ليکونکی ؤ او دده په توجه ئې د پښتنو او د لوديانو يو تاريخ ليکلی دی په دې اعتبار ويلی شو چه ددې کورنۍ پاچاهانو هم د پښتو ادب سره مينه لرله او د شعر او ادب مينان وو مګر شايد چه جنګونو او جګړو او د وطن انتظامو د پښتو زيات خدمت ته نه وي پرې ايښي، او ډير خدمت وخت ئې نه وی موندلی .

دپښتو دملي ادب څيني برخې

(۱) دپښتو افسانې، نکلونه او ناري

پښتانه څينې قصې لري چه په هر ځای کښې ډيرې مشهورې دي دا قصې د پښتو په ادبياتو کښې خورا اهميت لري او د پښتو د ادب يوه مهمه برخه ګڼل کيږي. په دې قصو او نکلونو کښې د پښتو روحيات، افکار، رسم رواج او ملي دودونه په ښه شان ليدلی شو. دا افسانې د جوړېدو په لحاظ دوه برخې لري، يوه برخه ئې نثر دی چه د نکل واقعات پکښې بيانيږي او بله برخه ئې نظم يعني ناري دي. د پښتو افسانې په قصصي او تاريخي نثر کښې داخليږي او د محاورې او ساده خبرو اترو رنګ په کښې زيات دی. د پښتو افسانې له ډيرو پخوانو وختو څخه مونږ ته راپاته او نقل په نقل رارسيدلي دي، دا نکلونه او افسانې عموماً په دوه ډوله دي :

۱: خیالي افسانې-۲- فطري افسانې- په فطري افسانو کښې واقعات په عقل او فطرت برابروي لکه د فتح خان او یاد آدم خان قصه. او خیالي افسانې هغه دي چه واقعات یې په فطرت برابر نه وي محض خیالي او فوق العاده شیان وي، لکه د پریانو او دیوانو قصې خارق العاده قصو ته اروپایان «کونت» وایي او واقعي او حقیقي قصې د تاریخ یو جزء بولي، د پښتو افسانې د موضوع او مطالبو په لحاظ اکثري عشقي او جنګي دي په عشقي نکلونو کښې د دوو مینو د حالاتو او سرګذشتو تاثیرناك او خوندور بیانونه وي، او په جنګي نکلونو کښې زمونږ د جنګیالیو نیکه ګانو د توري او مړانې حالات ښودل شوي وي - دې نکلونو ته مونږ د پښتنو یو ادبي او تاریخي میراث ویلی شو په دې نکلونو کښې د پښتنو پاك او ساده احساسات په داسې اندازه نغښتل شوي وي چه هره برخه یې د زړه پردې خوځوي او زړونه ویلي کوي، خصوصاً کمې ناري چه په دغو نکلونو کښې ویل کیږي خالصې د تورك ګولي دي او دومره تاثیر لري، چه هیڅ و نه ریږدوي، له دې نارو او نکلو څخه د پرسوز، خالصه مینه عاشقانه احساسات، مړانه، توریالی توب، ساده والی او نورې ښیګڼې، ځرګندیږي او په دې لحاظ د پښتو د ملي ادب یوه غوره برخه یې بولو، له دې افسانو څخه د پښتنو عادات، احساسات، د ژوندانه حالات، او داسې نور شیان هم ښکاره کیږي.

(۱) عشقي افسانې لکه د قلندر او میراجان افسانه، د قطب خان او نازو افسانه، د ښادي او بیبو، د آدم خان او درخانۍ، د مؤمن خان او شیرینو افسانې.

جنګي افسانې لکه د فتح خان بړیځ افسانه، د موسی جان او ولي جان افسانه او داسې نورې.
دې افسانو او نکلو نو د ویلو تاریخ په صحیح ډول نه معلومیږي، البته د ځینو افسانو د خلکو له نومو څخه ئې څه نه څه د ویلو زمانه معلومیدای شي لکه د آدم خان او درخانۍ افسانه هر کله چه آدم خان د (۱۰۰۰ھ) په شاوخوا کښې ژوند کاوه. نو دا افسانې زمانه یې هم له دغه وخت څخه راوروسته ده، د پښتو د افسانو ویونکي هم معلوم نه دي. بلکه نقل په نقل له پخوانو وختو څخه راغلي دي او د هرې زمانې او یانو په کښې د رنګینۍ او خوند نا کړلو د پاره ځینې کلمات، عملې او ځینې برخې زیاتې کړي دي - د پښتو د موجوده افسانو له نومو څخه معلومیږي چه دا ټولې له اسلام څخه راوروسته جوړې شوې دي.

که څه هم کیدای شي چه اصل افسانې له قدیمه موجودې وي، او د اسلام په وخت کښې ئې نومونه بدل شوي وي.

دفتح خان نکل: یوه له دغو افسانو څخه چه ډیره مشهوره ده، د فتح خان بړیځ افسانه ده فتح خان بړیځ د اسلم خان زوی و، چه د قندهار په کلابست کښې اوسیده، اسلم خان د کلابست پاچاو، نقل کاچه فتح خان د «۶۰» بړیځو سره هندته لاړ او هلته یې جنګونه او جګړې وکړې، دا واقعات یې په نکل کښې بیان شوي دي او د ده تښګیالي توب او مړانه په کښې ښودلې شوې ده د فتح خان د ژوندانه زمانه د «۹۰۰ھ» خواوشا ګڼل کیږي - وائي کم وخت چه فتح خان د هند د تلو نیت وکړ نو مورېې خبره شوه او د کلابست په دروازه کښې ورته کښیناسته مګر دې ترې په بله دروازه ووت، نو مورېې دا ناره پسې وکړه:

---

(۱) دا افسانې اکثري ښاغلي نوري ټولې کړي دي او یو توك یې د ملي افسانو په نوم نشر شوي دي.

که دوی دي دوي دي د کلابست دروازې دوي دي

پریوه يې فتح خان وژلی پر دا بله يې د مور سوری ناري دي

د فتح خان په قصه کښې د رابیا چه د فتح خان معشوقه وه او د کرمې چه د ده ور وروه، ناري هم شته. او دغه دواړه ددې قصې پهلوانان دي.

کم وخت چه په آخری محل فتح خان جنګ ته ووت، نو رابیا داسې ناره وکړه:

د فتح کړ نګه ناړل به دې ز رین کړم.

که دې خلوار فتح را او وړ زما امیل به دې د غاړې لونګین کړم.

د آدم خان قصه: آدم خان په قام یوسف زی او د سوات په «بازدره» کښې اوسیده، دی د طاؤس خان په لور چه «درخو» نومیده، مین و. د دوی دواړو د مینې قصه اوږده ده. او ډیرې خوږې خبرې لري چه په هر ځای کښې مشهورې دي، د آدم خان په نقل کښې هم ډیرې سوزناکې او خوږې ناري راغلي دي، آدم خان د درخو ته د مینې په اظهار کښې وایي:

درخانی مړ من ملوکې! چه په درست جهان دې ولاړې د حسن کوکې

آدم ستا کتورنخور کړ که ور کوږې کړې د دواړو زلفو څوکې

یوه شپه چه درخو د آدم خان په انتظار وه، او دې رانه غی نو دې داسې ناره وکړه:

په دا نیم پالنګ یم ناسته، دغه نیم پالنګ مې تا و ته پرې ایښی.

هم چه ته زلې رانه غلې آدم خانه، داو ربل و بښته مې ژاړي کوښې کوښې.

وړې قصې: په پښتو کښې ځینې وړې قصې هم شته. دا قصې اکثرې لکه د متلونو د خلکو یادې وې، او داسې له یو بل نه نقل په نقل راپاته کیږي. دا قصې ځینې اخلاقي او اجتماعي غایې هم لري، او په ځینو ځایو کښې د مثال په ډول ویل کیږي، په پښتو کښې د منشي احمد «ګنج پښتو» د دغسې قصو تحریري مثال دی. وړې قصې هم لکه د افسانو ځینې واقعي او ځینې خیالي وي.

د اروپا رومانونه: (۱) په اروپا کښې له (۱۹) قرن څخه راهیسې خو د رومان نویسي تغیر موندلی دی. یعنې موضوع ئې له خیالي شیانو څخه حقیقي شیانو ته اوښتې ده. پس له دغه وخته رومان لیکونکو خپل رومانونه د علم او مشاهدې په اساس لیکل شروع کړی دي. نو باید چه زمونږ په موجوده رومانو کښې هم د حقیقت رنګ زیات وي، او بل یکار دی چه د ملي کرکټر موجودیت هم په کښې له نظر لاندې ونه ولی شي: وړې قصې، یا ناول هم بنایي چه د دغه د رومان شرطونه ولري، په وړو قصو او رومان کښې فرق صرف دومره دی چه په وړو قصو کښې سړی ژر مطلب ته رسیږي.

ناره:- په پورته ذکر لو کښې مو ناره ولوستله، ناره د پښتو یو ملي او آزاد شعر دی، مسرې ئې کله برابرې او کله یو لنډه او بله اوږده وي، د قافیې التزام هم په کښې نشته، کله دواړه مسرې په یوه قافیه، او کله هر یوه ځانله ځانله قافیه لري. ناره د لنډۍ په شکل هم راځي، لکه د مومن خان په قصه کښې دا ورو سته ناره، کوم وخت چه دی په سفر روانیده نو شیرینو پرې داسې ناره وکړه:

تا د سفر موزې په پښو کړې — د ځیږ و ګلو باغ په چا سپاری مینه

---

(۱) از آدب جدید کریمی

(۲) د پښتو لنډۍ

زمونږ د ملي ادب یوه لویه برخه لنډۍ دي: لنډۍ یو خاص ملي شعر دی چه په بله ژبه کښې یې غالباً مثال نه وي. د لنډیو لومړۍ مسره لنډه او (۹) سیلابه، او دوهمه ئې اوږده او دیارلس سیلابه وي. په محلي ځایو کښې ورته «ټپه، مسره، ټکۍ» هم وائي.

د پښتو هره لنډۍ د غرض ټکۍ دی او په هره یوه کښې بېل بېل مطلب پروت وي، د پښتو لنډۍ د شمېر په لحاظ له زرګونو نه هم زیاتې او ښتې ډېرې دي مګر تو لی (۲) تر او سه پورې چا نه دي ټولې کړې. د پښتو لنډیو کم خاص ویونکي هم معلوم نه دي، ټول پښتانه یې وايي او په تیر ښځې په کښې ډېره برخه لري.

لنډۍ د پښتو یو طبیعي او فطري شعر دی او ډېرې سوزناکې او خوندناکې وي لنډۍ یو خاص وزن او طرز لري که څه هم په اندازه کښې ټولې لنډۍ یو شان دي، مګر په هر ځای کښې په جلاجلا وزنو او آهنګو ویل کېږي چه په ټولو کښې تیراوالې مشهورې دي. د پښتو د لنډیو یقیني تاریخ معلوم نه دی. مګر هر کله چه لنډۍ د پښتو یو فطري او ساده شعر دی، نو ګمان کېږي چه ډېرې قدیمې او پخوانۍ به وي.

په ښکاره ډول چه د کمې لنډۍ وخت معلوم دی، هغه داورسته لنډۍ ده، چه زر کاله پخوا د سلطان محمود په وخت کښې ویلې شوې ده. د سلطان محمود په لښکر کښې یو پښتون سردار ؤ چه ملك خالو نومېده کم وخت چه له هندنه دده لښکرې واپس راګرځېدې نو په دغه وخت کښې یوه پښتنه میرمن خوشحالېږي او داسې وايي:

چه د خالو لښکرې راغلې ... زه به ګومل ته دخپل یار دیدن له ځمه

مطلب دا چه لنډۍ د پښتو ادب د ملي نظم یوه غوره او لویه حصه ده، چه د پښتو د اصلي افکارو نمایندګي کوي؛ او خوراقوي او مؤثر اشعار بلل کېږي. د پښتو لنډۍ اکثرې عشقي دي، رزمي او حماسي هم په کښې ډېرې دي، او په نورو خواو کښې هم ویلې شوې دي، اوس یې یو څو مثاله دلته راوړو:

جانان مې ګل له لاسه نه اخلي ... د اسمان ستوري به جر ګه ور له لېږمه
ستر ګې کچکول کړه دیدن واخله ... ملنګه یار په بها نه راغلې یمه
پاس په بلۍ کوترې راغلې ... زه په پوړو دیار پښتنه ترې ګومه
اشنا مې سر په وطن کښېښود ... په تار د زلفو به کفن ور له ګنډمه
نر توریالی مین به جار شم ... چه د غلیم په وینو سره کاندي لاسونه

د لنډیو سره کله کله ځینې کسرونه او سرونه هم راځي، دا سرونه چه د لنډیو په مینځ کښې ویل کېږي ډېر خوندا او کیف لري. دې قسم ملي شعر ته نیمکۍ وايي. مثلاً یو سر دادی:

تن مې د شنې نکریځې پانه غاټوله یاره ... واوا ټولوه د باغ ګلونه غاټوله یاره
ظاهره شنه د ننه رنګ په وینو یمه ... واوا ټولوه د باغ ګلونه غاټو له یاره

---

(۲) په ۱۳۲۳ ش کښې د پښتو ټولنې له خوا د ملي سندرو په نوم د دریو زره لنډیو یو کتاب نشر شوی دی.

(۳) دپښتو متلونه

دپښتو متلونه هم دپښتو ادب یوه غوره برخه ګڼل کیږي، دا متلونه له ډیر پخوا څخه موجود او زمونږ دسپین‌ږیرو نیکونو غوره، قیمتي او تللي ویناوې دي، چه د نقلونو په شان له یوه بل ته، له بل نه بل ته، نقل په نقل راغلي او راپاته شوې دي. د ډلنډیو په شان دمتلونو دویلو تاریخ هم معلوم نه دی، مګر په هر زمانه کښې ویل کیږي، او کم خاص ویونکی هم نه لري بلکه د ټولو پښتنو دخولې مرغلرې دي، چه خورې ورې دخلکو په ذهنونو کښې پرتې دي. دمتلونو عبارات خوندور، لنډ، مختصر او ډیر مطالب په کښې ځای شوي وي، دپښتو متلونه که څه هم په نثر کښې داخلیږي، مګر اکثر یې سجع او قافیه هم لري.

متلونه د یو ملت دعاداتو او خویونو دښکاره کېدو آینه ده، او دهر قوم دپوهې، تجربو او طبیعت دصفایي اندازه ترې معلومیږي. متلونه هغه پخې پخې خبرې دي، چه له ډیرو تجربو نه وروسته په لاس راځي، او دژوندانه لارښوونکي ګڼل کیږي. متلونه په کلام کښې خوږوالی او قوت پیدا کوي، عبارت پرې خوندور او خوږیږي. دا وجه ده چه شاعران او لیکونکي یې په خپلو ویناوو کښې راوړي، او له دې کبله دبدیع په فن کښې دا یو صنعت بلل شوی دی.

دمتلونو پېژندنه دوه خواوې لري: یوه دا چه اصل مورد یې سړي ته معلوم شي، چه دا یې حقیقي معنا ده، او بل دا چه داستعمال ځای یې وپېژندل شي، چه دا یې کنایي معنا ده، مثلاً ددې متل «څوک چه خوب کوي دهغوی نر کټې زیږي» - اصل مورد دا دی: وایي چه دوه تنه ملګري په مېښو پسې تللي وو، بلاربې مېښې یې واخستې او بېرته خپل وطن ته راروان شول، یو ځای کښې پرې شپه راغله دشپې د دواړو مېښې لنګې شوې، یوې کټی او بلې کټۍ راوړه. دکټي خاوند دشپې راویښ شو، دخپلې مېښې کټۍ یې دملګري مېښې ته ودراوه او دهغه کټی یې خپلې مېښې ته ودروله، ملګري یې چه سهر له خوبه پاڅېد پوښتنه یې وکړه چه دا څنګه چل دی؟ زما مېښې کټی او ستا مېښې کټۍ راوړی ده؟ ده ورته وویل: «څوک چه خوب نه کوي دهغو نر کټي زیږي» دا متل اوس په هر ځای کښې چه دغفلت له وجهې نه چاته ضرر ورسیږي، استعمالیږي. یا دا چه «ماتلاس غاړې ته لوېږي» حقیقي معنا یې هم موجوده ده ځکه چه دچا لاس خوږ شي نو حقیقتاً یې غاړې ته اچوي او مجازاً په داسې ځای کښې استعمالیږي: چه یو عاجز او بې وزلې سړی دخپل ځان غم په کم مالدار یا یو مشر اچول غواړي نو دغه متل وایي.

متل ته په عربي کښې مثل هم په دې اعتبار وایي، چه ددوهم شي حال داول سره مشابه کیږي یعني داستعمال ځای یې په اصل مورد قیاسیږي.

دپښتو متلونه هم ډیر او په زیاته اندازه دي، مګر تر اوسه ټول نه دي جمع شوي (۱) او دغسې خواره واره دخلکو په سینو کښې پراته دي، دپښتو یو څو متلونه دا دي:

روغ صورت یا که پادشاهي ده - یتیم په ژړا عادت دی - سل دې ومره یو دې مه مره - چه باد نه وي، ونه نه خوځیږي - وسله هغه ده چه په لاس راغله - که غر لوی دی په سر یې لاره ده - چه بد کړې بد به پرځې، دبهر ګټندوي نه، دکور ساتندوي ښه دي - دلې غوایي

---

(۱) دپښتو ټولنې لخوا دپښتو متلونو یو ودرو کی کتاب په ۱۳۱۸ ش کال کښې نشر شوی دی.

آخر خاوند قصاب دی له پروت زمری نه، کرځنده کیدونه دی- ازمیلی بیا مه ازمیه پسته غاړه تورههم نه غوځوی څوك چه پیلان ساتی، دروازې دننګې جوړوی- اول وخوره دځان غوښې، بیا وخوره دښکار غوښې.

ددې دورې نظم ته یوه عمومی کتنه

شعر او نظم دهرې ژبې فطري ناموس دی، هرڅوك ئې لري اوهرڅوك یې ویا ډی پښتو هم له ښه مرغه له ډیر پخوا څخه دقوې اوپاخه نظم خاوندهده، لکه چه دمخه وویل شو دپښتو لومړی شعر په (۱۳۹ه‌ق) کښې امیر کروړ ویلی دی، دهغه وخت دشعر متانت او قوت نه چه کورو نو په یقین دپښتو دشعر تاریخ څو پېړۍ- نورهم لهدغه وخت څخه وړاندې تللی شی دپښتو پخوانی نظمونه دمضمون اولفظ دواړو له حیثه پاخه دی، حتی چه موجوده وخت یې هم مثال نشی پیدا کولی، په پښتو کښې له پخوا څخه ویاړنې، جنګی اشعار، ستاینې اومرثیې لیدل کیږی، ځکه چه داټول دانسان طبیعی جذبات دی چه په هروخت کښې دانسان سره لازم دی، په دې ډول ځینې وصفی اشعار اوځینې اجتماعی احساسات هم په پخوانو اشعارو کښې وینو، تقریباله (۶۰۰ه) څخه را په دې خوا دپښتو په نظم کښې تصوفی افکار راننوتی دی او ورو ورو ئی وسعت موندلی دی، له دغه وخت څخه را وروسته دمغلو سیلاب راغلی دی او دې حادثې په پښتو ادب لږ و ډیر اثر اچولی دی، مګر دا اثر ددوهمې دورې په ادب کښې زیات لیدل کیږی، په عمومې ډول له (۱۰۰ه) څخه تر (۹۰۰ه) پورې چه دپښتو دادب د تاریخ لمړۍ دوره ده، د پښتو په شعر کښې کم مهم تغیر نه دی راغلی دپښتو په پخوانو اشعارو کښې دا وروسته خصوصیات لیدل کیږی:

۱- پخوانی نظمونه دافکارو په لحاظ ساده دی، پیچیده تخیلات نه لری. دمحیط او زمانی تاثیر په کښې څرګند دی.

۲- پښتو ئې سوچه او دزړو پښتو لغاتو استعمال په کښې ډیر دی، چه اوس اکثر متروك دی اونه ویل کیږی.

۳- ملی وزنونه اوملی بحرونه په کښې ډیر استعمال شوی دی، دعربو اوزان یې زیات نه دی قبول کړی، که څه هم دغزنویانو پهزمانه کښې دفارسی دقصیدو درواج په اثر پهپښتو کښې هم قصیدې رواج شوې دی، مګرسره ددې ئې هم خپل متانت اوسوچهوالی له لاسه نه دی ورکړی، پهدې دوره کښې د(سالو وزمه، دخدای مینه، دپښتو بوستان، غرغښت نامه) دنظم مشهور کتابونه دی.

ددې دورې په ملی اشعارو کښې لنډۍ هم یوه مهمه برخه ده، که څه هم لنډۍ په یوی دورې پورې اختصاص نه لرې، او دهرې دورې ادب په دې خوږ وسندرو ښایسته دی.

ددې دورې نثر ته یو نظر

دا ښکاره ده، چه پښتو به له ډیرې پخوا څخه محاورې نثر درلود، ځکه چه دا قسم نثردژبې داول پیدایښت سره لازم دی، ډیر پوهان وایی: چه «نثر په هره ژبه کښې له نظمه څخه دمخه دی ځکه چه نثر ضروری او نظم کمالی شی دی» نو ویلی شو چه دپښتو نثر دپښتو

Marfat.com

دنظم دتاریخ څخه ډیر پخوا موجود ؤ او مونږ په دې یقین لرو چه زمونږ نیکو نو په سوونو کاله پخوا په همدې پښتو ژبه دوړوړولی خبرې اترې، او ددوی مشرانو به دوی ته دژوندانه دلارښوونې دپاره وینا گانې کولې، مگر دغه محاورې او خطابی نثرونه د کاغذ په پاڼو نه دي پاته شوي، بلکه په هوا کښې تللي او محو شوي دي، هو! دپښتو لومړی تحریری نثر چه لاس ته راغلی دی، هماغه دسلیمان ماکو د «تذکرة الاولیاء» نثر دی، چه نمونه یې دمخه راغلې ده په دې دوره کښې نور نثرونه نه دي لیدلی شوي که څه هم دنثر دیوڅو کتابو نومونه لکه ارغونی پښتانه، تاریخ سوری، دشیخ ملی دفتر، دخان کجو تاریخ راته معلوم دي. مگر هغه هم په لاس نشته په دې لحاظ په لومړۍ دوره کښې دنثر خوا کمزورې او دابرخه لږه ده ددې دورې دنثر نماینده یوازې دسلیمان ماکو نثر گڼل کیږي دده نثر لکه دهغه وخت دنظم ساده او مرسل نثر دی دموضوع په لحاظ ددې دورې نثر ډیر محدود دی او صرف مذهبی او تاریخی جنبه لري ددې دورې بل مهم خصوصیت دادی چه دپښتو دکتابو نومونه یې هم اکثره پښتو دي، چه دا خصوصیت بیا په وروسته دوره کښې نه لیدل کیږي ددې دورې په نثر کښې ځینې ملی افسانې هم شاملیدای شي، مگر دومره خبره ده چه دغه افسانې په خپل پخوانی حالت نه دي پاته شوي بلکه په هره دوره کښې یې لږ ډیر تغیر موندلی او مونږ ته رارسیدلې دي.

دوهمه دوره له (۹۰۰ ق ۱۴۹۴ ع تر ۱۱۰۰ ق ۱۶۸۷ ع پورې

دبابر باچا او دهغه داولادې زمانه

هر کله چه دپښتو دادب دتاریخ اوله دوره موو پېژندله؛ نو اوس غواړو چه ددوهمې دورې په بیانو لولاس پورې کړو، په دې دوره کښې هم دپښتو زبردست لیکوال او شاعران تیر شوي دي، چه دادی وروسته بیانیږي.

ددې دورې لیکوال او شاعران

میاروښان: دمیاروښان اصل نوم بایزید او په «پیرروښان» میاروښان سره مشهور و، پلار یې عبدالله نومیده، دوزیرستان په کانیگرام کښې یې استوگنه کوله او یو ښه نیک سړی ؤ میاروښان په (۹۳۲ هـ) کال په دغه ځای کښې زیږیدلی دی دی په قام ورمړ (۱) پښتون دی. داپښتون هلك په وړ کوتوالی کښې دپوهې اوزیرکی خاوند و، پس له تحصیل څخه د پوره علم او فضل څښتن شو. دا یې چه ده یو زبردست معقول او فلسفی دماغ درلود چه په عقلی دلیلونو کښې به چانه شوږ کولای. دی په تصوف کښې هم دلوی لاس خاوندؤ ده به همیشه پښتنو ته تبلیغ، وعظ او نصیحت کاوه ډیره موده یې دپښتنو دمشرۍ و اگې په لاس کښې وې، دپښتنو داتفاق، خپلواکۍ یو صحیح آرزومن و، او غوښتل یې چه پښتانه دمغولی طاقتونو په مقابل کښې کلك ودروي او دمقاومت روح په کښې واچوي. میا روښان د پښتو دخدمت په لار کښې هم پوره حقدار گڼل کیږي، ده په خلورو ژبو یعنی پښتو، عربی، اردو فارسی یو کتاب لیکلی دی، چه خیرالبیان نومیږي، دخیرالبیان دنثر یوڅو نمونې پیدا شوي

---

(۱) دپښتنو دانسابو کتابونو، ورمړ پښتانه بللي دي.

دی مګر نور کتاب ورک دی، وایې چه د لندن په موزیم کښې شته. د اسې پېړۍ د پښتو نهضت میاروښان ته منسوب دی. ځکه چه دده دلیکنو او کوښښونو په اثر پښتنو لیکوالو پښتو ته توجه کړی، او پښتو آثار ډېر شوی دی.

میاروښان سرېره پردې، یو تور یالی عسکر هم و، ډېره موده یې د مغلو په مقابل کښې جګړې کړی، او د پښتو الی نو مې یې ساتلی دی، چه تر ده وروسته ئې اولادهم پر قدم تللی دی نو په دې لحاظ ده ته مونږ یو صحیح مبلغ، واعظ، عالم، سیاس، فکر من مشر، شاعر، نثر لیکونکی او د ادب حقدار وایو او د دې دورې د پښتو د نهضت سر لښکر بې ګڼو، میاروښان پر ته له خیرالبیان څخه دوه نور کتابونه هم لیکلی دی یو حالنامه ده، چه دده د حالاتو په باب کښې ده، بل مقصود المومنین نومېږی، او په عربی دی، د خیرالبیان کتاب د طریقت، شریعت، او دینی مسئلو بحث کوی. وایی (۱) چه په قرآن او حدیث موافق یو کتاب دی، د خیرالبیان د نثر یو نمونه داده: «ښې ویلی دی، رحمت دې وی پر ده، مرګ به ورشی وسړې ته نا ګهان نشته په دنیا کښې د سړی تل تر تله مقام ګوره د دغې زمانې آدمیان غواړی دنیا او هر چه په کښې دی. مشغول دی ډېر آدمیان ځینې په کرلو یا په بازر ګانې، یا په پوند ګلې یا په تور کښې باندې ځینې په نور نور چار مشغولی کا آدمیان. که څوك اس، اسپې لری کال تېرشی تمام. څښتن یې اختیار لری چه یو دینار دې ور کړی د هر حیوان. یا دی بها کړی له دو وسوور مو دی یو ور کړی تمام»

د خیرالبیان نثر په قافیه دار او مسجع نثر کښې داخلیږی. که څه هم ځینې عبارات یې موزون هم وی، مګر د نظم په قانون ور ته سړی مکمل نظم نشی ویلای، بلکه یو نیمګړی نظم باله کیږی د اقسم شعر په هغه وخت کښې د دینی او مذهبی کتابونو دلیکلو یو مخصوص سبك و، چه تر ډېره وخته پورې چلیدلی دی، په پښتو کښې دا طرز سبك میاروښان راویستلی دی او دی یې موسس ګڼل کیږی د دې سبك ته مونږ قافیه دار نثر او یا یو نیمګړی او آزاد شعر هم ویلی شو.

میاروښان په (۹۹٤ھ) کښې وفات شوی دی، د اروایت هم شته چه دده اولادې دده هډوکی په تابوت کښې واچول او له ځانه سره یې په ګرځاوه بیا یې په کانې ګرام کښې ښخ کړ، لکه چه هلته یې زیارت مشهور دی.

شیخ عیسی مشوانی: مشوانی یو ستانه قوم دی چه ځان په کاکړو ګڼوی؛ شیخ عیسی له همدې قومه د پښتو یو پخوانی شاعر دی چه د شیرشاه سوری معاصر و، نعمت الله هروی لیکلی دی چه د هند په «دامله» کښې اوسیده، هر کله چه شیرشاه په (۹٤۸ھ) کښې پاچا شوی دی، نو د شیخ عیسی د ژوندانه زمانه هم د (۹۵۰ھ) حدود باله کیږی. نعمت الله په مخزن افغانی کښې لیکی چه شیخ عیسی یو لوی ولی و، او د خدای په توحید کښې یې په پښتو، فارسی او هندی ښه شعرونه ویل، د پښتو یو شعر یې دادی:

پخپله کار کړې، خپله انکار کړی | کله بادار یم کله مې خوار کړې
ته خو قادر یې په صفتو نو | کله مې نور کړی، کله مې نار کړې
عیسی حیران دی په دی شیونو | کله مې یار کړې کله اغیار کړې

له دې بیتو څخه معلومیږی چه دی یو خوږ او زبردست صوفی وْ، او په دغو بیتو کښې یې د تصوف ډېر لوړ افکار څرګندیږی.

---

(۱) د دولت دیوان.

میرمن نیکبخته: دزرمې پېړۍ یوه پښتنه شاعره او دشیخ الله داد مموزي لورده، پلار او نیکه یې په اشنغر کښې دمهمزیو مرشدان وو، دې دیني علوم لوستلي ؤ او یوه عارفه ښځه وه، دا په (٩٥١ﻫ) کښې دشیخ قدم په نکاح ورغله او په (٩٥٦ﻫ) کال کښې ور ځخه په «بدنی» کښې شیخ قاسم افغان پیداشو. دې په نصیحت او عرفان کښې د «ارشادالفقرا» په نامه (٩٦٩ﻫ) کال دپښتو په نظم یو کتاب لیکلی دی - محمد هوتك وایي چه زما پلار ددغه کتاب یوه نسخه په (ښو) کښې لیدلې وه یو څو بیته یې له پټې خزانې ځخه دلته رانقل کوو:

په زړه ښاد شې ای مومنه!　　په ظاهر په باطن سپینه

ظاهر زهد په اخلاص کړه　　په زړه ټینګ شه له یقینه

شکر صبر په هر حال کړه　　خود نما مه شه خود بینه

دخدای حق ته غاړه کېږده　　نوري نوري وینا پرېږده

دنیا پاته له هر چا ده　　په اخلاص کښې ځینې لېږده

څو قوت لری په ځان کښې　　سر دیار په رضا کېږده

شیخ بستان بړیځ: دلسمې پېړۍ یو پښتون شاعر او مورخ دی، چه د (٩٩٨ﻫ) په حدودو کښې یې ژوند کاوه، په قام بړیځ او کورنې د قندهار په «ښوراوك» کښې و، پلار یې محمد اکرم نومېده او یو نیك سړی و، شیخ بستان په دغه کال دخدای دولیانو په بیان کښې د «بستان الاولیاء» په نامه یو کتاب لیکلی دی محمد هوتك وایي چه زما پلار دغه کتاب په «ښوراوك» کښې دحسن خان بړیځ کره لیدلی و، په دې کتاب کښې ده پرو پښتنو ولیانو او شاعرانو حالات او اشعار بیان شوي دی او دده خپل اشعار هم په کښې وو - نعمت الله چه دشیخ بستان هم عصرو، لیکلي دي چه شیخ بستان به اکثر وختونه په یوه پر غمجن او وېرمن صورت دپښتو اشعار وویل - چه کانې به یې هم په ژړا راوستل، دې بیا په ځوانی کښې هندوستان ته ولاړ، او هلته په (١٠٠٢ﻫ) کال ددوهمې خورپه (١١) ده ند په احمد آباد کښې وفات شو. دده یو شعر چه په ملی وزن دی، او بدله یې بولي په پټه خزانه کښې راغلی دی، چه دوه بنده یې دا دی:

اوښکې مې څاڅي پر ګرېوان یووار نظر کا پر ما　　راشه ګذر کا پر ما

دمینې ور دی زما زړه کې وریت په انکار کینا　　ښې تار و نار کینا

خود به ویلې پېږم چه مې زړه په تا مفتون کینا　　ځان مې زبون کینا

اوښکې مې څاڅي پر ګرېوان یووار نظر کا پر ما　　راشه ګذر کا پر ما

وکړه نظر زما په حال چه پروت رنځور یمه تل　　په وير نا سور یمه تل

له زړه مې څاڅي وینې سورې په ینو خپل یمه تل　　په اور جلیل یمه تل

اوښکې مې څاڅي پر ګرېوان یووار نظر کا پر ما　　راشه ګذر کا پر ما

الله یار الکوزی: یو له پخوانو لیکوالو ځخه دی چه د (١٠٠٠ﻫ) په شا وخوا کښې یې ژوند کاوه ده دخپل استاذ (شیخ صالح الکوزی) په نامه یو کتاب لیکلی دی چه «تحفهٔ صالح» نومېږي. په دې کتاب کښې دشیخ صالح او نور ونو مه ډو پښتنو احوال او اشعار بیان شوي دی. دا کتاب دپټې خزانې له مأخذونو ځخه دی. چه دشیخ محمد صالح او علي سرور لودي اشعار یې ځینې را نقل کړي دي، له دېنه معلومېږي، چه الله یار دپښتو یو مورخ لیکوال نکی و.

علی‌سرور لودی: شیخ علی‌سرور، شاهوخیل لودی و، چه‌ د هندوستان په ملتان کښی اوسېده وایی چه‌ دی یو نیک سالک سړی او د کراماتو خاوند و، خلقو ته به یې وعظونه او پندونه کول او د تصوف مشکلات به یې حل کول، د ژوندانه وخت یې د (۱۰۰۰ هـ) خوا و شا دی. پټه‌خزانه لیکی چه په «تحفه‌صالح» کښی دده اشعار راغلی دی. دا لاندی غزل یې ور څخه رانقل کړی دی:

محبت پیاله‌می نوش کړه‌ په مجاز کښی   د حق نور ویښم په سترګو دا یاز کښی
درست وطن‌راته دریاب شو بی دیدنه   دیدمی نشی مګر خدای می سبب‌ساز کی
که‌زه مړشم هم له ګوره کړم سرپورته   ناګهان چه می دلبر راته آواز کی
ګران بیلتون به دهغو مینو وینـه   چه تل ناست وی په خلوت کښی سره ناز کی

ای سروره! غمازان شو بې حسابه
پاک‌الله دې صورت‌تش بې‌مغزه‌پیاز کی

ملاالف‌هوتک: د دوهمې دوری له مشهور و شاعرانو څخه دی، دی په خپله زمانه کښې یو ښه عالم و د کلات په اطرافو کښې یې استوګنه کوله، ده خپل «بحرالایمان» نومی کتاب په (۱۰۱۹ هـ) کښې لیکلی دی پښتانه شعرا لیکی چه د ملاالف هوتک دوه کتابونه لیدل شوی دی یوه نصیحت‌نامه ده او بل کتاب یې بحرالایمان دی دا دواړه کتابونه د اسلامی خویونو او عقایدو بیان کوی، یعنی مذهبی کتابونه دی، نو په دی اعتبار دی د پښتو په دینی او اخلاقی شاعرانو کښې حسابیږی د ملاالف شعر ساده او آسان دی، پېچیده ګی او سختوالی په کښې نشته ددده اشعار ټول د پښتو په لنډه مثنوی دی، دا سبک که څه هم له ده نه دمخه د زرغون‌خان، زرغونې میرمن نېکبختې او نورو په اشعارو کښې لیدل کیږی، مګر ملاالف ورته به ترقی ور کړی ده او دا سبک یې ژوندی کړی او مشهور کړی دی دا طرز یعنی د لنډی مثنوی سبک ځکه چه‌ ډېر آسان او روان دی، نو ډېر شهرت یې موندلی دی، او خصوصاً دینی او مذهبی لوی لوی کتابونه خو ټول په دی سبک لیکلی شوی دی. او س یې یوه نمونه وګوری:

راشه واوره ای فرزنده   تا ته وایم ارجمنده
ته د پاک نبی پر لار شه   د نبی پر لاره لاړ شه
یو قدم له شرعی زویه   بیرون مه اخله نېکخویه
که بیرون یو قدم کیږدی   د نبی شرعه به پرېږدی
نصیحت کوم و تا ته   مه‌جاروزه بلې خوا ته
تا ته وایم زما ځانه یې   لا ترځان را باندې ګران

ارزانی: د میاروښان یو فاضل، پوه او شاعر ملګری دی، دی یو پوره عالم و، په پښتو، فارسی، عربی او اردو ژبو پوهېده، په قام خویشکی ځمند او یو زبردست شاعر او ادیب و، ارزانی د روښان په پیروانو کښې د لوی نوم خښتن دی. آخون درویزه وایی چه‌ یو تیز فهم او فصیح شاعر و، او په عربی فارسی، هندی، او پښتو کښې به یې اشعار ویل»

وایی چه‌ دی د خیرالبیان په لیکلو کښی هم برخه‌لری. ارزانی یو مستقل کتاب هم لیکلی دی چه «چاررساله= چارزبان» نومېده، دا شاعر ټولو ورو ستنو شاعرانو لکه خوشحال، رحمان دولت او نورو یاد کړی دی. مستررا ورتی ئی هم د پښتو په پخوانو شاعرانو کښې

Marfat.com

شمیری، دارزانی یو پښتو دیوان (۱) په برټش موزیم کښې خوندی دی، په دې کتاب کښې (۴۹) قصیدې دي د سرپښتو نهٔ ی دادی :

له الفه کوز تر یا — فقیر را وړه بی ریا
اول دفتر به و کښم — په نامه د کبریا
د بل چا صفت به څو کړم — لکه نقش د بوریا
حق له شش جهته پاك دی — بی پایا نه لوی دریا

پرته له دې څو بیتو څخه د دې زبردست پیاوړی ادیب د کلام مرغلری زمونږ لاس ته نه دی را رسیدلی.

علی محمد مخلص: د میاروښان مرید او خلیفه و، د درویزه په قول، دارزانی شاعرورور دی. په وروستنو شاعرانو کښې، قاسم علی آفریدی دده ذکر کړی دی. میرزا خان یې د پایا کې وینا خاوند بولی، دولت شاعر دده ادبی مقام ته داسې اشاره کوی :

شاه طبعانو یې زده قدر — ښه کلام درعدن دی
همدان مخلص د دولته — د دې دروپه سفتن دی

دولت شاعر دده ډیرې مرثیې ویلی دی. دی د روښان د سلسلې یو متصوف شاعر دی، مګر اشعار یې لاس ته نه دی راغلی.

ملا عمر: د ارزانی دریم ورور او د روښان له پیروانو څخه دی، دده د شاعرۍ په باب چا څه نه دی ویلی، خو غالبه داده، چه دی هم یو عالم، فاضل او د قلم خاوند و اخون درویزه وایی «چه یو ورځې زه د خواجه صدرا کوزی مسجد ته لاړم، کورم چه امام یې ملا عمر خویشکی و» اخون درویزه ارزانی، علی محمد، ملا عمر درې واړه د پیر روښان مریدان ګڼی.

میرزا خان: د نورالدین زوی او د میاروښان لمسی دی، دی د نیکه په تصوفی افکارو رنګ او له هغه نه یې فیض موندلی دی، په تصوف کښې څه افکار لری، عالم او ادیب سړی و

راورټی انګریز دده په باب داسې لیکلی دی: «مرزا یو کرځند او سیاح سړی، او په ټول افغانستان او هند کښې مشهور و، په هر ځای کښې یې شاګردان او پیروان درلودل، دی څه موده په راجپوتانه کښې هم اوسیده، او دهغه ځای راجاو ورسره احترامانه وضعیت کاوه، ده په خپلو اشعارو کښې د سانسکریت ځینې کلمات او الفاظ هم د قافیې د ضرورت له امله استعمال کړې دی، ده بیا په آخر عمر کښې و اده و کړ او په «تیرا» کښې یې استوګنه و نیوله، چه تر اوسه یې د میا خیلو په طایفه کښې اولاده شته او خلک یې احترام کوی (۲)

مرزا د شاجهان په وخت د دکن په جنګ کښې په (۱۰۴۰ هـ) کال شهید شوی دی، ټول وروستنی شاعران یې پیژنی، او د روښان د علم دروازه یې بولی لکه چه دولت خان وایی :

د مرزا د نور الدین صفت به څه کړم — پیر روښان د علم ښار دی یې درو

د مرزا په پښتو شعر کښې د تصوف او سلوك علمبردار او د علم او تصوف کان بلل کیږی. خوشحال خان ورته د پخې او تللې وینا خاوند وایی. د میرزا دیوان د عروضی شعر یوه غوره نمونه ده، ده د خیرالبیان د سبك پیروی نه ده کړی، بلکه هغه افکار ئی په یو ښه ښایسته قالب

(۱) فهرست بلومهارت

(۲) دی په خپل دیوان کښې هم وایی: «د یاد ګار ځای ئې خیبر دی»

کښې اچولي دي، دده شاعري دمعنا شاعري ده، نو ځکه ئې په الفاظو دسختۍ او نامانوسۍ اعتراض کېږي.

په دې بیت کښې يې ښه تربیوي درس پروت دی:

که بهانه به د باغبان تربیت نه وای ‎ ‎ دغه دومره فیض به جاوېده له پاڼو ه

عرفان او فهم په داسې پېرایه کښې ستايي:

چه د روح له معرفته خبر نه وي ‎ ‎ د صورت مثال يې نقش د دیوار وي
کل حجاب د سړي خپله ناپوهي ده ‎ ‎ د هر چا لیده د فهم په مقدار شي

دده د تصوفي جذباتو داظهار په نمونه کښې دا یو څو بیته راوړل کېږي:

چه د یار په نامه مینه دم په دم کړم ‎ ‎ دغه یاد به يې د خوږ خاطر ملهم کړم
عام و خاص په هسې حال راخبر نه دي ‎ ‎ چه په کمه تخته شکل به کم رقم کړم
په یکتا نظر به واړه عالم وینې ‎ ‎ کل اشیا به ورته جام لکه د جم کړم

دولت: د میاروښان د سلسلې یو مشهور شاعر و، چه په قام نوحاني دی(۱) دده دیوان دروښان د تصوفي مسلك او افکارو هنداره ده. د روښان ټولي کورنۍ ته زیاته عقیده اری، خو په تېره د میرزاخان ډېر عقیدتمند دی لکه چه وايي:

میرزا گنج راته خپل کوروښو دغنی شوم ‎ ‎ بېهوده منت به ولې د بل چا کړم

دولت د پښتو یو تکړه او غښتلی شاعر دی، ډېرو شاعرانو لکه خوشحال، کاظم او میرزا حنان دده نوم ذکر کړی دی. دولت د تصوف گران مسایل له مرزانه هم په آسانه ژبه په پښتو شعر کښې بیان کړی دی. ساده او روان شعر اری، دده د شعر له باغه د روښان او میرزا د وحدت د باغ بوی راخیژي، هر ډول اشعار يې لکه غزل، قصیده رباعی، قطعه او نور ویلی دي، په اجتماعي خوا کښې يې دا بیت ډېر قدر لري:

له خپل قام سره دوستي نه کا کم اصل ‎ ‎ چه واصل ته رجوع لري اصیل دی.

دشعر په نمونه کښې يې دا یو څو بیته ولولی.

چه مې ډېر ډېر یاداوه دلبر مې بیامونند ‎ ‎ لکه تږي مستسقي کوثر مې بیامونند
سعادت را سره مل و له ازله ‎ ‎ چه کامل واصل د حق رهبر مې بیامونند
دړانده په دود حیران وم په تیاره کښې ‎ ‎ تېز خورشید تر ماه تابان گوهر مې بیامونند
مسافر په ډېر کلونو وم بې سره ‎ ‎ اوس هزار شکر کوم چه سر مې بیامونند
ننداره د دواړو کونو په نفس کښې ‎ ‎ هر سبا بېگا کوم بصر مې بیامونند

بل ځای وايي: حقیقت دعالم واړه راښکاره شو. چه د فکر قدم کېښو ډېر آسمان ما.

د دولت ژوندتر (۱۰۶۶ھ) پوري یقیني دی، ځکه چه په دې سنه کښې، ده دها دیداد دمیا روښان دنمسي مرگ ښودلی دی.

واصل: دی هم دیو ولسي پېړۍ له شاعرانو څخه گڼل کیږي د خوشحال خان معاصر، او یا تر هغه دمخه دی ځکه چه خوشحال خان يې داسې یادوي:

چه دمو ښږه په حساب دي ‎ ‎ هیڅ مې نه دي واصل هېر

په بل ځای کښې وائي: له دولت و «که واصل و، که دانوره و»

---

(۱) نوحاني یا الواني یا لوڼي یو پښتون قوم دی، چه دسوري ورور گڼل کېږي.

کاظم خان شیدا هم د مرزا او دولت په قطار کښې ذکر کړی دی او د ښه کلام خاوند یې بولی:

یو مرزا، دولت، واصل هم ... ښه کلام لری حاصل هم

مرزا حنان ورته د خوږو الفاظو ویونکی وایی: (ښه شیرین الفاظ ویلی دی واصل) داسې معلومیږی چه واصل هم د دولت دوختو شاعر او د «روښان»(۱) له پیروانو څخه دی؛ مګر دده اشعار تراوسه نه دی لیدلی شوی.-

امیر: د دوهمې دورې په شاعرانو کښې داخلیږی، ده په (۱۰۲۳ه) کال د پښتو په ژبه مثنوی د قرآن عظیم یو تجوید لیکلی دی، ددې کتاب له مطالعې نه معلومیږی چه امیر په عربی علومو کښې پوه او عالم و، دده داوسیدو ځای معلوم نه دی، اودژوندانه زمانه یې د (۱۰۰۰ه) څخه راوروسته ده د امیر تجوید یوه کوچنۍ مثنوی ده دی په شعر کښې د ملاالف دسبک پیرودی، او یو متوسط شاعر ګڼل کیږی کتاب یې په دې بیتو شروع کړی دی:

تل ثنا وایم شکرونه	د خاوند په نعمتونه
چه قرآن ئې راستولی	په سرور باندې راغلی
چه ایمان یې له عرفانه	مونږ ته وښوله قرآنه

ملامست: ددې دورې له مشهورو شاعرانو او لیکوالو څخه حسابیږی، دی د خپل وخت یو ښه عالم او فاضل سړی و، د (۱۰۴۰ه) په حدودو، د ننګرهار په علاقو کښې اوسېده، په خیبر او پېښور کښې ئې هم استوګنه کړې ده ملامست یو ګرزند او سیاح سړی و، دده دوفات وخت نه دی معلوم، مګر قبر ئې په (شنوارو) کښې دی او په «مست بابا» یادیږی. ملامست د (سلوك الغزات) په نامه د پښتو په نیم منظوم سبك یو کتاب لیکلی دی، مګر ځینې کامل عروضی شعرونه هم لری، په دې کتاب کښې د غزاګانو حالات، مسلمانانو قربانی، د پښتنو مړانی، او نور تاریخی احوال بیان شوی دی، تصوفی دینی او اخلاقی برخه هم لری، په دې کتاب کښې داخون چالاك خټك د جهادونو بیانونه هم شته چه د ملامست پیر او مرشد و. مست دا کتاب د غزا په روح لیکلی، او تصوفی شعری هم د تورو او غزو له بیانه خالی نه دی، په حماسی رنګ کښې د تصوف بیان کوی:

د یقین زغره می واغوستله سپاهی شوم	د باور په تیغ می غوڅ کړه ګمانونه
د معرفت لینده په لاس له بدو جنګ کړم	د حقیقت غشی می ځی تر آسمانونه

او س ئې د یوه شعر دا یو څو بیتونه ولولی:

چه ګاه موج د خوشحالی ګاهی د غم کا	دا دزړه شعر ئې روددی که چشمه مست
معنوی مغنی را شه هم زبان شو	له تا زده کړه د هر تار ګوښی نغمه مست
پر جهان می د فریاد کوکې خورې شوې	چه هر حال پر ژبه وایم دا یمه مست
کوهستان لکه لحد په کښې د لګیر شه	دا دزړه احوال به څو کوښی پر خامه مست
خوار خسته له هندو راجه راروان شه	د کرمول په سرای تېره کړه غرمه مست

(۱) ښاغلی خو ګیانی د کابل په (۱۰۵) شماره کښې لیکی چه دولت او واصل په د روښانیانو مدحی کولی واصل په دبستان مذاهب کښې په «میا واصل روشنی نامه نګار» یاد شوی دی.

ما زدیګر ئې دیدن راووړ ترکو لکه — چه ئې ولیده غازیان هلته څپلمه مست
و کفار ته لکه شنه زمری غوریږي — هر سړی ئې وپه ډول وډ ما مه مست
مسته را شه د کولك ننداره وکړه — چه غازیان ئې دیوانه دی که همه مست

۱ ـ اخون درویزه: دیو اسمي پېړی یو مشهور لیکوال او دیوې علمي او ادبي کورنۍ مشر دی

اخون درویزه د (۹۴۰هـ) په خواوشا، دیوسف زو دعلاقې په (ملېزو) کښې زېږدلی دی دده پخواني نیکونه لکه جنتي، جیون، مته، احمد، درغان په ننګرهار کښې اوسېدل، له دې کبله اخون درویزه هم ځانته ننګرهاري وایي بیادده نیکه شیخ سعدي دیوسفزو سره له ننګرهاره، ملېزوته ولاړ او هلته متوطن شو، مګر پلاري ئې چه (ګدای) نومیده په «چغرزو» کښې اوسېده: اخون درویزه د (۱۰۹) کالو په عمرپه (۱۰۴۸هـ) کال وفات او دپېښور په «هزارخانه» کښې ښخ شو اخون درویزه اوده کورنۍ په پښتو کښې ډېر شهرت لري او په اخون بابا یادیږي. دی دسیدعلي (پیربابا) مرید او یو عالم سړی و، عمرئې په وعظ او تبلیغ تېر کړی دی دواعظ، خطیب مولف مورخ او لیکوال په نوموستایل کېږي. اخون درویزه دپښتو دتاریخ په لیکلو کښې هم ډېر حق لري. دی د «دپیرروښان» یو قوي مخالف و، او په دې مخالفت کښې ځینې کتابونه لیکلي دي. دده مشهور کتاب چه په پښتو دی «مخزن الاسلام» نومیږي. دا کتاب یو مذهبي اوديني کتاب دی، عقاید او شرعی احکام په کښې بیان شوي دي. دمخزن دلیکلو سبك دخیر البیان سبك ته ورته دی، دې طرزته مونږ مسجع نثر یا نیمړی شعر وایو، که څه هم دوی ئې شعر بولي. داخون درویزه بل کتاب «تذکرة الابرار والاشرار» نومیږي، دا کتاب په فارسي ژبه یو تاریخي کتاب دی. د «ارشاد الطالبین» په نامه یو بل کتاب هم دده په آثارو کښې ذکر شوی دی، پروفیسر ډورن روسي، اخون درویزه دپښتو ژبې یو مشهور مصنف لیکونکی او دخوشحال خان همقطار ګڼي او دپښتو ژبې دادب په ژواندانه کښې یې اوی رکن بولي.

دپښتو دادب په خوا کښې داخون درویزه او دده د کورنۍ خدمت یو څرګند شی دی. ددوی دلیکنو او کوښښونو په اثر پښتو ښه ذخیره پیدا کړیده. او ډېر خلك د ده په شاګردانو کښې دې خدمت ته تیار شوي دي. نو ځکه آخون درویزه هم دیو ادبي مکتب مشر او جوړونکی باله شي، البته چه دموضوع په لحاظ داخون درویزه د کورنۍ نشریات په دیني او مذهبي خوا کښې محدود وو. او په نورو خواوٌ کښې یې ډېر څه نه دي لیکلي. اوس دمخزن دنثر په نمونه کښې دایو څو ټوټې ولولی!

۱ ـ (عمر نسفی هسې ویلي مبرهن دی، چه صوفیان دحق دوستان دي، هم دزړه په پاك کردن دي.

۲ ـ درویزه چه عقاید په پښتو ووی، شفقت یې وېرلوی، هلك ډېر آزاد، پربنده وهم په واړه پښتون خوا او هر چه دوی به دا کتاب په زړه کښې ځای کا.

۳ ـ خدای په هره ژبه بوله، عربي وی که فارسي وی، که هندي وی که افغاني وی، په هغه ژبه یې بوله، چه دې زړه وی، دا اقوال دامامانو، اوس اکثر عالم داوایي چه قران په عربي دی، په ناحق فرض، واجب پښتو کوینه، دوی په داوینا لغزیږي، نه په هېڅږي، دغه خوی دجاهلانو) که څه هم دمخزن نثر ټول په یوشان نه دی، په ځینو ځایو کښې دوزن التزام ډېر او په ځینو ځایو کښې دقافیو پابندی ډېره وی، خوغالباً جملې یې موزوني

وي، او هم په دې شي کښې د خیرالبیان له نثر څخه فرق لري- بل فرق ئې دا دی چه خیرالبیان ټول په یو شکل معلومیږي او په «دمخزن» کښې پوره عروضي اشعار هم شته چه د اخون درویزه اولادې او پیروانو لیکلي دي .

داخون درویزه کامل شعر په مخزن کښې نه شته، خو قاضي میر احمد شاه رضواني په «بهارستان کښې» دده یو مثنوي شعر راوړی دی چه یو دوه بیته یې دا دي :

(راشه واوره زما وروره- فضیلت د صبر گوره- صبر ښه دی پهر کار کښې ولې زیات په دا روز گار کښې) داخون درویزه دمخزن الاسلام قلمي نسخې خورا ډیرې دي. او په هر ځای کښې پیدا کیږي په هندوستان کښې چاپ شوی هم دی. یوه نسخه یې چه په (١٠٢٤هـ) کښې کریمداد کښلې ده، دا لندن په برټش موزیم کښې شته .

عبدالکریم:- په کریمداد مشهور او د آخون درویزه زوی دی، عبدالکریم یو مشهور عالم او عارف سړی و، د تصوف او سلوک په خوا کښې ډیر شهرت لري، داخون درویزه دمخزن جمع کوونکی او تولوونکی بلل کیږي- کریمداد په مخزن کښې له خپله ځانه هم زیاته برخه لري، ډیر خلک ورته د «پښتو محقق» وايي، دی که څه هم دخپل پلار په سبک لیکل کوي، مگر دهغه په سبک کښې یې د فکر او الفاظ په لحاظ څه اصلاحات هم کړيدي، کریمداد عشقي شعرونه هم ویلي دي او کلام یې د کامل شعر رنگ ته نژدې دی- داخو بیتونه دده دي :-

هر څوک له خپله سوزه څه ویېږ ي- چه بې سوزه گفتار نه دی چالیدلی
شاعري مثال بحر که پوهیږي - کم شاعر یې له گرد ابه راوتلی
ناقص تښتي له اغیاره - او عارف له خپله ځانه تښتېدلی

٭ ٭ ٭

وايي چه کریمداد په (١٠٧٢هـ) وفات شوی دی قبر یې دسوات په کانجو کښې دی او په شهید بابا یادیږي د کریمداد تالیفات دا دي :

١- تحفة الخاني، د کم عربي دیني کتاب پښتو ترجمه ده-

٢- فقه کریمداد، دفقهي مسئلو یو کتاب دی - ٣- په مخزن کښې هم یوه برخه لري-

٤- دعبدالکریم مکتوبات په فارسي دي -

خالق داد، داخون درویزه زوی دی، دی هم د پښتو شاعر او لیکونکی و یو کتاب یې د (شرایط واحکام ایمان) په نامه په پښتو منظوم کړی دی :

دخالق داد نور څه معلومات په لاس نه شته .

عبدالحلیم : داخون بابا نمسی دی پلار یې عبدالله نو میده. دمخزن په نسخو کښې دده اشعار هم لیدل شوي دي، اشعار یې د دیوان والا و سبک ته نژدې دي که څه هم اسا سا دنیکه دسبک تابع او پیرو باله شي دا یو څو بیته دده دي :

شهي ډیر غشي روغ کړي - عاشقان یې دي نومودي
دوی ویشتلي پرغونډ زره دي - پر میدان ورته ورغړي
عاشقان دایم په کار دي - دوصلت ثارونه غړي
نو حدت له شنه دریا به - شنه درونه یې راوړي

Marfat.com

مصطفی محمد: د کریمداد نمسی او د نور محمد زوی دی. دی هم د مخزن په ملحقاتو کښې برخه لري. د خپلو نیکونو په طرز یې اشعار ویلي دي او د دغه سبک پیرو دی، د ده په دوهم لاس په (۱۱۱۲ھ) کښې مخزن ټول کړی او جمع کړی دی.

دا دوه بیته یې ولولئ!

الا غونډې تر غاړه یګانه محبوب وغواړه
یګانه محبوب به مومې که ته وشلېږې له واړه

ملا اصغر: داسې د اخون درویزه ورور دی، دی هم ملا او شاعر و، د مخزن په آخر کښې یې یو مات ګوډ غونډې شعر راغلی دی چه د سر بیت یې دا دی:

وا وری یارانو نبی ناست په جماعت و جبرائیل ورېږې راغلی له بنه خدایه پرې رحمت و

عبدالسلام: د اخون درویزه په شاګردانو او پیروانو کښې حسابېږي، د مخزن په یوه نسخه کښې یې د کلام نمونه لیدله شوې ده، شعر ئې عروضي خو اته نژدې دی خو نور معلومات ئې په لاس نشته، د عبدالسلام یوه ټوټه کلام دا دی:

(یو وېی به درته وایم د صدق د بزرګي د رسول له جماعته - چه صدیق و سر حلقه د اولیاو د غه لوی بخري موندلی له رحمته - دویم عمر فاروق دی چه مکه یې کړه وزګاره، له کافرو له بتانو په یکلخته - دریم عثمان ذی النورین دی چه درست کاروان ئې و د خدای په رضا ایښی چه خبر شو د رسول له نبوته - څلورمی مرتضی علی دی، چه به دی په دلدل سور شه د غه کافران یې مړه وله هیبته)

عمرخان: د مخزن په یوه نسخه کښې یې اشعار راغلي دي داسې معلومېږي چه د درویزه له پیروانو څخه دی، په خپله اخون درویزه په تذکره کښې وایي چه ملا عمر شلمانی زما شاګرد و. د عمرخان کلام ښيي د اخون درویزه د کلام پښان دی لکه چه وايي:

دا بیان اخون ویلی په پښتو و ، ومعنی ئې په هرچا ویلی نه شوه
بېچاره عمرخان چه ورخبر شه ، تار په تار معنی ئې وویې
دی فاسق پراګنده په مخلوقات کښې ، پرده فهم له څښتنه عنایت دی

میرخان: د ده نوم او کلام هم د مخزن په یوه نسخه کښې لیدل شوی دی. دی د کریمداد شاګرد معلومېږي. مرزاخان د میرزا او دولت په ډله کښې د سلوک شاعر بللی دی:

یو میرزا، میرخان، دولت د علم کانوو ضرب د سلوک شعر یې کړی دی افضل

شیر محمد: د ده اشعار هم د مخزن د یوې نسخې په آخر کښې راغلي دي، داسې ښکاري چه د اخون درویزه د اولادې له شاګردانو څخه و، اول جلد «پښتانه شعراء» لیکي چه دی د ننګرهار د خوا یو طالب العلم و او ډېر دیني او اخلاقي اشعار یې ویلي دي. دا قطعه د ده ده:

یا ګوښه وای له سره یو پر آسمان باندې سحاب وای
یا عاشق وای پر مهر یو یا معشوق لکه مهتاب وای
چه نه دا شو نه هغه شو شیر محمد کشکې تراب وای

د علم په باب وايي:

علم فرض دی له طاعته پرمېږه هم په عورته
سکه طلب د علم بویه نتیجه یې د پرېوو لویه
چه طلب د علم نه کا غه عورته به څوک څه کا

رحیمداد: دا سړی هم داخون درویزه له اولادې او کورنۍ څخه معلومیږي کېدای شي چه یا یې زوی او یا یې لمسی وي، دمخزن په یوه قلمي نسخه کښې چه په (١١٤٤ هـ) کښې لیکلې شوې ده: دده یو خورا خوږ مدحیه شعر راغلی دی چه یو څو بیته یې دادي:

تر شیرین اسم دې جار شم محمده — سر فرازدې په دیدار شم محمده
سعادت ددواړو کونو زما دادی — که دې خاورې ددربار شم محمده
درمې و بوله چه درشم ستا تر دره — تر پنجرو به دې بلهار (١) شم محمده
ستا ثنا به د لوېې و یلای نشم — که بلبله د سهار شم محمده
ستا له جامه جرعه را کړه چه یې نوش کړم — سر تر پایه په خمار شم محمده

عبدالرحیم: دمخزن په دغه وړاندې نسخه کښې ددې سړي شعرونه هم راغلي دي، مګر په یقین نه ده معلومه چه څوک و؟ د احمدشاه بابا په زمانه کښې یو بل عبدالرحیم نامې شاعر هم مونږ ته معلوم دی چه (وروسته به بیان شي) مګر دده او دهغه داشعارو تر منځ ډېر فرق موجود دی نو ښایي چه دا سړی پرته له هغه عبدالرحیم څخه بل عبدالرحیم وي او داخون درویزه په کورنۍ او یا پیروانو کښې داخل وي. کلام یې دمخزن له سبک سره اوږخ لري لکه چه وایي!

دغه هسې ښایسته بشرې شوې تورې خاورې — چه په ښایست یې مخې نه وو د پسرلي ګلونه
دادسمندسوارې یې پرې پاسته پر زمکه باندې — په ډېر ارمان د ګوربندیان شول زلمي ناوې ځونه
داد دامان آهو به خلاص نه شي په تېښت له مرګه — نه به پرې ورځني خلاص شي دهوا مرغونه
داد دریاب ماهیان به څوله مرګ غریبي هلته — چه پر هر لوري چاپېر شود قضا جالونه
یو ذره دمحبت وعبدالرحیم ور کړې ای خدایه — چه ستا یې یاد وي نور نه وي په زړه نور فکرونه

احمد: دمخزن په دغه وړاندې ذکر شوې نسخه کښې ددې سړي شعرونه هم لیدل شوي دي. د (١١٤٤ هـ) په حدودو داحمد په نامه مونږ ته کوم بل شاعر معلوم نه دی، نو ځکه دی داخون درویزه له پیروانو او شاګردانو څخه، ددوله سي پیرې داولي برخي شاعر بولو. دی دجنت په بیان کښې دقصیدې په رنګ یو اوږد شعر لري چه یو څو بیتونه ځني دلته را اخلو:

جنت یې جوړ کړیه زیر ګلونه — چه په کښې ناستي د جنت ځونه
کنګرې یې روغې کړې د سروزرو — شهد و شکر دي په کښې رودونه
زلمي به واړه د یو ش کلن وي — ځوني به کمې تر شل کلونه
ځونه به ناستي پر زلیچو وي — چنګونه ایښي پر بالښتونه
نه به زړې شي نه به بدرنګه — هسې به تل وي د جنت ځونه
جنت ګلزار دی ځونه بلبلې — زلمي تو تیان دي پر چغارونه
احمده ژاړه دیدار یې غواړه — دیدار بهتر دی تر جنتونه

اخون قاسم: دپښتو له مشهورو کسانو څخه دی، یو کتاب یې چه (فوایدالشریعه) نومیږي دمخزن الاسلام پر سبک لیکلی دی دفقهې او شرعي مسئلو بیان کوي، دا کتاب په پښتو کښې ډېر شهرت لري او پښتني مېرمنې یې په کورو کښې وايي، اخون قاسم دشنوارو پاپینخیل دی. مستر راورتي مشهور مستشرق لیکلي چه دی په اشنغرا و یوسفزو کښې اوسیده دده دژوند زمانه ښه نده معلومه. مګر ده په یو ځای کښې داخون درویزه او دکریمداد شهید ذکر داسې کړی دی.

اخونان شهیدان واړه خدای پیدا کړه — چراغونه و په پښتو یې دین بیان کړ

له دې نه معلومیږي چه دی د کریمداد د مرګ په وخت کښې (١٠٧٢ هـ) لا ژوندی و. دفوایدالشریعه یوه نسخه چه په (١١٢٥ هـ) کښې لیکله شوې ده، دلندن په موزیم کښې شته دا کتاب چاپ شوی هم دی.

(١) ځار قربان.

بابو جان: بابو جان هم د ذخیرالبیان او مخزن الاسلام د سبک پیرو دی تر (١٠٥٠ھ) څخه ورسته ژوندی و او د اخون درویزه د زامنو معاصر دی.

مستر راورتی وایی چه دی د نورستان له کافرو څخه و چه ورسته بیا مسلمان شوی دی میر احمد شاه رضوانی هم وایی چه دی له دغه ځای څخه یو ملا په لوټ نیسی راوستی و، ده له څخه هم ذخیرالبیان په طرز اشعار ویلی دی مگر ځینی خالص عروضی اشعار هم لری. وایی چه ده د قبر په یوسفزو کښی مشهور دی هلته یی نسی هم شته او ده قلمی دیوان ورسره دی. د بابو جان ځینی اشعار مستر راورتی په (گلشن روه) کښی انتخاب کړی دی قاضی میر احمد شاه رضوانی هم په شکرستان کښی یو څه راوړی دی اشعار یی ټول اخلاقی او مذهبی دی دا بیتونه د ده دی:

دحاتم نوم به جاری وی ترقیامته دازل بخره یی وه له سخاوته
حاجتمن به ناامید تر ینه نه تلو ورکول یی وو بی اجره بی منته
دسوالی زده به یی روغ په مرحبا کړ د اهل نه و فقیر انو له خدمته
په شارونو ئی نوم ولاړ د سخاوت شو پادشاهان یی په غصه شول له شهرته
همت د خدای له خزانو دی بابو جانه همت ناکدي څښتن نه د لابی همته

د بابو جان یو کتاب په برټش موزیم کښی موجود دی، چه (٩٢) مخه دی بل اثر ئی دعا بی سریانی ده. یو بل زوړ قلمی کتاب ئی چه دین او اخلاقی مباحث لری او په نیم منظومی سبک دی. هم لیدل شوی دی.

خوشحال خان ختک

خوشحال خان ختک

خوشحال خان د پښتو ژبی د ادب د میدان یو غښتلی پهلوان او د ختکو د بڼ یو خوشنوا بلبل دی. پلار یی شهباز خان نومیده چه د ختکو مشر او سردار و. خوشحال خان په (١٠٢٢ھ) کال د ختکو په (سرای) کښی دوجود د گرته راغی. هغه وخت چه لوی شو نو د شاعری هنگامه یی جوړه کړه. دی په ریښتیا یو قومی او ملی شاعر و، د وطن او قوم په غم غمجن او د پښتنو په درد دردمن و پدې لار کښی یی ډیر زحمتونه و گالل، په کلک او ټینگ عزم یی د ملت او قوم د لویی د پاره له وینو سره لوبی وکړې، د پښتون په ننگ ئی توره له ملا

وتړله، دزمري په خوله کښې يې خپل همت پرې نښود دملت ساتندوی دپښتونوالی ګټندوی او دپردو دښمن معرفي شو څو کاله په هندوستان کښې بندي ؤ، بيائې له مغلو سره ډيرې جګړې وکړې او داورنګ زيب پادشاه سره يې ترمرګه دښمنی لرله. خوشحال خان دتورې سره قلم هم پلاس واخست. دشعراو شاعرۍ بازار يې تود کړ، دا باسپند په شان په چپوراغی، دجنګونو اوجګړوحالات يې بيان کړل. دپښتونوالی درانه خويونه، پاك اخلاق، اودږوندانه دستورالعمل يې وښود، داجتماعي حيات په مزه يې خلق پوه کړل، پښتانه يې دقوم او ملت خدمت ته راوبلل دتصوف اوسلوك علم او فلسفي په خوا کښې هم لګيا شو، لنډه دا چه هيڅ قسم مضمون يې پرې نښود ـ عشقي، اخلاقي، اجتماعي، وطني، فلسفي، تصوفي، جنګي، فکاهي اونور هرقسم مضامين يې دشعر په لباس کښې ونغښتل، دهرچا دذوق دپاره يې پخپل باغ کښې رنګارنګ ګلان وکرل ساده اوآسان شعر يې ووې، دخبرو ملك يې فتح کړ اودپښتو دادب استاذاو يونوميالی اديب وپژندل شو، دده له شعره دپښتو ژبه په آب وتاب شوه، اودبلبلو دنارو دپاره يې دخبرو اوويناباغ جوړ کړ لکه چه وايي :

ما خوشحال چه په پښتو شعر بيان کړ دپښتو ژبه به اوس په آب وتاب شي

هميشه به پرې ناري وی دبلبلو داچه ساز کړنن خوشحال په ويل باغ

غرض داچه خوشحال خټك دپښتو ادب يو دپرلوی اديب، تکړه شاعر، دملت پتنګ دپښتونوالی ليوال يو زبر دست مفکر اوسياس ومنل شو، دخپلو پردو، لويو وړو په ذهنو کښې دده د شهرت جلوه ښکاره شوه اودپورب خلقو ورته ديو ملي قومي لوی شاعر خطاب ورکړدی پرته له شعره دپښتو په نثر کښې هم دلوی لاس خاوند اودپښتو دنثر دنوی دور موسس باله کيږي، دپښتو نثر يې دخيرالبيان له طرزه راوايستلو يعنی دشعر له رنګه يې راوويست او دمحاورې رنګ ته يې نژدې کړ نو په دې اعتبار خوشحال خان په نظم اونثر دواړو کښې دمشرۍ اواستاذۍ حق لری اودپښتو ژبې يو پوخ شاعر، قوی نثر ليکونکی، يو مورخ اومشهور مؤلف ګڼل کيږي خوشحال خان د کلاسيکي ادب استاذ اومشر اوديوادبي مکتب خاوندد ي. دده په دې ادبي مکتب کښې ډير خلق پالل شوي اوروزل شوي دي. دده کورنی هم تولہ دعلم اوادب کورنی وه، نو ځکه دی ديو زبردست ادبي مکتب مؤسس او جوړ وونکی بولو او په پښتو ادب کښې يې دلوی شان خاوند ګڼو.

ده په پښتو اوفارسي کښې ډير آثار ليکلي دي مستر راورتي دده آثار له (۲۰۰) هم زيات بولي خو دپښتو مشهور کتابونه يې چه معلوم دي دادي :

۱ـ دپښتو اشعارو ديوان چه تقريباً (٤۰) زره بيته دی ۲:ـ دپښتنو تاريخ: مګر نه پيدا کيږي ۳:ـ عياردانش. دانوارسهيلي پښتو ترجمه ده ـ ٤:ـ پښتو هدايه چه له عربي څخه يې ترجمه کړې ده.

(۱) دعياردانش دنثر يو ټوټې دادی :

۱ـ پادشاهووی په دې حکم کښې له ماخطا وشوه او خبره په حال دفهر کښې زما له خولې وختله ولی بايده ده چه تا په هغه چارې کښې دغه رنګ تأمل په ځای راوړ، چه لايق دحال دناصحانو دی يو مورخ دباغ څښتن ناست و په تماشا د ګلونو بلبله يې وليده چه مخ به يې په پاڼو د ګل ميښ او په

(۱) وايي چه دپېښور په زيارت کلي کښې ديوسړی سره دخوشحال خان يو زوړ قلمي منظوم کتاب شته چه دعلاجونو اونسخو بيان کوی. (دکابل ۱۷۹ ګڼه)

Marfat.com

فریاد فریاد به یې پری ناري وهلې-ورق زرنګار د ګل به ئې په تېره مېنو کېوتر بله جدا کاوه ، دا نثر ساده ، آزاد او مرسل نثر او محاوري ته نبژدې دی ، مګر په ځینو جملو کښې لکه «تأمل په ځای راوړه ورق زرنګار» د فارسي تأثیر او رنګ معلومیږي خوشحال خان په (۱۱۰۰ هـ) کښې له دنیا تیر شوی او په (سرای کښې ښخ دی) او س دده یو څو بیتونه دلته راوړو :

چه څر ګنده سربازی کاندي د تورو   زه خوشحال خټک تر هسې هنر جار شم

حماسي :

لا په خوب کښې په لرزه پر بو زي له کټه   چه د چاتر غوږز ما د توري شرنګ شي

دخوشحال خټک خوښې په هغه ورځ ده   چه پر ښنا وشي د تورو او د غرو

دپښتون په ننګ مي وتړله توره   ننګیالی د زماني خوشحال خټک یم

✱ ✱ ✱

وګړي واړه کا رونه خپل کا   مردان هغه دی چه کار د بل کا

څو چه آرام ګټي د نیکو نام ګټي   دخوږ وږدونو دارو به تل کا

✱ ✱ ✱

اجتماعي :

بنیاد دچاري په مصلحت دی   بیا د مردانو په ښه همت دی

چه سره یو شي داد واړه تو که   واړه دولت دی عزت حرمت دی

✱ ✱ ✱

عشقي :

توره چه تېره پېژي خو ګذار لره کنه   زلفې چه واول شي خوخپل یار لره کنه

ولی راته وائي چه په ښکلو نظر مکړه   سترګي چه پیدا دی خو دیدار لره کنه

✱ ✱ ✱

تصوفي :

که مسجد ګوري که دیر   واړه یو دی نه شته غیر

یو مي بیا موند په هر څه کښې   چه مي وکړه د زړه سیر

هغه ځای په سیر ګر زم   چه تري نه رسیږي طیر

خوشحال یو ویني خو شحال دی   ورنه ورك دی غیر و زیر

غزل

په کاته کاته مي سترګي په خاته شي   چه خبر دې دراتلو را باندي وشي

تهخواوس له ماته ولاړی مرور شوې   دا زما یاری دې هم ګوندي په زړه شي

چه دیدن د محبوب وکړمه تازه شم   لکه کښت چه په باران سره او به شي

ګوره تارا باندې کوم کوډې وکړې   که په ښو درځني دروم زړه مي نه شي

په ارمان د هغه وقت یم دریغه دریغه   که دزني سیب یي بیا د ما په خوله شي

دخپل یار داجدیي بو هسي کار دی   لکه روح چه له وجود په واته شي

بخته هومره مدد بیا را سره وکړه   چه په غېږ کښې مي بیا تللی یار ویده شي

دخوشحال سلام په واړه و ښویا رانو   ګوندي بیا مي په لیدو سره زړه ښه شي

Marfat.com

جمال خان : دخوشحال خان مشرورورو، لوی ولی الله اوصوفی تېر شوی دی زیارت ئې اوس په فقیر بابا مشهور دی.

دی هم دپښتو شاعر واو دیوان ئې شته (۱)

اشرف خان هجری: دخوشحال خان مشرزوی دی چه په (۱۰۴۴ھ) کښې زېږېدلی دی. دی هم دخپل پلار پشان یو توریالی پښتون او ادیب و، په خپله خوشحال خان دده دتوری اومړانی ستاینه ډېره کړې ده داشرف خان دشعر دطبیعت زور هله ښکاره شو چه په (۱۰۹۳ھ) کښې اورنګ زیب دکن ته بندی بوت، هلته به ئې تل دوطن اوخپلو خوږو یارانو په یاد شعرونه ویل لکه چه وائي:

ماهاله دځان ماتم وکړ په وینو	چه اټك وته می شا کړه په ژړا شوم
اوس به څه دوطن ګلانې بوټی ژاړم	درخصت سلام می وکړ تری جدا شوم

هجری دخوشحال په ادبی مکتب کښې دلوړ مقام څښتن دی، دشعرو دیوان ئې درلود مګر نسخې ئې کمې پیدا کېږی وائي چه یوه قلمی نسخه ئې په برېټش موزیم کښې شته (۲) دهجری څه اشعار چه لیدل شوی دی هغه په عشقی، اخلاقی اووطنی خواو کښې دی هجری دسپین ږیرتوب په وخت په (۱۱۰۵ھ) د(بیجاپور) په کلا کښې وفات شوی دی، وائي چه افضل خان بیا دده مړی له بیجاپور څخه راوړ او په (سرای) کښې ئې دفن کړ.

داشرف خان یوڅو بیتونه دادی:

دارواح دکوچ نیلی په زړه کښې زین شول	چه په زنه می ویشته دشباب سپین شول
دځوانی بها رنچه و یښ له بده	دپیری په خزان نورویښته زرین کول
هسې وینې می غم توی کړی له سترګو	چه می نمری دصورت همه رنګین شول

❀ ❀ ❀

شورش مکړه دګردون له کش مکشه	لومه کښلکه کا مرغی په اضطراب
دنن کار طمعه هرګز له سبا مکړه	سبا ګوره هویداشی دکوم کار مخ

❀ ❀ ❀

اه وسوز می باطل مه ګڼه درویشه	سترګی هله کاږدا چه زړه په دردوی
تخت وتاج ته به سرکوز دهمت نه کا	چه په داد ددهر یوه آزاده مردوی
دا محال دی چه شاعر به په پښتو کښې	بل هجری غوندی په فن دشعر فردوی

❀ ❀ ❀

عبدالقادر : دخوشحال خان زوی او یو نومیالی ادیب دی، په سلوك اوتصوف ئې لوی لاس اری، دخپلی کورنی یوروښان ستوری دی، پس له خوشحال خان څخه په پښتو ادب کښې دوهم پهلوان او په نظم اونثر دواړو کښې غښتلی دی ډېر تالیفات لری دخوشحال خان په ادبی مکتب کښې اوله درجه سړی دی، میراحمد شاه رضوانی وائي چه عبدالقادر یو خوږ ژبی او نکته سنج شاعرو ده عشقی، تصوفی، اخلاقی اواجتماعی اشعار ویلی دی خو په شعر کښې ئې دتصوف رنګ غالب دی شعر ئې ساده اوخوږ دی خپل اشعار دزړه وینی بولی:

---

(۱) دمحمد اجمل خان خټك لیك.

(۲) په پېښور کښې دفتح محمد خټك سره هم یوه قلمی نسخه شته.

رنګینه شعرمې مه ګڼه الفاظ - داروان زماله زړه دوینو رودې .

عبدالقادر په (١٠٦١هـ) کښې پیدا شوی او تر (١١١٤هـ) پورې ژوندی و دډېرتا لیفات او کتابونه لري، راورتې ئې د (٦٠) کتابو خاوند بولي، دده مشهور کتابونه دا دي :

١- داشعار ودیوان ٢- ګلدسته، دسعدي د ګلستان پښتو ترجمه ده قلمي نسخه ئې په برټش موزیم کښې شته ٣- یوسف زلیخا، نظم دی ٤- حدیقهٔ خټک په نظم وه ددې کتاب هغه نسخه چه دعبدالقادر په خپل خط وه (محمدهوتک) لیدلې وه - نصیحت نامه

دارباعي دده ده:

کمسپین اوسره ئې په ګور کښې تل وي — چه نه ئې علم نه ئې عمل وي

بنیاد ئې نشته آخر به خوار شي — بخت به ترکومه ور سره مل وي

دعبدالقادر دالاندې شعرونه چه له (حدیقې) شخه پټې خزانې رانقل کړي دي ولولئ :

غزل

دریغه نور غمو نه لیرې شوې له دله — پکښې غم دخپل اشناي وې تل ترتله

شبنم وصل د ګل بیامونده خاموش شو — ترې محرومه شوه چه شور کاندې بلبله

نه چه ژبه دې قلم شوه په مجلس کښې — شمعې تاچه د خپل سوز قصه ویله

عاشق هیڅ نه وخبر د عشق له سوزه — دالمبه پرې معشوقې ولګوله

دفانوس په پرده څراغ کله پټیږي — که ئې مخ په پلو پټ وما لیدله

په ماتم د پروانه چه ئې ځان وسو — شمع اور په تندې بل کړ ګرزیدله

درسته شپه دې په نارو عبدالقادر کړ — ته بیغمه په پالنګ باندې څمله

رباعي

وخت د خزان و . و مې لیدلې — یو څو بلبلې چه ژړیدلې

خوارې خسته وې، وې مې سزائې — چه بې ګلونو وپایېدلې

❀ ❀ ❀

صدرخان: دخوشحال زوی او دپښتو ژبې شاعرو داشعارو دیوان ئې پادرې هیوز انګریز لیدلی وا واقتباس ئې هم ځنې کړی دي . «خوشحال په ادبي مکتب کښې له هجرې او عبدالقادر نه وروسته مقام لري» دمینې ددنیا سره دېر علاقه مند ښکاري نو وائي :

د عشق یو سبق کافي دي — نور ددرست جهان دفتر هیڅ

وائي چه صدرخان د نظامي (خسرو اوشیرین) هم په پښتو نظم ترجمه کړي دي مګر کمیافت دی ده د «دلې اوشهې» او د آدم خان او درخانې قصې هم په نظم کړې دي ددې دواړو کتابو قلمي نسخې په برټش موزیم کښې شته، د آدم خان قصه ئې په (١١١٧هـ) کال لیکلې ده ابتدئې دا ده

ربه زړه زما چمن کړه — دتا یاد پکښې ګلشن کړه

استخوان مې پنبه زار کړه — پکښې اور دعشق انوار کړه

هغه اور په ما لنبه کړه — خاکستر مې دا پنبه کړه

زما زړه لکه لاله کړه — دزړه وینې مې پیاله کړه

سکندر خان: دا سړی هم دخوشحال خان له زامنو څخه دی چه دده دمکتب یو پیاوړی ادیب و دیوان ئی نه پیدا کیږي، فقط پاړدي هیوزني یو څو غزل «په کلید افغاني» کښې راوړي دي. کلام ئې خوږ او عشقي دی وائی چه ده د (مهر او مشتري) په نامه یو کتاب په پښتو نظم کړی دی. دا بیتونه دده دي:

ستا دزلفو مارچیچلی نه رغیږي ... په ستانو په زیار تو نو په دم هم
تا چه مخ ورته بنکاره کړلی نی شو ... پاس دغرونو په سر گرزي په سم هم
هغه راز دمحبت چه پټ له تا دي ... زده خبر ورځنی نشو قلم هم
دخوښی پیاله په لاس کښې نن زما ده ... در دزحمت را څخه وتښتید هغم هم

❀ ❀ ❀

گوهر خان: دخوشحال خان زوی دی، وائي چه دشعر دیوان ئې هم درلود، او یو ښه ادیب ؤ مګر شعر ئې نه دی لیدل شوی.

بهرام خان: دی هم دخوشحال خان زوی کیږي، شاعر او لیکونکی و پخپله خوشحال خان وایی:

عطارد دي نور قلم له لاسه کیږي دی. ... چه په دا خوبی بهرام انشا املا کا

دده اشعار هم نه دی لیدل شوی.

حلیمه: دا دخوشحال خان لور وه، چه ده عبدالقادر سکه خور کیده. یوه عارفه او عالمه ښځه وه د تصوف کتابونه ئی لوستلي وو: دعبدالقادر په کور کښې به ئې ه نورو ښځو ته لوست کاوه قرآن عظیم ئی هم یادؤ، ه حلیمه یوه ادیبه ښځه وه، دپښتو ښه اشعار به ئی ویل ددې اشعار دحقیقت پر لار ؤ او په هغه وخت کښې یه دپښتو شعر دانانو خوښول یو څو بیته ئې دا دي

د آشنا په فکر خوښه هسې شان شوم ... نه پوهیږم چه ممتاز که نور جهان شوم
وهر چاو ته چه گورم واړه دی دی ... دجمال په ننداروئې شاد مان شوم
غیر فکر مې له زړه نه رابهر شو ... پر خلیل و پر عدو باندی یکسان شوم
حلیمې دغماز مکر زیات له حد شو ... چه دبل یاره نه کا په گمان شوم

ویلې شو چه دخوشحال خان په ادبی مکتب کښې دا ښځه هم لوړه درجه لري.

خواجه محمد بنگښ: دا سړی هم دپښتو له مشهورو شاعرانو څخه دی، دخوشحال خان معاصر او داورنگ زیب په وخت کښې ژوندی ؤ. خواجه محمد دپښتو یو لوړ شاعر دی ښه قوی او معنی دار کلام لري. دی دیو کامل دیوان خاوند دی مګر دیوان ئی تول نه دی نشر شوی، یوه برخه ئې مستر راورټي په (گلشن روه) خپره کړې ده. دعشقي، عرفاني او اخلاقي اشعار ویلې دي دا بیت ئی په اخلاقي خوا کښې یو قیمتي بیت دی:

زړونه مه ماتوه لعل دبدخشان دي ... بیا مشکل دی رغول د شکسته ؤ

دی هم لکه دخپل وخت د نورو شاعرانو دمغلو له مظالمو څخه سرټکوی او وائی:

داورنگ په پاچاهی کښې مې نیاونشی ... زه خواجه محمد به ووزم وبل لورته

دخواجه محمد نور حالات معلوم نه دی، خو دپښتو په شاعرانو کښې دښې درجې خاوند دی دا یو څو بیته ئی ولولی:

چه بادشاه ئی دحمله و بنا یسته و — خبر وا خله دعا جزو خوار خسته و
زړه می ستا په محبت سره تړلی — نظر وکړه په دا خپلو دل بسته و
دچمن گلونه وا ړه پری تازه شو — شمال را غی ستا دمخ له گلدسته و
درست ئې وویستم لهعقله له شعوره — ستا خوږو خو ږ و خبرو آهسته و

رحمان بابا

رحمان بابا هغهڅوك دی چهدپښتنولوی والړه، ښځی او زړئې پهښهشان پېژنی تولوغوږونوته دده خوږ اوله تاثیره ډك نوم رسیدلی دی ، دپښتنو بابا او دروحانی دنیا مشردی وائی چه دده اهملامحمد یوسف یوسف زی څخه فقه، تصوف اونورعلمونه زده کړی اوویلی وو: تل بهئی دخدای عبادت کاوه

(رحمان بابا)

رحمان بابا یوازی شاعر نه و بلکه دخدای پاك یونازولی دوست ؤ دده پهزړه کښې دحقیقی عشق ډیره بلهوه، پهدنیا کښې ئی بی لهخپل محبوب څخه دبل هیڅ شی سره علاقه نهدرلوده، وائی چه دی بهدیوی ونی لاندی ناست ؤ او دخپل حقیقی محبوب پهمینه اومحبت کښې بهئې پهپښتو ژبهخوازه خوازه اشعار ویل دده شعرتول الهامی ؤ خومره جوش او خوند او لذت چه درحمان بابا پهشعر کښې پروت دی هغهبه دبل یو شاعر په شعر کښې هم نه وی نوځکهدی حق لری چه وائی :

خوشحالان او دولتان می غلامان دی — زه رحمان په پښتو ژبه عالمگیریم

محمد هوتك په خزانه کښېوائی چه «دخدای دوستان درحمان بابا شعرونه ډیرلولی او خوښوی اوعامخلق فالونه پرې گوری حتی چه دښمنیهم دا کتاب ډیر وائیء خدای تعالی دده پهوینا کښې هسی برکت ایښیدی چه دهرخوزمن زړه داروبه کا» خومره چه درحمان بابا شعرته

دغو ریه سترګه کتل شوی دی نو هغه د شعر نه پورته یو مقام لری. په هغه مقام کښې بل څوک د ده سره د دریدو حق نه لری: هم دا وجه ده چه کم عام مقبولیت او شهرت چه د رحمان بابا په نصیب شوی دی: هغه د بل یو شاعر هم په نصیب شوی نه دی د رحمان بابا د سوی دردمن زړه آهو نه او سوې ناری د موزونو الفاظو په قالب کښې د کاغذ په پاڼو جمع شوی، او یو لوی دیوان ورنه جوړ شوی دی. وائي چه د ده اشعار له ده څخه وروسته د ده شاګردانو ټول کړی او مرتب کړی دی. د رحمان بابا اشعار په عین ساده والی کښې ډیر مؤثر او خوندناک دی. اشعار ئې عموماً عشقی، اخلاقی، او اجتماعی دی، دی د شاعرۍ په فن کښې د یو مستقل مکتب خاوند دی، شعر ئې ځانله طرز او خاص روش لری. د تصوف پاخه افکار ئې ځای په ځای څرګند کړی دی، د اخلاقو په درس کښې هم لوی استاذ او صحیح مرشد دی، هره معنی په ډیره بلیغه پیرایه کښې بیانوی نو ځکه د ده شعر په پښتو کښې اعجاز ګڼل کیږی عشق د هر شی مبداء او د جهان د پیداوښت اساس ګڼی:

دا جهان دی خدای له عشقه پیدا کړی
د جمله و مخلوقاتو پلار دی دا

په تصوف کښې وائی: زه د یار مینې په یار پسی شیدا کړم
که څوک ما کښې زه نه یم وا ده ی دی

د استقامت مثال ښیٔ:

لکه و نه مستقیم په خپل مکان یم
که خزان را باندی راشی که بهار

او س د رحمان بابا د الهامی شعر د ایوه پڼی و لولی:

که د ادار په د ادا ری زما قدم زدی
ګویا هر قدم په لو ری د حرم زدی

ځای لری که بی منته بوسه را که
کوم کریم په چا منت د خپل کرم زدی

معشوقه مشفقه بویه مهر انه
نه قارون چه په ځان اسم د حاتم زدی

خدای وما وته ګلونه د جنت کړه
که داغونه می په زړه باندی د غم زدی

هیڅ ما نه دي څوک له مستو ستر ګو نه کا
کوم یو مست دی چه قدم په لاري سم زدی

و آسمان ته لاس د عقل نه رسیږی
ګینه عشق به عرش کرسی باندی قدم زدی

٭ ٭ ٭

زه دا هسی دیوانه او مجنون چا کړم
له رواجه له رسومه بیرون چا کړم

نه پوهیږم چه دا چاری په ما څوک کا
لیونی د خپل ننګا په افسوس چا کړم

کو می ستر ګی، کوم بانړه، کو مه غمزه دی
د وب شهید غوندی په خاک و په خون چا کړم

توان توفیق خود فتنو را څخه نه و
په فتنو د تورو ستر ګو مفتون چا کړم

رحمان هیڅ له خپله ځانه خبر نه وم
په دا هسی رنګ زبون او محزون چا کړم

رحمان بابا په قام مهمند غوریا خیل دی د پلار نوم ئې عبدالستار و په (١٠٤٢ هـ) کال د پېښور په (بهادر کلی) کښې زیږیدلی، او بیا په (١١١٨ هـ) کښې وفات شوی دی، رحمان بابا اوس د پېښور په (هزار خانې) کښې مدفون او د خدای د رحمت په ابدی غیږ کښې ویده دی راورتې چه د رحمان بابا د لور له خوا اولاده په بهادر کلی کښې اوسی، د پښتو درست شاعران رحمان بابا د پښتو شعر پیشوا ګڼی، دی غیب اللسان او شعر ئې معجز بولی لکه چه پیر محمد وائی:

که هو څو وائی نازک شاعران شعر
ولی دوی ګڼی معجز د رحمان شعر

سوز ګداز د محبت ئې مګر زیات و
چه سوزان ئې هسی شان کړ بیان شعر

ترمصراع ئی جارشه لاړ د مرغلرو ـــ پهځه تارئی آویخته کړ یکسان شعر

شمس الدین کاکړوائی :

کهڅوك ونیسی پهلاس میزان دشعر ـــ پهعروض کا سنجیده بیان د شعر

و به نه رسی په شعر لهرحمانه ـــ کههرڅو کوی هوس افغان د شعر

عبدالله محزون وایی :

درحمان لهشعره بوی د معجزی ځی ـــ مرید ژر کاندی له پیره برابره

یونس وائی :

لهرحمانه فیض یاب عبدالرحمان شو ـــ چهله دي سرایه پهنوی سرای مهمان شو

دپښتو شعر ئي هسی نامه یو وړه ـــ چهخبر ئي پهاشعار ایران توران شه

پردیډول درحمان بابا پهالهامی شاعری ـ دیرخلق گروهیدلی، اودده ستاینهئی کړیده

ددوهمی دوری پښتانه مؤرخین

پهدي دوره کښي ځني پښتانه مؤرخین هم شته چهچاپه پښتو اوچاپهفارسی ځینی تاریخی کتابونه لیکلیدی نودلتهمونیز غواړو چهپهلنډډول ددوی بیان وکړو.

شیخ قاسم: داعالم اوعارف سړی دشیخ متی لهعلمی کورنی څخهدی، پلارئی شیخ قدم اومورئی (نیکبخته) نومیده چهدپښتو شاعرهوه. شیخ قاسم په(٩٥٦هـ) کال د پښور په(بهنی) نومیځای کښي زیږیدلی دی. دهپه پښوراوخواوشاځایو کښي ډیراعتبار درلود، نواکبر بادشاه لاهورته وغوښت بیاهلته (جهانگیر) د(چنارگړه) په کلا کښی بندی کړاو هوری په(١٠١٦هـ) کتال لهدنیا تیرشو چهمزارئی تراوسه مشهوردی: شیخ قاسم یوپښتون مؤلف اومؤرخ دی یو تاریخی کتابئی د (تذکرةالاولیاافغان) پهنامه لیکلی دی، مگر دا کتاب کم یافتدی اونهپیدا کیږی.

نعمت اللههروی: داسړی دخواجه حبیب اللهزوی دی چهدهرات لهپښتنوڅخهو؛ دپښی خزانی پهقول اصلانور زیدی چهد(١٠٠٠هـ) پهخواوشا کښيئي ژوند کاوه ده په (١٠٢٠ هـ) کال دخان جهان لودی پهامردپښتنو پهحالاتو کښي یو تاریخ ولیکهچهنومئی تاریخ خان جهان یا(مخزن الافغانی)و دا کتاب پهفارسی دی اودپښتنو پهتاریخ کښي یوخورامهم کتاب دی دلودیانو اوسوریانو اونوروپښتنو پاچاهانو حالات پکښي مفصل راغلی دی. د دي کتاب قلمی نسخی پیدا کیږی. اوانگلیسی ترجمهئی هم دپروفیسر ډورن لهخوا په (١٨٣٦ ع) پهلندن کښي خپره شوی ده، دنعمت الله لهدي تاریخی کتابه دپښتو پهادب کی هم ښه استفاده کیدای سی.

هیبت خان کاکړ: هیبت خان هم یوپښتون مؤرخ اولیکوونکی دی. دنعمت الله سره ئی دهغه پهتاریخ کښي مرسته کړیده. هیبت خان دخان جهان لودی ددرباریوعالم اوادیب سړی اویوپښتون مؤرخ گڼل کیږی.

شیخ عباس سروانی: دي سړی د(تاریخ شیرشاهی) پهنامه دشیرشاه سوری اودده دکورنی پهحالاتو کښي یو کتاب لیکلیدی چهددغی کورنی حالات پکښي لهابتداڅخهدشهزاده سلیم ترمرگه پوری بیان شویدی. ژبهئی فارسی ده. نومعلومیږی چهشیخ عباس یوپښتون مؤرخ اوفاضل سړیو.

Marfat.com

حاجی محمد عارف: داسړی اصلاً قندهاروَ، یو خورا مفصل تاریخ ئې لیکلی دی لمړی ټوک ئې (مطلع) او دوهم ټوک ئې (مقطع) نومیږی. دی په هند کښې اوسیده چه بیا په (۹۸۵ھ) کښې هلته ووژل شو. ده په خپل تاریخ کښې د هند د پاچاهانو او د پښتنو د پاچاهی احوال لیکلی دی.

امام الدین: د شیخ کبیرزوی او د شیخ قاسم نمسی دی شیخ کبیر هم ددې کورنی یو مشهور سړی تیر شوی دی، امام الدین د (۱۰۲۰ھ) په اول کښې زیږیدلی دی او دخپلې کورنۍ د نور و خلقو پشان یو علمی او روحانی سړی و سربیره پردې یو پښتون موزخ هم باله کیږی ځکه چه د پښتنو پر حالاتو ئې د (تاریخ افغانی) پر نامه یو تاریخ لیکلی دی.

کامران خان: په قام سدوزی دی، په (۱۰۳۸ھ) کال ئې د قندهار په شهر صفا کښې یو کتاب و کیښ چه نوم ئې «کلید کامرانی» وه دا کتاب د محمد هوتك لاس ته ورغلی و او په پټه خزانه کښې ئې ځنی معلومات ورنه اخستی دی. دا تاریخ د پښتنو یو سیاسی او ادبی تاریخ و، مگر اوس ئې پته نشته.

حسین خان افغان: په پښتو او فارسی ئې گډون په (۱۰۳۲ھ) د (تواریخ افغان) په نامه یو کتاب لیکلی دی. دا کتاب حافظ رحمت خان لیدلی و. (۱)

ابراهیم پښتنی: د شیخ عباس شروانی تاریخ شیرشاهی ئې بشپړ کړی او تمام کړی دی نو په دی لحاظ دی هم یو پښتون مورخ بولو.

ددې دوری ځینې عالمان او شاعران چه آثار ئې نه دی پیدا شوی

مولانا عبدالوهاب: دلسمی پیړی له مشهورو عالمانو او قایدانو څخه دی وائی چه دی د سلطان محمود گډون ملگری و. سلطان محمود د (۱۰۰۰ھ) په حدودو کښې د اباسین پر غاړو د پښتنو یو ملی مشرو. عبدالوهاب دا شعر په (دواوه) کښې لوی شوی دی. د سلطان گډون له خوا خلیفه او یو مشهور پیر او عالم و، ډیر مریدان ئې لکه اخون چالاك او نور درلودل. اخون درویزه دده په حالاتو کښې لیکی (چه دی یو بوه پیاوړی عالم او دخپلې زمانې یو پرهیزگار سړی و) دی په پارسی، عربی، پښتو هندی ژبو کښې تالیفات لری، کنزالدقایق ئې په فقه کښې منظوم کړی دی مولانا عبدالوهاب د علم د خپرولو د پاره ډیر کوششونه کړی دی او یو لوی مجاهد هم و. قبر ئې د پیښور (په اکبرپوره) کښې دی او په اخون پنجو بابا یادیږی.

اخوند چالاك: د مولانا عبدالوهاب ملگری، مرید او پقام خټك و. اخوند چالاك د صافو او شنوارو په مرسته د کونړ په غربی دورو کښې د اسلام د اشاعت د پاره له کفارو سره ډیر جنگونه او جهادونه کړی دی، ملامست په خپل کتاب (سلوك الغزات) کښې دده دغزاگانو پوره حال راوړی دی یو ځای کښې وائی:

دا زمونږ اخون همیش بهادر ددین دی
چه له مخه ئې تیاره تښتی رڼاځي

اخون چالاك یو مجاهد او عالم سړی و، اخون درویزه ئې هم ذکر کړی دی، وائی چه دی د شاهجان مغولی دلاسه مړ شوی دی او قبر ئې په پېښور کښې دی (۲)

---

(۱) فهرست بلومهارت.

(۲) د ښاغلی خوگیانی مقاله د کابل په (۱۵۶) مجله کښې.

Pushto Academy
University of Peshawar

Marfat.com

مولانا نورمحمد : داپښتون عالم هم دمولاناعبدالوهاب له پیروانو څخه دی، یومجاهد اوغازی سړی و، دده اصلی نوم محمدیونس، اودغه ئې لقبی نوم دی، خزینة الاصفیالیکی: چه دی دیوسف زو یونامی فاضل و، په پښتو کښې چه دیومشر دپاره کوم صفات په کار دی هغه ټول په ده کښې موجودوو په توره اوسخا کښې بې مثله و، دمولانا عبدالوهاب په هدایت ئې داباسیند په کوهستان کښې داسلام اوعلم اشاعت کاوه، دغلته ئې دچالاك په ملګرتیا جهادونه کړی اواسلام ئې خپور کړی دی دی دمولانا عبدالوهاب زوم هم مولانا نورمحمد دهندوکش په غارو ادرو کښې هم دعلم دخپرولو په مقصد ګرځیدلی دی، وایې چه ده پښتو ژبې ته په تدریساتو کښې زیات اعتبارور کړی و اودپښتو ژبې په خدمت کښې یې هم برخه اخستې وه دی په(۱۰۵۹ھ) کښې وفات شوی دی.

مولانا احمدشاه : دمولانا نورمحمدورور اویو عالم سړی و. استو ګنه یې په هند کښې وه پیرسباك، داخون چالاك ورور اودمولانا عبدالوهاب دسلسلې یوعالم اوفاضل سړی و

محمد یوسف : داسړی په قام یو سنزی اویوښه عالم اوفاضل و عبدالرحمن بابا دده له شاګردانو څخه دی، چه له ده څخه یې دینی علوم لوستلی وو په خپله محمدیوسف د مولانا نورمحمد شاګرد او مرید دی (۱)

عبدالله : دروېزانیانو معاصر دی، داخون درویزه په قول دملار کن الدین زوی او دپښتو ژبې شاعرو، مګرد کلام نمونه یې نه ده پیداشوې.

الله داد : داسړی قاسم علی افریدی د کریمداد اودرویزه سره یوځای دشاعرانو په دله کښې ذکر کړی دی، نواحتمال لری چه داخون درویزه په سلسله کښې داخل و ی.

میاداد : دی هم دپښتو یومشهور شاعر معلومیږی ځکه چه ډیرو ورستو شاعرانو یاد کړی دی مګرداپه یقین نه ده ښکاره چه دی خوك ومرزاخنان دشاعرانو په دله کښې داسی راوړی دی (بل اخون میاداددعشق په میومست و) دمطیع الله په قلمی دیوانکښې دیوغزل دپاسه چالیکلی دی چه داداخون میاداد دشعر عکس دی؛ له دې نه معلومیږی چه دغه لیکونکی دمیاداد اشعار لیدلی وو

مسری خان : ددې شاعرنوم ملامست په خپل کتاب کښې داسی اخستی دی :

هغه شاعر مسری یې هم ورسره مل کړ - چه درست صافی یې غبزودبدلو نو غالبه داده چه داشاعر، په قام صافی اودملامست هممعصرو، نور معلومات یې نشته

ددې دوری پښتانه پاچاهان

په دې دوره کښې دپښتو مشهور پاچا شیرشا سوری دی،دده اصلی نوم فریدخان او پلار یې حسن نومیده، شیرشاسوری په (۹۴۸ھ) کال مغولی همایون څخه پاچاهی واخسته او په هند کښې یو زبردست پاچاشو. دی یوعادل اومدبرپاچاو په رعیة مهربانه، اودعالمانو اوفاضلانو قدردان وتولو پښتنو ته یې په یوشان کتل اوویل به یې زما په دربار کښې دقبیلو ذکرمه کوئ، ماته ټول پښتانه یودی (۲) » له ده نه وروسته یې زوی اسلام شاه هم پاچاهی کړی ده، دشیرشاه په زمانه کښې پښتانه شاعران لکه شیخ عیسی او نورتیر

---

(۱) دښاغلی خوګیانی آثار . (۲) دآزاد پښتون مجله .

شوي دي ځيني پښتانه مؤرخين لکه شيخ عباس او نور هم په دغه وخت کښي وو په دي دوره کښي نورلوي پادشاهان نه دي تير شوي، بلکه دا دوره عموماً د مغلو د پادشاهۍ په دوره ياديږي چه له بابر څخه شروع شوي او په محمدشاه گورگاني ختمه شوي ده، هو! ځيني واړه اميران او مشران لکه روښان، احداد، عبدالقادر، سلطان ملخي توخي، او دغسي نور ځاي په ځاي تير شوي دي مگر هغوي په لو پاچاهانو کښي نه حسابيږي .

ددې دورې ادب ته يوه عمومي کتنه

وايي چه د هري زماني ادب د خپل وخت د خيالاتو او افکارو نماينده او ښکاره کوونکي دی، رښتيا ده چه شاعر او يا ليکوونکي هله څه ليکلي شي چه د زماني له واقعاتو څخه متأثر شي او دغسي ادب چه د زړه تاثر و احساسات ښکاره کړي رښتياني ادب دی د پښتو ادب په اوله دوره کښي په بل شان او بل صورت او په دوهمه دوره کښي يې بل رنگ پيدا کړی دی ددې ادبي تحول او بدلون لوي سبب د زماني د واقعاتو بدلېدنه ده د مغلو د پاچاهۍ دوره په پښتو ادب کښي يو څرگند تأثيرلري که څه هم د مغلو اصلي پاچاهي د چنگيز له وخته يعني د اوومې پيړۍ له ابتدا څخه نښتي ده مگر ادبي تاثرېې د بابر له وخته يعني د لسمې پيړۍ څخه را په دې خوا ظاهر شوي دي بل دوهم سبب چه ددې دورې په ادب کښي ښکاره تاثيرلري هغه د سلام د پاك دين وسعت او د مذهبي افكارو غلبه ده له دې وخت څخه پخوا د پښتو ادب يوازې د شعر په خوا کښي زياته برخه لري له او د نثر برخه يې کمزوري وه. دا رنگه د موضوع په لحاظ هم شعر محدوديت درلود يوازې عشقي ترانې، ځيني مناجاتونه، جنگي سندرې او د طبعي منظرو صفتونه پکښي موجود وو؛ چه دا د هري ژبې د شعر لومړي برخې دي. د هغه وخت اشعار له پاکو او ساده احساساتو څخه ډك او آهنگونه او اوزان ئې هم ملي او خوند ورو و. له مادي احساس نه خالي او د معني په لحاظ لوړ او ممتاز و او په هره کلمه کښي ئې لطافت، خوږ والي قوت او پاکوالي ښکاره ؤ لکه د بيټ بابا مشهور مناجات مگر بيا کوم وخت چه له يوې خوا مذهبي افكار و عموميت وموند يعني د اسلامي دين رڼا په هر ځاي خپره شوه او له بلې خوا د مغلو د غلبې او پاچاهۍ دوره راغله او په هر ځاي کښي يو سياسي او ديني بدلون پېښ شو نو بيا دې اعتبار په پښتو ادب ئې هم اثر ولويد، په پښتو شعر کښي مذهبي افكار په زياته اندازه ننوتل چه ددې دورې اکثر کتابونه له دغه رنگه ډك دي، هر کله چه عربي د مسلمانانو مذهبي او ديني ژبه وه او يو خاص مذهبي قدرئې درلود نو عربي ځيني مذهبي الفاظ او کلمات لکه تصوف، معرفت، سلوك، شريعت او داسي نور هم په پښتو ادب کښي را داخل شول، او ورو ورو د غه رنگه په پښتو کښي زيات شو. بر ته له دې څخه کوم بل مهم بدلون چه د پښتو په شعر کښي راغي هغه دا ؤ چه په دې دوره کښي عربي او فاسي وزنونه هم د پر شول او د پښتو د ملي خاصو اوزانو ځاي ئې ونيو. په دغه وخت کښي هر کله چه عربي ژبې ديني نفوذ او فارسي د مغلو په وجه سياسي نفوذ درلود نو ځکه دې وجه ئې د پښتو ادب هم د الفاظو او کلماتو له خوا او هم د اوزانو له خوا د خپل تأثير لاندي را ووست په دې دوره کښي په دې لحاظ چه د ليکلو ضرورت له هر حيثه زيات ؤ په پښتو ادب کښي د کميت له خوا يو ره تحول راغي يعني ډېر آثار او کتابونه وليکل شول په نظم او نثر دواړو کښي ذخيرې زياتې شوي او د پښتو د ادب لمن او يه شوه په دې زياتوالي کښي د پير روښان او اخون درويزه مذهبي اختلافونه او جگړې هم پوره تأثير لري ځکه چه دوي به د خپلو افكار د خپرولو د پاره په خوله او قلم تبليغ کاوه هم به ئې خطابي او وعظونه کول او هم به ئې کتابونه

او آثار لیدل مګر په دې دوره کښې د پردو کلمو استعمال څه قدر د پښتو د نظم او نثر اصلي خوږ والي او سلاست ته ضرر رساوه یعنې د کیفیت په لحاظ د پښتو ادب څه قدر ضرر من او نقصان من شو بل هر کله چه په دې دوره کښې د مغلو جنګونه، ظلمونه، تا ګړې زیاتې شوې، زړونه دردمن او په غم او درد اخته شول، د جګړو او جنګونو لمن هر ځای خوره شوه، پښتنو د خپل قوم او ناموس د ساتنې د پاره توري ته لاس وروړ ته کړ، د پردو مقابلې ته کلک ودریدل او مدافعې ته تیار شول نو د دې ملي حرکت او خوځیدو په وجه په شعر او ادب کښې هم یو حرکت پیدا شو، او رزمي او جنګي اشعار له پخوا څخه زیات میدان ته راووتل، پرته له حماسي اشعارو څخه په دې دوره کښې اخلاقي اجتماعي، دیني او تصوفي اشعار هم له پخوا څخه زیات شوي او ډېر شوي دي. د دې دورې ته موږ د پښتو د نوي نهضت دوره ویلی شو، په دې وخت کښې پښتو د علم او وسعت میدان ته راووته علمي ذخیره ډېره شوه د تصوف او سلوک څخه د پښتو شعر زیاته برخه ومونده د دې دورې د پښتو ادب په ژوندانه او سرمایه دار کولو کښې پیر روښان، اخون درویزه، خوشحال خان خټک او د دوی کورنۍ لوی لاس او ډېر حق لري، د دوی د کوښښونو په وجه ډېر خلق د پښتو د کاروان سره ملګري شول او د لیک او تحریر شعر او شاعرۍ عمومي شوق پیدا شو هر طرف ته د پښتو ناوې پورته شوې او هر چا قلم په لاس واخست، پیر روښان د قافیه دار نثر یا د نیم مصنوعي نظم سبک را او ویست او د ده په مکتب مشهور شو چه ډېرو خلقو ئې پیروي وکړه حتی چه اخون درویزه هم د دغه سبک پیرو بالله شو، مګر خوشحال خان خټک په شعر او نثر کښې د یو ځانله مکتب او طرز جوړونکی و بالله شو، نو لې کورنۍ ئې د پښتو په شعر او ادب کښې نوم وویست او په دې لار کښې ئې ډېر خدمتونه وکړل د روښان او خوشحال خان کورنۍ تقریباً دوه سوه کاله دالی ګو لې په میدان کښې په مړانه وچلېدې، پردو ظلمونو او بېګانه لاسونو هیڅ کله د دوی د جوش او روانه مړه نه کړې شول، کلونه کلونه د مغلو والي په مقابل کښې د پښتنو والي بیرغ جګ ولاړ وو، اکثر شاعران د یوه درد په اثر په یوه آواز لګیا شول چا دا درد په نثر کښې وساته او چا په شعر کښې ښکاره کړ حماسي اشعار زیات او د پښتو د شعر له منځه هر ډول مضمونو څخه ډک شوه د رحمان بابا غوندې یو فقیر او ملنګ سړی هم د دې وخت د ظلم منظرې ښودلو ته تیار شو لکه چه وایي:

په سبب د ظالمانو حاکمانو　　　ګور او اور او پېښور درې واړه یو دي

د خوشحال خان په شعر کښې خو دا هنګامه ډېره ګرمه ده، ولې ده خو ټول عمر د مغلو سره په غرو او جنګ جګړو تېر شوی دی مثلاً وایي:

زه غلیم د اورنګ زیب یم　　　سرې په غره په بیابان
هنګامه د لا په منځ کښې　　　د مغل او د افغان
پس له بنده دی دا عزم　　　د خوشحال د خاطر جزم
یا ئې ولې مخ مکې ته　　　یا مغلو سره رزم

بل ځای کښې وائی:

ته په اصل پښتنه د کوهستان ئې　　　دا د ظلم خوی دې زده کړ له مغلو

په دې دوره کښې نثر ته هم توجه وشوه او نظم او نثر دواړه اوږه پر اوږه پر مخ ولاړل، دا رنګه له عربي او فارسي څخه ترجمې هم شروع شوې او تاریخي کتابونو ته هم د خلقو مخه شوه. د دې دورې په شاعرۍ کښې د رحمان بابا د شعر مکتب هم یو لوړ ادبي

مکتب دی چه پوره شهرت لری، او شعر ئې په روحانی او الهامی شعر یادیږی . د دی دوری د نثر مشهور کتابونه دادی :

د پیر روښان خیر البیان - داخون درویزه مخزن الاسلام - داخون قاسم فواید الشریعه - د خوشحال خان هدایه - په ترجمه کښې یو د عبدالقادر گلدسته او بل د خوشحال خان عیار دانش دي . د نظم کتابونه پدې وروسته ډول دی - د میرمن نیکبختی ارشاد الفقراء - د ملا الف بحر الیمان او نصیحت نامه - دار زانی دیوان - د میرزاخان دیوان - د دولت خان دیوان - دامیر تجوید - د ملامست سلوك الغزات - د خالق داد شرایط واحکام ایمان - د بابو جان دیوان - د خوشحال خان دیوان - د آدم اودرخانی قصه - خسرو شیرین - د سکندر خان دیوان او مهرو مشتری - د خواجه محمد دیوان - د رحمان بابا دیوان او نورې نور - د دې دوري تاریخي کتابونه دادی :

بستان الاولیاء - تحفه صالح - تذکرة الاولیاء افغان - مخزن افغانی - تاریخ افغانی - کلید کامرانی - تاریخ شیرشاهی - مطلع او مقطع - تواریخ افغان او نور .

دریمه دوره له ۱۱۰۰ ه ۱۶۸۷ ع څخه تر ۱۲۵۰ ه ۱۸۳۴ ع پوری

د هوتکو او سدوزو زمانه

مونږ په هره دوره کښې لومړې د شاعرانو او لیکوالو بیان کوو، بیا دهغې دورې پر شعر او ادب او نورو شیانو یو عمومي نظر اچوو او پدې شان خپله تبصره جاری ساتو . نو په دې اعتبار دادی اوس د دې دورې لیکوال ، شاعران ، مؤرخین ، او په پښتو کښې د دوی آثار او خدمتونه بیانول او څرګندول غواړو . ۱

د دریمې دورې شاعران او لیکوال

عبدالحمید مومند : د دواسمې پیړۍ داولی برخې خورا مشهور نومیالی ادیب او شاعر دی دی په ملاهم ؤ او طالبانو ته به ئې تدریس کاوه .

حمید په قام مهمند او د پېښور د (ماشوخیلو) د کلي ؤ . د حمید د شاعرۍ او شهرت زمانه د (۱۱۳۰ ه) په حدود دی . د ده دې بیت څخه معلومیږی چه د محمد شاه مغولی پاچا همعصر و :

چه د بې کلیو د در ګاه ګدایي موږ هی تو به د محمد شاه له سلطنته

حمید په پښتو شعر کښې دیو لوړ مقام خښتن ، دی ، د نازك خیالۍ او مضمون آفرینۍ استاذ بلل کېږی . د استعاراتو ، تشبیهاتو او ادبي ټلا زماتو په بیان کښې هم پوره اقتدار لری او د خیال ذره بین ئې ډیر تېز او قوی دی حمید په پښتو کښې د رحمان بابا او خوشحال خان په صف کښې د دریمو حق لری ، یعنی د پښتو د شعر استاذ او د یو نوی سبك او طرز مؤسس بلل کېږی . وایي چه د حمید د شعر سبك د فارسي د سبك خواته نږدې دی نو په دې اعتبار د پښتو د شعر کره کوو نکی ده ته د پښتو بیدل وایي .

حمید په ابتکار او مضمون آفرینۍ کښې لوی لاس لری ، د ده شاعری د استاذۍ او آزاد تخیل شاعری ده ، حمید که څه هم په عام شهرت او عام مقبولیت کښې رحمان بابا ته نه رسیږی ، مګر ادبی شهرت ئې تر هغه زیات ښکاری .

Marfat.com

دپښتو وروستنیو شاعرانو حمید ته دموشګاف لقب ورکوی لکه چه وایي :

بل حمید موشګاف دخیال په شعر　　څه به وایم ناسفته در ئې پیل (مرزا حنان)

پس له دویه موشګاف عبدالحمید دی　　چه ئې وویشه نازک نکته دان شعر (پیر محمد)

دحمید موشګاف وخیال ته هوش کړه　　ګوندی شي دده په شعر تېز نظر

(عبدالله مجزون)　　❁ ❁ ❁

قاضی میراحمد شاه رضوانی ورته دآسمان دستور وپیونکی وایي . بیلیو مشهور مستشرق انګریز وایي «چه حمید دتوصیف وړ حسیات لري ، او دکلام په پوخو کښې دپښتو سعدي دی»

دحمید بابا اشعار که هم دخیال پروری دبستان ته منسوب دي ، مګر ادبی صداقت او شعری حقیقت ئې په لوړه اندازه په اشعارو کښې ایدل کیږی لکه چه وایي :

چه رېبي مې بې صرفي دزړه ګی ولی　　کېږی وروځې دی دیار که لوره ی دا

دائې ښاخ له ګل سره په تلوار پرېکړ　　که له زړه سره مې تر کولړمون و کېښ

دازما له غمه شین زړه پکښې خیال دیار دښه و　　هسې رنګ زیب وزینت کا لکه مې په شنه پیاله کښې

❁ ❁ ❁

دحمید مکتب په پښتو کښې دسوز وګداز مکتب دی . دزړه سوی خوږ دردا و سوی ناری ورسره هر وخت مل ګری وی . داوجه ده چه دحمید دزړه ددفتر لومړی پاڼه دسوز او ګداز په غوښتنه شروع کیږی او وایي :

الهی د محبت سوز و ګدازرا　　په دا اور کښې دستی سمندر سازرا

په بل ځای ، کښې ددومره سوز غوښتنه کوی چه لکه دپتنګ په یوساعت کښې سره لمبه شي :

چه دی نوم په غوږ وواورم سره لمبه شم　　هومره سوز را کښې پیدا کړی زمار به

دحمید په دی استادانه مکتب کښې ډېر زبردست شاعران داخل شوی او پالل شوی دی اوځان دده شاګردان او پیروان کښې لکه مرزا حنان ، قلندر ، عبدالله او نور .

مرزا حنان وایي :

دحمید دخوش نظمی په زراعت کښې　　داحنان یې دی دشعر خوشه چین

حمید په شعر او شاعری کښې ځانته لاره لری ، دده په عقیده شعر موشګافی او ذره سنجي ده ، او دامقام دومره جګ بولی چه هر څوك ورته نشي ختلی لکه چه وایي :

نه دی کار دهرنا اهله بوالهوس　　چه قدم زدی ددې ناوې په جوس (۱)

څو دوینو د دریاب مرجو نهانشي　　مشرف به ددې درپه رنما نشي

حمید په پښتو کښې دسوزنا کو اشعارو خاوندی ، دده اشعار دده دسوی زړه آواز او ددردمن زړه چغې دی ، چه دده دزړه په وینو رنګ او لړلی دشعر په ښایسته لباس کښې میدان ته راوتلی دی لکه چه وایي :

شعر نه دی داخوناب دزخمی زړه دی　　یاوتلی دستی دم له خولی دمړه دی

یا نغمه دنیم بسمل مرغه دخولې ده　　یا مجنون ته معمی ښکلی لیلی ده

یا دوینو اباسیند وهلی موج دی　　- یا له ښاره دحیرت وتلی فوج دی

---

(۱) قصر ، مانی .

Marfat.com

لکن دحمید په کلام کښې دخوشحال اورحمان غوندې رواني او سادگي نه لیدل کیږي، ځکه چه دده دتخیل ارزوالي څه قدر دده په کلام کښې سختي او پیچیده گي پیدا کړې ده، دده دیوان زیاتره عشقي او تصوفي دی، او ځینې اخلاقي او اجتماعي اشعار هم لري لکه چه وايي

که څوك نه پټوي سترگې په حرامو ... شي په ښو کښې پیژندی پردی پټه

بل ځای ددرس او مکتب په باب وايي:

ونیو مشه هغه زویه په خوابوري ... چه یې نه نیولی درس وی نه مکتب

په غوجل کښې باري خر او کچر شه دي ... نه په خونه کښې جاهل او بې طلب

په زده مهر په خوله قهر زوی ته بویه ... څه ښه وایي چرته دب هلته ادب

حمید ځان درښتینې عشق خاوند بولي:

د حمید رښتینی عشقه ... په هر علم کښې استاده

بیا په همدې اساس دمینې هنگامه له حسن څخه زیاته گڼي نو وايي:

هنگامه دمینې زیاته ده له حسنه ... دمجنون ددر گداشه لیلی مشه

دعشق لیوني دده په نزد ډېر لوړ مقام لري، نو ددوی دځنځیرونو په شرنگهار کښې څومره خوندوینې

یادښکلیو دپاولیو شرنگهار دی ... یا دعشق دلیونیو د ځنځیر

دحمید آثار: دحمید آثار چه موږ ته معلوم دي، یو دده دیوان دی چه په ادبي جرگو کښې دحمید په «درومرجان» یادیږي، بل اثر یې د«شاگداقصه» ده، او بل اثر یې دفارسي «نیرنگ عشق» پښتو ترجمه ده، دادواړه کتابونه یې په پښتو مثنوي ترجمه کړي دي او دخپلې طبعې زور او اقتدار یې پکښې ښه ښکاره کړی دی، نو ځکه وايي:

ما چه ویېل دادر په باریکی ... غوزو ور کړې یو له بل مبارکی

دحمید ژوند تر (۱۳۳۷ھ) پورې ښکاره دی ځکه چه په دغه وخت کښې د شاگداقصه ترجمه کړې ده، مستر راورتي دده د وفات وخت (۱۷۳۲ع - ۱۱۴۵ھ) ښودلی دی، اوس دده ددیوان څخه دادوه پټې ولولی:

عشق

آهو چشمو چه یې زړه په افسون وکېښ ... هغو سر له و دانې په هامون وکېښ

انتظار یې دنرگس گونه کړه زیړه ... سروی سرپسې له باغه بیرون وکېښ

دایې ښاخ له گل سره په تلوار پریکړ ... که له زړه سره مې ترکو لرمون وکېښ

بیهوده صبح دم بولي وگوري ... دغه آه زما له غمه گردون وکېښ

چه یې وکېښ خپل تو بري دیار له لاسه ... ساده دل دامید زړې زرغون وکېښ

دا په اور باندې زړه د کباب خیژي ... که فریاد د یار له غمه محزون وکېښ

و آسمان ته به دعقل ستني کېږدي ... که حمید دغم له سره زنگون وکېښ

نصیحت

ځان ته ښه وایي ښه نکړي ... هغه څه وایي دا څه کړي

له وربشو غنم غواړي ... ښه به هله شي که ښه خري

حق بیني ته لکه سو یه ... غتې سترگې ځان ویده کړه

کړې ځار په هغه لار کښې　　چه په هره ساه يې تله کړې
هغه دم په تار نا شي　　چه دېل په کور تياره کړي
نه دې شرم شي نه عيب　　که هر څو د نه کړو کړه کړي
دا يو ځان د نفس د پاره　　کله سپي کله ليوه کړي
په بد خوی به د چا څه کړي　　په خپل ځان به شندي و کړي
خود په خود لوېږي کوهي ته　　له حميده څه ما نه کړي

محمد يونس : د پښتو ژبې يو غوره شاعر او د رحمان بابا شاګرد و ، په شعر کښې يې د رحمان بابا د اشعارو پشان جوش او رواني ليدل کيږي ، محمد يونس په قام موسى خيل دی ، دی په (خيبر) کښې اوسېده ، او په (۱۱۳۰ هـ) کښې يو دېرش کلن زلمی و ، وايي (۱) چه دی يو مېلمه دوست سړی و ، او د شاعرانو او عالمانو قدر او عزت به يې کاوه ، يونس د پښتو اشعارو يو مکمل ديوان لری (۲) پادري هيوز انګريز په خپل کتاب « کليد افغاني » کښې دده له اشعارو څه څه انتخابات کړي دي .

يونس يو عالم او يوه سړی و او په عربي علومو کښې يې مهارت درلود ، د يونس اشعار په بديعي صنعتونو لړی لکه دا :

توري زلفې ، شنه خالونه ، سره رخسار　　شنه توتيان دي ، سره ګلونه ، تور ښامار
په يو خال چه يو په لس شي عجب نه دی　　که په دوه خاله شمېره شي لس په صد

دده په شعر کښې ځينې پښتني احساسات هم شته لکه چه وايي :

د ميدان په ورځ چه تښته کا له جنګه　　پاتې هيڅ نشي باقي له نام و ننګه
له ميدان تښته کار دي د زنانو　　مرد به نه تښتي له غشي له تفنګه
چه د تورو په بربنډايي وار خطا شي　　موري مه و اې په هغه غو لا تي لنګه

په اجتماعي خوا کښې يې دا بيت يو قيمتي بيت دی :

کم همت چه جمعيت د خاطر بيا موند　　نوريې غم دوړور عزيز په پريشانی څه

عيسى اخونزاده : د قندهار د کاکړو له پښې څخه يو مشهور عالم او اديب سړی و مرزا حنان دده اشعار د آفرين وړ بولي لکه چه وايي :

د عيسى اخونزاده شعر که واوري　　آفرين به بانډې وايي تل تر تل

وايې (۳) چه دده د اشعارو يو کامل ديوان درلود ـ دده د ژوند زمانه په يقين معلومه نه ده ، مګر غالباً د دولسمې پېړۍ شاعر ګڼل کيږي . دا بيت دده دی :

وير د مينې مې تا خون په زړه ګي کېښود　　نه مې وينې يې ژړا بې واو يلا څوک

مسعود : د عبدالله زوی دی ، په پښتو کښې ليکونکی او شاعر و . دده يو ادبي اثر د (آدم خان او درخو قصه) ده ، چه په پښتو نثر يې په حقيقي ډول ليکلی ده ، په دې قصه کښې يې ځای

---

(۱) پټه خزانه (۲) د يونس د ديوان يوه ښکلې قلمي نسخه چه په (۱۱۷۶ هـ) کال ليکل شوې ده ، د دارالتحرير شاهي په کتابخانه کښې شته ،

(۳) پښتانه شعرا اول ټوک .

Marfat.com

په ځای خپل اشعارهم راوړی دی. دمسعود دژوندانه وخت ښه معلوم نه دی مګر دا ښکاره ده چه دآدم خان تر وخت (١٠٠٠ﻫ) ښخه وروسته و. غالبه داده چه د دولسمی پېړۍ دأولی برخی شاعر دی. مسعود په خپله هم لکه چه د مېنی په اور سوی او جابل و، نو ځکه یې ښه عاشقانه جذبات بیان کړی دی. د درخانی په باره کښی وایي:

چه سینه یې د آدم په اور کباب شوه
د حجاب مېرمن درخانه بې حجاب شوه

چه آدم د رباب غوږ زور باندی تاو کړ
وچی شونډی په نغمه لکه رباب شوه

د آدم شرابو هسی مستی ورکړه
خلقه یې و نظر و ته سراب شوه

درازخان موسی زی: (١) دا سړی د پښتوله پخوانو شاعرانو ښخه دی، مګر دژوندانه زمانه یې پوره نه ده معلومه، او اشعار یې هم ډېر نه دی لیدل شوی. دا بیت یې ولولی:

یوسف رویه عنبر مویه ملک خویه
په کتنه له مار نیخ وا خلله طبیبه

قلندر: په قام اپریدی دی چه د باړی او جمرود د رود په غاړو اوسېده، قلندر د حمید بابا هم زمانه او دده دادی مکتب شاګرد و، لکه چه وایی:

فضل د سبحان په قلندر د شعر وشو
دا واړه سبب فصیح بلیغ ودما شو (٢)

قلندر په پښتو کښی یو ډېر ښکلی دیوان لری (٣) چه درست دده د سوی و آهونو او د ډېر سوزو نغمو ښخه ډک دی. هغه سوز او ګداز چه د حمید بابا په شاعری کښی لیدل کېږی، هغه د قلندر د شاعری او ژوند روح دی. دی د عشق او مینه خپل مسلک ګڼی او په دې لار کښی له هر چا نه وړاندی دی د قلندر له اشعارو ښخه معلومېږی چه (مېرا) ئې معشوق او یا یې پېرو.

دقلندر او مېرا د عشق په باب کښی یوه قصه هم مشهوره ده چه دی دوو مینو د عشق حالات پکښی بیانېږی. دا قصه ډېره سوزناکه او له ارمانه ډکه ده دقلندر ټول عمر په بېلتون کښی تېر شوی دی هغه ناری یې چه په دغه وخت کښی کړی دی، ډېری دردناکی او ژړونکی دی قلندر یو طبیعی شاعر دی. حقیقتاً له پاکو عشقی احساساتو ښخه ترجمانی کوی. دقلندر وینا دده رشتیانی مینی خوږه کړی ده. دا یو څو بیتونه یې ولولی:

نشی څوک ساتلی سر د بخری په ګرېوان کښی
ومی سوه په آه سره د صبر درمند وته

که اور دی اوردی بېلتون خو اور دی
زه قلندر ریم پکښی می کوردی

داور په څو نګ به د چار ضاشی
رضا می نه ده را باندی زور دی

وایی چه قلندر په (سوات) کښی وفات شوی دی، او هلته یې یوه غونډی ښخ دی. مګر دوفات تاریخ یې معلوم نه دی. دقلندر او مېرا د مینی قصه په ادبیاتو کښی هم مشهوره ده لکه علیخان خټک چه وایی:

قلندر سوات ته شړی له ارته هنده
څومره ډېر شوی د مېرا دحسن نازه

غلام محمد: د شرین خان زوی او په قام ګیګیانی و چه، د پېښور په (دواوه) کښی اوسېده دی د دولسمی پېړۍ د اولو وختو شاعر دی. په پښتو ئی ځینی کتابونه لکه جنګنامه او د «والضحی منظوم تفسیر» لیکلی دی. دارنګ (معراجنامه) ئې هم له فارسی ښخه په (١١٠٥ﻫ) کال په پښتو نظم ترجمه کړی ده اشعار ئې ساده او عموماً د مثنوی په ډول دی. په اول جلد پښتانه شعرا

---

(١) پښتانه شعرا اول ټوک.
(٢) ماشوخیل د حمید کلی دی.
(٣) یوه قیمتی نسخه یې ماد ښاغلی عبدالواحدخان سره لیدلی ده.

کښې ئې د کلام نمونه راغلېده :(۱)

بای خان: د(۱۱۰۰ هـ) دوختو یو پښتون شاعر دی. راورټی انګریز لیکی :

«چه دی دبیرو، او د مولانا جامی لیلی او مجنون ئې په پښتو نظم اړولی دی» د ا کتاب اوس نه پیدا کیږی مګر دغه مستشرق ئې دا یو بیت دخپل ګرامر په مقدمه کښې راوړی دی :

لېدې خېلې بدې برخې چاته ژاړم په چا داد کړم

حمید ګل: د رحمان بابا خوریی دی، پېښور ته نږدې په (پلوسی) کښې اوسېده. دده دژوندانه زمانه د(۱۱۰۰هـ) څخه راوروسته تاکلای شو. حمید ګل یو ملی شاعر دی، په ملی لهجه ئې ښې بدلی ویلی دی. دیـــوان ئې رات‍ـه معلوم نه دی. له یوې بدلې څخه ئې دا یو بند و لولی :

یا تیک ستا پر جبین دی	یا ستوری د سبا ده
یا جام دچین ما چین دی	یا سپینه خوله زیبا ده
یا عطر د ګلا بو	یا ستا د مخ خولې دی
یا تو ری د فولا دو	یا سترګی د لیلی دی
یا کیف دی د شرا بو	یا بنـدی دبنـدالی دی
یا هجر سختریـن دی	یا تبه یا و با ده

نو غالبه داده چه همدا غلام محمد به یادوی.

فیاض: دی دهند دمغولی حکومت په دوره کښې تېر شوی دی، وائی چه یو ګرزند سړی وو، او پښه ساز به ئې هم کاوه. دده د(بهرام او ګل اندامی قصه) په پښتو نظم کړی ده. دا قصه ځانله هم چاپ شوی ده، او پادری هیوز په (کلید افغانی) کښې هم نشر کړې ده. دفیاض له شعره معلومیږی چه دی دخوږی او روانی طبعې څښتن وو، په دې دوره کښې دی لومړی سړی دی چه دداستان او منظومو افسانو سلسله ئې ښه لولې ده. دغه قصه ئې د قصیدو په ډول ویلی ده، چه یو څو بیتونه ئې دادی :

یو ساعت سره خوشحاله خندېدلې	بیائی دا خبری منځ ته وا چولې
سر آسیاوې ګل اندامی بهرام سوزی	په ګریوان باندی ئې اوښی بهېدلی
شپه او ورځ ئې هی فراق درپسې زور شو	چه دې زلفې په سپین مخ دی غوړېدلی
د تصویر په یو نظر په تا مین شو	چه دې پرېکړی د بهرام دزړه ګی ولی
بهرام داوې ته غوږ کېده ګل اندامی	دی جواب غواړی له تانه دچین ګلی
ګل اندامی وې ته پلار زما قبول کړه	د بهرا م خبری کل د ی منلی

دبهرام او ګل اندامی دواده جوړېدو نه وروسته :

دغه پسه دبهرام واده ئې جوړ کړ	رنګارنګ جوړی زرینی رغېدلی
ګل اندام ئې کړه داخله په حرم کښې	د سرو تیک ئې په جبین شغلی وهلی
چه پیزوان ئې په سرو شونډو باندې سور کړ	خلقی ئې بې ګنا هـه قتلو لې
خلو ښت ورځی ئې واده کاوه یارانو	هم پېشانه تو پخانی به خلا صېدلی
بیائې نیت دتلو د روم وکړ فیاضه	دبهرا م لښکری کل سنبالېدلی

(۱) حمید وایی چه م. دشاه ګدا قصه د آخونزاده غلام محمد په باعثیا په پښتو کړی ده، نو غالبه داده چه همدا غلام محمد به یادوی.

دهوتکو د کورنۍ او ددوی ددلبار شاعران

شاه حسین : دحاجي میرویس خان زوی دی ، په (١١١٤ هـ) کال د کلات په (سیوري) کښې زېږېدلی دی . عربي علوم ئې دملایار محمد هوتک څخه ویلي دی .

شاه حسین یو علم پالونکی او پښتو روزونکی پاچا وو ، د ډېر عالمان او شاعران به ئې په دربار کښې موجود وو او ددوی پالنه او روزنه به ئې کوله . دی د پښتو شاعر او ادیب وو او په فارسي کښې به ئې هم اشعار ویل . محمد هوتک په (پټه خزانه) کښې لیکلي دي .

شاه حسین هوتک

چه شاه حسین دښې وینا خاوند او د پښتو دشعر ډېر شوقمن دی ، او یو دیوان ئې مرتب شوی دی د شاه حسین دیوه بدله له پټې خزانې څخه را نقل کوو :

بېلتانه دې دغمو په چپاو چور کړم
په نیازو کښې دهجران ئې له تا دور کړم
دفراق پرې مې پرېوتو مرې ته
په جهان کښې ئې رسوا لکه منصور کړم
په وصال دې هم نه ښادیمه دلبرې
دبېلتون فکر په زړه کښې ناصبور کړم
دبانو غشي مې وخوړ په ځګر کښې
غمازانو په غمزو غمزو مجبور کړم
خلق یاد زما ، دعشق په لیونو کا
زه حسین محبت هسې مشهور کړم

شاه حسین په ملي لهجه او طرزهم ځینې بدلې ویلي دي . دیوې بدلې سر ئې چه په « پښتانه شعرا » کښې راغلی دی دادی :

نن دې اوربل په سپین تندي باندې راخور کړ
بل دې په ما اور کړ

داؤدخان : دقادرخان زوی دی ، دقندهار په (کوکران) کښې ئې استوګنه کوله . دی دحاجي میرویس خان سره دوطن دآزادۍ په جګړو کښې ملګری او دهغه سپه سالار وو . داؤدخان ځای په ځای ډېر ګرزېدلی وو ، او له هر ځای څخه ئې دپښتنو شاعرانو احوال راغونډ کړی وو ، دا ذوق ئې تر هر څه زیات دقدر وړ دی . دی یو عالم او پوه سړی وو ، په طبعه ئې لړله او کله کله به ئې اشعار ویل ، دا یوه رباعي ئې ولولی :

چه دچا په زړه کښې اور د مینې بل شي
په اوربل ئې لمبې ګډې حال ئې بل شي
اور د مینې کله مری دزړه له مینې
داور بل مینه که تل د زړه په تل شي

داؤدخان بیایه (۱۱۳۶ه) کال وفات اوپه کوکران کښې ښخ شو .

بابوجان بابی : دکرم خان زوی دی ، چه په (التغر) کښې اوسېده . دی هم دحاجی میرویس له ملګرو اوکاردارانو څخه وو ، او دده سره دقندهار دآزادی په جګړو کښې شریك وو ، دامیره عسکر دپښتو شاعر هم دی . په (۱۱۲۹ه) کال ئې د (شها او ګلان) قصه دقصص العاشقین په نامه په پښتو مثنوی نظم کړه چه یوڅو بیته ئې دادی :

عشق

عشق یو هسې نوریالی دی　　چه په هر ځای ئې بری دی
دعشق اورهسې سوزان دی　　چه سو ځلی ئې جهان دی
زړه بې عشقه ګله زړه دی　　چه بې عشقه زړه دمړه دی

ملا پیر محمد هوتك : دملاسرور آخوندزوی او دحاجی میرویس ملګری وو ، چه بیا دشاه محمود سره (اصفهان) ته ولاړ ، او هلته په «پیر افغان» مشهور شو . دده دوه کتابونه لیکل دی ، یو (افضل الطرایق) داخلاقو په علم کښې ، او بل (الفرایض فی ردالروافض) دی .

محمد هوتك په پټه خزانه کښې ، له «افضل الطرایق» څخه یومنظوم حکایت رانقل کړی دی چه یوڅو بیتونه ئې دادی :

شیخ متی چه خلیلی وو　　دی له آره لوی ولی وو
یوه ورځ روان په لار وو　　لوی ښتن په استغفار وو
په دې لار دې تېری ګنې　　لاری مځکی وې بری پټی
ورې ی شپې راغی رویدار　　چه ئې صافه کړ له لار
یودهقان به آبیاری کړه　　شپه په شپه به ئې خواری کړه
ده به لید په توره شپه　　شیخ متی په زیار اخته
له راحته به بېزار وو　　تو له شپه به هم بیدار وو
یوه شپه راتېر ملیار شو　　شیخ متی ته په ګفتار شو
ای دخدای رویداره څه کړې　　دومره زور زحمت پرڅه کړې
ته بادار ئې دولیانو　　نه قدوه دصالحانو
په شپو شپو ئې ته په خواب　　په زحمت په اضطراب
پاکوی دلاری ګټی　　په دې خاورو څه دی ګټی؟
داسې ووې شیخ متی　　دمولا په عشق پټی
چه خدمت د خلق الله　　یو ګړی په یوه ساه
ترهرڅه بهتر دی وروره　　زده کړه دا خبره ګوره

ملايارمحمد هوتک: يولوی عالم دپښتو اديب، اودشاه حسين پاچا استاد وو. محمد هوتک وايي: چه شاه حسين به چه اشعار جوړ کړل نو استاد العلماء ملايارمحمد ته به ئې ولوستل، چه ادبي ئې صحيح او کره کړي. ملايارمحمد په فقه کښې د «مسايل ارکان خمسه» په نامه يو کتاب ليکلی دی.

سيدال خان ناصر: په قام بابړی زی ناصر دی. پلار ئې ابدال خان نوميده، چه د «وازی خوا» په (ديله) کښې اوسيده. سيدال خان لومړی د حاجی ميرويس او بيا دشاه محمود ملګری او سپه سالار ؤ د قندهار د آزادۍ په جګړو کښې يې ښې توری وهلی دی، او په ټولو جنګونو کښې فاتح او غالب ؤ. پټه خزانه ليکي چه دی يو عالم اديب او دپښتو ژبې شاعر دی هغه وخت چه په جنګو کښې مصروف نه ؤ نو اشعار يې ويل او عشقي سندرې يې کښلې. دا څو بيتونه ده د ده لي دي:

يار ماله هسې ګران شو — راته پر ټول جهان شو
نور نه وينم په ستر ګو — جهان ټول راته جانان شو
دوې زلفې دې اوږدې کړې — پر مخ دې راخپرې کړې

سرې اشرې دې پر تندې باندې سپرې کړې — ګرزې په باغ کښې په ګلونو کښې نخرې کړې
په اور دې وسوم ياره — راته اور تازه بوستان شو
شبنم پر ګلو ښکاري — زما اوښکې دارې دارې

خوناب څی ستا لغمه زما په مخ کې لاری لاری — تمامه شپه کړم تېره په ژړا په ناری ناری
ښکاره شوه چه مجنون يم — ليونتوب مې اوس عيان شو
مين په لو يو غرو ځی — سر تور په نيمو شپو ځی

ووزی له وطنه وطن پرېږدې په چولو ځی — فرياد و ناري وکا په نارو په غلبلو ځی
وصال يې نصيب نه شو — ګوره ز ده ډک په ارمان شو
بوستان ښکلی زيبا دی — رنګين په اوښکو زما دی

دزړه پر هار ګلګون دی چه بلبل په تماشا دی — په مينه مې زړه وچاود ته وايې په خندا دی
نثلی دې پېلتون يم — زه سيدال دا مې بيان شو

وايي چه دسيدال خان قبر د کهدامن په (شکردره) کښې دی، او اولاده يې اوس هم د غلته شته.

ملا نورمحمد غلجی: پلار يې ملايارمحمد نوميده. محمد هوتک ليکي: «چه دی په عمر پوخ سړی يعنی اتيا کلان دی. د پنځه کاله په قندهار کښې د حاجی ميرخان د کچنو بچو نو استاد ؤ بيا په (پنجوائی) کښې اوسيده، او هلته يې د شرعی علومو تدريس کاوه» ده دشاه حسين په نامه يو کتاب ليکلی دی چه نافع المسلمين (١) نوميږي. دا کتاب يې دا خون درويزه پر سبک يعنی قافيه دار نثر کښلی دی. مطالب يې ټول ديني دي. څيني کامل نظمونه هم لري لکه دا:

(١) يوه قلمی نسخه يې په پښتو ټولنه کښې شته.

Marfat.com

په هر وقت له مسلمانانو دلداري کړه — په دریمه شپه کښې ډېره بیداري کړه
هم پر خپل صورت وژاړه همزاري کړه — داخپل ځان لکه حباب ترې بېزاري کړه

ملا محمد یونس توخی : د شاه حسین د دربار یو مدرس عالم ؤ خلقو ته به یې تدریس کاوه

په پښتو کښې یې د «جامع فرایض» په نامه یو کتاب تالیف کړی دی .

ملا زعفران ترکی : د شاه حسین د دربار یو مشر اولوی فاضل او عالم ؤ محمد هوتك

وایي چه دی په حکمت ، طب او ریاضی کښې استاد دی . په طب کښې یې «گلدسته زعفرانی» نومی کتاب جوړ کړی دی . د ده یوه ټوټه شعر په (پټه خزانه) کښې شته ، چه د شاه حسین په حضور یې د ژوب او د شال د فتحې په ذیری کښې وو ایه ، او هغه بیا زعفرانی شال ورکه هغه قطعه داده :

د حسین بادشاه د بخت ننداره گوری ، — چه ئې فتح په لښکرو ژوب و شال کا
چه دا زیری یې راوړی دی حضور ته — نو زعفران انعام په سر زعفرانی شال کا

محمد گل مسعود : په قام مسعود دی او په پېښور کښې اوسیده ، پټه خزانه لیکی چه دی

یو بوخ شاعر ؤ او هر کله به ئې بدلې ویلې ، دا بدله یې په پټه خزانه کښې راغلې ده :

چه می جانان په نیمه شپه کښې رانه بېل شو — اور را باندی بل شو
چه رانه لاړې ، نو دی غم را سره مل شو — اور را باندی بل شو

ښکلی لیلی له ما نه لاړی زه نسکور یمه — سوی په اور یمه
د بېلتانه سور اړ کښې ورك مرض می جل شو — اور را باندی بل شو

رب دی ښا نست در پوری اور کا زه دې سکور کړمه — وریت دی په اور کړمه
د اسپی رقیب د ستا په ورد مینی غل شو — اور را باندی بل شو

راشه د خدای دپاره غور کړه محمد گل ژاړی — تا ته تل تل ژاړی
دا ستا د عشق په واویلا کښې لکه نل شو — او ررا باندی بل شو

ملا محمد صدیق پوپلزی : د یار محمد زوی او د (ارغسان) اوسیدونکی ؤ محمد هوتك

وایي «چه یو عشقی ځوان دی ، او زړه یې له لاسه ایستلی ، پخپل محبوب پسی ژاړی دردمن زړه لری . د مینی په اور سوی دی ، سوزناکی بدلی لولی . کله چه د دردمندانو په دله کښې کښېنی مجلس ژړوی ، او غمجن زړونه پخپلو نارو غلبلو سوځی .

زمانه دده پر ځوانی افسوس و نه کاو عشق یې جنون ته رسیدلی دی بالبداهه اشعار وایي او د زړه درد سوده په کوی : دا بدله یې ولولی :

لکه بلبل چه بی له گله بل ارمان نه لری — هسی بې یاره بل هیله عاشقان نه لری

چه ژړا کاندم بې له یاره بل مطلب نه لرم — چه هسی سوریمه په وینو بل سبب نلرم
بې یاره نورڅه نه غواړمه نور مطلب نلرم — چه څوك مین شی بې له یاره بل ارمان نلرم

تر تا چه ځان قربانومه ای نیاز منه یاره — تل دی غمونه گلومه ای نیاز منه یاره

لاتر کو اوسې تو یوه‌ای نیاز منه یاره
زړه مې بې تا په یو ساعت دمه او توان نلري

که ته مې وژنې که پرېږدې اختیار خو تا لره دی
غم دې پیدا نه دی بل چا لره خاص ما لره دی

زړه له راغلی دی مېلمه سبا بېګاه لره دی
د زړه له کوره څخه تګ په هیڅ یو شان نلري

الله‌یار افریدی : د کاکړستان په (بوزي) نومي ځای کښې اوسېده. د پښتو ژبې شاعر و او د شعر دیوان یې دراود. محمد هوتک وایي چه کلام یې د شاتو په شان خوږ دی، یو غزل یې په پټه‌خزانه کښې راغلی دی یو بیت ئې دا دی :

اور دې د مینې ما ته بل کړ سینې وریت دې کړمه
ستا د وصال په اوبو سوړ سوی ځګر به نشم

محمد عادل بړیځ : یو عالم او پرهیزګار سړی و په (شوراوك) کښې یې استوګنه دراوده. ده د «محاسن الصلواة» په نامه یو کتاب نظم کړی دی. د محمد عادل پلار محمد فاضل هم یو پوه سړی و چه د «روضه‌ربانی» مؤلف دی. د محمد عادل یو دوه بیته دا دي :

هغه خلق عاصیان دي
چه په فرض کښې کاهلان دي

علم فرض پر هر سړي دی
چه فرض نه کا څه کسان دي

ریدی خان مهمند : د غیاث خان زوی دی چه د شاه حسین په دربار کښې یو مخور او معزز سړی و. محمد هوتک وایي چه ریدی خان د بلاغت علوم لوستي دي او اشعار یې خواږه دي. ریدی خان په (۱۱۳٦ هـ) کال د شاه محمود سره (اصفهان) ته ولاړ، چه وایس راغی نو د میرویس خان له وخته یې د شاه محمود تر جګړو پورې ټول واقعات په څلور زره بیته مثنوي نظم کړل او نوم یې بری «محمود نامه» کېښود، وایي چه شاه حسین پدې کتاب زر طلاوې ور وبښلې.

ریدی خان د غزلو او رباعي ګانو یو دیوان هم دراود، د محمود نامې یو خوږ باب په «پټه‌خزانه» کښې ساتل شوی دی. چه دلته ترې یو څه شعرونه را اخلو، دا هغه برخه ده چه حاجي میرویس د رسول الله (صلعم) په روضه کښې د خپل قوم د دادخواهی سوال کاوه او هغه مبارك ته یې د خپل قوم د ظلمونو حال بیاناوه.

ولاړ دی د شپې یې په یثرب کا فریاد
رسول د خدای ته چه شو قوم برباد

ستا پر امت راغی د ظلم دوران
و اوره رسوله ددې قوم فغان

پښتون خو ستا په نامه ځان کړه فدا
ای خیر الناسه واوره ته یې ندا

وژغوري دوی ته د ظالم له لاسه
ګرګین له منځه د پښتون وباسه

ستا په نامه دي کلمه ګویه پښتون
نه به شي هیڅ کله له تا نه راستون

مرګ و ژوندون مو د اسلام د پاره
ستا د دربار ستا د سلام د پاره

مه مو کړې هېر خیر الوری رسوله
فخر کونین نور الهدی رسوله

اوښکې می څاڅي پر دربار یم ولاړ
قوم شو په اور د ظلم تول اتاړ

یو وار نظر وکړه په موږ چه شو وړ
و ظالمانو ته تر څو به یو پړ

که ستا نظر نه وي خراب شو پښتون
په اور د ظلم تور کباب شو پښتون

راغلم له لیری ستا در بار ته نبی — ته می شفیع شه خدای غفار ته نبی
چه په پښتون قوم نازل کار حمت — کړې ئې ناموس خوندی په خپل مرحمت
لاس د ظالم یی له گر بوانه کالنده — وچ شی د ظالم د ګندو خیرو ډنده
دا می دی سوال ولاړ دي درته یمه — محتاج دې تش و لبز نظرته یمه
دقوم حال کړم درته عرض په ادب — ته ئې بادار د کل عجم و عرب
بې له تا نه لری پښتون خو اله گر — ته ئې ملهم دخوږو زړو دېر هر
وژغوره زمونږ نام وناموس له بیداد — کړو بې ناموسو ظالمانو برباد
سر که را پورته زمونږ حال، وګورو — د ظالم ظلم بد احوال وګوره

دامثنوی حقیقتاً ډېره مؤثره او سوزناکه ده . د زړه رښتینی احساسات پکښې تصویر شوی دی نو په دې لحاظ دپښتو ادب شاهکاریې بللی شو .

محمد طاهر جمریانی : دهوتکو ددوری یو پښتو شاعر دی ، ده به په قندهار کښې

دتجارت کار کاوه . یو ظریف خوش طبعه زلمی اود محمد هوتک ملګری واو کله کله به یې ښه ښه اشعار ویل . په پټه خزانه کښې یې داشعارو نمونه شته .

محمد عمر : په قام لواڼ او یو پښتون شاعر دی . ددغه محمد طاهر ملګری وه . دوی دواړو به همیشه یوله بله خوش طبعی کوله او یو بل ته به یې لطیفی نکتې ویلی .

یوورځ محمد عمر په مجلس کښې د توکی په ډول محمد طاهر ته داقطعه وویله :

وایی دا چه صحبت کا ندی — یو له بله ډېر اثر
په کلو دې مصاحب شوم — ستا صحبت نکړمه خر

نو محمد طاهر یې په ځواب کښې داقطعه (توته) وویله :

صحبت ډېر اثر کا ګوره — منکر نشی دا اثر
ته د مخه هغه شی وې — لوس انسان شولی بشر

محمد ایاز نازی : یو پرهیز ګار سړی ودپښتو اشعاروی یو دیوان یې درلود اشعار

یې عارفانه او پاخه دی . دی په اصل دقندهارو ، مگر تل به په صحراؤ ګرزیده ، او ریاضت اوعبادت به یې کاوه .

دا وروسته رباعی ئې وګوری :

زړونه خوښ کړه دانیکی ده د رښتیا — مکړه چا باندې تیر نه په جفا
د خدای کور مه ورانوه په ستمو — دخدای کورو ګڼه زړه چه وی صفا

محمد حافظ : دمحمد اکبر بارکزی زوی دی یو عالم اوواعظ سړی و . په قندهار کښې اوسېده به کله کله په خطبو کښې خپل اشعار ویل او خلقو ته به یې نصیحت اووعظ کاوه . ده د «تحفهٔ واعظ» په نامه یو کتاب لیکلی دی او واعظانه اشعار پکښې دی .

یو څو بیتونه یې دادی :

کم بخته مکوه حرام چه بد دی — چه کړی حرام هغه باطن کښې ددی
اعمال یې تول په عقبی کښې رددی — په لویه ورځ به یې وی تورمخونه

Marfat.com

ملاباز توخی : دکلات په (التغر) کښې اوسېده. دمحمد هوتك ملګری او همعصرو
محمد هوتك کښلی دی « چه دی په هرقسم اشعارو کښې استاد او دلطیفی طبعی څښتن
دی . کله چه قندهار ته راشی زمونږ مجلس په تود وی » محمد هوتك وایی : چه ملا باز یوه
ورځ له کلاته راغی ، په قندهار کښې زما مېلمه شو ، دستی ما چرګ حلال کړ او طعام
می تیار ، چه دستر خوان راغی نوملا باز هسی شعر ووایه :

پر کورویې رمې کرزی	دباز برخه یو چیچی دی
د باز ښکار وی د غرڅنو	اوس می بس ها سپینکی وری دی

زدی وایی چه ماژر هغه وری حلال کړ او مېلمه ته می پوخ کا .

نصرالدین خان اندړ : دشاه حسین ددربار له شاعرانو څخه دی. دی په اصل د غزنی و
مګر بیا دشاه حسین په وختو کښې قندهار ته ولاړ او هلته پاته شو .
دپښتو شعر دیوان یې هم درلود او «نصر» یې تخلص و د یوېې بدلی دا دوه بندونه
یې ولولی :

دخوار عاشق ژړا مدام وی داخه کاردی نا	کوی په پټه خوله همدغه یې ګفتار دینا
ددې مینو پرز ده رب ایښی داغونه دی	چه په ارمان دنیا یسته زیبا مخونه دی
تل ژړا کا او په ناروپه فریادونه دی	هوچه عاشق شی دهغوکله قرار دینا
دعاشقانو زړه یې مات کا نه رغیږی نا	هوپر شیبه با ندې پرې کله جوړ یږینا
چه دو صال په امید هرعاشق اوسیږی نا	هیڅ نه جوریږی د بیلتون کاری پرهار دینا

عبدالطیف اڅکزی : دده پلار غلام محمد له (بستان) څخه قندهار ته راغلی و ، او په
(ماشور) کښې اوسیده . عبدالطیف دشعر ویلو یوه لطیفه طبعه درلوده . محمد هوتك
وایی : چه «دی اوس دځلو پښتو کالودی ، سره ددې چه عمرئی پوخ دی ، دځوانی
خوشحالی کا ، او مجلسیان یې په صحبت نشاط مومی . په مجلسو کښې اشعار بداهتاً
اولی او قصی کا » دده داوښ او سوی قصه په پټه خزانه کښې راغلی ده ، چه ډېره
خوږه او روانه ده . دسو یو څو بیته یې دادی :

غوږ ونیسیء یارانو ، داوښ او سوی قصه شوه	خورا ډېره خو ږه شوه
یو سوی داوښ آشـنا شو	بېحده یې همراه شـو
یاری به یې کوله یوله بلی یارانه شوه	خورا خو ږه قصه شو ه
اوښ ویل چه سویه	ای زما یاره نېـکخویه
بې تامی ښادی نشته شپه او ورځ می په تابه شوه	خو را خوږه قصه شو ه
تول عمر یې صحبت کا	دسو ی سره الفت کـا
شپه یې بېلتون نه کا یوله بلی مرکه شـوه	خورا خو ږ ه قصه شوه
سوی و ، داوښ په کور کښې	ژوندون یې په سرور کښې

Marfat.com

خوزا خوزه قصه شوه   قصه به یې شروع کړه هر سهار څو به غرمه شوه

صدر دوران بهادرخان: داسړی دشاه‌حسین ددربار یو غښتلی سپه‌سالار، یوزړور عسکر اویوادیب پښتون و. شاه‌حسین به ورته د«وروړ» خطاب کاوه، اوعوامو (امیرالامرا) باله. ده دعالمانو اوادیبانو سره ډېرمینه ارله. په‌خپله به یې هم‌خوازه لشعار ویل. وایی چه‌دی ډېرسخی اوځوانمرد سړی و، همیشه به‌یې دغریبانو مدد کاوه، اوعالمانو او شاعرانو ته به یې انعامونه ورکول. دده دیوی‌ملی‌خوزی بدلې دایوځوبنده واولی.

بدله

پیلتون دې زور وردی ترلیمومی سهار نم څاڅی   لکه شبنم څاڅی
داځره یا قوت می په لمن کښې ستا په غم څاڅی   په غم الم څاڅی
کوره لیلی باران داو ښکو ستا په چم څاڅی   څنګه پرځم‌څاڅی
راغله لیلی پر شینکی خال نڅا په ګـلو کوی   په‌سرومنګلو کوی
سهار چه وزی سیل کاه غنچه په ‌بلبلو کـوی   ګل په‌اور بلو کوی
ملالې سترګې یې کاته په ویر ژلو کـوی   زیب په کجلو کوی
دژوبل زړه وینې په هر ګړی، هردم څاڅی   لکه شبنم څاڅی
ښکلې نجلۍ دباغ په اورمه ځه نـڅا مه کـوه   عاشق رسوامه کوه
وریت شوی زړه می دی مین پوری‌خندامه کوه   راشه جفامه کوه
زه‌یم پتنګ تـه یې ډېـوه ماجلـبلامه کـوه   نورظلم بیامه کوه
یم ستا له عشـقه لیونی پرما، ماتـم څاڅـی   غم‌والم‌څاڅی (۱)

محمدهوتک: داسړی دپښتوژبې یونوموړی لیکوال شاعراویوپوه مؤرخ دی. پلاریې داودخان نومېده. په(۱۰۸٤هـ) کال په (کوګران) کښې وزېږېد. پس له تحصیل څخه دشاه‌حسین په‌امر قندهار ته‌روغی اودغه باچادحضور ادبی لیکوال شو دده یو مشهوراثر چه دپښتو ژبې یوادبې اوتاریخی شاهکار ګڼل کیږی «پټه‌خزانه» ده دا کتاب یې دشاه‌حسین په غوښتنه په(۱۱٤۲هـ) کښې تمام کړی دی اود(٤۹) تنوپښتنو شاعرانوحالات په کښې بیان شوېدی محمدهوتک د(خلاصه‌الفصاحة) په‌نامه یوبل کتاب هم په‌پښتو لیکلی دی. اودفصاحت علوم یې په کښې بیان کړی‌دي یوبل‌علمی اثریې «خلاصة‌الطب» نومېږی، په‌دی کتاب شاه‌حسین‌زرطلاوې ورکړې‌وې محمدهوتک دقصیدو، غزلو اورباعی ګانویودیوان هم درلود. دی‌وایې «چه زماعمر په لوستلو اودکتابو په کښلو تیرېږی او بې له‌دې بله مشغولتیا نه‌لرم» دده دیوغزل یوڅوبیتونه دادی،

ساقی پاڅه دسرو ملو ډک یوجام را   ستا له غمه‌نا آرامه یم آرام‌را
بې له میو دبهار ننداري څه کـړم   پسر لی‌شودخوښی‌یو‌ښه پیغام‌را
دپیلتون په‌تاریکیو کښې‌می‌زړه‌شین‌شو   رڼا لمر دجام دمیو په‌ظلام‌را
نه نشاط شته نه‌مستی‌شته، نه‌رندی شته   چه‌شمرندهغه‌او به‌علی‌الدوام‌راً
په اوبو می سوېزړه‌ګی لنزځه‌راتو دکا   محمدته‌داورډک یوهسی‌جام‌را

---

(۱) پټه‌خزانه

د پټې خزانې نثر، پټه خزانه سربېره په تاريخي لحاظ د پښتو د نثر له مخه هم يو خورا قيمتي اثر دی د دې كتاب نثر د پښتو په پخوانو او د دولسمې پېړۍ په نثرونو كښې نظير نه لري د خيرالبيان او اخون درويزه نيم منظوم نثر كه څه هم د خوشحال خان او عبدالقادر خان په وخت كښې څه قدر اصلاح شوی او د شعر له رنګه راوتی و، مګر بيا هم د پټې خزانې نثر ته نه رسېږي. محمد هوتك يو سليس، روان د پښتو په محاور او خوږو اټو برابر نثر ميدان ته راوويست د مسجع او قافيه دار نثر كړی ماته كړه او يو خوږ او خوندور سبك يې غوره كړ «د عيار دانش» او «ګلدستې» نثرونه كه څه هم مسجع نثرونه نه دي، مګر بيا هم جملې اوږدې او د عطفونو استعمال په كښې ډېر دی، لكه د پټې خزانې د نثر جملې وړې وړې دي او عواطف هم په كښې نسبتا كم استعماليږي، نو په دې لحاظ ورته غوره نثر ويلای شو. اوس يې د نثر په نمونه كښې دا يو ټوټه ولولی: «پادشاه عالم پناه په ارګ كښې د قندهار، هغه قصر چه نارنج باله شي هلته په هفته يو ورځ دربار كا، په كتب خانه كښې، او په مجلس كښې علما جمع كېږي او فضلا او شعرا ټولوي زه محمد هوتك كاتب د دې كتاب هم په دې مجلس كښې يم، او د پادشاه ظل الله اشعار او ابيات په قلم كا ږم، او كتاب د ديوان يې مرتب شوی دی، كله په پښتو ژبه اشعار وايي او كله فارسي ژبې ته هم ميل كا او استاد العلما ملا يار محمد ته يې قرائت كا. چه سهو سقم څنې زايل كا، او د پادشاه په اشعارو كښې نېږه سهو لېده شي او علما يې ټول په فصاحت او بلاغت قايل دي او سماع ته مايل.

د هوتكو د كورنۍ شاعرانې ښځې

مېرمن نازو: د پښتو شاعره او يوه اديبه پښتنه وه د حاجي مېرويس هوتك مور او د سلطان ملخي توخي (۱) لور كېده. دا يوه همتناكه، سخاوتي او پوهه ښځه وه، وايي چه دې په دوه زره بيته كښې د اشعارو يو ديوان درلود. په پټه خزانه كښې د مېرمن نازو دا ور وسته رباعي راغلې ده:

سحر ګه وو د نرګس ليمه لانده | څاڅكي څاڅكي يې له سترګو څڅېده
ما وې څه دي كښلې ګله ولې ژاړې | ده ويل ژوندمې دی يوه خوله خنديده

❀ ❀ ❀

محمد هوتك وايي: چه مېرمن نازو نور هم داسې اشعار لري چه سړی يې هم نه شي ويلای.

د مېرمن نازو د تراو نه لوی صفت دادی چه د دې د غيرت او همت پوهې او تدبير په غېږ كښې د حاجي مېرويس غوندې يو پښتون سردار پالل شوی او روزل شوی دی.

مېرمن زينبه: د حاجي مېرويس لور او يوه هوښياره عالمه او شاعره ښځه وه، د پاچاهۍ په كارو كښې هم رسا او صحيح فكر درلود، او د خپل ورور شاه حسين سره به يې د پاچاهۍ په امور كښې مرسته كوله. وايي چه دې به ښه ښه اشعار ويل سربېره په دې بوښه ابي ذوق يې هم درلود د شاعرانو قدر به يې كاوه او د پښتنو شاعرانو ديوانونه به يې لوستل.

مېرمن زينبې د خپل ورور شاه محمود په مرګ يوه ډېره غمجنه او مؤثره مرثيه (وير نه) ويلې ده چه د پښتو د لوړو ادبي آثارو څخه ګڼل كېږي. يو څو بنده يې دادي:

---

(۱) سلطان ملخي توخي د (۱۰۶۸ھ) په حدودو كښې له غزني ترجلد كه د پښتنو مشر او مستقل حكومت يې كاوه.

Marfat.com

زغشو چه‌ورور تېر له دنیا شونا   قندهار واړه په ژړا شونا
زړه مې په وير کښې مبتلا شونا   چه شاه محمود له ما جلا شونا
داروې جهان را ته تور تم دینا   زړه د پښتون په غم کرم دینا
هوتك عمجن به دې ما تم دینا   د پاچاهی تاج موبر هم دینا
چه‌شاه محمود تېر له دینا شو نا   قندهار واړه په ژړا شـونا

ځوان ومېړه د توري جنګ ونا   ولاړ د کام په نام و ننګ ونا
دشمن له هېبه و ېنو رنګ ونا   پر میدان شیر وبا پلنګ ونا
افسوس چه‌مرګ دده پرخواشونا   قندهار واړه په ژړا شونا
محمو ده نه‌دې یوازی خورژ اړی   پرمرګ دې‌ټوله کلی کورژاړی
خپلوان لاځه پاچادې ورور ژاړی   لښکرسپاه ټولی دې‌سپور ژاړی
پښتون دې ټول په واویلاشـونا   قندهار ټوله په ژړا شـونا
هوتکو زاړی محمود شاه‌څه‌شونا   پښتنوستاسی لوی سپاه څه شونا
له اصفهانه تر فراه څه شونا   پاچاچه وحشمت پناه څه شونا
دپښتنو پـر تـم فنا شو نـا   قندهاروا ړه په ژړا شو نا
محمود ځوان وې‌ولی ولاړی له‌ما   له تخت و تا چه ته په‌څه‌شوې جلا
اصفهان ولی پاته شو نه نه تا   سردې‌رابورته کړه‌چه‌څه کړی اعدا
دښمن ولاړ بیا شا و خو اشونا   قندهار واړه په ژړا شونا

❀ ❀ ❀

ددې دورې یوه‌ډله نامشهوره‌شاعران

په‌دې دوره کښې ځینی داسی شاعران شته چه دهغوی په باره کښې څه پوره‌معلومات په‌لاس نه‌لرو، داشاعران صرف دپادری هیوزانګریز په‌ښودنه پېژنوده په‌خپل کتاب «کلیدافغانی» کښې چه‌دپښتوداشعاروانتخابات دی، ددې‌شاعرانو یو یو یادوه‌دوه‌غزلونه‌راوړی دي، اوددی نومیالوشاعرانو نمونه‌یې‌ژوندی اتلی دی. داشاعران په‌اول جلدپښتانه‌شعرا کښې هم‌راغلی اواشعار یې له «کلیدافغانی» څخه رانقل شوی دی ددوی ددغواشعارو له‌مطالعې نه‌معلومېږی چه‌ټول دپښتو ژبې زبردست اوپیاوړی ادیبان اودډیوانونو خاوندان وو، ددوی شعرونه اکثرعشقی رنګ‌لری چه ځینی ساده اوځینی دلوړوتخیلاتو اوتشبیهاتو په‌ګاڼه‌ښایسته‌دی

په‌دې لحاظ ویلای‌شو چه داشاعران څه‌درحمان بابا ادبی مکتب کښې داخل، اوځه دحمید دادبی مکتب پیروان اوشاګردان دی. دعصراوزمانې په‌لحاظ که‌څه هم ځینی پکښې د عبدالقادر ختك‌همعصر معلومېږی مګراکـثریې د(۱۱۰۰ه) څخه‌راپه‌دې‌خواتېرشوی دی نوځکه‌ددولسمې پېړۍ په‌شاعرانو کښې حسابېږی نومونه‌یې دادی: کاظم(په‌قام ختك و) معزاله‌-عثمان-اودل-اشرف-فاضل-ابراهیم-فضیل-حسین-مبین-عصام-ابوالقاسم-صدیق-غفور-فتح‌علی-علیم-عبدالصمد-کامګار-په‌قام‌ختك دی، او په (۱۱۶۵ه) کښې‌وفات‌شوی دی (۱) دمعزالله-ابوالقاسم اوکامګار دیوانونه په برتش‌موزیم کښې شته.

---

(۱) دبلومهارت فهرست

سدوزي شاعران پاچاهان

احمدشاه بابا: «احمدشاه بابا پرته له دې چه د پښتنو يو بريالی واکمن او ستر پادشاه و، د پښتو ژبې يو ښه شاعر او اديب هم و، ده لکه چه د پښتنو ملک او وطن او نوم او عظمت ته پوره خدمت کړی دی دغسې يې د پښتو شعر او ادب ته هم توجه نر له او په دې لار کښې يې هم زيار ايستلی دی، ده خپلې تورې سره قلم، او د خپلې سربازۍ او توريالیتوب سره علم او ادب هم ملګری درلودل.

احمدشاه بابا په پښتو کښې يو مرتب ديوان لری(۱) چه تر ډېره زره پورې رسېږي دده وينا ساده او بې تکلفه ده، دعشق او تصوف خواته زيات ميلان لری او په دې برخه کښې د رحمان بابا د مکتب تابع او پيروښکاري.

هو! دده په شعر کښې د پښتنوالي، توريالیتوب وطن خواهي، زړورتيا: عزم او ارادې جذبات هم په ښه شان څرګند او ښکاره ده، او په دې حصه کښې ورته د خوشحال د مکتب پير وويلای شو يو ځای کښې په خوږه مينه وطن ته خطاب کوی:

ستا د عشق له وينو ډک شو ځګرونه — ستا په لاره کښې بايلي ځلمي سرونه
که هر څو مې د دنيا ملکونه ډېر شي — زما نه هېر نه شي دا ستا ښکلي باغونه
د ډيلي تخت هېرومه چه رايا کړم — زما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه
که تمامه دنيا يو خوا ته بل خوا يې — زما خوښ دی ستا خالي تش ډګرونه

احمدشاه بابا ټول پښتانه يو ګڼي او د ملي وحدت تبليغ کوی:

ټول په يو دی که غلجي دی که ابدالی — نه هغه چه يې ښېښه دزړه صفا ده
پښتانه دې ټول له لاس سره يو کاندي — چه مو ننګ غزا هر اوري شا و خوا ده

د توري او ننګ او بري په باب کښې وايي:

په برښنا د توري ژوند کوه احمده — د بېري جولان پر لور د هرديار کړه
پر ننګ مړ خوځه مړنه دي — د بې ننګه ژوند جفا ده
لاس به وانه خلم له ننګه — که پيسه ننګ پاته دنيا ده
چه ده ښد د ملک فتحه مې نصيب شوه — نور ايران لره په توغ په يلغاره ځم
په دا کړې دادې خدای نه شي ناراضه — تر نګين مې ايران لاندې شاهانه ځم

په اجتماعي خوا کښې وايي:

يار هغه دی چه په غم د يار شريک وي — چه په غم يې غمجن نه، هغه نامرد دی

دا رباعي هم دده ده

سحر سبا دی په ژړا ژاړم — هسې غمجن يم ستا ديدن غواړم
دزړه استوګه له چا نه نه شي — که مې يار راشي هله به و يادم

تيمورشاه: دا پښتون پاچا هم د پښتو ژبې اديب او شاعر و. په پارسي ژبه کښې هم يو ديوان لری تيمورشاه په پښتو ژبه ښه ښه اشعار ويلي دي، مګر له بده مرغه اکثر ورک دي او لږ ليدل شوي دي دده اشعار يې عشقي رنګ لری او د رحمان بابا د سبک تابع دي. دا لاندې عشقي غزل يې ويلی!

نن مې بيا د تورو سترګو سره جنګ دی — پر لبانو يې دزړه د وينو رنګ دی
که پرېکړي سر په لاس ور ته ورشم — لا په دې باور نه شي زړه يې سنګ دی

---

(۱) دا ديوان په (۱۳۱۹ش) کښې پښتو ټولنې نشر کړی دی

نن مې پياله تور وستر گو سره جنگ دی　　پر لبانو يې دزړه دوينو رنګ دی
که پر ښکري سر په لاس ورلره ورشم　　لا په دا يې باور نه شی زړه يې سنګ دی
ستاد حسن لښکر راغی ځان يې بايلود　　د عاشق دزړه ميدان هر ګوره تنګ دی
عشق دی مشکک پټول نه شی تيمور شاهه　　چه په خپله ځان رسوا کا هغه رنګ دی

❀ ❀ ❀

داحمد شاه او تيمور شاه په زمانه کښې.

پښتانه عالمان اوشاعران

ملا عبدالرشيد : دسلطان حسين زوی دی، په خټه قريشي و، پخوانی نيکونه يې په ملتان کښې اوسېدل، مگر ورنيکه يې بيالښکر کوټ ته په کډه راغی عبدالرشيد په خپل وخت کښې يو ښه عالم او دپښتو اديب و : ده په (۱۱۶۹) کال د «رشيدالبيان» په نامه دپښتو په لنډه مثنوی يو کتاب نظم کړی دی، چه دابتدايی مسئلو او عقايد و مجموعه ده . ددی کتاب شعر روان اوسليس دی، دا کتاب په پښتو کښې ډير شهرت لری، واړه هلکان، نجوني اوښځې يې په کورونو کښې وايی اودپښتنو دکورنو مکتبو، يو درسی کتاب دی (۱) يوڅو بيتونه يې دادی :

چه محکم په لمانځه اوسی　　له دنيا به ايمان يوسی
هم به خدای پرې رضامن شی　　پرې آسان به ځنکندن شی
تاريکی به ترې رب دور کا　　پرې به قبر کښلی نور کا
پاك رسول به يې شفيع شی　　ملايك به يې مطيع شی
په ښي لاس به نامه ورکا　　سخته وريځ به يې اختر کا

خانګل خليل : دپښتو ژبی يو ښه شاعر دی، دی د (۱۱۵۰ھ) په حدود دپېښور په خواو کښې اوسېده پښتانه شعرا ليکی چه ده ښه اشعار ويلی دی اوپه شعر کښې دحميد بابا پر سبك تللی دی» داسی ښکاری چه دی په قام خليل مومند و، دابيتونه دده دی :

داحسينه پری مسته په خــو ا راغــله　　که ومخکې ته سپوږمی د سما راغله
خانګل ګل دمضون تول ترهـی حدکړ　　چـه بلبله ديـارسـی پـه ژړا راغلـه

پيرمحمد کاکړ : داسړی داحمدشاه ددربار يو عالم اوشاعر و دکاکړوله (ژوب) څخه قندهار ته راغی، اونه قندهار کښی دشاهی کورنی اوداحمدشاه بابا دزامنو استاذ و، دی دپښتو ژبی په خدمت کښی هم ښه برخه لری تقريبا لومړی سړی دی چه د پښتو دزده کوونکی مندانو دپاره يې د «معرفت الافغانی» په نامه يو تعليمی کتاب ليکلی دی چه شهزاده سليمان ته يې وړاندې کړی و دا کتاب دپښتو ژبی ابتدايی ګرامر و، ځينی لغات محاورې، اودشيانو نومونه په کښې هم دښودنې دپاره راغونډی شوی وو ، دا کتاب دنثر برخه هم لری نثر يې خوږ، په محاوره برابر او جملې يې لنډی اوړوې دی ' يوڅو جملې يې دادی (کښت خواری غــواړی، دکښت اوس وخـــت نـــه دی دکښت وخــت

---

(۱) دا کتاب په هند کښې چاپ شوی دی

Marfat.com

لاپسی دی ، کښت ډېرمه کوه ، واك به دې پرېوته رسېږي ، او به پرې وچې شي ،
حاصل به دې له لاسه ووزي خواري به دې ابته شي) .

پیر محمد د پښتو ژبې یو ښه مشهور ادیب دی چه د پښتو د اشعار یو دیوان یې په
(١١٩٦ هـ) کال لیکلی دی ، شعر یې متین او استادانه دی ، اخلاقي ، عشقي او تصوفي اشعار
یې ویلي دي اشعار یې په ساده ګۍ ، رواني او خوږ والي کښې د رحمان بابا سبك ته ورته
دي او په ناز کخیالی او ادیبانه ټلازماتو کښې د حمید د مکتب سره لاس اخلي ، خو په هر
صورت د پښتو یو پیاوړی او قوي شاعر ګڼل کېږي . د پخوانو شاعرانو اشعار یې په تنقیدي
نظر کتلي دي او د هر یو ښه والی او بد والی یې بیان کړی دی . وایې چه دی په عربي او فارسي
کښې هم ځینې اشعار لري . د ده لوړ ادبي مقام ته میرزا حنان داسې اشاره کوي :

داخوند ملا پیر محمد نظم که واوري
هر ګفتار یې دی په مثل د بلبل

پیر محمد د عشق او مینې په خوا کښې ښه پرسوز ابیات لري لکه چه وایي :

سوز ګداز مې د عشق زده کړ له پتنګه
او س هغه مې په څراغ د مینې سوی دی

ساقي چه را کړه پیالې له د مینې
نورې پیالې مې ذرې ذرې کړې

په بوی دز لفو یې لیونی کړم
چه په بهار خوږې نسیم خوږې کړې

غوټې د ګلو پر غوړ پده ده
بلبله راشه که ننداري کړې

زړه مې دی ډك شوی په خوناب له ډېره غمه
وینې مې چه خوري هغه خونخوار له ورور دوم

راشه ګلعذاره زلفې ورو ورو خوزوه ته
زړه مې په تال کښېوت په احتیاط یې زنګوه ته

په اجتماعي او اصلاحي خوا کښې یې دا بیت څومره اعلی دی ؟

هر حاکم چه د خپل نفس تربیت کا
ولایت به یې له عدله معمور نه شي

په دې ډول د پیر محمد په دیوان کښې نور هم له سوز او درده ډك اشعار شته چه په ویلو یې سړی
خامخا او ښکې تویوي او زړه ور ته نه شي ټینګولی .

د پیر محمد ژوند تر (١١٩٦ هـ) پورې معلوم دی دی په آخر عمر په قندهار کښې وفات
او هم هورې مدفون دی .

عبدالرحیم هوتك : د قندهار له مشهور و شاعرانو څخه دی اصلاً د کلات د (ښه بولان)
و ، په قندهار کښې او سېده ، مګر کوم وخت چه نادر افشار قندهار ونیوی ، جلا وطن شو -
بخارا سمرقند ، او ترکستان ته ولاړ ، او ډېر عمر یې په غربت کښې تېر کړ په دې بیلتون کښې
یې ډېر سوزان او دردمند اشعار ویلي دي . عبدالرحیم د پښتو ژبې یو ښه شاعر دی

تقریباً په شپږ وزرو بیتو کښې یو دیوان لري (د رحیم قندهاري په نامه یو دیوان
د پېښور د اسلامیه کالج په کتابخانه کښې شته دی . دا نسخه په (١٢٧٩ هـ) کښې کښل شوي
ده) عبدالرحیم د ساده وینا خاوند دا و د رحمان دادۍ مکتب پیرو او شاګرد ګڼل کېږي
پر ته له دې څخه دی د عربي علومو یو ښه عالم هم و ، ده عشقي ، اخلاقي او د وطن په محبت کښې
ښه اشعار ویلي دي ، مګر د روحاني دنیا سره ډېره علاقه لري دا بیتونه د ده دي .

که هزار ځله تقوی پرهېزګاري کړې
ښه دې نه شته چه مدام دل آزاري کړې

د زړه ولي مې په تاپسې پرې کېږي
را ته وګوره قربان دې د دیدار شم

ښا یسته قندهار ډېر ډېر یاد ومه
نه هېرېږي که هر څو یې هېر ومه

Marfat.com

شېر محمد هوتك: دقندهار له مشهور وعالمانو څخه و په (۱۰۹۲ﻫ) کال په قندهار کښې زېږېدلی او بیا په (۱۱۷۵ﻫ) کال وفات او دغلته ښخ دی. شېر محمد یوښه عالم او د پښتو ژبې شاعر و یو کتاب یې د «اسرار العارفین» په نامه د پښتو په لنډه مثنوي نظم کړی دی چه مضامین یې دیني او مذهبي دي. بل اثر یې «تجوید افغاني» نومېږي. دا کتاب هم د پښتو په لنډه بحر کښې یوه مثنوي ده او د علم قرأت او تجوید بحث کوي. په اول جلد د پښتانه شعرا کښې دده د کلام نمونه را غلې ده.

سعادت خان: (۱) په اصل د هند د بهار د صوبې و، خو په کابل او ننګرهار کښې یې استوګنه درلوده. دی په فارسي، هندي، او پښتو ژبو پوهېده. په (۱۱۵۰ﻫ) کال یې په کابل کښې «کیمیای سعادت» نومی کتاب په لنډه پښتو مثنوي نظم کړی دی چه دیني او طبي مضامین لري.

ابراهیم خان: په مقام کاګړاو د پیر محمد شاګرد و، د احمد شاه بابا په زمانه کښې زېږېدلی او تر (۱۲۰۲ﻫ) پورې ژوندی و. ابراهیم د پښتو ژبې شاعر دی وایې چه خوازه خوازه اشعار به یې ویل میافقیر الله جلال آبادي: د عبدالرحمن زوی او د جلال آباد په خاص حصارك کښې (۲) زېږېدلی دی دی په خپل وخت کښې واوی عالم، بزرګ او نېك سړی و، احمد شاه بابا ورته زیاته عقیده لرله او دیو بل سره یې خط او کتابت درلود. دی یو عارف او روحاني سړی و، په عربي کښې هم تالیفات لري، په پښتو نظم یې هم د «فواید فقیر الله» په نامه یو کتاب لیکلی دی. مګر دا کتاب تر اوسه موندنه دی لیدلی. دی په (۱۱۹۵ﻫ) کال د هند په ښکار پور کښې وفات او هوري مدفون دی.

اخون ګدا: د اورنګ زیب مغولي پادشاه تر مرګ وروسته د سدوزیو په وخت کښې تېر شوی دی د احمد شاه بابا هم عصر معلومېږي. ګدا د عربي علومو عالم او د پښتو ژبې شاعر و، د «نافع المسلمین» په نامه یو اثر لري چه د پښتو په نظم لیکلی شوی او په (اخون ګدای) مشهور دی دا کتاب د دیني او مذهبي مسایلو مجموعه ده په دغه کتاب کښې یې ځای په ځای یو نیم غزل هم راغلی دی، او داسې معلومېږي چه ده یو مستقل دیوان هم درلود. دده کلام عشقي، او صوفیانه دی، د رحمان بابا د مکتب سره اړه لري شعر یې د مخصوص رنګ او خوند، سوز او ګداز او ساده تخیل خاوند دی دا بیتونه دده دي:

د سحر چرګه خوږ شي په کومي — چه تا نادي کړي دلبر مې د رومي
یو مې دلبر ځي بل را نه زده وړي — زده مې په داوړي چه دلبر نومي
....
ماوي ستاد درګدایم هېر مې نکړې — شاه وي کله هر ګدا دي زما یاد

جان محمد: د پښتور او ننګرهار د خواله شاعرانو څخه دی، د احمد شاه بابا په دوره کښې ژوندی و یو کتاب یې چه «نور نامه» نومېږي مشهور دی، اشعار یې دیني او اخلاقي رنګ لري. د شعر دیوان یې معلوم نه دی فقط یوه عشقي بدله یې د اخون درویزه د مخزن له یوې نسخې څخه د پښتانه شعرا په اول جلد کښې را نقل شوې ده یو جان محمد خو مرزا حنان داسې یاد کړی دی.

---

(۱) پښتانه شعرا المعری توك. (۲) مقدمهٔ دیوان احمد شاه بابا ۹۶ مخ

Marfat.com

جان محمد حافظ کاکړ په نعت ومدح - سیال بې نه وو په پښتو کښې په دې پل نو احتمال اري چه همدا جان محمد به وي

برهان خان: دا شاعر هم د احمد شاه بابا له معاصرينو څخه دی دده له یوې قصیدې څخه ښکاره ده چه دی داحمد شاه بابا سره د (پانی پت) په لښکرو کښې شامل څکه چه د دغې تاریخي جګړې کیفیت یې په شعر و ویلی دی او د پښتنو جنګې احساسات یې په کښې څرګند کړي دي دار مستزاد فراموی دده اشعار په (ایبټ آباد) کښې پیدا کړي دو او وایې چه دی د (نادر) زوی و، چه دهزاره په علاقه کښې اوسیده. دا هم وا ئي چه برهان خان دخواص خان او افضل خان خټك جګړه، اود آدم خان او درخانۍ قصه هم نظم کړیده. برهان خان یو ملی شاعر دی او دده او تاریخي قصیده یې ویلی ده. چه دسریو څو بیته یې دا دي:

احمد شاه پادشاه په جار وویله … دغزا په نیت وزمه له کابله
پښتنې میرمنې لاندې کړې کفارو … دا خبره مې په زړه وګرځیده له
یا به ننګ د پښتنا نه بیرته په ځای کړم … یا به بایلم ګکرئ پرې باندې خپله
امیران وزیران واړه تري چاپېر وو … دغرا په مهم خوښ شو یو تربله
د پادشاه دري لکه لښکرهمه سوواره وو … د هندوستان په لاري تله واړه خوشدله
دا تك په سیند یې دوه پوله تیار کړ … پادشاه پر یووت په (مانجه) یې مېشته کړله
هرسپاهي یې له بر پخو نه کم نه وو … د (روتاس) کوټ یې پې جنګه واخستله
دبا هونه لکه فوج وریسي راغی … شپه او ورځ یې خالي نه وه له مزله
مخامخ شو جنګ یې وکړ په میدان کښې … دور و خسه ئې تو پخا نه وړچلو له
سمندخان مؤمن خان دواړه شهیدان شول … حمد اشاه زړه ګی ستن ونړ یدله
اوه ورځې وه تیاره پیار نیا بی شوه … د باهو تنه په محکه لوغړ یدله
مرتې په لور دغم ناري سوري شوي … پښتانه توره یې هاله ومنله
پادشاه جنګ وکړه هر څوك پري خوشحال شو … بیا برهان یې مدام ستا یې له غزله

میاعمر څمکنی. دا مشهور عالم او روحاني سړی داحمد شاه بابا معاصرو د پښتور په (څمکنو) کښې اوسیده احمدشاه بابا دده سره علمی او روحاني روابط درلودل وایې چه دده د پښتنو د قومونو شجره په پښتو نظم ایکاې ده چه (د پښتنو نسب نامه) نومیږي (۱) میاعمر په خپله هم یو عالم ادیب او د پښتو ژبې شاعر واو په اولاده او مریدانو کښې یې هم پښتانه شاعران لکه (محمدي مسعود ګل اونور) تیر شوي دي

محمدی صاحبزاده: د میاعمر زوی دی، چه د پښتو ژبې یو خوږ ژبې شاعر و، د شعر او شاعرۍ سره یې مینه درلوده او پښکلی دیوان یې درلود دی، یو با ذوق، شاعر او د روحاني مقام خاوند و. کاظم خان شیدا د خپل دیوان په مقدمه کښې وایې د چه محمدی ښه طبع او د سخن شناسی سلیقه اری دخبرو په بنا یست کښې له ملګرو نه وړاندې دی اکثر پخواني دیوانونه

(۱) دا نسب نامه مانه ده لیدلې.

بې رانول کړي دي او په مطالعه يې زړه خوشحالوي ، د محمدي اشعار عموماً يې عشقي دي بوالهوس
کيميا فت دي خو پا دري هيوزيې خو بدالي راساتاي دي ، محمدي کله کله په تخيل او ادبي
تلازماتو کښې د حميد ر سبك ته لکه چاوا يي :

نه يوازي لاله گل دي ډوب د سرو وينو په جام کښې
ستا د غم وژلي وارده ځي خښېږي گلگون هسې

مسعود گل پاسني ، د (۱۲۰۰ هـ) په حدود کښې يې ژوند کا وه د ميا عمر څو کښې
مريد او عقيد تمن و ، مسعود گل د پښتو ژبې يو ښه شاعر دی ، ده د خپل پير په ستاينه کښې
يوه مثنوي ويلې ده چه يوه نسخه يې د لندن په موزيم کښې شته ، ده په يوه مثنوي منظومه
کښې د احمد شاه بابا د جنگرو بيان کړي دي له دغې مثنوي څخه يې ادبي اقتدار څرگند
يږي دغه مثنوي دي په رزمي شاعرانو کښې حسابوي يو څو بيته يې دا دي .

جان محمد دراني دا رنگ حکايت کا — حکايت د احمد شاه د ولايت کا
اول کال چه شه داخل په هندوستان — د پنجاب له ملکه تېر کېدي ستان
اراده يې وشوه بيا د قندهار — او مهم يې کړه موقوف د هند و بار
چه داخل په قندهار د شاه قدم شو — نور هرات ته عزيمت په هغه دم شو
له فراه نه چه باد شاه و کړ عبور — هراتيانو وويل (۲) مونږ شو محصور
که ترې تېښتو په هيچ لوري نه خلاصيږو — په کلا کښې که کښېنو نو حصارېږو
که يې مخې له ورځو بې اعتبار دي — مونږ مغول او دي دراني د قندهار دي
دوي څو ورځې وو پراته په دا فکرونه — چه چا پېر شو تر هرات د شاه فوځونه
د هرات مغول شو واړه کلا بند — والي ډېر و هغه کوټ محکم بلند
ترې چا پېر د پښتنو ځښې مورچې شوې — د هر چا په لاس توپك نيزه چې شوې
يو پلو د توپخانې وه دند و کار — بل پلو د نيزه بازو کېره هار

(داجنگي او حماسي مثنوي ډېره اوږده ده ، چه په هرات باندې د احمد شاه سخت
جنگونه بيانوي او په آخر کښې د هغه د فتح دورغږوي ، مگر په دې شعر کې ډېر دوه قواوې
چه پر هرات غالبې شوې وې ، د مغول په نامه بلل شوې دي) .

فيض الله کاکړ ، د ملا بابړ زوی دی ، په قندهار کښې او سېده ، يو عالم
پرهېزگار سړی او د پښتو شاعر و ، د احمد شاه بابا له عصره باد شاه زمان تر وخته
يې ژوندی و يو غزل يې په پښتانه شعرا کښې راغلی دی.

ميا عبدالکريم ، د خپل عصر مشهور عالم او روحاني سړی و ، استوگنه يې په (لغمان)
کښې وه ، خلکو ته به يې تدريس او لارښوونه کوله ، بيا په (۱۲۰۷ هـ) کښې وفات او د لغمان
په علي شنگ دره کښې ښخ شو ميا صاحب د پښتو ښه شاعر و اشعار يې د خلقو ياد دي يو څو شعرونه
يې په پښتانه شعرا کښې شته .

(۲) مقصد هغه پردي خلق دي ، چه پر هرات غالب ؤ او احمد شاه بابا د دوی څخه هرات واخيست

حافظ: ددې دورې له شاعرانو یو داسې دی. ده د(شاهنامهٔ احمد شاهی) په نامه په (۱۱۷۲ه) کال یو کتاب منظوم کړی دی دا کتاب (۱۲٤) مخه دی او د احمدشاه بابا سوانح او جنګی کارنامې بیانوی.

د سر بیتونه یې دادی

اول ثناده د سبحان | چه پادشاه دی د جهان
که هزار مې شي ژبان | په څو قسم که بیان
نه به شي له ما ادا | که ګویا شي واړه دا

د پای بیتونه:

شاهنامه مې شوه منظوم | په کاغذ باندې مرقوم
ای حافظ طوطی زبانه | ژبه بنده کړه له بیانه
په دا ختم کړه ګفتار | په تنظیم مه کړه اشعار

په هر صورت دا کتاب د پښتو په ادب کښې یو مهم کتاب دی. مګر له بده مرغه چه تر اوسه نو دا کتاب مونږ تر لاسه نه دی راغلی او نه یې د مؤلف په باره کښې څه زیات معلومات لرو ددې کتاب یو قلمی نسخه په برټش موزیم کښې موجوده ده. (۱)

اکبر: په دی نامه یو بل شاعر هم تیر شوی دی چه هغه د(زمینداور) او دا ولې دورې له شاعرانو څخه دی.

لیکن دا کبر برته له هغه څخه بل دی. دی په (۱۰۱) مخه کښې د پښتو د شعر یو دیوان اری چه د لندن په موزیم کښې شته، دا نسخه دا تلسمې عیسوی پیړۍ په آخر کښې لیکل شوې ده.

(۱) فهرست بلومهارت.

نو نځدا: ده هم د(۱۱۵۰ه) د خواوشا شاعر و یلای شو. (۲)

نجیب: یو یوسفزی پښتون و، په (۱۸۸) مخه کښې د پښتو اشعارو یو دیوان اری چه د لندن په موزیم کښې موجود دی. دی هم ددویمې دورې د دولسمې پیړۍ په شاعرانو کښې حسابیږی. (۳)

محمد مظفر: دا سړی د پښتو ژبې یو قوی نثر لیکونکی دی. ده پلار ملا اسمعیل قریشی نومیده دوی د خوشحال خان له کورنی سره پوره ارتباط در لود او پخله محمد مظفر دافضل خان خټک له ملګرو او همکارانو څخه و، محمد مظفر په (۱۱۲٦ه) کښې د افضل خان په ویناو تشویق «د اعثم کوفی تاریخ» له فارسی څخه په پښتو ترجمه کړی دی: تر اوسه د «یادرنی هیوز» د روایت په واسطه دا مشهوره وه چه اعثم کوفی دافضل خان خټک ترجمه ده مګر ددغه کتاب د قلمی نسخې له لیدلو څخه معلومه شوه چه د محمد مظفر ترجمه ده. (٤)

(۱) فهرست بلومهارت
(۲) (۳) فهرست بلومهارت (٤) ددې کتاب قلمی نسخه په پېښور کښې د فتح محمد خټک سره شته چه په ۱۳۲٤ ش کال یې د نقل د پاره پښتو ټولنې ته رالیږلې وه. دا نسخه (٤۹۵) مخه ده او په ښه خط لیکل شوې ده.

ددې کتاب نثر ډېر ښه او خوږ دی او د خټکو د کورنۍ په تېره د افضل خان د نثر و نو سره ډېر نژدې والی لري ، له دې کبله محمد مظفر د پښتو په نثر کښې یو قوي او تکړه سړی ګڼل کېږي په دغه ترجمه کښې ځای په ځای څه اشعار هم شته د کتاب د پای یو څو بیتونه دا دي :

په مدت د پاک سبحان | په اقبال د عالیشان
چه تاریخ اعثم کوفی | په پښتو شو له فارسي
که ټولن د خان صاحب شي | مفتخر به یې کاتب شي

❀ ❀ ❀

په دې دوره کښې د خوشحال خان اولاده

افضل خان خټک د اشرف خان زوی او د خوشحال خان نمسی کېږي د خټکو د کورنۍ یو ځلاند ستوري او د پښتو په ادب کښې یو نوموړي سړی دی خصوصاً د نثر په حصه کښې زیات حقدار ګڼل کېږي دی د خپلې کورنۍ یو یوه مشر و چه د پلار تر مرګ وروسته یې (۶۱) کاله ریاست وکړ کاظم شیدا یې د مرګ تاریخ (۱۱۸۳ هـ) سنه ښودلې ده . دی یوه یوه مورخ هم د نثر په خوا کښې مهم آثار لري ، لمړی مشهور اثر یې «تاریخ مرصع» دی ، دا د ده یو ادبي شاهکار او د پښتو په تاریخ کښې یو مهم او نوره کتاب دی . پادري هیوزوایي چه تاریخ مرصع یو عمومي تاریخ دی او د پښتنو او خټکو حالات په کښې دی .

۲ـ د «کلیله او دمنې» پښتو ترجمه ده چه «علمخانهٔ دانش» (۱) نومېږي دا افضل خان د اشعارو د دیوان چاپ شوی نه دی ویلی مګر په «علمخانهٔ دانش» کښې یې ځای په ځای ځینې بیتونه او اشعار راغلي دی ، یوه رباعي یې دا ده .

صورت مې هر څو که ډېر زبون دی | که مې د مخکې د لاندې یون دی
زه به په لوري د آشنا خوځ مم | که یون مې هر څو په شوا څون دي

❀ ❀ ❀

د تاریخ مرصع نثر

نقل دی له اخون درویزه نه چه په مخزن کښې کښلی دی چه عبدالله نومېده او زموږ د کاني ګرم په اور مړو کښې ، علم او صلاحیت یې ډېر واه اولاده د صالحانو ، زوی یې پیدا شه ، نوم یې بازید کېښود ، په علم یې کښېناوه ، تحصیل یې کړ او په طاعت او عبادت جدوجهد وکړ ، اما یس له هغه یې چه څه نقد په لاس راغی سمرقند ته په سوداګرۍ د اسونو روان شه دوه اسونه یې واخیستل هندوستان ته روان شه ، په موضع د کالنجر ورغی هورته یې اتفاق د صحبت د ملا سلیمان سره پېښ شه الخ .

د تاریخ مرصع نثر د خوشحال د سبک پشان دی او په دغه سلسله پوری اړه لري ، نسبتاً ساده او روان دی ، او د هغه وخت په اثرو کښې په قوي او لمړۍ درجه نثر ګڼل کېږي .

د تاریخ مرصع درې نسخې د لندن په موزیم کښې شته یوه نسخه یې (۷۶۵) مخه ده چه په ۱۲۷۲ هـ کښې لیکل شوې ده ، د تاریخ مرصع په اووم دفتر کښې د پښتنو روحانیونو سوانح هم بیان شوي دي ،

---

(۱) یوه نسخه یې په کابل کښې د «افغاني نویس» سره شته .

علیخان

شنو ا بلبل اویو نا متو ا دیب دی د ا فضل خان

نمسی او دخوشحال خان کړوسی کیږي، علیخان په پښتو کښې یو وړوکی قیمتي اوخوندور دیوان اري. مضامین یې اکثر عشقي اوتصوفي دي خینې اخلاقي او اجتماعي اشعارهم په کښې پیدا کیږي. علیخان یو علم سړی ووده په دا نکښې ډیر علمي اصطلاحات شته، دی په خپل تبر کښې د شهرت خاوندی او وروستني شاعران یې دا شعار روستاینه کوي، شمس الدین کاکړ وایی.

دعلیخان په رنگین شعر که خبر شې	هر غزل یې دی تنها دیوان د شعر

ده څه وخت دیلار آرمرکړ وروسته دختکو مشری هم کړېده او بیا له وطنه جلا شوی او مهاجر شوی دی، له دیوانه یې معلومیږي چه تر (۱۱۸۰ هـ) پوري ژوندی و، علیخان ښه خوږ لهجه ده کلام لري اشعار یې غالباً د رحمان په عشقي مکتب پوري اړه لري دا څو بیته دده دي.

چه د مقام بېهوده نه گوری بې سوده	زورور دی په خاناتو حساب نه دی
نه بنائی یې اوازه چه داهسی بې پرابې	هېر دی شو مه څه خرمی خبر په حال اره
څه خوزاشه نن دعشق دمړو په محلیو	ور ته وا یه ای د هجر تیغ و ژلیو
چه دعشق دمخن‌کندن پیالی مونوش کړی	شهید کړی مو مبارك شه خدای بښلیو

کاظم خان شیدا:

د علیخان ورور دی، دخوشحال خان په کورنی کښې د ناز کڅیالی اعتقاد او د تخیل پیشوا او دجگک ادبي مقام ښتن بلل کیږي، ده خپل شعر په ډیر ښکلی او رنگارنگ خیالاتو ښایسته کړ، دخیال په دام کښې یې دهوا مرغان و نیول، د بلبلو سره و چغید، د ښکلو تو تیانو یشان دادت په ځکو خوکو والوت، هرغزل او هر شعر یې ته به وا یې دښایبو دملك تصویر دی په تشبیهاتو او استعاراتو کښې طوفان کوی، د کلام په نزاکت

حافظ رحمت خان

د پښتو داد ب تاریخ - ۸۷ مخ

او لطافت کښې ډېر مهارت لري ځکه ورته ادبي خلق د حميد بابا د نازکخيالۍ د مکتب ملګري وايي، شيدا د عشق د دنيا سره کار لري، د عشق ګرمي او حرارت غواړي او له بې سوزه ژوندنه بېزار دی. شيدا ډېر پر جوش ديوان (۱) خاوند دی ده هم لکه د خپل نيکه اشرفخان له وطنه لېرې ډېرې شپې له دردوغم سره تېرې کړې دي، تر (۱۱۹۱ھ) پورې ژوندی و او بيا په هند کښې مړ شوی دی. کاظم خان پوهاته پښتون و، او د همتي يې له دې بيتو څخه معلوميږي .

سوال مې خوی له درافشانه ابره نه دی — صدف ورانه خپله خوله کړه په غوښتلو
د آفتاب په کمندنه خېژم آسمان ته — نه پړدم بار لکه شبنم په دوش د ګلو

اوس يې دا يو غزل واورئ :

روغ به نه شم بې وصاله راشه کښېنه — شه خبر زما له حاله راشه کښېنه
آخر کړي دي قرارم سرشتانو — د وحشت په خوی غزاله راشه کښېنه
په مراد د د هند ليب بی وفا ګله — جلوه ګر شوې بس له کاله راشه کښېنه
زه آرام لکه بسمل په پرهار موم — له تانه غواړم د سماله راشه کښېنه
تل په دا خمو ابرو په شهلا سترګو — د خپل يار شام و هلاله راشه کښېنه
چه ايام کړو سره ياد د بې غمۍ — يو ساعت زما همساله راشه کښېنه

نازکي د يار د طبع کړه موزونه
ای شيدا نازکخياله راشه کښېنه

د شيدا په شعر کښې د فارسي ژبې اثر هم په معنی او هم په الفاظو او کلماتو کښې نسبتاً زيات ليدل کيږي .

(۱) د دې ديوان هغه نسخه چه د شيدا په خپل مهر وه در اورتي ګوتوله په لاهور کښې ورغلې وه او په برټش موزيم کښې خوندي ده، يوه نسخه يې چه په (۱۱۹۱) کښې ليکل شوې ده، د اسلاميه کالج په لايبريري کښې شته .

خوشحال خان شهيد، د سعدالله زوی او د افضل خان لمسی دی، د پښتو ژبې شاعر او اديب و د ده وخت د خټکو مشري هم کړې ده، يا د احمد شاه بابا د لښکر سره د مرهټانو په جنګ کښې شهيد شو دا بيت د ده دی :

تمام تن مې وچ لرګی شور ګړ مې تارورباندې پر يو وت
زير و بم آواز ترې خېژي هيڅ حاجت د رباب نه شته

د حافظ رحمت خان کورنۍ

لکه چه څرګنده ده په پښتو کښې داسې ډېرې کورنۍ تېرې شوې دي چه هغوی د پښتو ژبې ادب ته ډېر خدمت کړی او لوی نوم يې پرې ايښی دی لکه د پير روښان اخون درويزه او خوشحال خان کورنۍ ؛ په دې ډول د حافظ رحمت خان کورنۍ هم د دوو لسمې پېړۍ يوه علمي او ادبي کورنۍ ده . چه د پښتو په لار کښې يې کوششونه کړي دي نو ځکه دا کورنۍ هم وروسته ښودل غواړو .

حافظ رحمت خان : د شاه عالم خان زوی دی . دوی په اصل کښې د قندهار د ښو راوک بړيڅان دي مګر په هند کښې يې استوګنه درلوده او د هغه د روهيل کنډ حکمران و . حافظ

رحمت‌خان داحمد شاه‌بابا معاصردی له‌هغه‌سره یې‌په‌هند کښې‌ډېر کومکونه کړي دي اودهغه رښتېن ملګري و . دی‌بیا په(۱۱۸۸ﻫ) کال په‌یوه‌جنګ کښې شهید اوپه (بریلی) کښې ښخ شو . حافظ رحمت‌خان یوعالم دیندار ، ادیب‌شاعر مورخ اولیکوال و . وایي چه‌ده‌یوه لویه کتابخانه‌درلوده چه‌اکثر کتابونه‌یې‌پښتو وو . ده‌دپښتو او فارسي اشعارو یوديوان هم‌لاره . ډار مستټر وايي «چه‌ما ته‌په‌رامپور کښې‌یوه پښتانه دپښتو اشعارو یوه‌مجموعه راکړه چه‌دحافظ رحمت‌خان اونورو پښتنو سردارانو اشعارپه‌کښې وو اودغه مجموعه اوس‌دبرټش په‌موزیم کښې‌خوندي ده» دحافظ رحمت‌خان یومخمس دعبدالقادر خټك په‌یو قلمي دیوانکښې هم‌لیدل‌شوی‌دی‌چه‌دغه دیوان‌هم دبرطانیه په‌موزیم کښې دی ده‌په‌تاریخ کښې هم‌دوه کتابونه لیکلی‌دی - تواریخ رحمت‌خاني ۲- خلاصة الانساب (۱) دادواړه کتابونه په‌فارسي دي اودپښتنو تاریخي احوال‌په کښې بیان شوی دی .

نواب محبت‌خان : دحافظ‌رحمت‌خان‌زوی‌دی ، یوعالم‌سړی و ، په‌عربي ، اردو ، فارسي اوپښتو ژبو کښې‌یې اشعار درلودل ، وایي‌چه‌په سنسکریت هم‌پوهېده اوپه فارسي کښې هم‌ځینې تالیفات لري . ده‌په‌پښتو کښې‌په(۱۲۲۱ﻫ) د« ریاض‌المحبت »په نامه‌یوخورامهم کتاب لیکلی‌دی . دا کتاب دپښتو یومهم لغت‌دی اودافعالو ګردانونه هم لري (۲) راورټي انګریز لیکلی‌دی چه‌دا کتاب‌دپښتو‌یو لغوي‌او ګرامري کتاب‌دی‌لمړی باب‌یې دپښتو افعالو تصریفات دي ، دوهم‌برخه یې پښتولغات دي چه‌معاني یې‌په فارسي لیکل شوي‌دي محبت‌خان په (۱۲۲۵ﻫ) کښې‌وفات شوی دی .

الله یار خان : داسړی دحافظ‌رحمت‌خان‌زوی دی . وایي‌چه‌ده‌هم په(۱۲۲۸ﻫ)دپښتو یو لغت لیکلی دی‌چه «عجایب اللغات» نومیږي‌دا کتاب‌راورټي ګوته ورغلی واو نسخه یې‌په برټش موزیم کښې موجوده‌ده‌ددې کتاب په‌مقدمه کښې‌دپښتو‌ځینې قواعدهم شته‌وایي (۳) چه‌دا کتاب دپښتو ، هندوستاني فارسي اوعربي لغاتو مجموعه‌ده . الله یار خان په (۱۲۴۸ﻫ) کال وفات شوی دی .

نواب مستجاب خان : دحافظ رحمت‌خان زوی‌دی دخپل پلار پشان‌عالم اویوه‌سړی‌و په‌عربي پارسو اوپښتو کښې لیکوال اومورخ دی .

ده‌د « ګلستان رحمت » په‌نامه یوتاریخي کتاب لیکلی‌دی چه‌دخپل‌پلاردژوندانه‌اودهند دپښتنو حالات یې‌په کښې بیان کړي دي ، وایي‌چه‌دی دپښتو شاعرهم‌و ،

سعادت یار : دحافظ رحمت‌خان نمسی‌دی . دپلار نوم‌یې‌محمد یاروو‌دی‌هم لیکوال‌ نکی اومورخ دی‌د (۱۲۴۹ﻫ) په‌حدودد کښې یې‌د« ګل رحمت »په‌نامه په‌فارسي ژبه‌د ړېڅو دکورنۍ اودهند دپښتنو په‌حالاتو کښې یو کتاب لیکلی‌دی .

نیازاحمدهوش : داسړی هم‌ددې کورنۍ یور مورخ لیکوال دی دحافظ رحمت خان کړوسی‌و ډېر تالیفات لري ، دپښتنو‌په تاریخ کښې‌یې «دروهیل کنډه» تاریخ کښلی دی دی‌د (۱۲۵۰ﻫ) په‌حدود کښې ژوندی و .

(۱) ددې کتاب یوه‌نسخه په‌پښتو ټولنه کښې‌شته (۲) د۱۳۲۲ کالنۍ مخ ۱۶۹
(۳) فهرست بلومهارت

نو معلومه شوه چه حافظ رحمت خان او دده کورنی هم د پښتو ژبی په خدمت کښې یوه
برخه لری ، دوی اکثره د پښتو ژبی شاعران او ادیبان وو ،

په تیره د نواب محبت خان ریاض المحبت او د الله یار خان «عجایب اللغات» چه د پښتو
او مړنی قاموسونه دی په پښتو کښې ډېر قیمتی او غوره آثار ګڼل کیږی او دا د یوی ژبی د ژوندانه
د پاره یو ستر خدمت دی .

(د دې دورې نور شاعران او لیکوال)

امیر محمد انصاری (۱) : دا سړی تقریباً د (۱۲۰۰ھ) په حدودو د هند په (کلکته) کښې
اوسیده پلار یې میر محمد نومیده . ده د سعدی ګلستان په (۱۲۲۷ھ) کال په دغه ځای کښې
په پښتو نثر ترجمه کړی دی ، د دې پښتو ګلستان یوه نسخه چه (۱۲۹) پاڼې ده ، د لندن په موزیم
کښې شته ده د کتاب د سر یو څو جملې دا دی (همه واړه ثنا و صفت او ګڼ احسان و منت دغه اوی قادر
ښښتن تعالی لره چه طاعت یې سبب د قربت دی ، او دده په شکر کښې زیاتی د نعمت - هره یوه ساه
چه په ښکته د رومی او ږدو ونې د حیات ده او هر ګله چه په پورته راشی خوشحالو ونی
د ذات یعنی د ځان ده پس په هره یوه سا کښې دوه نعمتونه موجود دی او په هر نعمت یې
شکر واجب) د دې سړی نور حالات ښه نه دی معلوم ، مګر و پلای شو چه د دغه ترجمه یې
ښه او غوره ده او دی د پښتو په ترجمه کونکو او نثر لیکونکو کښې ښه درجه لری .

عبدالکریم کاکړ ، د قندهار له عالمانو څخه و ، په عربی علومو کښې یې مهارت درلود
د پښتو ژبی شاعر ګڼل کیږی څکه چه عربی عین العلم یې د «زین العلم» په نامه یو کال
له مرګه وړاندی په (۱۲۳٤ھ) کښې په پښتو نظم را اړولی دی ، دی پرته له دغه کتاب نه
نوری بدلې هم لری دا بیتونه دده دی :

د ښه خوی ګټه ده ډیره	له ګټلو ترا اند تیره
هغه څوک چه اخلاقی وی	د هغه نوم په باقی وی
د اسلام خو ښه اخلاق دی	چه په درست ادیانو طاق دی
په خو یو انسان انسان دی	که نه ؛ دی خاتش حیوان دی

محمود رفیق ، د پښتو ژبې شاعر او په عربی او هندی ژبو یوه و ، د (۱۱۸۵ھ) په شاوخوا
کښې یې د علم تجوید په بیان کښې یو کتاب په لنډه پښتو مثنوی له هندی نه ترجمه کړی دی
د کلام نمونه یې په اول جلد پښتانه شعرا کښې راغلی ده .

دا بوری حافظ : الپوری د سوات د ریاست د کانړا او غوربند په علاقه کښې یو کلی
دی ، حافظ د دغه کلی و . حافظ که څه هم په سترګو معذور و مګر د پښتو ژبې یو مشهور
شاعر تېر وخوت ، دده (۱۲۰۰ھ) په شاوخوا کښې ژوند کاوه او د شاه زمان تر وخته پوری
ژوندی و ، له حافظ څخه یو ښه دیوان (۲) یادګار پاتی دی دا دیوان پند او نصیحت ،
د توحید بیان او ځینې عشقی او تصوفی برخی لری ، د حافظ ژوند هم لکه د رحمان بابا
صوفیانه او د ګوشه ګیری ژوندی ، دی د معنی په لحاظ د رحمان بابا د روحانی او الهامی
دبستان پیرو دی مګر د لفظه په لحاظ ځانله طرز لری څکه ده په اوږدو بحرو کښې اکثر

---

(۱) فهرست بلومهارت . (۲) دیوان یې په پېښور کښې چاپ شوی دی .

اشعار ويلي دي اشعار يې خوندور او له جوشه ډک دي، حافظ په عوامو کښې هم ښه شهرت لري او اشعار يې د خلقو په ياد دي هو! فارسي او عربي کلمات يې په شعر کښې ډېر ليدل کېږي مګر سره د دې يې هم رواني او سلاست له لاسه نه دي ورکړي، دا بيتونه يې ويلي دي.

برګ مېوه مې توی شو د پيری خزان اغز کړم   تېر له که برېښنا شوې د ځوانۍ اردي بهشته

سود سو دا هغه کاڅه بازار له بها بو سي   ته چه دست خالي په بازار کښې ودې ياخه شته

عشق: زه نايب يم د مجنون په عاشقۍ کښې   خليفه د قارون نه يم چه مال غواړم

پند: خوی د چارپايانو کړې جوسه دې د سروده   شين د کې چه وينې له ګرنګه پسې رغړي

قاسم علي افريدی: په اصل اپريدی آدم خېل دی، ده دې کورني داورنګ زېب په زمانه کښې هندته تللې وه او دی هم هلته په فرخ آباد کښې زېږېدلی دی، راورتي ليکلي دي چه قاسم علي په عربي، تورکي، پارسي، کشميري او هندي ژبو پوهېده او انګرېزي يې هم لږه زده وه انګرېزان دده په ژوندانه هندته راغلي دي لکه چه وايي:

نصارا په هندوستان حکومت کاندي   چېرته ولاړ هغه ځوانان شمشير زنګي

دقاسم علي يو قلمي ديوان چه ليدل شوی دی تر پنځه زره بيته رسېږي، قصيدې او چار بيتي هم لري او په (١٢٣١هـ) کښې تمام شوی دی. دده اشعار په عشقي، اخلاقي او تصوفي خواو کښې ويل شوي دي، ډېر خوږ او متين کلام لري ده په يو شعر کښې ځيني پخواني شاعران ياد کړي دي او ځان د هغو د پښتو خاوري ګڼي دا بيت دده دی:

که چغار د عندليب پشان کړم   افريدی يم په ګلزار د توروزانو

قاسم علي يو کليات (١) لري چه په پنځو کتابو شامل دی ١- تزک افريدي په دې کښې يې په فارسي د خپل خاندان حال ليکلی دی ٢- ديوان افريدي په پښتو ژبه ٣- ديوان افريدي په اردو ژبه ٤- قصايد افريدي په فارسي او پښتو کښې د خو مدحيو مجموعه ده ورسره په پښتو يوه خوابنامه هم شته ٥- فرهنګ افريدي په دې فرهنګ کښې د فارسي مصدرونو او لغاتو په مقابل کښې په پښتو، اردو، کشميري او انګرېزي مرادف ليکل شوي دي داسې معلومېږي چه دا فرهنګ په خپل وخت کښې يو ښه جوړ فرهنګ و.

ملا فرح الدين: په اصل کښې عرب دی چه په قندهار کښې اوسېده چه بيا په (١٢٤١هـ) کال هم هلته وفات شو. دی د ميا فقير الله صاحب مريد و، ډېر شاګردان او مريدان يې درلودل، زاهد، عالم او پرهيزګار سړی و، دی په اخلاقو او تصوف کښې د «تعداد الکباير» په نامه يو کتاب لري، چه د پښتو په لنډ بحر يوه مثنوي ده او دا هغه سبک دی چه له پخوا څخه د مذهبي آثارو د پاره رواج شوی دی يو دوه بيته يې دا دي:

شفقت پر مسلمان کړه   له هر چا سره احسان کړه

په ښادي دده ښادمن شه   هم په غم دده غمجن شه

خواجه رزق الله: دا سړی د پښتو د ملي شاعرانو په ډله کښې درېږي، ډېرې چستې او خوږې چاربيتي لري، په شعر کښې يې نازکخيالي هم شته، د ننګرهار د چپرهار په (کلاشيخ)

(١) د دې کليات يوه نسخه چه په سنه (١٢٣٠هـ) کښې ليکل شوې ده او په خپله د مصنف مهر و ته هم پرې لګېدلی دی، د پېښور د اسلاميه کالج په کتابخانه کښې موجوده ده

Marfat.com

نومی کلی کښې زېږېدلی دی، رزق الله یو ګرزند سړی و، د هند، کشمیر، قندهار او بخارا سفرونه یې کړېدی وایې چه دیوان یې درلود (۲) مګر نسخې یې کمې دی، ده عشقی او وطنی اشعار ویلی دی، شعر یې پوخ او استادانه دی، د وطن په یاد کښې وایې !

خوار غریب او بې نوا وی   خو وطنه ستا په خوا وی

د پښتو او غیرت په خوا کښې هم ښه احساسات لری وایې :

د بلا غشی می خېبری له پښتو   زه خواجه رزق الله نه پرېږدم پښتو

چه خبر شوم له حملې د کم غلیمه   د غیرت خولې می ځا ځی له و پښتو

عبدالعظیم رانی زی: د سوات د سردرویو خوږژبی شاعر دی، په (۱۱۶۷ هـ) کښې پیدا او تر (۱۲۵۳ هـ) پورې ژوندو، د عظیم استوګنه د پښور په «برتا کار» کښې وه چه د دښمنانو د لاسه جلاوطن شوی و، ده د خپل وخت مروج علوم لوستلی وو او یو عالم سړی و، د طریقې په سلسله کښې هم داخل او د کونړ د «مهربان صاحب» مرید و هغه وخت چه ده د خپلو ودخلمو زامنو د مرګ غشی په زړه وخوړ، نو له هغه درده ده د شعر چینه راوخوټېده او بس له هغه یې په خوږو خوږو او پرسوزو اشعارو لاس پورې کړ چه اوس ورنه یو وړوکی دیوان یادګار پاته دی. دی ساده او روان شعر لری په عشق، سلوک، پند او نصیحت او دزامنو په ویلتون کښې یې ویل کړی دی، رحمان بابا ته د پېر عقیده لری او د هغه دادبی مکتب پیروی یې کړی ده دی یو تنقیدی نظر هم لری لکه چه وایې :

که ته پرې تا به وړ که که خه ور کړې   ملایان کوی په چرګ کې یا حلوا اصلاح

هر سړی کړی رعایت د زور ورو   باری قه کړی دعا جزو رعایت څوك

داو ښکو په تصویر کښې وایې :

دادر نه دې چه په مخ زما بهېږی   دا زما د سپینو او ښو سلسله ده

امام الدین: د (۱۲۰۰ هـ) په حدودو کښې ژوندی و، یو قصه یې د «جمجمه» په نامه نظم کړېده دا قصه یو خیالی داستان دی چه لیکونکی یې د قصه کونکو په دله کښې حسابېږی دا قصه په لنډ بحر کښې یوه پښتو مثنوی ده .

ملاحسن اسحق زی : دا سړی یو ښه پرسوز شاعر و، د قندهار په (تلو کان) نومی کلی کښې وزېږېد، د علوم د تحصیل نه وروسته پرې یو نوی حالت راغی، د عشق او مینې په دنیا کښې داخل او دغه جذبات یې د شعر په لباس کښې ښکاره کړل ، د ده اشعار د ده د سوی او دردمن زړه کتړې او له سوز او ګدازه ډك دی او د قلندر او حمید د مکتب سره نژدی دی . دی په پښتو کښې یو کامل دیوان لری، نور تالیفات یې هم کړی دی ، یوه رباعی یې داده .

یاره چه ته یې په هغه لوری   غم خو د نوی ښادی دی او ری

د مخ ربښنا دې یووار شکاره که   چه ښه جمال دې خوران و ګوری

بل ځای وایې :

دروغو زړو نو ژ ړ ا محال ده   په ژړا ژاړی ویشتلی زړو نـه

ملاحسن په (۱۲۴۵ هـ) کښې وفات شوی دی.

(۲) او رېدلی می دی چه د چېره د بارانې د اسلام نومی سړی سره یې دیوان شته .

صالح محمد داوی : د قندهار یو پرهیزگار عالم دی، د میا نور محمد (بوټی میا) مرید
او د ملا حسن معاصر و. ده یو دیوان هم درلود چه اکثره د رسول الله (ص) د نعت او حمد بیان دی.

کوډ یزی : د پښتو یو شاعر دی چه د تیمورشاه سدوزی په عصر کښی ژوندی و او ده جلالت
او محبوبا د قصه ئی په (۱۱۸۸ ه) د پښتو په لنده مثنوی نظم کړیده د احمدشاه په مرګ وایی :

دور تیر د شاه دران شو
درست پښتون ئی په ارمان شو

ملا ولیداد کاکړ : یو عالم او شاعر سړی و چه په قندهار کښی اوسیده په (۱۲۲۴ ه)
کال ئی د (زین العلم) په نامه د پښتو په لنده مثنوی یو کتاب لیکلی دی چه د عربی
عین العلم ترجمه ده او مضامین ئی دینی او اخلاقی دی وایی :

فرض د علم زده کول دی
ضروری ئی هم اوستل دی

شیخ احمد : د لغمان د زیارت په کلی کښی اوسیده، بیا د تیمورشاه په عصر کښی وفات شو :
دی په پښتو ژبه کښی په ملی وزن ښه خوازه اشعار لری وایی چه د قرآن عظیم تفسیر ئی هم
په پښتو نظم کړی و مګر اوس نه پیدا کیږی دیوی بدلی یو دوه بند ئی دادی :

کمیس ئی شین اغوستی شنه لکه کوتره ګرځی
په شنه جلګه راغله له یار سره او تره ګرځی
د خندا د که خوله دا ښکلی ناز پروره ګرځی
یو ئی شین خال دی، ننداری ئی د جبین کړمه
زه شین طوطی یم د تیرا په شنو کمر و ګرځم
په شنو بڼو د سبا د حسن دلا وره ګرځم
کله چمن کښی کله هسک په دی نښتر و ګرځم
شینکی تو کیږی سیل بیا د شنه او بین کړمه

رحمت داوی : له قندهاره کشمیر ته تللی و او هلته د سردار عبدالله خان سره نوکر و،
ده ژوند تر (۱۲۱۰ ه) پوری معلوم دی د پښتو ژبی په نو شاعرانو کښی حسابیږی، وائی
چه د شعر دیوان ئی درلود مګر ورک دی د لیلی او د مجنون کتاب ئی د شاه زمان په وخت
د هغه په نامه د پښتو په لنده مثنوی نظم کړی دی دا کتاب د نظامی ګنجوی د لیلی او مجنون
ترجمه ده او په دی بیتو شروع شوی دی :

غمو ملک را باندی تنګ شو
زړه می ځکه د آهنګ کړ
چه پښتو لیلی مجنون کړم
ښائی غم له زړه بیرون کړم
سلطنت د شاه زمان دی
دی خاقان ابن الخاقان دی
پلار نیکه ئی پاد شاهان وو
دو په تاج دهر افغان وو
شکر شکر شاه زمان
غنیمت دی دا زمان

میا نعیم متی زی : په کام خلیل مهمند دی، په نهم پښت شیخ متی (کلات بابا) ته رسیږی
نیکو نه ئی تول لیکو نکی، شاعران او عالمان تیر شوی دی په پېښور کښی زیږیدلی او لوی شوی دی
له یوه بیته ئی د شاه زمان همعصری معلومیږی خو خپل دیوان ئی په (۱۲۳۰ ه) کښی ختم کړی دی
دی بیا قندهار ته ولاړ چه اولاده ئی تر هوسه هلته اوسیږی، د ده اشعار عشقی او توصیفی دی
او د رحمان بابا په مکتب پوری اړه لری. دا بیتونه د ده دی.

زه مین ستا په دیدار نه یم نو څه یم
دوصال دی طلبګار نه یم نو څه یم
ستا د سر و ابو له خیاله داغ په زړه کښی
رنګ په ویښو لاله زار نه یم نو څه یم
په ژړامی هیڅ پروا د ښکلیو نشی
په باران د باغ ګلونه شی سمسور لا

عبد النبي ليتني: د ۱۳ پيړی په اولو وختو کښې ئې ژوند کاوه د قندهار (د ذاکر) په کلي کښې اوسيده. يو عارف او نيک سړی ؤ د اشعارو يو ديوان ئې درلود او د رحمان بابا له پيروانو څخه دی د متصوفينو شاعرانو په ډله کښې درېږي په عشق کښې ئې د تصوف پاخه اصطلاحات ليدل کيږي لکه چه وايي:

چه مې خپله هستي ورکه کړه په عشق کښې — د عشق بوی مې نمايان له پوست وهډه
راشه وګوره د ناسوت له سرايه کډه — ښايسته شها و ګوره ر ده بله
بل ځای وايي: ردوهه له ملنګانو سره راز کا — په محراب کښې له زهادو دی همدم

ملا زبردست کاکړ: يو عالم او پرهيزګار سړی ؤ او د قندهار په شاوخوا کښې اوسيده، ده په (۱۲۲۶ هـ) کښې د پښتو په نظم «روضة النعيم» کتاب ليکلی دی، مضامين ئې ديني او مذهبي دي، د دې کتاب شعر د انداو يتو مثنوي ده، لکه چه وايي:

څوک چه ظلم پرچا نکړي — کله ظلم څوک پرده کړي
چه بد نه کړي بدنه مومي — نيکان کله بدي مومي

ګل محمد: په قام نورزی دی، د هلمند په غاړو په (مالګير) نومي کلي کښې اوسيده د شاه زمان تر عصره ژوندی ؤ، دی د عشقي اشعارو يو ديوان لري په طالب العلمي کښې عاشق شوی او بيا شاعر شوی دی، عاشقانه احساسات يې ډير تيز دي د رحمان او پير محمد د سلسلې تابع دی دا رباعي دده ده:

مسافر را غلم سبا به ځمه — سير د ګلانو د بهار کړمه
طبعه مې خدای کړه د بلبلانو — تل په سرو ګلو ناري وهمه

د يار دورانيدو په وخت کښې وايي:

آزما روح روانه له ما مه ځه — زما زړه زما چشمانه له ما مه ځه

معين الدين: دا سړی د (۱۲۵۶ هـ) د وختو شاعر دی چه د پېښور د (چارسدې) په شاوخوا کښې يې استوګنه کوله. ده په دغه پورته کال کښې د «عذرا وامق» قصه له فارسي څخه په پښتو ترجمه کړې ده، دا کتاب (۹۳) مخه دی او يوه نسخه يې د لندن په موزيم کښې شته (۱) د کتاب پيل:

دا آغاز مې په نامه د پاک خالق دی — چه په عشق يې د عذرا سوی وامق دی
ښني مانۍ يې په هوا کړې آويزاندې — يو د بل په سر ولاړې لاندې باندې
چه قدرت يې د مخلوق په بهبود راغی — له پردې د عدم څکه وجود راغی

معين الدين په پښتو کښې يو ديوان هم درلود. څکه چه دده د ديوان (۵۰) مخه (حبيب ګل) (۲) په خپل بياض کښې انتخاب کړی دی.

عبد الرسول: د قندهار په (ماشور) نومي کلي کښې زيږيدلی دی په ځته نورزی او تيمور شاه په وخت کښې ژوندی و. دی د زلميتوب په وخت کښې کشمير ته ولاړ او هلته اوسيده د خپل سفر د حالاتو په باب کښې يو (سفرنامه) ليکلې ده بل کتاب ئې (آزادنامه) نوميږي کوم وخت چه آزادخان د کشمير حاکم، له تيمور شاه نه ياغي شو او په منځ کښې يې جګړې وشوې نو ده په دې

(۱) فهرست بلومهارت (۲) د حبيب ګل بيان به وروسته راشي.

باره کښې دغه رساله ولیکله عبدالرسول پهاردواو کشمیري ژبو لېږ پوهېده. په پښتو کښې یو دوان (۳) هم لري، عشقي او تصوفي اشعار یې ویلي دي دده د اشعارو نمونه په دوهم جلد پښتانه شعرا کښې راغلې ده.

مطیع الله: په کام پور خیل دی دا باسیند په دېغاړه واوسیده د شجاع الملک تر وخته (۱۲۵۰ه) پورې یې ژوند معلوم دی مطیع الله دعشق او مینې په اورستې وه پر سوزناک او غمجن اشعار یې ویلي دي، اشعار خوندور او سلیس دي دی رحمان بابا عقیدتمن او دهغه دعشقي او تصوفي مکتب شاگرد دی د شعر یو دیوان (٤) یې یادگار پرې ایښی دی ده د پخوانو مشهورو شاعرانو په پیروۍ کښې خوازه شعرونه ویلي دي، دده په دیوان کښې اخلاقي، اجتماعي مناجات، مدح مرثیه او ځینې تاریخي مضامین هم شته خپل دیوان د مهر ویانو د پاره یو تحفه بولي. مطیع الله په یو ځای کښې دعمل او کار تبلیغ په څو مره ښه صورت کوي.

په قصو مطلب مو ندنشي پسې پاڅه | اې گفتاره چاکردار مو ندلی نه دی

مطیع الله ښه چستې غزلې هم لري یو څو بیته یې دا دي:

مینه دخوبانو نام ننگ لیرې کوي | تش دیدن دښکلیو دزړه زنگ لرې کوي

ما په خوب کښې ځان مانگ لیدلی دی | دزړه رخت مې په عشق رنگ لیدلی دی

اوس له ویرې په کوڅه ورتللی نشم | ما د مستو سترگو جنگ لیدلی دی

شمس الدین کاکړ: دقندهار په کلچا آباد کښې زوکړی او اوی شوی دی د سوز او درد خاوندو دېره موده ئې له وطنه بهر په هند کښې تېره کړې د ده دوطن په یادونې خوازه خوازه اشعار ویلي دي، شمس الدین دخپلو اشعارو دیوان په (۱۲۳۸ه) کښې ختم کړی دی، دده اشعار عشقي او تصوفي دي او شعري صنایع هم لري، شمس الدین د (سراج الموتی) په نامه یو بل کتاب هم کښلی دی چه د پښتو په نیم منظوم نثر دی او دفقهي او دیني مسئلو بیان کوي دا رباعي یې ولولی:

دخدای د پاره زما حبیبه | در ځو رانو درنځ طبیبه

زیات مې ترحده دهجر رنځ شو | لږ خبر و اخله له ما غریبه

گل محمد کاکړ: دقندهار یو عالم او زاهد سړی و د (شمس العابدین) په نامه ئې په پښتو کښې یو کتاب لیکلی دی، اخلاقي او متصوف شاعر دی په پښتو کښې ځینې بدلې هم لري دا بیت دده دی

که شیدا نه یم دلبره راته وایه | دا داوښو دریا بو نه دی پرڅه؟

ملاجمعه بارکزی: دقندهار د (زوړ ماشور) په کلي کښې اوسېده، یو پرهیزگار او دینداره سړی و. یو دیوان ورنه یادگار پاته شوی دی، اشعار ئې عشقي او صوفیانه دي د رحمان بابا په مکتب پورې اړه لري میرزا حنان وایي چه دی په شاعرۍ کښې استاد و. ملاجمعه په (۱۲۵۹ه) کال چه حج ته تللی و په مکه شریفه کښې وفات او هلته ښخ دی. دا بیتونه دده دي:

که دې واغوستې د گلو کړې نسیم ئې | پرې ناري دې د بلبلو کړې نسیم ئې

که دې پورې د زړه وینې د مینو | د خوبانو په ننگلو کړې نسیم ئې

---

(۳) په قندهار کښې دعبدالشکور رشاد سره ئې یوه قلمي نسخه شته (٤) یوه قلمي نسخه ئې په پښتو ټولنه کښې شته.

عزیزخان رناخیل : عزیزخان دسدوزو دپاچاهی په آخر کښې ژوندی او د هرات په ملی جنګو کښې چه دشاهزاده کامران او وزیر یارمحمد خان په مشری سره کیدل : شامل ؤ دی د پښتونو رزمی شاعر دی ، چه ددغی جګړی تاریخ ئې په نظم لیکلی دی ، په شعر کښې یې د توریا لیتوب او میړانی احساسات څرګندی لکه چه وایی :

خنده ی دی بیا آسمانه سری دی ... یاس په هرات دوېر ناری دی
یار محمد زغ کړ په لښکر باندی ... میدان یې اور کړ په غجربا ندی
کامران وېراشه یارمحمده وروره ... ته ئې په ځان زمونږ له خپله کوره
مونږ ته یا فتحه یا کفن بویه ... ورځ ده ، سا تنه دوطن بویه

سپینه . دا یوه پښتنه میرمن ده چه د کامران شهزاده په وخت دهرات په شاوخوا کښې اوسیدله دنورمحمد الکوزی لور او دپښتو شاعره وه : هغه وخت چه ایرانیانو په (۱۲۵۵ ه) هرات کلابند کړ او دهرات پښتنو دمیړانی مقابله و کړه او هرات ئې په توره تینګ وساته نو دې پښتنی دغه واقعات یعنی دهرات د کلابندی حال او دپښتنو توره او میړانه ټول په نظم کړل او یوه جنګی قصه یې ولیکله چه له کلماتو او اشعارو څخه یې د پښتنو جنګی روح او جوش ښه څرګندیږی ددغی قصی یوڅو بیته دادی .

دپښتنو توری په قتل ځلیدی ... ددښمن سترګی له بریښنا وېږدی
دوی وومیړونه پښتانه توریالی ... پرنګه ټینګ وو دوطن ننګیالی
دهرات خواوه له غلیمه خالی ... دلته خپره وه هو سایی خوشحالی

ددی دوری هغه شاعران چه د کلام نمونی ئې نه دی لیدل شوی

کریم خان : قاسم علی په یوه قصیده کښې دشاعرانو په ډله کښې راوړی دی لکه چه وایی ، (که نواب محبت خان که کریم خان و) مګر نور معلومات ئې نشته .

مهرعلی دا سړی هم قاسم علی دشاعرانو په ډله کښې ذکر کړی دی وایی :
(مهرعلی ، عبدالقادر که سکندرو) نور پته ئې نه لګی چه څوك و ؟

مشرف : دا شاعر مونږ دعلیخان ختك له خوا پیژنو لکه چه وایی :

فضل دغفور په علیخان د شعر وشه ... ګرچه شرف دیر دمشرف و په تقریر کښې

له دې نه یو دمشرف شاعری او بل ئې دتقریر ښه والی معلومیږی .

باقرشاه : ددې شاعر پته دمطیع الله له قلمی دیوانه لګیږی ، هلته دیو غزل دپاسه ایکل شوی دی چه (دادباقر شاه دغزل عکس دی) نو معلومیږی چه دغه لیکونکی د باقرشاه غزل او اشعار لیدلی وو ،

انور : دمطیع الله معاصر دی ، او ده ئې په یوه شعر کښې نوم اخستی دی .

قنبر : دی هم دمطیع الله له یادونی څخه پیژنو لکه چه وایی ،

دانور د قنبر شعر به باطل که ... مطیع الله شکل رابع شه له نتا جه

عظیم : دا شاعر دعبدالعظیم رانی زی هم زمانه دی په خپله عبدالعظیم وایی :

بل عظیم دی په وطن د اشنغر کښې ... په نامه کښې دی شریك له ما ګدا یه
ده ساز کړی دی په شمار یوڅو غزله ... دی خواره په طالبانو کښې هر ځایه

فیض محمد : د عبدالقادر خټک دیوان په یوه نسخه کښې د دې شاعر یو غزل انتخاب شوی دی دغه نسخه د لندن په موزیم کښې موجوده او تقریباً د (۱۲۰۰ هـ) په حدودو کښې لیکل شوې ده،

فقیر افضل ، دده یو غزل په دغه نسخه کښې انتخاب شوی دی .

نواب علی محمد خان : دده یو غزل په دغه نسخه کښې لیکل شوی دی ، دی د حافظ رحمت خان یو علمی او ادبی ملګری و . او په (۱۱٦۲ هـ) کښې وفات شوی دی (۱)

مسکین : دا شاعر هم په دغه نسخه کښې یو غزل لری . دا څلور روستی شاعران د دې دوری شاعران دی مګر اشعار یې ندی لیدل شوی .

د دې دورې تاریخی کتابونه

محمود نامه : د حاجی میرویس او شاه محمود هوتک د جګړو په بیان کښې ریدی خان مهمند د شاه حسین په وخت د پښتو په نظم لیکلې ده .

پټه خزانه : محمد هوتک د شاه حسین په وخت د پښتو شاعرانو په حالاتو کښې په پښتو نثر لیکلې ده .

د محمد رسول هوتک بیاض : دا کتاب د محمد هوتک لاس ته ور غلی او په پټه خزانه کښې ئې ډیر ښه ښه معلومات ور څخه رانقل کړی دی د دې بیاض لیکونکی محمد رسول هوتک یو بوه لیکوال و د ژوندانه حال یې نور معلوم نه دی مګر د حاجی میرویس معاصر معلومیږی .

د پښتنو نسب نامه : میاعمر صاحب د احمد شاه بابا په زمانه کښې د پښتو په نظم لیکلې ده .

تاریخ مرصع : د دې دورې یو مشهور ادبی شاهکار دی چه افضل خان خټک د پښتو په نثر لیکلی او د پښتنو تاریخ دی .

تذکرة الملوک : دا کتاب په پښتو ژبه د سدوزو په تاریخ کښې لیکل شوی دی په پښتو کښې یو ډیر قیمتی او غنیمت کتاب دی او غالباً د تالیف وخت یې د تیمور شاه زمانه ده ، مګر نسخې یې هیڅ نه پیدا کیږی مستر راورټی ته یې یوه نسخه په لاس ورغلې وه مګر معلومه نه ده چه د لندن په موزیم کښې به وی او که نه ؟ دا کتاب اته جلده او ٦٤۷ مخه و - دوه برخې واقعات یې هغه دی چه له احمد شاه څخه وروسته پیش شوی دی .

صولت افغانی : دا کتاب زرداد خان په (۱۱۸۷ هـ) د پښتو په تاریخ کښې لیکلی دی نور معلومات یې نه لرو (۱) د دې دورې نور تاریخی کتابونه چه د حافظ رحمت خان په کورنۍ پورې تعلق لری دادی : (خلاصة الانساب) د حافظ رحمت خان - ګلستان رحمت . د مستجاب خان - ګل رحمت د سعادت یار ، او داسې نور .

تواریخ حافظ رحمت خان : دا کتاب پیر معظم شاه د حافظ رحمت خان به هدایت په (۱ ۸۱ هـ) کښې لیکلی دی ، دا کتاب د پښتنو د مهاجرتونو او جګړو او نورو حالاتو بیان کوی پیر معظم شاه د پیر محمد فاضل زوی و چه د پېښور د پیر سباک کلی مشر او د حافظ رحمت خان له نفر یو څخه و (۲)

---

(۱) د ۱۳۲۲ کالنی .

(۱) د دې کتاب یوه نسخه په خټکو کښې د محمد زمان خان سره موجوده ده .

(۲) فهرست بلو مهارت .

ددې دورې پښتانه پاچاهان

لکه چه معلومه شوه، د پښتو د ادب د تاریخ په دې دوهمه دوره کښې هم ډېر مشهور پښتانه پادشاهان تېر شوي دي، چه د پښتو د ادب سره يې مينه درلوده او د دوی په توجه د پښتو ادب څه نه څه پرمخ تللی دی، نو دا دي وروسته يې پېژنو:

د هوتکو کورنۍ: د دوولسمې هجرۍ پېړۍ په سر کښې چه د پښتنو کومې کورنۍ پادشاهي کړې ده، هغه د هوتکو کورنۍ ده: د دا داسې وخت و، چه يو طرف ته په ایران کښې د صفويانو پادشاهي وه او بل طرف ته په هند کښې د گورگانیانو پادشاهي. کوم چه ایرانیانو د افغانستان غربي خواته لاس ونه را اوږد کړی او ځینې ولایتونه يې نیولي وو، په دغه وخت کښې گرگین نامې يو سړی د ایران د پاچا له خوا په قندهار کښې والي و، دا سړی ډېر ظالم او بې تدبیره و، د پښتنو سره يې ښه چلند نه کاوه، نو پښتنو ته دا حالت سخت ورېښېده او د حاجي میرویس هوتک په مشرۍ يې د گرگین خان په خلاف د آزادۍ بېرغ پورته کړ، گرگین خان يې د خپل ډېر لښکر سره ووژه او وطن يې ورنه آزاد کړ بیا پښتنو په (۱۱۲۱ھ) حاجي میرویس په خپله مشرۍ ومانه. ده هم يو ملي حکومت جوړ کړ او په ښه صورت يې دا حکومت و چلاوه، کم وخت چه دی په (۱۱۲۷ھ) کښې وفات شو نو ورور يې عبد العزیز پر ځای پادشاه شو، مگر بیا د حاجي میرویس زوی شاه محمود د خپل تره (۱)

حاجي میرویس

د پښتو د ادب تاریخ - ۹۸ مخ

څخه حکومت واخست او په (۱۱۳۱ھ) کښې په تخت کښېناست. شاه محمود په خپل وخت کښې ایران ته لښکر کشي وکړه او د ایران مرکز اصفهان يې ونیو څه موده يې په ایران پاچاهي وکړه بیا چه دی مړ شو، نو د کاکا زوی شاه اشرف يې پر ځای په (۱۱۳۸ھ) پاچا شو او تر (۱۱۴۲ھ) پورې هم هلته پاچا و. په دغه وخت کښې

(۱) پټه خزانه لیکي چه عبد العزیز د شپې د نارنج د قصر له بامه راولوېد او مړ شو. ویس له ده محمود پاچا شو.

Marfat.com

شاه حسین دشاه محمود کشر ورور په قندهار کښې پاچاهي کوله ، چه د ده پادشاهي له (۱۱۳۵ه) څخه تر (۱۱۵۰ه) پورې چلېدلې ده او تر ډېر ځایه پورې وطنونه یې په لاس کښې وو بیا په (۱۱۵۱ه) کښې چه نادر شاه افشار قندهار ونیو دی یې مازندران ته جلاوطن کړ او یو کال پس بیا هم هلته وفات شو .

د پښتو پالنه : لکه چه معلومه ده دهوتکو په دوره کښې پښتو ته ښه توجه شوې ده . په دې وخت کښې ډېر پښتانه شاعران او ادیبان پالل شوي او روزل شوي دي ، پښتانه شاعران به همېشه ددوی سره په جنګونو ، کور او بهر ملګري وو ، د دوی سپه سالاران هم اکثر د پښتو ژبې شاعران وو ، د هوتکو کورنۍ د پښتنو د ملي روح د بیدارولو . دوطن د آزادۍ علم او ادب او پښتو ژبې د پاره له نورو پښتنو پاچاهانو څخه زیات خدمت کړی دی ، حاجي میرویس د پښتو مین او شوقمن و ، د رحمان بابا اشعار و ته یې زیاته عقیده درلوده او په سختو مسئلو کښې به یې ورته رجوع کوله . د دې کورنۍ ښځې هم لکه میرمن نازو او بی بی زینبه د پښتو شاعراني وې شاید دا روح دمیرمن نازو له خوږ وخوږ و اشعارو څخه دهوتکو په کا لیوت کښې ننوتی وی . ولی چه دا یوه رښتیا نی پښتنه میرمن وه — سیدال خان ناصر ، ملا پیر محمد . بابو جان بابی د اوډ خان . ملا نور محمد داتول د حاجي میرویس د دربار پښتانه عالمان او ادیبان وو ، او هر کله به یې ورسره مهربانۍ او نمانځنې کولې په دې ډول شاه محمود هم د پښتنو شاعرانو سره مینه درلوده او ددوی قدر او عزت به یې کاوه لکه چه ریدی خان مهمند په ایران کښې ورسره ملګری واو بیا یې دمحمود نامې په نوم یوه جنګنامه ولیکله ددې کورنۍ تر ټولو مشهور سړی چه د پښتو ادب ته یې ډېره زیاته توجه کړې ده شاه حسین دی ، البته ددې وجه به داوی چه ده څه موده د آرام پاچاهي کړې ده . دشاه حسین په دربار کښې به لوی لوی پښتانه عالمان او ادیبان موجود وو ، همېشه به ادبي بحثونه او مجلسونه کېدل ، او په خپله شاه حسین به هم د پښتو اشعار ویل ، ددې زمې پادشاه په وخت کښې پښتانه شاعران ښه قدرمن وو . ددغه بخششونه او انعامونه چه پښتنو شاعرانو ته به یې ورکول سړی ته دمحمود غزنوي دفارسي ادب دپالنې دربار* رایاد کوي ددې پادشاه په امر او مرسته محمد هوتک د پښتنو شاعرانو یوه تذکره ولیکله او یو ادبي شاهکار یعنې «پټه خزانه» یې یادګار پرېښود ؛ وایي چه یوه ورځ ملا زعفران دیوې فتحې په زېری کښې دشاه حسین په حضور یو څو بیتونه وویلو پادشاه یو زعفراني شال ورو با خښه ، دغسې یې ریدي خان ته د محمود نامې په لیکلو زر طلاوې ور کړې وې ، محمد هوتک وایي چه ما د « خلاصة الطب » په نامه یو کتاب پادشاه ته وړاندې کړ ، نو سل طلا ګاني یې راوبخښلې او همېشه به یې راسره دغسې مهربانۍ کولې ، شاه حسین به هر هفته د قندهار په ارګ کښې عالمان او ادیبان راټول ، ادبي مجلسونه به یې کول ، او په دې صورت به یې خپل ادبي ذوق پاله .

دشاه حسین د دربار مشهور پښتانه عالمان او شاعران دا دي .

ملا یار محمد - ملا محمد یونس - ملا زعفران، محمد هوتک - سپه سالار بهادرخان ریدی خان - نصر الدین اند ه .

وایی چه شاه حسین پښتو ته کاتبان استولی وو . چه له هغه ځای څخه د رحمان بابا دیوان نقل کړی او ددغه روحانی ادیب حالات راوړی . نو ویلی شو چه دا کورنی د پښتو ادب په ژوندانه کښې ډېر حق لری ، او دهغه وخت د ناآرامیو او اوګو او سره دومره خدمت او توجه هم ددېر قدر وړ ګڼل کېږی .

دسدوزو کورنی : هغه وخت چه شاه اشرف په ایران کښې حکمران و ، نادر شاه افشار پې پر خلاف را پاڅېد شاه اشرف دایران پرېښودو ته مجبور شو ، قندهار ته راغی او دلته ووژل شو . نادر شاه یو جنګی سړی و ، افغانستا ن ته یې مخه وکړه . هرات یې ونیواو په (۱۱۵۰ هـ) کښې یې قندهار لاسته را ووست ، بیا په هندوستا ن ورغی هغه یې هم قبضه کړ اوتر (۱۱۶۰ هـ) پورې یې پادشاهی وکړه ، په دی وخت کښې چه نادر ووژل شو ، نو احمد خان ابدالی (احمد شاه بابا) په قندهار کښې د پښتنو یوملی حکومت جوړ کړ ، احمد شاه بابا د پښتنو لویه پادشاهی قایمه کړه او دغوریانو پښتنو تېر عظمت یې بیا لاس ته را ووست احمد شاه د زمان خان زوی او دسدوزو له طایفې نه و ، چه ددرانیو یوه پښه ده ، ده سدو زو د پادشاهی اوله خښته کېښوده . داپادشاهی له (۱۸۶۱ هـ) څخه لتر (۱۲۵۸) پورې تقریباً یوقرن وچلېده احمد شاه بابا دافغانستان له اویو تاریخی شاهانو څخه حسابېږی ، چه د افغانستان حدود یې تر بخارا او ډیلی پورې ورسول ، او (۸) ځله یې هندوستان ته لښکر کشی وکړه ./

داحمد شاه له مرګ څخه وروسته لږ وخت په قندهار کښې شهزاده سلیمان او بیا په (۱۱۸۶ هـ) کښې تیمور شاه پاچا شو . د (۲۱) کاله پاچاهی څخه وروسته . دی په (۱۲۰۷ هـ) وفات او زوی یې (زمان شاه) پر ځای کښېناست ، دده سره اکثر ورونه مخالف وو . خصوصاً محمود شاه چه په هرات کښې والی و ، هغه ورسره جګړې شروع کړې چه آخر یې زمانشاه مغلوب کړ ، په (۱۲۱۶ هـ) کښې یې کابل ونیو او دپاد شاهی اعلان یې وکړ ، بیا دده پر خلاف دده ورور شاه شجاع چه د پېښور والی و ، را پاڅېد ، او په جنګو نو سره اخته شول ، داخ او ډب تقریباً (۴۰) کاله جاری و ، چه کله به شا شجاع او کله به شا محمو د د پا د شا هی په تخت قبضه کړ او له شا ه شجاع په آ خر نی ځل په (۱۲۵۵ هـ) کښې دانګریزانو د لښکر په امداد کابل ته راغی او څه وخت په کابل باد شاه وچه بیا دغېر تمنو پښتنو په توره په (۱۲۵۷ هـ) کښې وطن له انګریزا نو څخه پاك شو او د کابل باد شاهی د محمد زیو په کو ر نی کښې دامیر دوست محمد لاسو ته ور غله -

د پښتو د ادب پالنه :- لکه چه ښکاره ده ، دې کورنی هم د پښتو سره مینه درلوده او د پښتو د ادب پالنه او روزنه یې کو له ، په خپله احمد شاه او تیمور شاه خود پښتو ژبی شاعران او دېوا نو نو خاوندان وو . د احمد شاه بابا د دربار له اویو ادیبانو څخه یو پیر محمد کاکړ دی ، دا سړی ددې کور نی استاذ و ، چه په هغه ې وخت

کښې یې د پښتو ژبې د گرامر او لغتونو په باره د (معرفة الافغان) په نامه یو ابتدائي گرامر ولیکه . او داپولو مړی گرامر او تعلیمي کتاب دی چه په دې وخت کښې لیکل شوی دی د پښتو ادب سره ددې کورنی مینې او میلان د بر خلاك د پښتو شاعرۍ ته راواړول، کتابونه یې ولیکل او د دوی نامه ته یې منسوب کړل . د تیمور شاه په وخت کښې مطیع الله ، د زمان شاه په وخت کښې رحمت داوی ، میا نعیم ، گل محمد ، عبد الرسول او د کامران شا هزاده د محمود شاه د زوی په وخت کښې چه په هرات کښې و، ښه او عزیز خان د پښتو شاعران او ادیبان وو ، دې ټولو د خپل وخت د باد شاهانو صفتونه او مدحې کړې دی . نو ویلی شو چه د سدوزیو په وخت کښې هم د پښتو ادب د پالنې او خدمت شوق په زړو نو کښې پروت و . احمد شاه بابا که څه هم (۲۵) کاله او تیمور شاه (۲۱) کاله حکومت دراود . مگر د خپلو یو امپراطوریو انتظام ، جنگو نو ، جگړو او د پښتو د یوې نوی امپراطورۍ تاسیس ، داد ب وخوا ته د زیاتې توجه وخت په لاس ندی ور کړی ، که نه د پښتو داد ب په خوا کښې به یې نور هم زیات خدمتونه کړی وای ، په دې دوره کښې د خوشحال خان د اولادې او د حافظ رحمت خان د کورنی خدمتونه او د پښتو داد ب سره مینه او علاقه ارل ؛ هم د ډېر قدر وړ دی که رښتیا وواو نو د خوشحال په کورنی کښې د باد شاهانو له کورنیو څخه هم د پښتو د باره زیات خدمت شوی دی ، په نظم کښې ښه ښه دیوانو نه، او په نثر کښې غوره تاریخي او قصصي کتابونه په دغې کورنی کښې لیکل شوی او میدان ته راوتي دی . مگر په پښتو کښې د لومړنیو لغاتو او قاموسونو د لیکلو فخر د حافظ رحمت خان کورنی ته راجع دی ، ځکه چه په دغې کورنی کښې نواب محبت خان «ریاض المحبة» او الله یار خان «عجا یب اللغات» چه د پښتو د لغاتو کتابونه دی ، لیکلی او تالیف کړی دی .

په دې دوره کښې پښتو ادب څنگه و؟

هره زمانه او هره دوره ځینې خصوصیات لری . چه هغه په ژبه او ادب کښې پوره اغېزه او تاثیر کوی، د پښتو ادب په دې دریمه دوره کښې لکه چه و ینو ځینې خصوصیات او صفتونه پیدا کړی دی چه وروسته یې په لنډه ول څرگندول او بیانول غواړو :

نظم :- ددې دورې د شاعرانو او کتابونو له بیان څخه معلومه شوه چه د پښتو نظم په دې دوره کښې زیاته بر خه اخستې ده ، او ډېر کتابونه په شعر او نظم لیکلې شوی دی ، ددې دورې اشعار د معنی په لحاظ دوې مهمې برخې لری چه یوه برخه یې عشقي ، تصوفي او بله برخه یې مذهبي او دیني ده او ددې سبب مونږ دا وروسته خبرې گڼلې شو ؟

۱- د اسلام د مبارك دین له خپرېدو ، غلبې او عمومیت څخه وروسته مذهبي او دیني افکار او عقاید زیات شول، مذهبي علوم و رواج پیدا کړه ، او په دې وجه پښتنو علمانو د خلکو د پوهې د باره په خپله ژبه کښې دا ذخیره زیاته کړه ، که څه هم دا حرکت له اولی او دوهمې دورې څخه شروع شوی دی ، مگر په دې دوره کښې یې د شعر او ادب زیاته برخه نیولې ده -

۲- ځینو خلکو د اسلام په اصولو کښې تصوف ، خدا پرستي او د حقیقي عشق خوا ته توجه وکړه ، وروسته یې له نوی دنیا څخه ځانونه راونغښتل ، او یوازې یې د زړه د دنیا او عالم مجرد سره

تعلقات قایم کړل، ددې په اثر ورته د ځانله والی، ګوشه ګیری عقیده پیداشوه، صرف یو حقیقي وجود ته قایل شول، او دهغه د عشق او مینې جذباتو پرې غلبه وکړه، نو په دې وجه یې په شعر او ادب کښې هم دغه جذبات ښکاره کړل او ټول اشعار له دغو افکارو ډک شول، تر دې چه عشق او تصوف د مشرق او بیا د اسلامي شاعرۍ روح وګرځید، د فارسي، اردو او په خپله د عربي ادب په کالبوت کښې هم دغه روح راننووت نو د دومره تاثیراتو څخه وروسته پښتو ادب هم له دغې حصې څخه خلاصی ونه موند.

۳- ځینې لوی لوی بزرګانو، او نیکانو خلکو په دې لاره کښې قدم کېښود لکه رحمان بابا او داسې نور چه عشق او تصوف یې وستایه او جهان یې له عشقه پیدا وباله نو په دې وجه نورو شاعرانو هم ددوی په پیروۍ کښې ګامونه واخستل او شاعرۍ یې د عشق په خوند کښې ګیره شوه.

۴- هر کله چه مذهب او عشق یو عقیده وی او د زړه د میلان شی دی، نو هر چا د شخصي عقیدو او ذاتي میلانونو په وجه دې خواته توجه وکړه او دا برخه یې پرمخ بوتله.

پرته له عشقي او مذهبي برخو څخه د دې دورې په ادب کښې نور مضامین هم لږ لږ لیدل کیږی، لکه جنګي قصې، شکایتي مرثیې، ستاینې او داسې نور. قصصي اثار هم په دې دوره کښې ډېر دی، ځکه چه له یوې خوا په فارسي کښې قصصي آثار ډېر شول، او اثر یې په پښتو هم پریووت، او له بلې خوا شخصي میلان هم دې خواته غلبه پیدا کړه ځکه چه قصې د تفریح او ساعت تېرۍ یو لوی جزء دی هره زمانه له جګړو او جنګړو څخه نه خلاصیږی، د جګړې ورزمي او جنګي اشعار هم میدان ته راووېستل یعنی جنګي قصیدې د ملي شاعرانو او نورو له خوا وویلی شوې، که څه هم دا قسم اشعار د اولې او دوهمې دورې په ادب کښې هم وو، مګر په دې دوره کښې مخ په زیاتیدو شول. لکه د برهان خان. مسعود ګل. ریدی خان. عزیز خان، تاریخي او جنګي اشعار - ترسره پردې هر کله چه د مغلو دورې څو قرنه لا پخوا د خلکو احساسات ښورولی وو، نو ددوی د مخالفت روح او د دوی له ناکړو او زیاتیو څخه شکایتونه هم په دې دوره کښې زیات ویئو، د همدې احساس په اثر په دې وخت کښې مغلواله د ظلم او زیاتی په معنا په پښتو ادب کښې داخله شوې ده لکه چه حمید وایي:

یو به نیسم مغلواله د رقیب ستا — په رښتیا که زیږ ولی پښتني وم.
پر تمام جهان قراره قراری ده — پر حمید د غم مغل راوختـه
که په نور وګړی ظلم د مغل دی — خدای غمونه کړه د استا مغل زما

علیخان وایي: د کوڅې ګوټه دې پرې نږدم رقیب ته — افریدی یم مغل ته خیبر نیسم

خواجه محمد وایي: د مغل په پاچاهی کښې می نیاونه شي — زه خواجه محمد به وو ځم و بل لورته

د الفاظ او ظاهر په لحاظ هم د دې دورې په اشعارو کښې یوره بدلون لیدل کیږی، هغه داچه عروضي اشعار ډېر شوی دی، ود تحریري ادب ټوله برخه د عربي او فارسي په مستعارو اوزانو کښې ده. هغه وخت چه د مذهبي علومو او عربي ژبې اثر معنا په پښتو پرېووت، نو لفظا یې هم تاثیر ښکاره شو او عربي الفاظ او کلمات په پښتو شعر کښې زیات استعمال شول، حتی چه د پښتو د اکثرو کتابو نومونه هم عربي دی. لکه افضل الطرایق، اسرار العارفین روضة النعیم - نافع المسلمین - تعداد الکبایر او داسې نور. د فارسي له خوا هم دغه تاثیر راغلی دی ځکه چه د فارسي سره د حکومت قوه وه، او د مغلو درباری او رسمي توجه یې د نفوذ

او تاثیر قوت زیات کړی و٬ هوا په دې دوره کښې بو ازی ملی او نا خوانو شاعرانو د خپلو نیکونو خاص ملی وزنونه٬ خوازه اصطلاحات ساتلی دی او ځینی چاربیتې٬ بدلې٬ لندی٬ او داسی نور اشعار یې ویلی دی٬ چه داد هرې دورې مشترك مال دی٬ دې برخی ته د پښتو ملی او شفاهی ادب ویلی شو دا ملی اشعار اکثر عشقی٬ دینی تاریخی او جنگی دی.

نثر:- په دې دوره کښې نثر هم زیات آثار پیدا کړی دی د نثر مهمه برخی تاریخی او قصصې دی٬ د دی مهمه وجه داده چه پادشایان په هر وخت کښې د شهرت او نوم د پاره د خپل ځان او د خپلې کورنۍ د تاریخ سره ډیره علاقه لري٬ نو په دی وجه په دی برخه کښې د پادشاهانو میلان او توجه او مرسته زیات کار کوی او ډیر خلك د دوی د تاریخ لیکلو ته تیاریږی٬ لکه چه په هره دوره او هر وخت کښې تاریخی آثار زیات لیدل کیږی. په پښتو نثر کښې تاریخ مرصع٬ پټه خزانه٬ تذکرة الملوك د دې دورې غوره آثار دی.

دا رنگ قصصی او افسانوی نثرونه هم په دې دوره کښې زیات ویلو٬ د عشقی افسانو د ډیر والی وجه خو هماغه شخصی ـ او ذاتی میلان دی. په دې حصه کښې د مسعود د آدم خان او درخانی قصه٬ دا خلیدای شی او نوری افسانې ځینی د اخلاقی مطالبو د پاره او ځینی د ساعت تیریو د پاره زیږو کیږی٬ مګر په پښتو کښې شفاهی افسانې د برې دی٬ چه هغه د پښتنو په روح برابرې جوړې شوې او ویل کیږی٬ دغه د پښتنو ملی افسانې دی ـ هر یو قوم دغسی ملی افسانې لري٬ چه هغه ورته خوږې او خوندورې وی. هر کله چه د افسانو سره عموما خلك دلچسپی لري او د خلکو میلان ورته زیات وی٬ نو له دې کبله په دې دوره کښې ځینې افسانوی کتابونه د پښتو په نثر ترجمه شوې هم دی٬ لکه د افضل خان «علمخانه دانش» چه د کلیلې او دمنې ترجمه ده ـ په دې دوره کښې بل کوم مهم نثر چه پیدا شوی دی٬ هغه تعلیمی نثر دی٬ چه پیر محمد کاکړ لیکلی دی٬ تعلیمی او درسی نثر غالباً د پادشاهانو د توجه نه په غیر میدان ته نه راځی٬ رسمی ضرور تونه او شاهی توجه یې لوی عامل دی٬ نو دا ضرورت و٬ چه د شهزاده سلیمان په وخت کښې پیښ شو او پیر محمد کاکړ د خپل تعلیمی نثر په لیکلو پیل وکړ٬ د دې دورې په اخلاقی نثر کښې د امیر محمد انصاری پښتو گلستان د یاد ولو وړ کتاب دی.

په دې دوره کښې د لفظ په لحاظ صرف یو قسم یعنی بې قافیې نثر لیدل کیږی. قافیه دار نثر یوازې د روښان او د درویزه په وختو کښې غلبه درلوده٬ په دې دوره کښې د نثر سبك هم هاغه دی چه خوشحال خان روان کړی و٬ دا سبك روانی او ساده والی لري. دا افضل خان تاریخ مرصع٬ علمخانه او نور هم د دغه طرز پیرو دی٬ هوا د پټې خزانې نثر زیات غوره او ښه دی ځکه چه بر سیره په ساده والی او روانی٬ محاورې ته هم نژدی او جملو لنډوال هم په کښې دی ـ د خټکو د کورنۍ په نثر کښې څه قدر د فارسی رنگ شته٬ ځینې جملې او کلمې یې د فارسۍ په ډول او رنگ راځی٬ مګر د پټې خزانې نثر له دې نقطه لېږو ډیر و خلاص دی ـ دا رنگ د «معرفة الافغانی» نثر هم د جملو په لنډوال ستایل کیږی (د دې دورې د نثر نمونې د مخه راغلی دی.

د دې دورې د نظم او نثر د آثارو د ډیر والی٬ کښې شاهی توجه یعنی د پښتنو پادشانو مینه او میلان او یو مهم عامل دی چه٬ د هوتکو او سدوزیو په څه نه څه توجه د پښتو ادب په خوا کښې ښا یسته کار شوی او ډیر آثار لیکل شوی دی٬ چه دا دی د دې دووې ځینې کتابونه په وروسته ډول بیا نیږی.

دنظم کتابونه

کتاب - موضوع

د حمید شاه گدا قصه قصصی
« د پښتو نیرنگ عشق «
د غلام محمد دوالضحی تفسیر - دینی
د بای خان لیلی او مجنون قصصی
د فیاض د بهرام او گل اندامې قصه
د میر من نازو دیوان - عشقی
د شاه حسین دیوان - «
د بابو جان د شها او گلان قصه
د ملا پیر محمد افضل الطرایق - دینی
د ملا نور محمد نافع المسلمین دینی
د ملا یار محمد مسایل ارکان خمسه - دینی
د ملا محمد یونس جامع الفرایض - دینی
د ملا زعفران گلدسته زعفرانی طبی
د الله یار دیوان - عشقی
د محمد عادل محاسن الصلوة - دینی
د رید یخان محمود نامه - رزمی
د محمد آیاز دیوان - عشقی
د محمد حافظ تحفهٔ حافظ - دینی
د نصر الدین انډر دیوان - عشقی
د محمد هوتک دیوان - عشقی
« خلاصة الطب - طبی

کتاب - موضوع

د محمد یونس دیوان - «
د عیسی آخونزاده دیوان - عشقی
د مطیع الله دیوان - عشقی
د شمس الدین دیوان - عشقی
د عبدالرسول دیوان او آزادنامه
د ملا جمعه دیوان - عشقی
د شیر محمد اسرار العارفین - دینی
« تجوید افغانی - «
د عبدالرشید رشید البیان «
د احمد شاه دیوان - عشقی
د پیر محمد دیوان - «
د عبدالرحیم دیوان - «
د سعادت خان کیمیای سعادت - دینی -
د حافظ شاه نامه - تاریخی
د فقیرالله فواید - دینی
د آخون گدا نافع المسلمین «
د نجیب دیوان - عشقی
د میا عمر نسب نامه - تاریخ
د محمدی دیوان - عشقی
د اکبر دیوان - «
د علیخان دیوان - «
د کاظم دیوان - «

کتاب - موضوع

د قلندر دیوان - «
د غلام محمد جنگنامه - قصصی
« معراجنامه - دینی قصه
د عبدالکریم زین العلم - دینی
د محمود تجوید
د حافظ دیوان - عشقی
د قاسم علی دیوان - «
د فرح الدین، تعداد الکبایر - دینی
د عظیم دیوان - عشقی
د امام الدین د حججې - قصصی
د ملا حسن دیوان - عشقی
د صالح محمد دیوان - عشقی
د ملا ولیداد زین الحلم - دینی
د رحمت داوی، لیلی او مجنون - قصصی
د میا نعیم دیوان - عشقی
د عبدالنبی دیوان - عشقی
د گل محمد دیوان - عشقی
د ملا زبردست روضة النعیم - دینی
د عزیز خان او سپینی جنگی منظ

څلورمه دوره له ۱۲۵۰ ق - ۱۸۳۴ ع څخه تر ۱۳۵۰ ق - ۱۹۰۱ ع پوري

د محمد زیو زمانه

ددې دورې د ادب د تاریخ اندازه ددغې دورې له شاعرانو ، لیکوالو ، کتابونو او آثارو څخه معلومیږي نو ځکه د نورو دورو د بیان په شان په دې دوره کښې هم اول د شاعرانو او لیکوالو په بیان پیل کوو .

د څلورمې دورې شاعران او لیکوال

سردار پردلخان : د سردار پاینده محمدخان محمدزي زوی دی ، دا سردار یو عالم فاضل

اوده علم او ادب پالونکی و ، څه موده ئې په قندهار کښې د پښتنو مشري کوله بیا په (۱۲۴۵ ه) کښې وفات شو . ده په پارسي او پښتو شعر وایه ، د پښتو اشعار ئې اکثر عاشقانه او په ملي لهجه دي دیوې بدلۍ سرئې دادی :

وی گوره د گل پشان مې ژړ رخسار د یار دی . عالمه ئې تمه داردی .

سردار مهردلخان : د پردلخان ورور او د پښتو ژبې شاعر و ، په پارسي هم یو دیوان لري او

« مشرقي » ئې تخلص دی . مهردلخان یو علم روزونکی او ادب پالونکی سردار و او یو ښه ادبي ذوق ئې درلود . وایې چه دده ځای په قندهار کښې یو لوی ادبي تون و چه ډېر شاعران او ادیبان به په کښې راټولیدل لکه میرزا حنان ، حاجي عبدالله ، صدیق آخندزاده او نور . دا سردار په (۱۲۷۱ ه) کال په قندهار کښې وفات او هلته مدفون دی پرته له دیوانه په تصوف کښې د (جمع الجمع) په نامه یو بل کتاب هم لري . پښتو اشعار ئې لېږ ولي ډېر خوږ دي یو څو بیته ئې دادي :

پلووا خله له سپوږمۍ مخه پرمنې ستا یې مخه راته شپې دي ورځې سپینې

ستا له وره تللی نشم هوري دورې په تا ناست یم په دربار پرې مې دي سپینې

مشرقي دې په تیاره د پلټون ژاړي ورته لمر د مخ ښکاره کړه په مخ سپینې

میرزا حنان : دا شاعر د یار لسمې پیړۍ له ښو او غورو شاعرانو څخه د قندهار په خواشا

کښې ئې استوگنه کوله . ده د سردار مهردلخان سره ادبي علاقه درلوده او ددغه له ملگرو څخه و تر (۱۲۷۱ ه) پوري پې ژوندئې یقیني دی . میرزا حنان په پښتو او فارسي شعر وایه او په پښتو کښې یو عشقي دیوان لري دده په اشعارو کښې نازک خیالي او نوي خیالات هم شته ، ادبي تلازمات ، نوي استعارې او ښکلي تشبیهات پکښې څرگند دي او په دې برخه کښې د حمید بابا د ادبي مکتب شاگرد او پیرو دی لکه چه په خپله وایي :

د حمید د خوش نظمې په زراعت کښې دا حنان ئې دی د شعر خوشه چین

حنان خوازه ، دلچسپ او خوندناك اشعار ویلي دي ، شعر ئې په لفظي ښېگړو ښایسته دی ، اکثر عشقي او یو نیم ځای اخلاقي بیتونه هم لري مگر له حمید څخه ئې ډېر اقتباس کړی دی دا یادگې ئې واولئ :

غنچه هم له خون دلانو څخه ستا ده چه په فکر دی د خولې ډوبه تنهاده

شکوه مکوه دیار له شوخو سترگو رحم عیب دی چه وشي له جلاده

په اسونه مې زړه خوله یاره پرې کړې سپیلنۍ ته دا ورته اتفاق ده مره

کنې له جوره حنان ژاړي عیب ئې نه دی — د کمـزوری دزړه سوده په ژړاده
چه سپالی کوي دیار له شو خوستر کو — همیشه لـکه بادام کانړی په سر خوري
داد کوم ماهروي دتیغ له وهم هسې — دهالـې سپر په سرو نیو ما هتاب
څوزړه چاك لـکه قلم نه کا په عشق کښې — په لاس نه ورځی هر گز گریوان دشعر
ماوی وایه خه ارمان اری په زړه کښې — وې منگولی که می ستا په ویښو سری کړی

صدیق آخونزاده : دمیرزا حنان معاصر دی ، دی په قوم هوتك او په قندها کښې او سېده دسردار مهردل له ادبی ملـګرو څخه و ، ده په ملی لهجه ښه خوازه اشعار ویلی دی ښه روانه طبع ئې درلوده ، دی ځینی فـکاهی اشعار هم لري ، دعشق او مینې په دنیا کښې ئې خو ژ ئ ندون تیر کړی دی دا بیتونه دده دی :

خپل سافي راته نیرل ډك جامونه دی — بېلتانه پر ملك یا شلی ډك جامونه دی
سپینه خوله دی کـټوری دی دشرابو — سپنکی غاش دی مرواری لب دی لاونه دی

بابا سید گل . دیکلی په (بېه) کښې اوسېده دپښتو یوملی شاعر دی چه ډیری ملی بدلی یې دخلکو یادی دی . ده دامیر دوست محمدخان په وخت کښې ژوند کـاوه .

سلیم : په قام علی زی اودقند هاردزمینداورو ، ده په ملی اوزانو ډیر اشعار جوړ کړی دی عاشقانه احساسات یې تېز او بدلی یې اغیزناکی او مؤثرې دی دیوی بدلی سر یې دا دی :

پر تا مین زه خوار وزار یمه — داد هجران په غمو یار یمه
په سر تور سر په یېلی پښې دریسې خوار یمه — جانانه زه پر تا مین یـمه

ددې دوری هغه شاعران چه ډار مستشر ښودلی دی

په دې دوره کښې دپښتو ځینې ښاعران شته ؛ چه مونږ ئې دمشهور مستشرق ډار مستشر فرانسوی په ذریعه پېژنو . دا شاعران اکثر دپښتو ملی شاعرانو په ډله کښې حسابېږی او دغه مستشرق ئې دکـلام نمونی او اشعار په خپل کتاب د(پښتنخواهاروبهار) کښې راوړی دی . دې شاعرانو جنـگی دینی عشقی او داسی نـوری بدلی او چار بیتی ویلی دی . دا شاعران اکثر د (۱۲۵۰ ه) دوختـو شاعـران دی چـه د محمـد زیـو د بادشاهـۍ په اوله دوره کښې تیر شوی دی ، یعنی دامیر دوست محمدخان همعصر بلل کیږی ددې شاعرانو حالات او ځینی اشعار په دوهم ټوك پښتانه شعرا کښې راغلی او بیان شوی دی ، نو ځکه ئې دلته نور بیان دومره ضرور نه بولو ، صرف غواړو چه تش نومونه یې بیان کړو . دا شاعران اکثر دپېښور دخوا ودی .

نورشالی - دوستم - میرافضل - امانت ملیار - شاه گـل - طالب گل - باباب - حمید گل علیخان عیسی گل - عبدالغفار - بهرام - گل محمد - برات - مجید شاه - میر عبدالله - احمدشاه - میارجب سید احمد - محمدخان - ارسلا - عجم - بادر - کریم - محمود - ظریف خان - غازالدین - عبدالله اکبرشاه - ناصر - قاسم - یاسین - علیجان - بار احمد - نواب خان (۱)

ددې دوری نور شاعران او لیکوال

حبیب الله کاکړ : دقندهار دخورا مشهور وعالمانو څخه دی ، دفیض الله اخونزاده زوی او په (حبو) اخوندزاده مشهور و ، دی په عقلی او نقلی علومو کښې لوی عالم او دزیات شهرت

(۱) دا وروستی (۸) تنه په پښتانه شعرا کښې نه دی راغلی .

خاوندؤ نوځکه په محقق قندهاري ياديږي، ده د مولوي اسمعيل دهلوي سره علمي او مسلکي ارتباط دراود: چه هغه د سيداحمد بريلوي (سيدباچا) له ملگرو څخه ؤ (۲) علامه په عربي، فارسي، اردو او پښتو ژبو کښې ډېر تاليفونه لري چه ټول تقرېباً (۲۰) ته رسيږي ده په عربي او فارسي کښې هم اشعار ويل، په پښتو کښې ئې د (منهاج العابدين) په نامه يو کتاب د امام غزالي له کتابه په لنډه مثنوي ترجمه کړي دي، شعر ئې خوږ او روان دي د علم په باب کښې وائي:

علم ډېر عظيم دولت دي — چه د دوو کونو نعمت دي
ښه عزيز نفيس گوهر دي — قيمتي صافي جوهر دي
د هر فضل و هنر کان دي — د جهان په تن کښې جان دي
قوت د زړه قوت د روح دي — سرمايه د هر فتوح دي

علامه په (۱۲۶۵ هـ) کښې وفات، او په قندهار کښې مدفون دي.

عبدالمجيد کاکړ: د علامه حبيب الله په کورنۍ او شاگردانو کښې يو عالم سړی و په ديني علومو کښې ئې دسترس دراود، وايي چه يو زبردست خوشخط هم و، ده په (۱۲۸۶ هـ) کال په قندهار کښې يو پښتو «سيرت نبوي ص» په لنډ بحر منظوم کړي دي. دا کتاب د پيغمبر (ص) په سيرت کښې يو خورا مهم کتاب دي چه د پښتو ژبې له تاريخي او مذهبي آثارو څخه گڼل کيږي.

رسولداد: ددې دورې له اخلاقي شاعرانو څخه دي، يو کتاب ئې د (درالبيان) په نامه په (۱۲۰۰ هـ) د پښتو په لنډه مثنوي ليکلی دي، موضوعات ئې ديني مذهبي دي. رسولداد په قام خروټی دي، چه د جنوبي د خوا په (گومل) کښې ئې استوگنه کوله شعر ئې ساده او آسان دي يو بيت ئې دادي.

چه تربيت د يتيم کړينه — ډېر ثواب گوره لرينه

مرادعلي صاحبزاده: د پلار نوم ئې عبدالرحمن دي چه د ننگرهار په (کامه) کښې ئې استوگنه کوله. دده کورنۍ ټوله د علم او فضل کورنۍ ده، دی په خپله هم د عربي علومو ښه عالم او ملا ؤ. په عربي، فارسي او پښتو کښې ئې د شعر طبع دراوده او په دې ژبو کښې ځينې تاليفات لري مشهور اثر ئې (تفسير يسير) دي دا مهم تفسير ئې په (۱۲۸۲ هـ) کال ليکلی، او بيا په پېښور کښې چاپ شوی دی تفسير يسير په پېښور کښې ډېر شهرت لري او ښځې او نر ئې په درس لولي. د تفسير يسير نثر د خټکو د کورنۍ د نثري سبک سره نيژدېوالی لري. مرادعلي صاحبزاده ځينې اشعار هم ويلي دي چه ټول ديني او اخلاقي دي دا بيت دده دی:

څوک چه زهر درله درکا ور کوه ته ورله شات — او که ځان له تا نه يري کاته بيا شه ور ته مرآت

دوست محمد خټک: دا سړی د خوشحال خان خټک له اولادې څخه دی، ورينکه ئې محمد زمان له خټکو څخه قندهار ته راغلی ؤ او دغلته ئې استوگنه کوله دوست محمد د خټکو د علمي او ادبي

(۲) سيدباچا د هند د بريلي دی د (۱۲۵۰ هـ) په حدودو ئې د پېښور په علاقو له سکانو سره ډېر جنگونه او جهادونه کړي دي، دی بيا شهيد او په (بنير) کښې ښخ شو. ډېر پښتانه عالمان او شاعران دده مريدان وو.

Marfat.com

کورنی ورروستی شاعر او ادیب دی، یو فاضل، عالم او متصوف سړی ؤ، په پښتو ژبه ئې ډیر تالیفات کړی دی، د (واعظ کاشفی) فارسی «تفسیر حسینی» ئې د پښتو په نثر د (تفسیر الدر منیر) په نامه ترجمه کړی دی، نثر ئې ساده او د تفسیر پسیر پر سبك دی. دوست محمد په نظم کښې یو «بحر العلوم» او بل «اخلاق احمدی» نومی کتابونه په ډلنده مثنوی لیکلی دی چه مطالب ئې ټول دینی او اخلاقی دی. دا دواړه کتابونه ئې تقریباً دیرش زره بیتو ته رسیږی. دوست محمد تر (۱۲۹۰ھ) پوری ژوندی ؤ، په خپلو کتابو کښې ئې د امیر شیر علیخان دوره ستایلې ده. لکه چه وایی.

دامیر د شاهی زور دی   عالم ده وته نسکور دی

په کابل کښې جانشین دی   حکمرانه ئې نګین دی

نورالدین: دا شاعر د پېښور په خوا و کښې اوسېده او د امیر دوست محمد خان په عصر کښې ژوندی ؤ. د ملی شاعرانو په ډله کښې او له درجه سړی دی. په چار بیتو کښې پوره اقتدار او اوی لاس لری. نو په دې لحاظ ورته د چار بیتو استاد ویلی شو.

ډېرې جنګی تاریخی او عشقی چار بیتی ئې ویلی دی چه په چستی او خوږوالی کښې مشهورې دی او په هر ځای کښې ویل کیږی. د ده ډېری چاربیتی دار مستتر په خپل کتاب کښې راوړی دی. د یوی چاربیتی اول بند ئې دا دی.

ما ولیده یارانو د لیلا په سپین جبین   ځا او نه دری ځلور

خوری دی شولی کوکی دنیا پسته په سوات بنیر   رنځور دی کړم بلبلی

همیش ګرځی بلبلی هار له غاړی دې چا پیر   سری نو کی سری منګولی

محل کښې دې ولاړه ګوره وته د نمیر   تازه ئې دی غندلی

له پښو تر سره پوری دی داستا صورت نازنین   جوړه دی نښته نور

نیاز محمد: د باجوړ د جار په کلی کښې اوسېده په نیازی مشهور او په قام سلارزی ؤ. په ملی لهجه یې ښه اشعار ویلی دی د یوی بدلی سره ئې دا دی.

سره ګلونه همیشه در بااندی سوال کالیلی   چه آخر ئې درته پور حسن و جمال کالیلی

ګوجر: په مقام تر کانی او د چندول د (میارو) د علاقې دی. په ملی لهجه ښه پاخه جذاب دعشق او مینی له کیفه ډك اشعار لری، او د ۱۳ پېړۍ له ښو شاعرانو څخه دی. د یوی بدلی په آخر کښې وایی:

قربان دې دخبرو شوم، اوګی دې د سندر وشم   ګوجره تــه به مړ شی

شعر بــه چــا تــه ورلــه غــاړی شی   لاوی چه درنه لاړه شی

محمد ولی: په قام ماموند دی، د کونړ په (مروره) کښې د (۱۳۰۰ھ) په حدود ووفات شوی دی وایی چه دی د ښی روانی طبع څښتن ؤ او په ملی لهجه ئې ښه خوږه اشعار او چاربیتی ویلی دی.

حضرت علی: دا سمار په خان مشهور او په قام ترکانی دی. د ۱۳ قرن له ښو شاعرانو څخه حسابیږی، په ملی لهجه ئې ځنی خوږی چاربیتی ویلی دی د یوی بدلی سر ئې دا دی

خیر د دیدن را که مسافر د بل وطن یمه — در کښې دې ولاړ یم که دې سپې زمانه کوړې کړي

اکرم جان: دده حضرت علي د تره زوی و. په ملي شاعرانو کښې حسابیږي په دوهم ټوک پښتانه شعرا کښې ئې یوه خوږه چاربیته راغلې ده.

لیوني محمد جي: دا شاعر په اصل د (یکلي) دی دا رمستقر په (ایبټ آباد) کښې اېدلی و وایي چه ښې خوند وری او وله جوشه ډکې چاربیتې لري، اشعار ئې عشقي او موثر دي دیوې چاربیتې یو بند ئې دادی.

چه ماز دیگر شی شاه په غاړه ښه امیل کا ندي — تول د نجونو سپل کا ندي
په بخملي ور بل لګیاوی تور بلبل کا ندي — زړه زما غلبېل کاندي
د ګل غنچه شي لکه زانې په کابل و لګي — اورمې په ګو ګل و لګي

صفت خان: د مشرقي د چرهار د علاقې د (دولت زو) دی، په ملي لهجه ئې ډېرې چاربیتې ویلې دي، ځنې اخلاقي اشعار هم لري، مګر اکثر ئې عشقي دي. دا بیت دده دی.

د کمال په ګانه ځان واړه ښایسته کړه — په دنیا کښې څه بې علمه سړیتوب دی؟

میرهزار: د چرهار په (کنډي باغ) کښې اوسیده، د ملي شاعرانو په ډله کښې د خوږو بدلو او چاربیتو خاوند دی، د وفات وخت یې د (۱۳۰۰ هـ) حدود دی، په دوهم جلد پښتانه شعرا کښې یې اشعار راغلي دي.

خانمیر: دا شاعر د چرهار درود په (غزو ګلي) کښې زیږیدلی دی، وایي چه په قام مومند و. دده اشعار له ملي جذباتو او د پښتونولۍ له احساساتو څخه ډک دي د یوې چاربیتې سر یې دادی:

په چپ کښې ډال په ښي خنجر نیسمه — لوري د خصم برابر نیسمه
یا به له صدقه خپل وطن شي زما — یا به په سر و وینو کفن شي زما

باړه خان: د چرهار درود له ملي شاعرانو څخه حسابیږي ښه خوندور او چست شعار یې ویلي دي د (۱۳۰۰ هـ) په شاوخوا کښې یې ژوند کاوه په خپل ناخوانۍ دا سې افسوس ښکاره کوي:

کاشکې ورو کتو به په ما یو ځلي راغلی وای — ما خولبزو ډېر سبق په خپل عمر ویلی وای

خدای دوست: دا شاعر هم د چرهار د سرسبزه او شاعرانه رود په (ګوداره) کښې زیږیدلی دی ډېرې عشقي چاربیتې او غزلې یې ویلې دي، ناخوانه شاعر و؛ مګر ښه طبع ئې دراوده په دوهم ټوک پښتانه شعرا کښې یې یوه بدله شته.

ګل محمد: په قام خربون دی چه د خوګیانیو په (سرما) کښې دامیر شیرعلیخان په زمانه کښې اوسېده ډېرې ملي چاربیتې او غزلې یې په نامه مشهور دي.

بهره مند: د خوګیانیو (بربیار) کښې زیږیدلی دی، اشعار یې په خلکو کښې مشهور دي ځنې قصې یې هم په نظم کړې دي، په ملي شاعرانو کښې ښه درجه لري.

درمحمد : په قام ځاځی دی تقریباً د (۱۲۹۰ هـ) په حدودو کښې پې ژوند کاوه دی
یو عالم سړی وه ابتدا نه یې شعر وایه او بیا یې ښه ښه اشعار ، غزلی او چار بیتې و یلی
دی ، چه په ځاځیو کښې مشهوری دی ، دده د یوی ځنځیری چار بیتی یو بند دادی ؛
چه د قافیو عویمنه یې یکښې جوړه کړی دی .

دا لو نګین په سینه و دی لکه غنچه ، سوچه ، سینه باغچه ، دچه نصیب نیو لی
ثانی یی نشته تمامی صورت یی ګل ، سنبل ګوره چار ګل ، د نجل سړی یی منګو لی
چه مازیګر یه ګودرو ویښم سورشال ، سنبال ، مکوه خیال ، جنجال مستی بلبلی
لاس می در پریږده درو پیو په قطار ، یووار ، خال په رخسار ، دیار په جبین سور

عبدالزاهد : په قام اندړدی ، یو طالب سړی ؤ مګر په ځوانی کښې ور سره عشق ملګری
شو . نو له دغه سوزه یې خوازه اشعار ویلی دی ، په ملازاهد مشهور او په خپله علاقه کښې
دلوی نوم خاوند ؤ . وایی چه یو دیوان یې هم درلود مګر اوس یې چیرته پته نشته . دی هم
د درمحمد په شان مقفی چار بیتې لری .

ملامقصود : په قام خلیل مومند او د پېښور د «کبړی ولی» ؤ . دا رمستتر په هار و بهار کښې
په مقصود جان یاد کړی دی ؛ دده به په خپل شوق بدلی جوړ و لی ، ښه روان او بې تکلیفه شعر
یی درلود په خپلو چار بیتو کښې یې دلال پوری اکبرخان ښوځا په ستا یلی دی .
ملامقصود دامیر عبدالرحمن خان معاصر ؤ . دی ځینی جنګی او تاریخی چار بیتی هم
لری او په چار بیتو کښې د نورالدین سره برابر ینړی دا چار بیته دده دی :

شین خال دی په مثال ایښی دوروځو په یو ند
اوربل دی الوول لکه بخمل دی بند په بند
شین خال دی په مثال ایښی دوروځو په مابین
نری پوزه الف خو ازه دی دواړه شفتین
زنخ لری ګبین خوله دی شیرین سره دی عینین
جمال درکړی رب لری نسب دا سی خرګند

جمال را کړی رب لرم نسب د باچا یانو
عاجز غریب سړی یی یاری مکړه دخو بانو
ته خپل مساوی ګوره ستا دی خوی د ناد انو
ژوندی به دی پری نږدم زما خدای په نوم شو ګند

ځلیږی زرافشان
راپورته که چشمان
د ورا یه تجلی کا
رڼګی می واو یلی کا
څوک څه لره ګیلی کا
رایت دی که خاقان

روغ ځان ساته کمبخته
چه را نشی بی وخته
لـ ر مـه طبعه سخته
ته واوره دا بیان

دغزلچیانو ډله

توکل د دیار اسمی پیړی د دوروستی نیمی له مشهورو ملی شاعرانو څخه دی . کونړ
ښهوی ته منسوب او په قام صافی ؤ . توکل په ابتدا کښې دهقانی کوله بیا د فقیرانو په دعا یی
شعر جاری شو ، د شاعری په ګلشن کښې یی خوږی خوږی نغمی و کړی د باغ تو تیان یې په
نارو کړل ژړونه یی تازه او مخ یې غوټی یې پرانستی لکه نسیم په باغو نو او ګلانو و ګرځېده
او د سوز و ساز ترانی یی وویلی .

توکل په ملي ادب کښې هاغومره شهرت لري څومره چه په کلاسيکي ادب کښې د رحمان بابا په نصيب شوی دی دده د اشعارو زياته برخه غزلي دی او چاربيتي يې کمې ويلي دي غزل يې يو مخصوص آهنګ او وزن لري چه ډېر خوندوروي وايي چه دده غزلي که جمع شي نو څو ديوانه به تري جوړ شي ، د توکل په غزلو کښې د عشق او محبت اوږه جذبه ليدله کيږي او په دې معنوي خصوصيت کښې د رحمان بابا اشعارو ته ورته دي - دی يو نا خوانه سړی و مګر په غزلو کښې د استادۍ مقام ته رسيدلی دی . توکل د يو مخصوص خوندور ، پرجوش او چست سبك او آهنګ موجد دی چه ډېرو وروستنو شاعرانو يې پېروي کړې ده د توکل د يو غزل څخه دا دوه بيته ولولئ .

دا په باد د نسيم سروه ده کښېږ مشوه — اى صنمې که په خپل حرم کښې ښوري
دا زما په فکر هيڅ دی بې ګمانه — د هوسۍ سترګې دا ستا تر سترګو پوري

د توکل دا يو غزل ولولئ .

زه خوږلی په زړه باندې ستا د زلفو منګرو يم
طبيبان خوشې خوارې کړې ساه مې ځيږي په نارو يم
جلادان راپسې ګرځي په اوږو ښکلي توري
وا به نه وژم ستا د لورې زه مين ستا په ابرو يم
لاس مې ونيسه په بند کښې اى دلبره خدای د پاره
د مجنون پشان مې حال دی مدام پروت زه په خوارو يم
تش کالبوت په دنيا ګرځم ساه مې نشته په بدن کښې
د ښلتون ظالم له لاسه حلال شوی په تېرو يم
زه توکل له غيرو خلقو کناره ناست يم ځان ژاړم
د ګناه پېټی مې دروند دی خپل مولا ته په زارو يم

ميرا : ميرا د توکل هم عصر ، په قام اپريدی کوکي خېل او په (سپينه ډېرۍ) کښې اوسيد ميرا په موسيقي او ملي آهنګونو کښې ښه مهارت دراود ، ساز او سرود به يې کاوه او په بيل بيل آهنګ به يې غزلونه جوړول ، نو ځکه دی په پښتو کښې د وزنونو او آهنګونو مخترع بلله کيږي . دده خوازه اشعار او غزل په هر ځای کښې معروف او مشهور دی ، غزل يې عشقي دی مګر تصوفي افکار هم پکښې اثر ډېر ليدل کيږي د يو غزل يو بند يې دا دی :

ميرا صبر ياد کړې پروت دی رنځور — پرې مقرر شو د غم ناسور
طبيبه زر شه و کړه تلوار — عاشق سوالګير دی له خپله يار
په درد دی پروت يم په زړه افګار

سيد کمال : د کونړ (د شلې) دی ، طالب او ملا سړی و ، په (بېوجانه) نومې يوه نجلۍ باندې يې زړه بايللی و ، ټول عمر يې په آه سوز او ژړا کښې تېر شوی ، او لکه د شمع سوزېدلی دی ، د بېو جانې د پاك عشق په مينه او خوند کښې له سوزه ډك اشعار لري . دی د بېوجانې مجنون واو بې د بېو جانې له نامه څخه يې نور هيڅ په خوله نه راتلل . دده غزل په خلکو کښې زيات شهرت لري يو ديوان چه (ګلشن عشاق) نومېږي د سيد کمال په نامه ليدل شوېدی ، مګر دده د ملي وزن غزلي او چاربيتۍ نه دي

تدوین شوی ، دی لکه چه په وطن کښي د توکل سره شریك دی دغسې په شعری دنیا کښي هم سره ملګری او دیوه سبك پیروان دی . یو غزل یې دادی :

غم د یوجانی لیونی لکه مجنون کړمه　　نور به څه ژوندون کړمه - هی تو به د عشقه شه
کېږ شوم نه خلاصیږم ستا د مینی یو ګلی زه　　ستا آواز به کله په غوږو اورمه بلبلی زه
ستا مینی بلبلی زه اخته په جګر خون کړمه　　اوس به څه ژوندون کړمه - هی تو به له عشقه شه
کاشکی چه پیدا به دې نه کړی دنیا زه نه وای　　زه که به دنیاوی مینتو به هلته نه وای
ورك شی مینتو به دریه دردی به بیلتون کړمه　　نور به څه ژوندون کړمه - هی تو به د عشقه شه
بی ګناه می خاله د غماز په مخ رتې یو　　ما د خپله دره دا په کوم سبب ترتې یو
زه دې سپك و ډېر دغمازانو په لمسون کړمه　　نور به څه ژوندون کړمه - هی تو به د عشقه شه
واخله سید کماله کنډ کچکول د ګدایی په لاس　　ګرزه دریه در همسا کوتاه د جدایی په لاس
غم دی یوجانی ژوندی ډوب لکه قارون کړمه　　نور به څه ژوندون کړمه هی تو به عشقه شه

ملامیران : د قندهار د ۱۳ پیړۍ له شاعرانو څخه دی ، اشعار ئی عشقی دی او د غزلو یو ټولګو په ډله کښي د ربیږی . په دوهم جلد پښتانه شعرا کښي ئی غزلونه راغلی دی .

کمال : په خټه نورزی دی . د قندهار په (دروشان) کښي یې استوګنه کوله ، دی په کمال بابا مشهور او په ملی وزن ئې غزلی لری . دده په اشعارو کښي د عشق او محبت جذبات پراته دی او په ملی اوزانو کښي ئې لاس لری لکه چه وایی :

اثری مینه می شکاره شوه په بدن کښي ناری وهم　　د زړه آشنا را یاته نشو په وطن کښي ناری وهم
اثری مینه می شکاره شوه ربا بو ته وهم　　زه ګنهګار نیم د زړ نګه سرو دونه وهم
چه په شهباز سره یې ځای په ځای تارونه وهم　　ستا د محبته می تارونه په ګفتن کښي
ناری وهمه . . . . . .

د استا مینه چه شکاره شوه نو خوشحاله شمه　　ته په لیمو می قدم کیږده چه پاماله شمه
ګوندی د استا په روی زه خلاص لدې جنجاله شمه　　ګوندی د استا پروی ایله شم په ګلشن کښي
ناری وهمه . . . . .

نوروز : د پېښور په (کالو خیلو) کښي زیږیدلی دی ، دی ډیر بې تکلفه او طبیعی شاعر و ؛ په غزلو کښي یې زیات شهرت حاصل کړی او په دې لار کښي د استادی درجه لری ده په هر نوی راګ او وزن غزل جوړ کړی دی ، سازنده هم او د شاګردانو ډله به ورسره وه . نوروز په پښتو کښي ځینی هندی وزنونه او راګونه را داخل کړی دی غزل یې په چستی او تیزی ممتاز دی ، چاربیتی او رباعی ګانی هم لری . د پښتونخوا په مجالسو کښي ډیر و ربابو نواو غچکو د ده په نغموږلی ، او ماهرو یانو ور سره لاسونه غورځولی دی . دده ډیر اشعار د (بهار نورو زی) په نامه چاپ شو یدی . دیو غزل یوڅو بیته یې دادی :

چپی می په زړه ځی د غم داسی داسی　　ژوندون می کاننګ ستا ستم داسی داسی
نه یاتی مجنون نه فرهاد او شیرین شه　　فنا شو په عشق کښي عالم داسی داسی
سیلاب می داو ښکو په مخ ځی همیش　　بهیږی له ستر ګو می نم داسی داسی
غماز می پر پیاسی د غم په خندق کښي　　زه غواړم مدد ستا کرم داسی داسی

نو روزه مثال د عمل ځانته بل کړه   شته ځای د ختر په نور تم داسی داسی

محمد دین: دا شاعر هم له خورا مشهورو شاعرانو څخه دی، د پېښور په (نوښار) کښې اوسېده غزلې او چار بیتۍ ئې ډېرې مشهورې خوندورې او چستې دي د نوروزاو توکل په ډله کښې د دریمو حق لري. په (بهار نوروزي) کښې یې ډېر اشعار چاپ شوي دي اشعار یې زیات عشقي دي، یو مجلسي شاعر او ډېر شاګردان یې درلودل، ځنې ډېرې چار بیتۍ هم لري او شعر یې ډېر فیض مخزن دی د یو غزل سر یې دا دی:

سپین مخ دی ګلزار دی   زړه می نافرار دی
ستا زلفې سمسورې دي   سرې امبې زایورې دي

د یوی چار بیتۍ یو بند یې هم ولولی:

دښایسته آوازدې لاړه په عالم کښی اوریلور   زه دې سوی یم په اور ټیك دې کوز که له جبینه
دزرې زنې دیا سه دې خالونه دې قطار   توری زلفې دتارتا رېدی پرتې لکه ورېځې
په سینه کښې دې پېخ شوي دې دمینې دوه انار   درته پروت یمه بیمار دا روږی د مرضی
رب دې نکا څوك په رنځ باندې دمینې ګرفتار   نن دې ځان کړ او سنګار، بېګناه می په اور سوزی
که زبرشی که به مسره ګونګرو دې کوی شور   قدم اخلې په تکور، پښا پیرې. راغلې له چینه

په دې ډله کښې ځینې نور شاعران چه شامل دي یعنې ملي غزلې یې ویلي دي دا دي:

شهنواز- محمد ایوب- شاه پسند- برخوردار- خدایرحم- شاه عالم- نور صاحب ملا میر یحیی (۱)- عبدالودود- صالح محمد شاعران په دوهم جلد پښتانه شعرا کښې بیان شوي دي.

ولي محمد. دا سړی د سوات دخو او یو پښتون ملا او د سوات صاحب (عبدالغفور علیه الرحمه) مرید او شاګرد و. تر (۱۲۹۵ه) پورې ئې ژوند معلوم دی ده دخپل مرشد پحالاتو کښې د مثنوی په ډول یو کتاب لیکلی او په دې کتاب کښې ئې د میا عبدالغفور صاحب د ژوندۍ واقعات بیان کړي دي او (د میا عبدالغفور مناقب) نومېږي د ځینو غزا ګانو بحثونه هم پکښې شته، په دې اعتبار ده ته یو تاریخي او رزمي شاعر ویلی شو. دغازیانو په صفت کښې وایی:

کمر بند سره وې ملا دد وی تړلی   او سرې ستر ګې ئې په وینو وې لړلی
چه یې چنه دشمن واورېده په غوګ   فورځا وه به ئې له خولې نه ورته زګ

شیر محمد دقندهار په (پشت رود) اوسېده، په پښتو کښې یو دیوان (۲) لري اشعار ئې عشقي او اخلاقي دي یو بیت ئې دا دی:

دا زما د زړه آهو د تن له دښته   رب خبر چه کوم صیاد په الم یووړه

عنوان الدین: کاکاخیل دی په (ایبټ آباد) کښې اوسېده، ښه شاعر و. د(۱۳۰۰ه) په حدودو کښې ئې دسوات جغرافیائي حالات په نظم کړي دي د نظم یو څو بیته ئې دا دي:

راشه واوره دا بیان   چه تول سوات شي درعیان
سراسر پرې ګرځیدلی   ما په خپله دی لیدلی

---

(۱) وایي چه ملا میر یحیی او عبدالودود دیوانونه لرل مګر اوس ورك دي.

(۲) ددې دیوان یوه نسخه په پښتو ټولنه کښې شته.

دیوسفزي دا اولاد   اکوزي بانړي شي یاد
یوه دره ده سراسر   سینډ په منځ کښې برابر
په شمال تري خوازوزي دي   په جنوب تري بابوزي دي
بابوزي د بري تپې دي   سراسر سره پرتې دي
رانیزي دي په مغرب   اله ډنډ کښې دي غالب
دغه ځای دخانی کور دی   د کاجود اولاد ورور دی

نظر محمد کاکړ : د(۱۳۰۰ه) په حدو دونې دقندهار په (زنګی آباد) کښې استو ګنه درلوده عالم سړی و، په پښتو او فارسي کښې شاعراو په دواړو ژبو کښې دیوانو نه لري یو بیت ئې دادی :

ره یونه یم چه له غمه دربدر شوم   خلقې شي له دې غمه تار په تار کړي

غلام محمد پوپلزی: دپېښور د (چارسدې) او سیدونکي و، یو درد من متحسس پښتون او یو پوه او عالم سړی دی. ده دمولانا حالي هندي مشهور اثر یعنې (د اسلام مدو جزر) په پښتو مثنوي ترجمه کړی دی. دا کتاب دمسلمانانو دترقی اوزوال دسببو نو بیان کوي او ددوی دبیدارولو دپاره دوی ته دتېرد وران نغمی اوروي دترجمې په ابتدا کښې ئې په پښتو نثر یوه عالمانه تبصره هم لیکلې ده چه په دې اعتبار دی دنثر لیکو نکو په ډله کښې هم حسابیږي. دا کتاب په (۱۳۱۰ه) کښې چاپ شوی دی غلام محمد دتر بیت په موضوع کښې دمولانا حالي یو بل کتاب هم په پښتو نظم ترجمه کړی دی، دا کتاب ډېر خوږ او په ښه موضو کښې دی. غلام محمد دپاغانو دخوانده کولو دپاره دپښتو یوه قاعده هم لیکلې ده: چه (محمدي قاعده) نومیږي غلام محمد په شعر کښې روانه طبعه لري او دپښتو یو ویش پښتو ن او اجتماعي شاعر ګڼل کیږي وایي (۱) چه ده دورمړي ژبې یو ګرامر هم لیکلی دی.

شیر احمد شیدا : دی دیوه دوکی مدحیه کتاب څښتن دی: چه په هغه کښې دسواد صاحب) هډې صاحب، مانکي صاحب دمدح او صفت بیان دی. دا کتاب په (۱۳۰۰) کښې چاپ شوی دی وخو بیته ئې دادي :

نجم الدین اخوندصاحب نوم ئې مشهور دی   درست کابل زمین له فیضه ئې معمور دی
په مسجد کښې دتند ورسا زی مقام   لري دی هم ښه عزت او سرانجام
بیا په ژمې کښې راځي په ننګرهار   له قدومه ننګرهار کاندي ګلزار
په کشور د شریعت لکه چراغ   صنوبر غوندې ولاړ د دین په باغ
هغه دم کښې چه دی سر شي په بیان   مرغلري تو یوي در ومرجان

محمد امان : په قام داوي او قندهار دخوادی. په پښتو کښې یو وړو کی دیوان لري چه په (۱۲۸۳ه) کښې ئې ختم کړی دی، اشعار ئې عشقي دي وایي :

ستا پرمخ شیدا یم لکه تور بورا پر ګل   چه دحسن سیال دې نشته تر هراته تر کابل

---

(۱) دپېښور داسلام کالج د کتابو فهرست .

احمد ګل: د مشرقی د ګلاای حسن خیل مومند دی، د زیږېدو تاریخ ئې (۱۲۵۸ هـ) سنه ده، دی یو عالم او فاضل سړی ؤ. د تحصیل دپاره ئې د هند، مصر او نورو ځایو سفرونه کړی دی، عمر ئې په درس او تدریس تیر اوه، د هغه خدای د شعر ویلو ښه طبع ورکړې وه د رحمان بابا پر سبك ئې ځینې رباعی ګانې او نور های اشعار ویلی دی. عربی، فارسی، اردو ژبې ئې زده وې مګر پښتو خوږه او پر لذته بولی:

که زده می عربی، فارسی اردو په زور کړته … پښتو ده پر لذته

د احمد ګل په شعر کښې د پښتوالی ښېګړې، از کخیالی، روانی او خوږوالی لیدل کیږی لکه چه وائی: ښېښې می د مغزولری دانی د مرغلرو … د رنګا رنګه خبرو.

د طبع په مخزن کښې می پراته درو مرجان دی … تللی په میزان دی

نرمه پر خه چه هر ازه شوه له ګله … دا دستا په برکت شوه احمد ګله

د نرمی او لطافت په مدرسه کښې … شبنم دا وظیفه ستانه زده کواه

احمد ګل پر ته له عشقی اشعارو څخه په دینی: تصوفی، اخلاقی او علمی خواو کښې هم ښه اشعار لری د علم په ښېګړو کښې وائی:

چه په وړانګو ئې د مځکې سر وشان دی … څپله ورو ره هغه علم او عرفان دی

وائی چه احمد ګل د (دیوان احمدی) په نامه خپل دیوان د امیر عبد الرحمن حضور ته وړاندې کړی، او هغه انعام ورکړی و. د ده له پښتو آثارو څخه د کوتوال قصه، د پښتو خطبې، د نیمولا قصه، د مولانای روم د مثنوی ترجمې او ځینې نور دی. دی ځینې چاربیتې او غزلې هم لری، بد له ئې په (هارو بهار) کښې راغلی ده، دی وائی:

زما قوم چه پښتون دی … او په دوی کښې می ژوندون دی

په پښتو ژبه اشعار … ځکه وایمه دربار

عبد الباقی کاکړ: د قندهار د خوا یو متصوف عالم و. تر (۱۳۱۹ هـ ق) پوری ئې د پښتو ژوند یقینی دی، وائی چه ده په همیشه د دینی احکامو تبلیغ کاوه او په دې مقصد ئې د پښتو په اوزده مثنوی د (تهذیب الواجبات) په نامه یو لوی کتاب هم لیکلی دی. د دې کتاب اکثر مطالب دینی او اخلاقی دی ځینې تاریخی حالات هم لری. تخلص ئې «افغان» دی. د افغان زړه د اسلامیت او پښتنولی له درد څخه ډك او په دې درد د دمن و دغه جذبات یې په کلام کښې څرګند دی لکه چه وائی:

رااخستی می شهباز دی خپل عشق رباب وهمه … نغار د اسلام کوك شوه د واړه بر پته تاوومه

څخه نغمې څه ترانی دی قسم قسم آوازونه … قمریان پر شاخونا ست ی مطرب نوی کړه سازونه

د سلطان محمود له وخته ما خندلی له تیره توره … که می جهل رهبرنه وای پر مخ تلم تر دور صوره

له هغه وخته تر اوسه بې حسابه ګزا رونه … د افغان د آس په نعل ایری شوی دی او دغرونه

عبد الله یو بلزی: د قندهار په خوا کښې زیږیدلی دی په پښتو او فارسی کښې د شعر دیوانونه لری تخلص یې «محزون» ؤ، سربېره پر دغو یوه مثنوی چه (عبرت نامه) نو میږی هم ورنه یادګار پاته شوی ده، اشعار یې عموماً عشقی او اخلاقی دی، دی په (۱۳۳۳ هـ) کال وفات شوی دی. عبد الله په خپل شعری سبك کښې د حمید پیر و معلو میږی او هغه یې د پیرستایلی دی ځینو نورو شاعرانو یې هم په تنقیدی ستر ګه کتلی دی دا دوه بیته یې وا ولی:

Marfat.com

د آشنا په غم خراب او محزون شه یم   سمندر غندې په اور کښې درون شه یم
په سرو وینو کښې د زړه غوټې وهمه   راته مسلك شو کربلا د زړه له لاسه

سعادت خان، (۱) د خوشحال ختك په اولاده کښې د (۱۳۰۰ ھ) د حدود و یو پښتون شاعر دی. پلار یې افضل خان نومیده دا افضل خان د تاریخ مرصع له افضل خان څخه پرته بل افضل خان دی. دې څه موده په (جمالګړی) کښې اوسېده نو ځکه پادری هیوز د جمالګړی په افضل خان یاد کړی دی. سعادت خان د خپلو دوو ورونو اکبر او اشرف په فراق کښې چه په توروا و بو کښې بندیان شوي وو یو غزل ویلی دی چه یو دوه بیته یې دا دی:

فلك څه نا کړدي ماته کړي دوخاري   چه می سترګی په ژړا کښې فواري شوي
نوی نوی غم راځی زما په خوا ته   خبر نه یم د غم ما کره ډېری شوي

اسدالله: د پورته سعادت خان مشر ورور دی. دی هم د پښتو شاعر ؤ، د خپل ورونو په بېلتون کښې یې ځینې اشعار ویلی دی چه دا دوه بیته یې لاس ته راغلی دی:

رود می حلقه نن له دواړو سترګو په ګریوان دی   خدا یېزود اشرف اکبر ماتم اورد نیران دی
نن د قیامت ورځ ده له قیامته لا بدتر ده   تللی څه به بستان د مینې په خزان دی

اشرف: د دغه سعادت خان ورور دی: چه په توروا و بو کښې بندی وو. دی هم د پښتو شاعر ؤ، یو غزل یې مونږ ته پیدا لی دی چه یو دوه بیته یې دا دی:

موده وشوه چه سلا دیار رانغی   خبر نه یم چه په څه د یار رانغی
ګلدسته می خاطر ن پژمرده ده   چه خبر راته د ورور او پلار رانغی

اکبر: دی هم د سعادت خان د تورو او بو بندی ورور دی، د جدایی په درد کښې یې ډیر اشعار ویلی وو. مګر مونږ ته صرف یو غزل پیدا لی دی چه یو بیت یې دادی:

خدایه دا شپه بد غم که رڼا شی په ما   که په مدام را باندی بل د غم اوری (۲)

منشی احمد جان: منشی احمد د دې دوري د وروستي برخې یو پیاوړی، نومیالی ادیب او د پښتو د ادب د آسمان یو روښان ستوری دی. وایی چه دی یو عالم او فاضل سړی وو او په پښتو کښې د یو فکر او مسلك خاوند و د منشی احمد شعر کم پیدا شوی دی مګر په نثر کښې یې ډیر آثار لري. دی د پښتو په نثر کښې د یو نوی طرز او سبك موجد او خوږ وونکی دی. دغه سبك چه د خوشحال په کورنی کښې جاری وو، هغه یې اصلاح کړی او خوندور کړی دی، د نثر ادبی مکتب له (۱۳۰۰ ھ) په خوند بوره کړی دی، په نثر کښې قوی لیکونکی او پوخ لیکوال دی. تاریخی قصی او داسی نور خوازه خوازه آثار یې پښتو ته وړاندی کړی دي لمړی کتاب یې چه د نوښو قصو مجموعه ده (ګنج پښتو) نومیږي بل یې له انګریزی څخه (د افغانستان تاریخ) په خوږه پښتو ترجمه کړی دی.

ددې کتاب نثر ډیر خوږ، د پښتو په محاوره برابر، په تول له معنی یو خوندور او صحیح نثر دی. له «تاریخ فرشته» څخه د سلطان محمود تاریخ هم ده. ترجمه ده د قصه خوانی «ګپ»

---

(۱) د سعادت خان یو زوی چه فتح محمد خان نومیږی اوس هم ژوندی او یو بیدار پښتون دی د خپلو نیکونو ډیر قیمتي آثار یې ساتلی دی.

(۲) دا اسدالله ـ سعادت خان ـ اکبر ـ اشرف اشعار په یو ناچاپي کتاب کښې پیدا شوي دي

او دغه «په نوم دوه نور کتابونه هم لري چه د«ير خوازه دلچسپ او د پښتو د پوخواړه نثر نمایندګي کوي، د ده نثر یوه ټوټه داده درخاني په سوات کښې د (بري بازدري) د يو طاوس خان نومي پښتون لوروه او د پايا وخان نومي يو پښتون هلك چغله وه يوه ورځ ددر خانۍ د ترور د لور واده ؤ په هغه کښې ئې د کوزې بازدرې، په يو آدم خان نومي خانزاده باندې سترګي خوږې شوې تپ له دواړه لاسه خيژرى هغه هم پرې زړه بايلود. دې اور داسې لمبه وکړه چه دواړه دخلاصېدو او د ميلمنو در خصتېدونه پس دواړو په لار کښې هرو مرو يو بل ته په غلاغلا کتل، ماسخوتن په حجره کښې چه آدم خان يوه ګوته رباب ووهلو نو يو سودا سو يلې ئې وکړه او مېرو بلو خپلو خوږو يارانو ته ئې د زړه حال ووې، دغه دامراد ؤ چه په دې شپه د آشنا ديدن ته لاړې (له قصه خواني ګپ شپه)

تبصره: خوازه عبارات، پر يکړي، لنډې لنډې جملې، ښه اداء، سلاست او رواني د لغاتو سوچه والي، د متلونو، اصطلاحاتو، محاورو استعمال ددې نثر مهم خصوصيات دي، په دې نثر کښې د ملي ژبې رنګ ښته او عبارتو ادبي خوږ والي ئې زيات دي.

نو په دې اعتبار منشي احمد ته په ۱٤ پېړۍ کښې د پښتو نثر د نوي طرز او سبك مؤسس وايو او د يو نوي ادبي مکتب خاوند ئې ګڼو.

مير احمدشاه رضواني: ددې دورې له وميالو اديبانو څخه يو قاضي مير احمد شاه رضواني دي، رضواني هم د پښتو ژبې يو پياوړى اديب، قوي او زبردست ليکوال دي، په نثر او نظم دواړو کښې لوى لاس لري. دى د پښتو متخصص او دا کثرو پښتو زده کوونکو د پښتو استاد و په انګريزي هم پوهېده او د «شمس العلما» لقب ئې حاصل کړى ؤ. رضواني په (۱۲۷۹ه) د پېښاور په (اکبر پوره) کښې زيږېدلى دى. ده په پښتو کښې مهم تاليفات کړي دي لوى خدمت ئې د پښتو ژبې يو ګرامر دى چه «وافيه» نومېږي او په اردو ئې ليکلى دى. دا کتاب د پير محمد د معرفت الافغاني څخه وروسته د پښتو اول ګرامر ګڼل کيږي دوه نور کتابونه ئې «شکرستان افغاني» او «بهارستان افغاني» نومېږي. دا دواړه کتابونه په تعليمي سلسله کښې داخل او د مکتبونو د پاره ليکل شوي دي. نظم او نثر دواړه لري، د ده خپل نثر او نظم هم پکښې شته، مګر اکثر انتخابات دي. سربېره پر دغو رضواني د شعر يو ديوان هم لري رضواني يو وېښ او بيدار شاعر دى، د قوم د بيدارۍ د پاره ئې ځينې انتباهي اشعار ويلي دي رضواني د پښتو په نثر کښې هم اوله درجه سړى دى. د ليکلو سبك ئې د منشي احمد د سبك پشان دى او دواړه ددې لارې قوي ملګري دي.

دده يو څو شعرونه دادي.

که معني هيڅ در نه کښې نه وي په خپل ځان | په نيکه په تير نيکه به نشي خان
اصالت په اهليت پورې اړيا قت دي | نه په دې چه فلانکي خان او فلانکي خان
که پښتون شي ګدا ګرد کل جهان | غيږ ئې تلې دد ودې دي تر يو نان
هسې ښه مهمان نواز ه خلك نشته | لکه خداى چه پيدا کړ دي افغان

❀ ❀ ❀

رضواني پرته له دې چه يو ښه عالم او فاضل ؤ، د پښتو فارسي او عربي يو منلى شوى شاعر او اديب هم ؤ. د رضواني د لوى نه لوى کار دا دى چه ده د «صوبه سرحد» د کا ا ❚ نو

په نصاب کښې پښتو ژبه هم شامله کړه او په وطن کښې ئې د پښتو د تعلیم او زده کړې روح پیدا کړه. دا رنګه د پنجاب په یو نیورسټۍ کښې ئې پښتو ژبه د نورو ژبو په قطار کښې ودروله او په دې وسیله ئې د پښتو د پاره یو جاودانی خدمت وکړ. رضوانی په عربی کښې هم ډېرې قصیدې لرې، او په فارسی ئې هم ښه اشعار ویلی دی. د کابل په صفت کښې وائی:

کابل ای آنکه همه لطاف و تماشا با تست　　وی که از هر طرف آمیزش دلها با تست

میر احمد شاه ډېر آثار و خاوند دی چه ټول ئې تقریباً (۲۰) ته رسیږی یو څو مشهور کتابونه ئې دا دی:

۱-جزری په پښتو نظم ۲- تاریخ کافرستان ۳- آثار قدیمه

۴-تاریخ افریدی ۵-سفر نامهٔ رضوانی ۶- مجربات رضوانی

۷تحقیق الالسنه ۸- دیوان و قصاید رضوانی

رضوانی د (۱۳۵۲ه) کال په رمضان کښې وفات شوی دی

احمد دین: یو طالب او شاعر دی، په اصل د اشنغر ؤ: خو زیاته استوګه ئې په سوات کښې وه په آخرو وختو کښې د خپل شاګرد (صحبت خان) سره په (مردان) کښې او سیده چه ښیا همدغلته وفات شو. دی په طالب احمد دین مشهور دی، غزلی او رباعی کانې ئې زیاتې مشهور دی دده د رباعیانو و غزلو د دیوان اول جلد څو کاله پخوا په پښور کښې چاپ شوی دی. ده په ملی وزن هم ښه اشعار ویلی دی اشعار ئې عشقی او اخلاقی دی. احمد دین د ۱٤ پیړۍ د اولی برخې شاعر ګڼل کیږی یو دوه بیتونه ئې دا دی:

د بلبلو بې دلانو آزار ما خله　　دا ګلزار که دې تن وی سبا به نوی

د لعلونو د مرجانو سوداګره　　خریدار که دې تن وی سبا به نه وی

ملا نعمت الله: د پښور د نوښار او سیدونکی ؤ، دی د پښتو یو زبردست شاعر او په قصو او افسانو کښې د استادی مقام لری. که څه هم د قصو لیکو سبک په پښتو کښې له ډېره وخته پیدا شوی دی او ډېر پخوا ئې چه د ډیمې دوری له اول څخه دا سبک جاری دی مګر نعمت الله د رومان نویسی سبک خپل لوړ مقام ته ورساوه، د یو مسلک په حیث ئې دالاری و نیوله او قصو او افسانو ته ئې یو څو ندورا و خوز رنګ ورکړ او په دې اعتبار ده ته موږ ددې دوری د افسانه نویسی استاد وایو. ده ډېرې عشقی او رزمی افسانې په پښتو نظم لیکلی دی، د سلاست، خوږ والی او روانی په لحاظ هره یوه شاهکار ګڼل کیږی. ده پرته له قصو څخه غزل او رباعی کانې هم ویلی دی مګر هغه مستقل صورت نه لری او ځای په ځای نشر شوی دی. دده افسانوی شعر ډېر روښانه او ویړ دی. دده قاعده ده چه د هر داستان په سر کښې یو څو بیته د تشبیب په ډول وائی چه ډېر ساحرانه کیف پکښې ایږدی وی مثلاً د لیلی او مجنون داستان

مشک افشان قلم زما لکه طوطی نن　　په چمن د عاشقی کوی مستی نن

په ورو ورو راته د عشق وایی بدلی　　تماشی ته را او چتی شوی بلبلی

په افسون چه کړی آغازه افسانه　　عندلیب شی ورته یو رته مستانه

د تقریر مارغه چه والوزی په باغ　　په دیدن ئې د لاله زړ ګی شی داغ

---

(۱) د کابل د مجلې په (۱۷۸) ګڼه کښې د سید عظیم شاه له مقالې څخه.

په فصحت چه نزاکت له خولی وباسی
له بوستانه بوراگان پسی راباسی

مؤرخ د تواریخو نکته سنج
بدیخا یکښې سپردی دبیان گنج

که ملا نعمت الله ته مو بز د پښتو فردوسی ووایو ، بیځایه به نوی !

ځکه که دده سره د فردوسی په شان نامه برخه هم د کوم سلطان مرسته وای ؛ نو اوس هغو نه به نی پښه اهدولی وای ، د ملا نعمت الله مشهور کتابونه چه چاپ شوی دی دادی : د لیلی او مجنون قصه ، د نیمبولا او تیمبولا قصه د فتح خان قصه د موسی او گلمکی قصه ، د حضرت علی جنگنامه د حاتم طائی قصه ، شاهنامه ، الف لیلی او داسی نور ، د ملا نعمت الله دژوند زیاته حصه د (۱۳۰۰ھ) نخخه راپدې خواده .

اوس د نیمبولا د قصی نخخه یوه نمونه وگوری ؛ .

باد شاهی چه دلمر لا لمه تر آسمانه
پر له پسی سپوږمی راوخته روښانه

راخر گنده هر یو ستوری په جلوه شه
نیمبولا ستی پسه هجر پسه لمبه شه

واوبلاداری ئې کړی دعشق له جوشه
گاه به وه په چغو سر گاه به خاموشه

یو گړی نې قراری د وجود نه ؤ
په هیڅ کار کښې دزړگی ئې بهبودنه ؤ

که قه چاتري د مرض وکړه یو ښته
چه دا شور فریاد کوی وایه له څه نه

ده به وی چه دامی رنگ بنکاریږی زرد
گله گله به ماوی د کړیدی درد

په داهسی لوی مرض په زړه چور چوریم
زه د کړیدی په مرض مدام رنځور یم

نه ئې شه آرام په ورځ نه په ملاستی
تصور به ز نګا وه د غم په ابا ستی

چه دعشق په دریاب کښې څوك لاهو شی
په جر له دعا شقی هله ها هو شی

چه له دې نه پری راغی احوال سخت
سر به ئې کښېنو د د غمونو په پالښت

چه دعشق سواره دچا په خونه زغاست شی
ای ملا نعمت الله کور ئې میراث شی

ملا احمد جان : د پښتو یو تکړه قصه لیکونکی شاعر دی د پېښور په (دواوه) ، کښې او سېده زیاتی قصی ئې په نظم لیکی دی ، ژوند ئې تر (۱۳۳۲ھ) پوری معلوم دی . د ملا نعمت الله په مکتب کښې یو نوی شړی دی ، دالاندی کتابونه ئې په نامه مشهور دی (دورقه گلشاه قصه د ممتاز قصه ، د شهزاده بهرام او گل اندامی قصه) .

دامیر حمزه داستان ، د شهزاده شیرویه قصه یوسف زلیخا ـ ملا احمد جان ځینی غزل او رباعی گانی هم لری دا بیت ئې وا ولی ؛ :

چه دې شمع دسپین مخ کړه ورته باله
احمد جان لکه پتنگ ورته تن ونیو

څوك سواره گرځی په اسو حکومت کا
څوك له بدی ورځی بل ته رکاب نیسی

احمد اخون خیل : د قصه لیکونکو په دله کښې دریږی ، « دامیر حمزه » داستان ئې په ډېر خوږ نظم لیکلی دی ، د (۱۲۰۰ھ) د شاوخوا شاعر معلومیږی په دوهم جلد پښتانه شعرا کښې ئې له دغه داستان نخخه یو څه بیتونه را نقل شوی دی ، یو بل کتاب ئې چه « قیامت نامه » نومیږی هم په نظم کړی دی ،

احمد دیجگی : په نام خلیل او د پېښور په (یجگی) کښې او سېده ، یو قصه لیکونکی شاعر دی . د « انیس الواعظین » په نامه ئې د پښتو په نظم په (۱۳۰۵) کښې یو کتاب لیکی دی ، یو بل کتاب ئې « د جمجمی قصه » ده او یو کتاب ئې « قصص الانبیاء » نومیږی دا بیتونه دده دی ؛

چه سحر بلبل آواز کا
دهجران له بابه ساز کا

فلك ځکه سر گردان شو
پیداغم کښې داجهان شو

میرمن (۱) صاحبو عاجزه: دا پښتنه میرمن د گل محمد بارکزي اور وه، د قندهار په اطرافو کښې اوسیده. ملي غزلي ئې ویلي دي، تر (۱۲۹۷) پورې ئې ژوند معلوم دی او څو پاټه کې ئې دا دی: پرخپل خدای به فریاد کړم عوض غواړم له باري ننګوم به کړندی

ما ویلي چلېګي (۲) زه خو راغلمه د شپې حاجت مې دی راوړی بخت غواړم پر تندی

ننګوم به کړندی

مولوی (۳) سیداحمد: مولوی سیداحمد د کوهاټ د یو مشهور ملا زوی و. ده د پښتو متلونو یوه مجموعه لیکلې ده. په دې مجموعه کښې (۶۷۹) متلونه د الفبا په ترتیب برابر ټول شوي او جمع شوي دي. دا کتاب د پادري هیوز د پاره (غلام جیلاني نامي په (۱۸۷۵ ع) کښې لیکلی و، چه د غه قلمي نسخه ئې اوس د لندن په موزیم کښې خوندي ده. د دې سنې له مخه د مولوی سیداحمد د ژوند زمانه او پاکاله د مخه د (۱۲۹۰ ه) پښاوخوا کښې معلومیږي. مولوی سیداحمد ځنې نور پښتو کتابونه هم لیکلي دي. دا کتاب غالباً د پښتو متلونو لومړی کتاب ګڼل کیږي.

میا احمد: (۴) دا سړی د مروجو علومو عالم او د پښتو ژبې یو ښه شاعر و. په احمد کلاچي مشهور دی. کورنۍ ئې د ډیره اسمعیل خان په کلاچي نومي کلي کښې موجوده ده. د د ۱۳۰۰ ه په حدودو کښې ژوند کاوه او د امیر دوست محمد خان د زامنو هم عصری دی په پښتو کښې د اشعارو یو دیوان لري، د ده په دیوان کښې رزمیه نظمونه رباعیګانې، چاربیتي، غزلي او نور هر ډول خوندور اشعار شته.

د ده د دیوان یوه نسخه چه د ده په خپل خط ده د پېښور د اسلامي کالج په کتاب خانه کښې خوندي ده. د احمد دیوان چاپ شوی هم دی او (۱۰۴) مخه دی.

د یوې چاربیتي سر ئې دا دی:

بیا شکلي محبوبا شوه آراسته چشماني توري — راځي په سر و منګولو
له خیاله ئې شانه کړي په مخ زلفي دوري دوري — که لښتي د سنبلو

سید محمد عمر: (۵) دا سړی د پېښور په (کوټه نومي ځای کښې اوسیده ده د «ګلشن اشعار افغاني» په نامه د پښتو شاعرانو د اشعارو یوه مجموعه ټوله کړې ده. دا کتاب عشقي غزلي چاربیتي او نور اشعار لري، په دې کتاب کښې د هر شاعر د شعر سره د هغه مختصر حال هم په پښتو نثر لیکل شوی دی. نو ویلای شو چه دا کتاب د پښتو شاعرانو یوه مختصره تذکره هم ده. د دې کتاب یوه نسخه د اسلامیه کالج په لایبریرۍ کښې شته. په خپل سید عمر هم شاعر و. او ښایي چه خپل اشعار ئې هم په دغه کتاب کښې راوړي وي.

غلام محمد خان خټک: د خان فتح زوی او د جهانګیری کلي د خټکو د کورنۍ یو مشهور شاعر و، په پښتو فارسي او اردو ژبو کښې ئې اشعار ویلي دي د ده د مرګ نه پس د ده د کلام څه برخه د (رموز خټک) په نامه محمد زمان خان خټک طبع کړې دی چه د پښتو او د دواو فارسي د پرخوند

---

(۱) پښتنې میرمنې (۱۲) یو زیارت دی (۳) فهرست بلومهارت

(۴) (۵) فهرست مولوی عبدالرحیم.

ناك اشعار لري.

(۱) امیر علیخان: د جهانګیرۍ په حسن خیلو کښې یو ښه ادیب او شاعر وه له ده څخه له قلمي کتابو نه پاته شوي دي او دادي:

۱- زړه خوږی مسلمان په نظم ۲. کچکول د امام وردي «رح» د قصیدې ترجمه او شرح ده ۳- د اخوان الصفا په نظم او نثر پښتو ترجمه ده (۳۳۷ مخه) ۴- سحر ني ستوري ۵- مقامات امیر د پښتو محاوراتو او لغاتو خزانه ده ۶- ښې خبرې له عربي څخه ترجمه ده ۷- سرحدي ګل ۸- خوږه وروولي دامیر یو څو اشعار دادي (۲):

دو دسته سلام جانان ته په سبا د سحر وایه — د زخمي زړه ارما نونه د وفا په نظر وایه

د زمزم یوه څاڅکي جام لبریز دي ما دپاره — لا به ولي زما تشې ای ساقي د کوثر وایه

علامه ما تول علمو نه د عرفان به نور نثار کړل — ته ترعمره له استاذه سبق زیدا و بکر وایه

محمد رفیق شمس الفلك: (۳) دا سړی د (مجموعه دیوان شمس الفلك) په نامه یو ښه اثر لري. دا مجموعه درې برخې ده. اوله برخه د اخلاقو بیان دی.

دوهمه برخه په پښتو کښې د قصیده اما لي شرح ده دریمه حصه خالص غزلیات دي محمد رفیق اول د پېښور په (اکبرپوره) کښې اوسیده. بیا (مردان) ته ولاړ.

یو عالم او شاعر سړی و. مولوي عبدالرحیم په خپل فهرست کښې لیکي چه دده کلام یوځ اوقوي دی او دغه مجموعه ئې د پښتو ادب یو قابل قدر کتاب دی» محمد رفیق دامیر عبدالرحمن خان په وخت کښې کابل ته راغلی و. او امیر دده د علم او ښې طبع یو ډېر قدر کړی و دی تر (۱۳۳۶ ه) څخه د مخه وفات شوی دی دده دغه دیوان نه دی چاپ شوی مګر یو قلمي نسخه ئې په اسلامیه کالج کښې موجوده ده.

نعمان الدين احمد: دی د پېښاور د (سرې ډېرۍ) کاکاخېل میا دی. یو یوه او بیدار سړی و د پښتو ژبې سره ئې ډېره مینه لرله. ده د پښتو کتابو نو د چاپولو او لیکلو دپاره ډېر کوششونه کړي دي. دی په خپله هم په پښتو کښې د تالیفاتو خاوند دی.

یو کتاب ئې (ظفر النسا) نومیږي چه د ښځو د ښوونې دپاره ئې لیکلی او په (۱۳۲۲ ه) کال په هند کښې چاپ شوی دی. دا رنګه د (ابن بطوطه سفرنامه ئې هم په پښتو ترجمه کړه ده مګر دا مهم اثر ئې مونږ نه دی لیدلی.

د نعمان الدین په کورنۍ او ټبر کښې نورهم د پښتو لیکوال شته دده ښځه هم په پښتو کښې د (زینت النساء) په نامه یو کتاب لري.

مشیر الدین: دا سړی د دغه نعمان الدین کاکاخېل ترور و په اخلاق کښې ئې و د (مشیر الاخلاق په نامه یو کتاب جوړ کړی دی او لکه چه چاپ شوی هم وي

دده یو بل کتاب (تاریخ برامکه افغاني) نومیږي.

محمد یوسف میا: دا شنغرد (سرې ډېرۍ) کاکاخېل میا دی. چه د نعمان الدین احمد خوریی و ده د نذیر احمد یو کتاب په ژبه پښتو به ترجمه کړی دی چه د «توبة النصوح» نومیږي

---

(۱) (۲-) د کابل د مجلې په (۱۷۹) ګڼه کښې د محمد اجمل خټك له مقالې څخه

(۳) (٤) د مولوي عبدالرحیم فهرست.

دا کتاب په (۱۳۲۲ هـ) کښې چاپ شوی دی ددې کتاب یوه چاپي نسخه د اسلامیه کالج په کتابخانه کښې شته مولوي عبدالرحیم په خپل فهرست کښې لیکي «چه ددې کتاب ژبه پاکه او فصیحه ده، او په نثر کښې د پښتو ادب یوه غوره نمونه ده» ددې سړي په باب کښې مونږ له دینه زیات څه معلومات نه لرو مګر د مفتي عبدالرحیم په قول، دی د پښتو یو غوره نثر لیکونکی ګڼل کېږي

حسیب ګل میا: دا سړی د کاکا صاحب د زیارت او سېدونکی او یو شاعر او عالم سړی و. دی د (۱۳۰۰ هـ) وروسته وفات شوی دی. ده په پښتو کښې ډېر کتابونه لیکلي او ترجمه کړي دي چه څه ئې دا دي. ۱- «د اصحاب کهف قصه» چه دافع الغم نومېږي.

۲- «عجیب وغریب قصه» ۳- د شمس وقمر قصه چه له فارسي نه ترجمه ده.

۴- «ګلدسته حکایات» چه له اردو نه ترجمه ده ۵- «زاد الفرح» د مفرح القلوب ترجمه ده

۶- «بیاض» په دغو ټولو کتابو کښې ئې «بیاض» یو مهم کتاب دی. دا بیاض (۵۰۰) صفحې دی او د پښتو او فارسي اشعار لري چه څه د میا صاحب خپل او څه د نورو شاعرانو چون شوي اشعار دي. غرض دا چه د حسیب ګل میا بیاض په پښتو ادب کښې یو قیمتي کتاب دی او د ډېرو پښتنو شاعرانو نومونه او د کلام نمونې ئې را ساتلي دي.

یو ډله نامشهور شاعران

د حسیب ګل میا په بیاض کښې د ځینو مشهورو شاعرانو اشعار هم شته لکه رحمان- حمید خوشحال هجري- کامګار- یونس- سکندر او نور مګر مهمه خبره دا ده چه د ځینو داسې شاعرانو نومونه او د کلام نمونې هم پکښې راغلي دي چه هغه تر اوسه مونږ ته معلوم نه وو نو دادي د دغو شاعرانو نومونه په لاندې ډول ښودل کېږي:

معطر- نجیب- عبدالوهاب- سید- آدم- رشید علي جنګ- نادر- احسن- شاه غریب شمشیر- نور محمد شمس الدین- طالب شاه- خادم- مزین- مسعود- میا نګل (۱)

ددې دورې د ځینو نورو شاعرانو نومونه

وروسته مونږ د هغو شاعرانو نومونه او آثار ښیو، چه د هغوی آثار، کتابونه او یا اشعار پیدا شوي دي دا شاعران چه وروسته بیانېږي ټول د څلورمې دورې شاعران دي په دوی کښې څوک قصه لیکونکي څوک دیوان والا او څوک رزمي او عشقي شاعران دي د اختصار په غرض ئې زیات تفصیل نشو کولی- تش نمونه ئې ښوول کېږي:

د قصه لیکونکو له: حسن د ګلزار حیدري لیکونکی قاضي عبدالرحمن د افسانه دلپذیر لیکونکی (په قام بابوزی او د سوات دی) عجب خان د پېښور د چګې دی یوه قصه ئې په نظم کړې ده او مناقب غوث پاک ئې هم لیکلي دي. بوعلیشاه، د مناقب الاعظم او د فرعون د قصې لیکونکی فضل ربي، یوه قصه ئې لیکلې ده ابراهیم شاه. د (قصهٔ ترابان) لیکونکی سید حسین، د جنګنامه

---

(۱) د بیاض نسخه ښاغلي محمد عبدالقدوس لیدلی ده او دغه ټول معلومات د هغه په قلم د «پښتون» په مجله کښې نشر شوي دي. (د ۱۷ نومبر ۱۹۴۵ ع شماره)

حسنین لیکونکی جلالتخان ـ یوه قصه لری رحمت ـ جنگنامه ئي لیکلی ده امان گوجراتی سفیدشاه عبدالکریم د محبوبا او جلات د قصی لیکوال ـ محمد حنیفه د حسن حسین قصه ئي د پښتو په نیم منظوم نثر لیکلی ده حیدرخان د حاتم طائی د قصی لیکونکی خالد ـ د سلطان محمود قصه ئي لیکلی ده ، عبدالغفار « تایب » د (محبوبه شام) او عجایب جهان او نور و کتابو جوړوونکی ،

د دیوان والاو د له : شاه افضل محی الدین ـ قلمی اشعار لری ـ عبد العزیز (۱) قلمی دیوان لری یار محمد د دیوان خاوند دی فیض الله (د قندهار دی) عبیدالله (د ننگرهار دی) عبدالعزیز معلم د پېښور دی فضل شاه دیوان لری ـ

دیني لیکونکی : مولوی حمیدالله د راحت القلوب لیکونکی ـ محب الدین د پښتو قصیدهٔ بردی لیکونکی ملا شرف د پښتو قصیدهٔ بر دی لیکونکی ـ عبدالکبیر د معجزاتو کتاب ئي لیکلی دی گل محمد ضابطه میراث جوړوونکی محمد یار صاحبزاده د کلات توخی د قطب شاه کیمیای سعادت لیکونکی عبدالرحیم د قایق الاخبار ئي لیکلی دی په دی ډول نور « د یني او قصی کتابونه هم ډېر دی چه ټول د لته نشو بیانولای لکه هزار مسایل حقیقت اسلام او داسی نور دی کتابو یو لست ښاغلی « زمریالی » د ۱۳۱۸ په کال سالنامه کښی نشر کړی دی البته چه هلته ئي کتلای شی

ملی شاعران چه عشقی او نور اشعار لری :

ملا محمد کرم د اسړی د عبدالله محزون استاد ؤ او هغه د شاعرانو په ډله کښی ذکر کړی دی محمد کریم ـ حاجی اختر ملا عبدالرحمن ـ حلیم بابا ـ سید کرم شاه غلام صدیق عبدالسلام قندهاری طالب ـ ملا خواجه محمد ـ ملا حفیظ ـ ملا بازمحمد ـ ملا ظر ـ سید محمود ـ امیر جمال الدین ـ ملا عبدالعلی د دی شاعرانو اشعار په « بهار جانان » کښی راغلی دی او ټول د قندهار د خوا و دی

گل احمد ـ سید میر ـ سعدالدین ـ زین الدین ـ محمد رفیق ـ داراشاه ـ اسلم شاه ـ خدابخش ـ اکرم خان ـ قمرالدین ، اعظم الدین ـ میرزا محمد د دی اسو تنو اشعار په بهار نوروزی کښی شته او ټول د پېښور د خوا معلو میږی.

سحر گل ـ د ننگرهار میا گل د باجوړ غریبی ، د ننگرهار د بټی کوټ مخی د (ننگرهار) معروف شاه ـ میرباش محمد شریف (د لعلپوری) پاچا گل د پېښور زاهد خان محمد حسن (د میمونی چار بیته ئي لیکلی ده) سید عباس ـ میر دل ـ غلام محمد د دو وای ـ زهین ـ سلطان ـ رمضان ـ فضل رحمان ـ (د پېښور دی) یعقوب (د لغمان) ملنگ ـ میر حضرت ـ مطهر ـ آزات خان مسکین ـ محمد میر ـ سکندر شاه ـ جمع خان د کامی ـ تسلیم د هزار ناو رستم د کونړ ـ بهرامی د تنگاو گل د چپرهار ـ یادونه په دی ډول نور هم د چار بیتو او غزلو شاعران ډېر دی ، چه ټولو بیان دلته گران دی .

---

(۱) عبدالعزیز او یار محمد د قندهار د خوا و روستنی شاعران دی تر (۱۳۵۰ ه) شاید ژوندی وو دیوانونه ئي په پښتو ټولنه کښی شته .

په دې دوره کښې د پښتو ځينې نور کتابونه

ترانهٔ محفل: (۱) يو پښتو کتاب دی. د پېښور د اسلاميه کالج په کتابخانه کښې ئې نسخه شته دا کتاب په ۱۳۳۶ هـ کښې د مخه ليکل شوی دی، او غالباً په دا ده چه نظم به وي مگر مصنف ئې معلوم نه دی.

شوکت افغانی: (۲) دا هم د پښتو يو کتاب دی چه د اسلامي کالج په کتابخانه کښې ئې نسخه موجوده ده، مگر ليکونکی ئې نامعلوم دی.

عنوان النصايح: (۳) دا کتاب «اخلاق محسني» پښتو ترجمه ده. خو مترجم ئې معلوم نه دی. يوه نسخه ئې د اسلاميه کالج د کتابخانې په فهرست کښې ذکر شوې ده.

زينت النساء: دا کتاب د نعمان الدين کاکا خيلي ماينې جوړ کړی دی.

زمار سول پاك: دا کتاب «د پيغمبر اسلام» د کتاب پښتو ترجمه ده چه په (۱۳۴۸هـ) په لاهور کښې چاپ شوی دی. مگر مترجم ئې نامعلوم دی.

د دې دورې عالمان بزرگان او ځينې نور اديبان

په هره دوره کښې ځينې پښتانه عالمان او مشران او دفکر خاوندان وي، چه د هغوی حيات او ژوندو د هغوی کارنامې او وينا وې د پښتو په ادب کښې ضرور څه نه څه تاثير لري، نو په دې اعتبار نبايې چه د دې دورې عالمان او اوادیبان هم څو مره چه معلوم دي بيان کړو.

د سوات عبدالغفور صاحب: په قام صافي او د ۱۳ پېړۍ يو لوی عالم روحانی بزرگوار شخص دی، دی په (۱۲۱۳هـ) په سوات کښې زېږېدلی او بيا په (۱۸۷۷ع) کښې وفات شوی دی، (٤) ده د فيض او برکت په توله پښتو نخوا کښې خور شوی او ډېر خلق ورنه مستفيد شوي دي. سوات صاحب يو لوی مجاهد او غازی سړی ؤ. د پښتو ډېرو شاعرانو لکه بابا، ولي محمد او نوردده دغزاگانو په بيان کښې خوازه خوانږه اشعار ويلي دي سوات صاحب د ټولو پښتو د پاره د دين يوه رڼا وه چه په دغه رڼا کښې ډېرو خلکو خيلې ورکې لارې موندلي دي، په شريعت پابند او يو لوی روحانی پښتون ؤ. د قوم د اصلاح د پاره د ده وجود کيميا وه ده په مريدانو کښې هم ډېر لوی لوی خلق لکه هډې صاحب، د مسې صاحبزاده صاحب، د کربوغې ملا صاحب، مانړکي ملا صاحب او داسې نور خلك شته. وايي چه سوات صاحب د مثنوي په ډول په پښتو يو مناجات هم ليکلی ؤ. مگر له بده مرغه چه د دې لوی پښتون پيشوا اشعار مولاس ته نه دي را رسيدلي. د ده مزار د سوات په (سيدوشريف) کښې دی.

فيض محمد اخوندزاده: د لوگرد مسې په صاحبزاده صاحب مشهور او يو عالم، فاضل سړی و د طريقت سلسله ئې چلوله. سوات صاحب ئې مرشد او استاذ و. دی د امير شيرعليخان په وخت کښې ژوندون اشو د هغه معاصر دی. دی يو ښه عالم، مجاهد او روحانی سړی و.

فيض محمد اخوند زاده هر کله چه د خپل پير په افکار و رنگ و نو په ۱۲۹۳هـ کال ئې د (روضة المجاهدين) په نامه په پښتو مثنوي يو کتاب وليکه، دا کتاب ټول د جهاد په روح

---

(۱) (۲) (۳) فهرست عبدالرحيم. (٤) تاريخ رياست سوات.

لیکلی شویدی او د استقلال د ساتلو یو لوی درس دی چه په پښتو کښې خورا قیمتی کتاب گڼل کیږی (۱) په دی کتاب کښې ځینی ښه اخلاقی او تبلیغی مضامین هم شته، د ملت دیو والی او د پښتو د اتفاق تبلیغ کوی لکه چه وایي:

همه وا ړه یو وجود شی. په طلب کښې د مقصود شی.

دده شعر عالمانه او روان دی، د بر قرآنی مضامین ئې په پښتو شعر کښې بیان کړی دی ځای په ځای د مسلمانانو دپاره د عسکریت او تور کښې ښیگړی بیانوی، په یو ځای کښې ئې هغه صفات او اخلاق چه یو مسلمان عسکری مشر او سر لښکر دپاره لازم دی ښودلی دی چه د لته ئې دده د کلام په نمونه کښې رواړو:

په لښکر کښې چه افسر وی
می باید چه دلاور وی

شجاعت اری کرار وی
په صفونو کښې جرار وی

هم عاقل او مدبر وی
ښه دیندار مذکر وی

دلسوزی اری ناصح وی
هم انصاف اری صالح وی

سخاوت اری ښه دا دکا
له لښکر سره امداد کا

چست چالاک وی ثقیل نه وی
هم ظالم او بخیل نه وی

کبرجن او جاهل نه وی
بد کرداره غافل نه وی

له لښکره باخبر وی
په خپل کار کښې با هنر وی

ستمگاره بد خوی نه وی
هم پوچ خولی بد گوی نه وی

تېښته نه کاندی صابر وی
په نعمت د رب شاکر وی

له سلطانه طاغی نه وی
له الله نه باغی نه وی

د پادشاه په خدمت راست وی
د الله په طاعت راست وی

نه شرابخوری نه زانی وی
نه رشوت خوری نمجانی وی

حکومت ئې سرا سر
په کتاب وی برابر

داسی نه چه دو لت ټول کړه
دی خپل ځان ورباندی موړ کړه

عالم واړه درپه درکا
خپل مخ تور، خاوری په سر کړه

نجم الدین اخوندزاده: په هډې صاحب مشهوردی. یو روحانی سړی و، د سوات صاحب مرید او دهغه په مریدانو کښې دزیات شهرت خاوندی. هډې صاحب هم لکه د خپل پیر دیو لوی مجاهد او غازی په نامه یادیږی ټول افغانستان یې له فیضه بهره موندلی ده لکه چه د تگاو ملا صاحب د بتخاک حضرت صاحب، دشنوار وصوفی عالم گل صاحب، د سرکانو میا صاحب، د ترنگزو حاجی صاحب، د چکنور ملا صاحب، د اسلامپور پاچا صاحب او داسی نور یې مشهور او نوموړی مریدان دی. هډې صاحب په اصل د شلگرو، د کابل په تندر سازی کښې هم څه مده اوسیدلی دی بیا د جلال آباد په (هډه) کښې اوسیده، چه هم هلته د (۱۳۱۹ه)

---

(۱) ددې کتاب یو نسخه چه د رمضان نامی لغمانی په خط په (۱۳۳۷ه) کښې لیکل شوی ده ما لیدلی ده. (رشتین)

په حدودو کښې وفات او مزار یې اوس د خاصو او عامو خلکو مرجع دی. هډې صاحب یو ښه کره عالم ؤ، یوه لویه کتابخانه ورڅخه پاته ده مگر د پښتو یا په کوم بل اثر یې علم نه لرو.

د هډې صاحب جهادونه او کارنامې هم په ملي چاربیتو کښې ستایل شوي دي.

مانکي ملا صاحب: دی شیخ عبدالوهاب نومېده، یو مشهور روحاني سړی او د سوات صاحب خلیفه او مأذون وو، او ډېر مریدان یې درلودل، ده د هډې صاحب سره ځینې بحثونه او مناظرې درلودې. په دې بحثونو کښې د دې مریدانو څخه قدر افراطونه کړي دي؛ چه هغه له اصلي مقصد څخه ډېر لیرې ښکاري.

ملا صاحب په پښتو نثر کښې د (عقاید المؤمنین) په نامه یوه وړوکې رساله هم لري چه په دې جملو شروع کیږي «که چادرنه پوښتنه وکړه چه بنده دچا یې ورته وایه چه بنده د الله تعالی یم چه یو دی شریك نه لري ځمکې او اسمانونه ئې پیدا کړي دي ټول مخلوقات ئې پیدا کړي دي زه ئې هم پیدا کړی یم»

ملا صاحب په (۱۳۲۲ھ) کال کښې وفات شوی دی.

کجوري ملا صاحب: د ده نوم صیام الدین او د کجوري په ملا صاحب مشهور و چه د لغمان په (کنړ) کښې اوسېده. یو متصوف عالم سړی و او د هډې صاحب د طریقې په سلسله کښې داخل و ملا صاحب په پښتو او فارسي کښې اشعار هم ویل. شعري تخلص یې «واعظ» و، وایي چه د ده په کتابخانه کښې ډېر پښتو او فارسي دیوانونه موجود دي. ده په پښتو کښې د رحمان بابا اشعار ډېر خوښول. د مرگ ئې تقریباً دیرش کاله کیږي. دا د وه بیته ئې ووایي:

مونځ هغه دی چه معنی ته یې حضور وي | لکه داچه یې له خدای سره مذکور وي
هم یې ښه قیام قعود په ښه شعور وي | چه دا نه وي ښکته پورته به تش تور ځي

ملا مشك عالم: اصل نوم یې دین محمد او په «مشك عالم» مشهور، په قام اندړ، او یو مشهور مجاهد او غازي سړی دی د (۱۲۹۶ھ) کال په غزا کښې یې ښه ښه خدمتونه کړي دي وایي چه دی هم د سوات صاحب له مریدانو څخه دی. استوگنه یې (شلگر) کښې وه داسې مو اوریدلي دي چه په عربي کښې یې ځینې فوره آثار هم درلودل. غرض داچه یو لوی پښتون عالم او روحاني سړی ؤ؛ چه د وطن په ملي خدمتونو کښې یې پوره برخه اخستې. د ده دی هم په ملي چاربیتو کښې ډېر ستایل شوي دي.

قاضي عبدالقادر پشاوري: (۱) په قام یوسف زی او د قاضي فضل قادر زوی و. په خپل وخت کښې یو زبردست فاضل عالم او د پوهې و فکر خاوند بلل کیږي، ده په پښتو، انگریزي، فارسي او اردو ژبو کښې ښه مهارت درلود او په دې ټولو کښې ښه لیکونکی و. د امیر شیر علیخان مصاحب، عسکري منشي، او د هغه له خوا (ښوونکی) په لقب سرفراز و. د هغه وخت د ټولو شاهي لښکرو د معلمیې رتبه یې لرله. دا سړی د امیر شیر علیخان د دورې په علمي او ادبي بیدارۍ او د پښتو ژبې د ژوند په نهضت کښې لویه برخه لري، خصوصاً د عسکرو د تعلیم او پوهې د پاره یې ډېر خدمتونه کړي دي او په دې مقصد یې ډېر انگریزي کتابونه او انگریزي قوماندې په ډېره خوږه او درنه ژبه په پښتو ترجمه کړي دي. د دغه وخت اکثر عسکري

---

(۱) د آریانا مجله شماره ۳ سال ۲

Marfat.com

کتابونه یا دده تالیفات دي او یا دده په نظریه او اصلاح جوړ شوي دي. په (شمس النهار) کښې یې ډېرې خطابې او وعظونه ښته، لنډه دا چه ده په دغه وخت کښې د عسکرو او خاص بیا د پښتو د پاره زیات خدمت کړی دی، وایي چه څو جلده عسکري کتابونه، بولۍ او عسکري اصطلاحات یې په پښتو کړي وو، مګر له بده مرغه چه هغه آثار اوس ورك او بې پتې دي.

صرف یو کتاب یې چه د پیاده د قواعدو او قوماندو په باب کښې دی موجود دی، د نمونې په ډول یې یو څو مثالونه دلته راوړو او مړي کاردلاس - ورو قدم - قدم اوږد پښه په ځای ورو تنګ جوړول د دالګۍ په یوستي صف - دریږ قدم لنډ قدم پشایه ورو ژر قدم. ګرز پدل په وقت د تنګ - سم ودرېدل په وقت دودربد وتنګ په خبر ګی - زنګون کېږد - یو قدم پشا.

سید جمال الدین افغان د دې دورې له نومړو خلکو او پوهانو څخه یو سید جمال الدین دی چه په هر ځای کښې یې د کمال او لوبې آوازې خور دی دا د اسلام نابغه د مشرق نمر او اتل د افغانستان په تاریخ کښې لوړ مقام لري دده د عالي افکار رڼا په هر ځای خوره او هر چېرې ترې خلق مستفید شوي دي. سید د کونړ له سیدانو څخه دی ده په کابل او هند کښې تحصیلات کړي دي او مړی د امیر دوست محمد خان په دربار خلقو کښې داخل و بیا د امیر محمد اعظم خان په زمانه کښې وزیر او د امیر شیر علیخان په وخت کښې هم لوی کاردار و د وطن د ترقي د علم او پوهې د زیاتوالي په باب کښې یې ښه ښه پروګرامونه جوړ کړي او د بادشاه حضور ته یې وړاندې کړي وو. چه د امیر شیر علیخان د وخت زیات اصلاحات ورته راجع کېږي سید بیا خارج ته ولاړ - په هند، مصر، ایران، عربستان، ترکیه، روسیه، فرانس او انګلستان کښې وګرځېد او په هر ځای کښې یې د خپلو افکارو له تبلیغ څخه خلق مستفید کړل، مسلمانانو ته یې د بیدارۍ چغې وکړې، په مصر کښې یې نوی روح ور یو که، ترکان یې وخوځول، د هند غوږونه یې ویښ کړل، په ایران کښې یې د خپل هیبت او دبدبې آوازه خوره کړه جریدې او مجلې یې جوړې کړې او په دې صورت یې د خپل مسلك په خپرو او شروع وکړه. سید په درسته دنیا کښې د یو بیدار باعزم سپېڅلي اوصاف پښتون په نامه معرفي شو مګر عمر ور سره وفا ونکړ او د خپل پاك مقصد یعني د اسلام د یووالي په لاره کښې په (۱۳۱۴) کال په ترکیه کښې وفات شو، چه آخر بس له (۴۷) کالو څخه ددہ تابوت او مړی د ۱۳۲۳ ش کال د جدي په ۱۰ له ترکیې څخه کابل ته راوړل شو او دلته د خپل وطن په خاوره کښې مدفون شو، د سید په مشهورو آثارو کښې یو (تتمة البیان فی تاریخ الافغان) دی نور مستقل آثار د پرښته دي په ډېرو ژبو لکه پښتو فارسي ترکي عربي او فرانسوي پوهېده او په دې حصه کښې یې ښه شهرت پیدا کړی و.

حاجي محمد اکبر، په قوم هوتك او د قندهار یو معروف سړی دی چه د امیر شیر علي خان په زمانه کې ژوندی او د پوهې او ادبي ذوق خاوند و د (۱۲۹۸ هق) په حدودو کښې له وطنه فرار شو او بېرته د (۱۳۰۴ هق) په خواوشا کښې قندهار ته راغی او هورې وفات شوی دی ده په پښتو شعر کې ښه طبع درلوده او ځینې اشعار یې پاته دي چه له هغو څخه یوه پښتو منظومه عریضه ده چه د امیر عبدالرحمن خان حضور ته یې لیکلې وه ده د پښتو د کتابونو یو کتابخانه درلوده او د پښتو خزانې قلمي نسخه هم دده په خواهش په (۱۳۰۳ هـ ق) کې نقل شوې ده چه د دغه نسخې له رویه دغه د پښتو ادب مهم کتاب په کابل کښې چاپ شو.

Marfat.com

ملا غلام جان: دلغمان و، دامیر عبدالرحمن خان ددربار پښتون لیکوال او په هغه عصر کی ژوندی و، دده له پښتو آثارو څخه دهغه عصر دوه منثور کتابونه دی چه یو دامیر عبدالرحمن خان سوال وجواب دولتی او بل دده نصیحت نامه ده چه دواړه دغه مرحوم لیکوال په پښتو ترجمه کړی او چاپ شوی دی

غلام محی الدین افغان

د پښتو د ادب تاریخ ۱۳۲ مخ

مولوی عبدالرؤف.(۱) دامیر حبیب الله خان دزمانی او هغه ددرباریو پښتون عالم او دعلامه حبیب الله کاکړ نمسی دی په عربی او فارسی کښی آثار اری. دقرآن حافظ هم و او په ادبیاتو کښی ئې ښه دسترس درلود ده تفسیر افغانی په نامه پښتو یو تفسیر شروع کړی و خو نا تمام تحینی پاته شوی دی یو کتاب ئې د کشکول په نامه هم لیکلی دی چه د متفرقو مضامینو مجموعه ده او پښتو برخه هم اری دی په (۱۳۲۳ ه) کښی وفات شوی دی ، دا مرحوم په (۱۳۲۳ ق) دسراج الاخبار لومړی موسس او مدیرو.

غلام محی الدین ، افغان ، اصلاً دقندهار او یو پښتون لیکوال او یوه سړی و تحصیل ئې د پښتو ژبه علاوه کړی دی د امیر حبیب الله خان په عصر کښې ئې ژوند کاوه ، په (سراج الاخبار) کښې ئې ځینې پښتو اشعار نشر شوی دی له اشعارو څخه ئې معلومیږی چه دی یو روڼ فکره ویش پښتون او د یو درد من زړه خاوند و.

افغان دامیر حبیب الله خان په وخت کښی ددار المعلمین مدیر هم ټاکل شوی و دی د پښتو ژبی دژوندانه په تحریك کښی لمړی حقدار ګڼل کیږی دی په (۱۳۳۹ ه) کال وفات شوی دی دده په کلام کښی اصلاحی او انتقادی افکار او د وطن د مینی جذبه لیدل کیږی دادوه بیته یې واوری!

زړه زما ډك دی له مینی دوطن	خپل وطن ما ته عزیز دی له خپل تن
چه دچا په سر سودا دوطن نه وی	سر د ده دی مستحق د بریدن

دافغان د کمال او علم په باب هم یو څو ښه شعرونه ویلی دی:

بی کمال دبا کمال کله همسر دی	هم قیمت کله ګوهر سره حجر دی

---

(۱) سراج الاخبار ۵ کال.

با کمال سړی په مثل د پاد شاه دی
په ظاهره که مفلس او قلندر دی
که لباس د بې کماله وی د زر بفتو
دا بې ځل دی د حریر و هغه خر دی
که لباس د با کمال وی د کرباسو
کمال ده لره خلعت دی هم زیور دی
څوک چه نه لری کمال و اوره افغانه
که غني وی لا خو تا نه مفلس تر دی

افغان یوه ټوټه هم نثر د نمونی په ډول ور وسته و کوری، دا نثر د مفهوم په لحاظ یو خور اقیمتی شی دی. چه د یو پښتون د پښتنی احساساتو رښتیانی نمایندگی کوی، او په سراج الاخبار کښی دا اعلان په ډول نشر شوی و:

اول مقصد مو دا اعلان دادی چه زمونږ مبارکه ژبه رواج پیدا کی او هر څوک دی د نثر فی د پښتو ښه ښه مضامین و لیکی او په واسطه د دی اعلان ټولو پښتنو ته خبر ورکوم که څوک زما او یا و بل چاته د پښتو په مضامینو باندی څه ایراد لری هغه دی خپله مدعا په پښتو کښی و لیکی او د سراج الاخبار مدیر صاحب ته دی راولیږی.

که بنده د هغه له جوابه عاجز شې، هغه ته به (۵۰) روپۍ په طور د انعام ورکړم او وعده هم شپږ میاشتی ده (۱)

مولوی عبدالواسع: د ۱٤ پېړی د اوائلو له مشهورو علماؤ نو څخه دی تر ۱۳۳۷ وسته د «پښتو مرکی» مشر و، په فارسی ئې څېنې کتابونه لیکلی دی د پښتو مرکی د پښتو گرامر او د لغاتو کتاب د ده په تصویب او لاس لیک نشر شوی دی او په لیکلو کښې به ئې هم شریک وی دی خورا لوی عالم او په پښتو او پارسی او عربی کی لیکوال او شاعرو، په خپل وخت ئی د پښتو په خدمت کښې ښه برخه اخستی ده. او د پښتو د یوی لمړنی رسمی او ادبی مرکی د مشری واگی ئې په لاس وې. دی به (۱۳۰۸ ش) په کابل کی د بچه سقو په امر وژل شوی دی د ده له پښتو آثارو څخه یو پښتو تفسیر شته، او هم یو ئې کتاب حکمت اسلامی په فارسی کښلی دی

محمد زمان خان: د سردار غلام محمد خان طرزی زوی او د پښتو مرکی اول عضوؤ د پښتو مرکی د لغاتو» او یو از ښی پښتو کتاب ئې په (۱۳۱٤ ه) کال په لاس لیک چاپ شوی دی. شاید په لیکلو کښې ئې هم برخه واری

عبدالوهاب: د پښتو په مرکه» کښې رکن او ترجمان و، په کامه کښې ئې استوگنه کوله دی هم د «پښتو مرکی» د کتابونو په لیکلو کښی شریک معلومیږی د پورته دری تنو شاغلو د نثر په نمونه کښې له یوازنی پښتو څخه دا یوه ټوټه را اخلو

«پښتون ای زما مین ورو ره! بویه چه کښېږ د خو به ویش شی، او د سو کی بیا لمونځ په لمونځی کښې و کی. د مورا و پلار او د ښو ونکی او د مشرانو مخوری و غواړی و پښتان مخ او نوری سپېڅلی و ساتی او لوستلی ته چه ځی په لار کښې خړی (۲) پازی و نه کی» دا نثر ځکه چه تعلیمی دی نو جملی یې وړې وړې دی او بیه د و د «معرفة الافغانی» نثر ته ورته دی، سو چه او خالصه پښتو ده او پردی الفاظ نه لری.

مولوی تاج محمد: د خپل وخت یو پیاوړی او زبردست عالم دی چه په مهتمم صاحب مشهور و په پښتو او فارسی، انگریزی، عربی او اردو ژبو باندی ښه پوهېده. دی په مهمندو کښې

(۱) سراج الاخبار ٦ کال ۲۳ شماره (۲) خړی = بد - پازی = کاروڼه،

او سېده عمر یې په تبلیغ، وعظه نصیحت تعلیم او درس، جهاد او د خلقو په اخلاقي او اجتماعي اصلاح کښې تېر شوی دی، د پښتو د پوهې او صحیح تعلیم آرزومن و او په دې لار کښې ئې زیات کوششونه کړي دي تقریباً په (۱۳۴۴ ھ) کښې وفات او د جنوبي په خوست کښې مدفون دی. څلور قلمي کتابونه ئې چه په مختلفو ژبو د هر ډول مضامینو مجموعې دي یادګار پاتې دي د یو کتاب د غرض په باب کښې داسې لیکي:

دا کتاب مې جمع کړ د پاره د دې که چېرې څوک غواړي چه په دې لارې تلل و کاندي او څوک پیانه مومي چه لار ورته وښیي نو دا کتاب زما به هغه ته لار وښیئي).

قاضي خیر الله پښاوري. داسړی هم د پښتو د خدمت په لار کښې حقدار ګڼل کېږي د پښتو

د لغاتو یو کتاب ئې د خیر اللغات (۱) په نامه په اردو ژبه لیکلی دی مګر نور څه معلومات ئې په لاس نشته د ۱۴ پېړۍ د اولي برخې لیکونکي معلومېږي.

سلطان محمد خالص: په قام بارکزی او د قندهار له پوهانو څخه و د امیر شیر علي خان په

دوره کښې ئې ډېر وخت په کلات حکمراني کوله د تاریخ سلطاني په نامه د پښتنو یو تاریخ لیکلی دی چه اول جلد ئې چاپ شوی دی خالص د فارسي ژبې شاعر و، د پښتو اشعار ئې معلوم نه دي، یو پوه پښتون لیکوال ئې بللی شو.

عبد العلي مستغني: په قام وردګ دی. په فارسي او پښتو ښه شعر وایه، د سراج الاخبار

د وخت له شاعرانو او ادیبانو څخه دی او خورا ډېر اشعار لري د مرګ یې تقریباً (۱۰) کاله کېږي دی اول د فارسي ادبیاتو معلم و او بیا په ادبي انجمن کښې عضو شو.

مولوي عبد المجید: (۲) په قام اتمانخیل دی. یو عالم بیدار او دیو دردمن زړه خاوند

دی په وړو کوټوالي هندوستان ته ولاړ، هلته یې تحصیل وکړ، بیا د پېښور په (مشن کالج کې) د عربي پروفیسر شو، دی د پښتنو د مشاهیرو او نومیالیو په سلسله کښې ځینې تالیفات لري یو له دغو څخه چه موږ ته معلوم دی: د (جمال افغاني) کتاب دی دا کتاب ئې د علامه سید جمال الدین افغاني په سیاسي او نورو حالاتو کښې اوږدي په اردو لیکلی ؤ، او بیا یې په خوږه پښتو ترجمه کړ. د ده د خپل نامه سره باجوړي هم لیکلی دی د مولوي عبد الحمید «جمال افغاني کتاب د پښتو په نثر کښې یو خورا غنیمت کتاب، او د سید جمال الدین افغاني په باره کښې په پښتو ژبه یو اوږدی تذکره ده. دا کتاب د اسلام په مد و جزر کښې یوه د لچسپه مقدمه هم لري. د دې کتاب یو څو جملې دا دي: «په دې پر آشوب او د تنزل زمانه کښې هم خدای یوه داسې زبردسته هستي پیدا کړه چه په یو لاس کښې ئې د سیاست توره او په بل کښې قرآن ؤ او د مغرب نه تر مشرقه پورې ئې تمامه زمکه متحرکه کړه. د هغه د دماغي شغلونه د اسلام مړي شوی سرونه تکي لږي لږي ګرمي شوی، دا غیبي امداد د خدای مجسم رحمت څوک ؤ؟

دا د سید محمد عبده مصري استاد سید جمال الدین افغاني ؤ»

---

(۱) وایي چه دا کتاب په پېښور کښې چاپ شوی دی.

(۲) کتاب جمالی افغانی طبع اګره ۱۹۲۱ ع.

Marfat.com

ملا محمد: په قام صافي دی، دامیر عبدالرحمن او امیر حبیب الله خان په وخت کښې عرض بېګي او افغاني نویس (د پښتو منشي ؤ) دارنګ د «پښتو مرکې افتخاري» عضو هم ؤ په سراج الاخبار کښې ئې د پښتو ځینې اصلاحي اشعار نشر شوي دي د پښتو مرکې په ځینو کتابو کښې د ده لاس لیک هم شته. ملا محمد په (۱۳۰۵ ش) کښې وفات شوی دی وایې چه دی یو قلمي دیوان هم لري.

پیر محمد (منشي) دا سړی هم یو پښتون لیکوال او د قلم خاوندی دی. ده له انګریزي څخه د ډاکټر (جیمس کنټلي) یو شه کتاب په پښتو ترجمه کړی دی. دا کتاب (زخمیانو ته هدایتونه) نومېږي او په (۱۹۱۰ ع) کال په لاهور کښې چاپ شوی دی. منشي پیر محمد په (پاراچنار کښې د منځنی مکتب سر معلم ؤ. د دغې ترجمې په سر کښې د (سکماټ نسکریف نومی یو انګریز نوم هم شته، مګر غالبه داده چه دا کتاب ټول د پیر محمد ترجمه ده او د دغه انګریز نوم ورسره په کمه بله وجه ملګری شوی دی.

قاضي عبداللطیف: دا سړی د یوې علمي کورنۍ یو عالم سړی او اصلاً د سوات د علاقې د (ګالوچ) نومي ځای دی. د ده (تفسیر تیسیر) په نامه دوه جلده کښې یو پښتو تفسیر لیکلی دی چه اول جلد ئې په (۱۳۳۹ هـ) کښې تمام شوی دی. دا تفسیر ئې د سوات والي ته منسوب کړی دی په پښتو کښې یو لوی کار او مهم خدمت ګڼل کېږي.

سید محسن: دامیر حبیب الله خان په وخت کښې د قندهار د دار الحفاظ مدیر ؤ. په عربي، فارسي او پښتو کښې لیکونکی ؤ په هغه وخت کښې ئې د قندهار د مبارکو مزارونو په باب په څو زره بیته کښې یوه رساله لیکلې وه. وایې چه په پښتو کښې ئې روانه طبع ارله. دی په (۱۳٤۱ هـ) په قندهار کښې وفات شوی دی (۱)

محمد یعقوب فراهي: د فراه نورزی دی. چه په (۱۲۸٤ هـ) کښې زېږېدلی ؤ. یو عالم او پوه سړی او په فارسي او پښتو کښې ادیب او شاعر ؤ په فارسي کښې زیات آثار لري. وایې چه د پښتو د خاصو لغاتو یو کتاب ئې لیکه مګر نیمګړی ځنې پاته شو. فراهي د ښې قریحې او قوي حافظې څښتن ؤ.

د ده د یو شعر یو څو بیته دا دي:

زه عاجز بنده د خدای یم — تل په حمد و په ثنا یم
خپل معبود پدارنګ ستایم — ثنا ستا ده او په خدایه
چه خاکي آدم پیدا شو — پیغمبر پر دې دنیا شو
په صفت دارنګ ګویا شو — ثنا ستا ده او په خدایه (۲)

په پښتو کښې د خارجیانو تألیفونه

لکه چه معلومه ده د دې دورې په ابتدا کښې اروپایان د افغانستان خوا او شاته راپیدا شوي دي، په دغه وخت کښې او له دغه وخت څخه را په دې خوا د پر مستشرقین پښتو ژبې ته متوجه شوي او په دې ژبه کښې یې زیات کتابونه لیکلي دي. که څه هم د دوی دا کوششونه له خپلو مقاصدو

---

(۱) د حبیبي د پښتو د شعر تاریخچه (۲) د کابل مجله (۱٤٤) شماره

او سیاسي غرضونو څخه خالي نه وو، مګر بیا هم د ذخیرې د زیاتوالي په لحاظ د قدر رو ړ دي او ګواړو چه وروسته یې په لنډه صورت بیان کړو، مګر دلته مونږ یوازې هغه د لهٔ ښیو چه د پښتو په ګرامر لغت او ادب کښې یې څه لیکلي دي:

کولمن شتیع: (۱) یو جرمني مستشرق دی او ومبی سړی دی چه د پښتو په لغاتو کښې ئې یو کتاب لیکلی دی. دا کتاب په (۱۷۹۱ ع) په (پترزبورګ) کښې چاپ شوی دی. مګر نایاب دی.

کلابرات: ده د پښتو د ګرامري ساختمان په باب کښې یو کتاب لیکلی دی چه مستر (دورن) ئې دلي واووایي چه له غلطیو ډک دی. دا کتاب په (۱۸۱۰ ع) کښې چاپ شوی دی.

برنارد دورن: دا سړی روسی او د پښتو د یو لغت لیکونکی دی چه په (۱۸٤۵ ع) په (پترسبورګ) کښې طبع شوی دی او یو بل اثر یې د پښتو د پخوانو منظومو او منثورو آثارو انتخابات دی. چه (کریستوماتی آف دی پښتو) نومیږي.

راورتي: یو مشهور انګریز مستشرق دی په پښتو کښې د ډېر آثار لري د پښتو د لغاتو یو لوی کتاب یې لیکلی دی چه په (۱۸۵٦ ع) په لندن کښې چاپ شوی دی. په دغه وخت یې د پښتو په صرف او نحو کښې هم یو کتاب تالیف کړی دی، د دې ګرامر په مقدمه کښې د پښتو او پښتنو شاعرانو په باب د ډېر ښه معلومات شته. راورتي د پښتو د پخوانو کتابونو د نظم او نثر د ډېر انتخابات هم جمع کړي او د (ګلشن روه) په نامه یې نشر کړي دي. دې یو منول پښتو (محاورهٔ پښتو) هم لري او په پښتو کښې د اسیپ حکیم قصه هم دده ترجمه ده دا ترجمه په (۱۸۷۱ ع) په لندن کښې چاپ شوې ده.

دې د پښتو د خصوصیاتو او ادبیاتو په باب هم یو کتاب لري چه طبع شوی دی.

راورتي وایي چه له ما نه وړاندې میجر «لیچ» او کپتان (وګهان) هم د پښتو واړه واړه ګرامرونه لیکلي دي.

ګایګر الماني: د پښتو په فیلالوژۍ کښې یې په (۱۸۹۳ ع) کال یو رساله لیکلې ده او د پښتو لغات یې د اوستا او سانسکریت سره مقابله کړي دي.

هانري والتر بیلیو: انګریز دی، په پښتو کښې یې دوه مهم آثار یو لغت او بل ګرامر لیکلي دي چه په (۱۸٦۷-۱۸٦۸ ع) په لاهور کښې طبع شوي دي.

تومانوویچ: یو روسي مستشرق دی، چه د پښتو ګرامر او فرهنګ یې په روسي ژبه لیکلی او په (۱۹۰۸ م) په تاشکند کښې طبع شوی دی.

ترومپ: جرمني دی، د پښتو یوه ګرامر یې لیکلی دی چه په (۱۸۷۳ ع) په لندن کښې طبع شوی دی.

---

(۱) د آریانا مجله اول کال ٦ شماره

Marfat.com

واهن: د پښتو د گرامر لیکونکی او انگریز دی، گرامر یې په لندن کښې په (۱۸۶۰ ع) چاپ شوی دی:

مستر ودغن: (۱) ده هم د پښتو یو گرامر لیکلی دی.

کوکس: انگریزی دا او د پښتو گرامر یې په (۱۸۱۱ ع) په لندن کښې طبع شوی دی.

لاریمر: دی هم انگریز دی، د پښتونخوا، اودوزیرو د پښتو گرامر یې لیکلی دی دوا ده په لندن کښې طبع شوی دی.

دارمستتر: فرانسوی دی یو کتاب یې د پښتو په ادبیاتو کښې (د پښتونخوا دهار و بهار) په نامه په (۱۸۸۸ ع) کښې چاپ کړی دی. دا کتاب دوه برخی دی. لومړی برخه یې د پښتو فقت اللغته او فقه الصوت دی اودوهمه برخی یې د پښتو بدالی دی.

سی ای بیډولف: انگلیس دی یو کتاب یې په ادب کښې د خوشحال خان اود (۱۷ قرن د اشعارو په نامه) په (۱۸۹۰ ع) کښې چاپ کړیدی.

هوگس: د پښتو یو گرامر یې لیکلی دی چه مستر بیډولف یې ستاینه کوی.

روس کیپل: د پښتو یو گرامر اری چه په (۱۹۲۲ ع) په لندن کښې طبع شوی دی. دی هم انگلیس دی اریو متول پښتو یې هم جوړ کړی دی.

گلبرتهسن: د پښتو د محاوری لغات یې جمع کړی او په ۱۹۲۹ ع کښې یې طبع کړی دی د پښتو ژبی په نامه هم یو کتاب اری.

پادری هیوز: د پښتو د پخوانو نثرونو او نظمونو انتخابات یې د (کلید افغانی) په نامه تول کړی او په لاهور کښې یې چاپ کړی دی.

مارگن ستږن: ناروېژی دی، د پښتو په ایتمولوژی (اشتقاق) کښې یو کتاب اری او په خوشحال خان اوده په اشعارو یې هم یو کتاب لیکلی دی.

مالیون: د پښتو ملی قصی یې لیکلی دی.

اوالد: د پښتو په باب یې یو کتاب لیکلی دی.

گرارسن: د پښتو په تحقیق کښې یو کتاب اری،

وی ها ری: د «پښتو مطالعاتو په نامه» یو اثر اری (۲)

برتلز روسی: دا یو معاصر مستشرق دی چه د پښتو په ساختمان یې یو کتاب لیکلی دی.

پښتو مجموعه- (۳) دا کتاب ۲۶ مخه دی او دا برخی اری: د پښتو گرامری قواعد، د پښتو دادب نمونی- د مخزن الاسلام او دیوان رحمان خلاصه، پښتو لغات له انگریزی ترجمی سره پښتو الفبا- تو یل له مصدره د افعالو اشتقاق دا کتاب د لندن په موزیم کښې شته، مگر مصنف یې نه دی معلوم (زما په خیال چه کم انگریز لیکلی دی.)

---

(۱) د رضوانی د گرامر مقدمه.

(۲) آریانا- اول کال ۶ شماره په دی معلوماتو کښې د بناغی زمریالی له مقالو څخه استفاده شوی ده.

(۳) فهرست بلو مهارت.

ددې دوې پښتانه پاچاهان او ددوی پښتو پالنه

د محمد زو کورنۍ



امیر دوست محمد خان

د پښتو د ادب تاریخ ۱۳۸ مخ

امیـــر دوست محمد خان:

امیر دوست محمد خان د محمد زو دپاچاهۍ موسس او لومړی پاچا دی محمدزی دبارکزو یوه ښه ده چه په درانو کډېږي. امیر دوست محمد لومړی ځل په (۱۲۴۲ ه) کښې پاچا شو، له دې تاریخ څخه د افغانستان پادشاهي د سدو زو نه محمد زو ته ورغله، مګر پس له دغه وخته سدو زی شاهزادګان یو خوا بل خوا خواره شول، شاه شجاع انګلیسانو ته ورغی او بیا یې په افغانستان حمله وکړه په (۱۲۵۵ ه) یې قندهار ونیو کابل ته یې مخه وکړه دلته یې امیر دوست محمد خان مقابله ونه کړه شوه کابل یې پرېښود بخارا ته ولاړ او شاه شجاع بیا په کابل پاچا شو. څه موده وروسته امیر دوست محمد خان په (۱۲۵۸ ه) کال بیا په تخت کېناست او تر (۱۲۷۹ ه) پورې یې پاچاهي وکړه، امیر دوست محمد خان دامنیت په برقرارۍ کښې ښه کوششونه وکړل چه د افغانستان یو مشهور پاچا ګڼل کېږي.

پښتو ادب: دامیر دوست محمد خان په وخت کښې د پښتو د ادب بڼ تازه او له هرو خو شنوا بلبلانو څخه ډک وو، د شعر او ادب مینه هر ځای خوره وه، دده دوه ورونه سردار مهردل خان او سردار پردل خان د ادب مینان او د پښتو ژبې شاعران وو.

پښتانه ادیبان او شاعران به ئې نمانځل او ددوی قدر او احترام به ئې کاوه، د ادبي ټولنو سره ئې شوق درلود. کوم وخت چه سردار مهردل خان په قندهار کښې وه نو دهغه ځای ادیبان لکه میرزا خان، صدیق آخونزاده او نور به همیشه دده په ځای کښې راټول او په ادبي بحثونو کښې به سره شریک وو، نو ویلی شو چه ددغو سردارانو توجه او مینې په خپل وخت کښې پښتو او پښتو ادب ته ښه کومک رسولی دی. په دغه زمانه کښې د پښتو آوازې هر ځای خورې او تر لیرې لیرې ځایو پورې خلق په دغه مینه کښې ډوب وو.

امیر شیرعلیخان، د امیر دوست محمدخان له مړینې نه وروسته په (۱۲۷۹ هـ) کښې د پاچاهۍ پر پالاز (تخت) کېناست او تر (۱۲۹۶ هـ) پورې ئې پاچاهي وچلوله؛ که څه هم پدې منځ کښې په (۱۲۸۳ هـ) کښې امیر محمد افضل خان هم یو کال، او څه شپې امیر محمد اعظم خان هم پاچاهي کړې ده مګر هغه څه دومره موده نه وه. د امیر شیرعلیخان په وخت په هره شعبه کښې ډېر اصلاحات شوي دي او دده دوره د بیدارۍ او نوي حرکت دوره پالل کېږي. دده په وخت کښې منظم عسکري ترتیب او دهغوی د تعلیم دپاره ښه ښه کتابونه له انګریزۍ څخه ترجمه شوي دي. د امیر شیرعلیخان د وخت لوی کار پښتو ژبې ته زیاته توجه او اهمیت ورکول دی: کوم خدمت چه دده پښتو دپاره کړی دی هغه به تر ابده د تاریخ په پاڼو کښې یادیږي. دده په زمانه او پاچاهۍ کښې پښتو عسکري ژبه شوه، د عسکرو ټول لی او قوماندې عسکري لقبونه



امیر شیرعلیخان،

د پښتو د ادب تاریخ ۱۳۹ مخ

د منصبدارانو نومونه او داسې نور فوځي اصطلاحات په پښتو ژبه واوښتل چه تر اوسه څم په هغه حساب جاري دي. پدې باب کښې دده کلک حکم داؤ؛ چه ټول نظامي مشقونه دې په افغانستان کښې په پښتو وي. عسکري تعلیما تنامې. لښکري فرمانونه د قواعدو کتابونه او داسې نور ډېر شیان دده په امر له انګریزۍ څخه په پښتو ترجمه شول د عسکرو د عصري تعلیم دپاره ئې یو لوی عالم قاضي عبدالقادر پشاوري راغوښتی؛ چه د شاهي لښکرو د ښوونکي په نامه سرلوړی و نوموړی شو چه د پښتو په لار کښې د امیر شیرعلیخان خدمتونه ډېر قدر ورکړي. کاشکې که پخوانو پاچاهانو هم دغسې په کلکه اراده پدې لار کښې قدمونه اخستي وای. پدې وخت کښې د ملکي اوږدو ماموریتو نومونه هم په پښتو واوښتل لکه: صدر وعظم = لوی ټول مختار - مستوفی = لوی مالک. د بیر المالك - لوی کښل - خزانه دار کل - لوی ټولوني او داسې نور. د امیر شیرعلیخان د زمانې بل لوی او مهم کار د اخبار جاري کول دي دده په وخت کښې (د شمس النهار) په نامه یوه هفته واره جریده د ډبرې په چاپ په (۱۲۹۰ هـ) کال چاپ او نشر شوه. وائي چه شیرعلیخان به د پښتو ادب سره مینه لرله او د پښتو اشعار به ئې اوستل او ځینې پښتو لنډۍ هم ده ته منسوبې

دی ددہ په وخت کښې د پښتو د شاعرۍ بازار ښه ګرم ؤ . د پرو شاعرانو په دغه وخت کښې دده ستاینه کړی ده لکه دوست محمد کاکړ ، فیض محمد اونور .

امیر عبدالرحمن خان : د امیر افضل خان زوی دی ، چه د امیر شیر علیخان څخه وروسته په (۱۲۹۷ ه) کښې پاچا او بیا په (۱۳۱۹) کښې وفات شو ، پدی منځ کښې څه لږه موده امیر محمد یعقوب خان د امیر شیر علیخان زوی هم پاچاهی کړی ده . امیر عبدالرحمن خان یو سخت زړی پاچا ؤ . د سر کشانو غوږونه ئې تاو کړل او کافرستان ئې رعیت کړ مګر نورو خواؤ ته ئې چندان توجه نه ده کړی . دده په دربار کښې هم پښتانه عالمان لکه مولوی عبدالرؤف او نور موجود و ملا غلام جان لغمانی هم دده د دربار له لیکوالو څخه ؤ . د امیر عبدالرحمن خان او هندوا یسرای تر منځ چه کم سوال و ځواب شوی ؤ ؛ هغه ملا غلام د (سوال جواب دولتی) په نامه په پښتو نثر ترجمه کړی او په (۱۳۰۲ ه) کښې چاپ شوی دی . امیر عبدالرحمن خان د تاج التواریخ په نامه تاریخ لیکلی دی او په پښتو یوه نصیحت نامه هم لری چه په سیاسی رنګ کښې ده او په (۱۳۰۳ ه) چاپ شوی ده .

امیر حبیب الله خان : د پلار د مرګ نه وروسته په (۱۳۱۹ ه) کابل په تخت کیناست او تر (۱۳۳۷ ه) پوری پاچا و ده ښه په مزه پاچاهی کړی ده مګر خپلوا کی ئی نه درلوده . د امیر حبیب الله خان وخت د تعلیم زده کړی او نورو لحاظو نو له مخه د بیداری او نوی حرکت وخت دی پدی وخت کښې مکتبونه ، ځینی کارخانی او نور شیان جوړ شوی دی دده په امر د (سراج الاخبار) جریده جاری شوه چه افغانستان ته ئې زیات فکری او عرفانی خدمت وکړ ، پښتو هم پدی وخت کښې د خپل ژوند په یوه نوی دوره کښې قدم کېښود ، د سراج الاخبار په پاڼو کښې د پښتو اشعار ، د پښتو متلونه او د نثر ټوټی لیدل کیږي او دا شاید اومړی اخبار وي چه پښتو ته ئې په خپل پاڼو کښې ځای ور کړی دی . د امیر حبیب الله خان په وخت کښې پښتو تعلیم ته اهمیت هم پیدا کړ . یعنی په مکتب کښې داخله شوه او ځینی تعلیمی کتابونه په کښې جوړ شول . پدي وخت کښې مولوی صالح محمد د پښتو لمړی کتاب ولیکه چه چاپ شو او په مکتبو کښې په ویل کېده ، دده وخت مشهور پښتانه لیکوال غلام محی الدین ، مولوی عبد الرؤف صالح محمد خان (۱) ، ملا محمد او داسی نور دی . پدي وخت کښې له پېښور نه هم یو اخبار « د افغان » په نامه نشریده چه د پښتو برخه ئی هم لرله دا اخبار له (۱۹۱۱ ع) کال څخه پخوا جاری شوی ؤ دده په کال په یوه شماره کښې ئې د طرابلس په باب چه ټلی پری حمله کړی وه د سید راحت یو پر جوش شعر نشر شوی دی .

امیر امان الله خان : په (۱۳۳۷ ه) د پاچاهی پر تخت کیناست او تر تقریبا لس کاله پاچا ؤ پدي وخت کښې مکتبو نه ښه زیات شول ، پښتو ژبه څه قدر زیاته د معارف په پرو ګرام کښې شامله شوه ، یو مجلس د « پښتو مرکی » په نامه د وطن له ادیبانو او فاضلانو څخه جوړ شو ، چه دهری خوا یو یو نماینده پکښې ؤ . دي مرکی د پښتو په خدمت کښې ښه حصه واخستله ، د پښتو قواعد ئې ولیکل ، لغات ئې راټول کړل ، نوی نوی نمونه ئې کېښودل د پښتو پښویه ، یو ازینی پښتوه او د لغاتو یو وړکی کتاب پدي وخت کښې نشر شوی دی . وایی چه یو قاموس ئې هم

(۱) اوس هم ژوندی او په کابل کښې دی .

Marfat.com

ليکلی و مګر طبع شوی نه دی . (۲) په دې دوره کښې «طلوع افغان» په قندهار دا و «اتحاد مشرقی» په جلال آباد کښې جاری شول چه د پښتو مضامين به پکښې نشريدل . مولوی عبدالواسع عبدالوهاب محمد زمان او داسې نور د پښتو مرکې کار کنان د دغه وخت د پښتانه ليکوونکي دي.

په دې وخت کښې مولوی صالح محمد خان د پښتو دوهم او دريم کتاب هم وليکه دا کتابونه په تعليمي پروګرام کښې داخل وو او په مکتبو کښې به لوستل کېدل او يو بل د پښتو صرف و نحو هم ليکلی وه .

د دې دوری ادب ته يوه کتنه

د هرې دورې ادب د هغې دورې د خيالاتو، افکارو او نورو واقعاتو نماينده دی هره واقعه او هره پېښه په شعر او ادب کښې تأثيرات لري او ضرور د ادب په جامه کښې خپل رنګ ښکاره کوي په ور وسته کرښو کښې غواړو چه د دې دورې د ادب کم او کيف او نورو خبرو ته اشاره وکړو .

نظم، نظم د ادب يوه لويه برخه ده لکه چه ښکاره ده د پښتو نظم په دې ختمه دوره کښې هم د دريمې دورې پشان چليدلی دی په دې دوره کښې هم عشقي دينی قصصي، او رزمي اشعار ليدل کيږي او حماسي، او قصصي اشعار نسبتاً له پخوا څخه په دې دوره کښې زيات ښکاري چه مهمې وجهې ئې دا دي :

۱- په دې دوره کښې د پردو سره ډېر جنګونه او جګړې شوي دي په دې جګړو کښې پښتنو شرانو او بزرګانو لويې کارنامې او تولو پکښې د اسلام په جذبه له سرونو سره لوبې کړې دي دې واقعاتو د پښتنو شاعرانو په زړونو پوره اثر غورځولی دی او د جوش او غيرت نه ډک د پښتنو والی او ناريتوب، د غزاګانو او جنګونو د خپلو مشرانو د توريالی توب او مېړانې اشعار ئې ويلي دي چه مونږ ورته رزمي اشعار وايو .

هغه اثر چه د دوهمې او دريمې دورې په ادب کښې د مغلو باچاهی او جنګونو کړی و په دې دوره کښې د غزاګانو په واسطه پيدا شوی دی او وجه ده چه د دې دورې په ملي ادب کښې ډېرې حماسي او جنګي چاربيتې شته او ډېرې تاريخي او رزمي قصيدې ويلې شوې دي لکه د غازي محمد جان چاربيته او د صاحبخان او نورو بدلې ،

۲- د قصصي او افسانوي اشعارو د زياتوالي وجه البته چه د عامو او اکثرو خلقو ميلان او رغبت دی لکه چه په دريمه دوره کښې مو وويل قصې د ساعت تيرۍ او مشغولا يو شي دی نو ځکه د خلکو ميلان ورته زيات وی بل په دې قصو کښې د پېريانو ديوانو باچاهانو او عاشقانو داسې دلچسپې او خوږې خبرې وي چه خلک ئې اوريدو ته شپې روڼوي نو دا وجه ده چه پښتنو شاعرانو قصو ليکلو ته زور ور کړی دی ولي چه بازار ته هغه مال وړل کيږي چه خلک ئې خوښوي بل هر کله چه په فارسي او اردو کښې هم دا برخه زياته رائولی وه نو د کاوونکيتوب په وجه ئې په پښتو هم اثر پر يوتی دی د دې دورې د پښتو آثارو او قصو د زياتوالي بله وجه د چاپخانو ډېروالی هم کيدای شي مګر د دغه ډول کتابونو زياته غلبه په پېښور کښې وه ځکه چه هلته د چاپخانو مالکانو د خپلو کتابو او پيسو د پاره پښتانه شاعران قصو ليکو ته تيار ول او له دوی څخه به ئې

۲- د قلمي نسخې برخه ئې د ښاغلي حبيبي سره شته .

قصې غوښتلې، پر ته لودې څخه موږ پېدې دوره کښې عشقي او ديني اشعار هم په هغه اندازه ونو چه داد پښتوانې تاثير په وجه همداسې راغلي دي: هو اهر کله چه پدې دوره کښې د يورپ د نوي نهضت او تهذيب خبرې زموږ غوږونو ته راورسېدې نو څه قدر ځينو شاعرانو په کلام کښې د قوميت، مليت او بيدارۍ افکار هم ونغښتل، او لږ وده پر مود شعر مطلع او نه چار بيتو سره بدل او په بل رنګ شو، مګر داسې اشعار اکثر (۱۳۰۰ ه) څخه راپه دې خوا يا په بل عبارت د امير عبدالرحمن خان د وخت څخه شروع شوي دي لکه د غلام محي الدين افغان او داسې نورو اشعار، او س ددې دورې د نظم ځينې کتابونه ښيو:

قصصي

- د احمد ګل د نيمبولا قصه او د کوتوال قصه.
- د ملا نعمت الله د ليلي او مجنون د نيمبولا او نيمبولا، د فتح خان د موسی او ګلمکۍ، جنګنامه
- د حاتم طائي، شاهنامه او الف ليلي، قصې.
- د ملا احمد خان د ممتاز، ورقه ګلشاه، امير حمزه، شهزاده بهرام او ګل اندامې، شهزاده شيرويه، او يوسف زليخا قصې
- د احمد اخون خېل د امير حمزه داستان
- او داسې نور

عشقي

- د سردار مهردل ديوان
- د ميرزا حنان »
- د سيد کمال »
- د نوروز بهار نوروزي
- د شير محمد ديوان
- د نظر محمد کاکړ »
- د محمد امان »
- د احمد ګل »
- د عبدالله »
- د رضواني »
- د احمد دين »
- د شمس الفلك »
- د احمد کلاچي »

مذهبي او تاريخي.

- د عبد المجيد سيرة نبوي.
- د حبيب الله منهاج العابدين.
- د رسول داد درالبيان.
- د دوست محمد بحرالعلوم.
- د « « اخلاق احمدي.
- د غلام محمد د اسلام مدوجزر.
- د عبدالباقي تهذيب الواجبات.
- د احمد د پچګي انيس الواعظين.
- د ولي محمد د سوات صاحب مناقب
- د فيض محمد روضة المجاهدين.

نثر : پدې دوره کښې د نثر کتابونه په قصصي، مذهبي تاريخي او تعليمي خوا کښې دي. ددې دورې نثر که څه هم د موضوعاتو په لحاظ څه ډېر فرق نه دی پیدا کړی مګر د لفظ په لحاظ پکښې ښکاره تغير او بدلون لېدل کيږي. پدې دوره کښې د ۱۴ پېړۍ له اول څخه د منشي احمد جان سبك ميدان ته راوتلي او مشهور شوي دي. لکه چه د مخه مو ويلي دي د منشي احمد ددې دورې له زبردستو نثر ليکونکو څخه دی چه د نثر طرزئې ساده، خوږ په متلونو او محاورو ښايسته او خوندور دی مثلاً دا بوه ټوټه ئې وا ولئ. چه د آدم خان د مرګ خبرو ګرزېد او درخوبرې خبره شوه نو سمدستي په ځمکه راپرېوته ستر ګی ئې حق ته ونيولې خپل پردي پوراټول شول لاس پښې ئې ورته ومښل سپېلني ئې ورته اوګی کړل، نظرونه مات شول او لنبه داچه دم، دعا، بند، تعويذ هر څه خلاص شول خودرخانئ وه چه سا پکښې وه غرېده يخه تخته شوه او تخته پاته شوه چا هوښيار بنده چه و کته نور و ح ئې پخوا الوتې وه. دا خبره هم مشهوره ده چه دوی دواړه په مړو نه قبر کښې پوځای شوي دي خودا راته هسې ديا راتو ګپ ښکاري. دا هم خلق وايي چه دا دم خان د قبر

Marfat.com

ډکې نه چه څوك شهباز جوړ کړي نور باب ئې زرزده کېږي .(۱)

قاضي مير احمدشاه هم دمنشي احمد دسبك له قوي ملګرو څخه دی .داسبك تراوسه پوري چلېږي البته که څه لږ ډېر تغير پکښې راغلی وي نووی به .

ددې دورې يو مهم امتياز دادی :چه په دې دوره کښې دپښتو ژبې تعلم اوښوونې ته هم توجه پېښه ده، دامير شير عليخان په وخت کښې د عسکرو ټول تعليم په پښتو ژبه کېده .

تعليماتنامې .قواعداوټو ماندي ئې په پښتو واوښتې اوډې ژبې ته يوه عسکري درجه ورکړه شوه په دې ډول دامير حبيب الله خان په وخت پښتو په مکتبو کښې داخله او په رسمي پروګرام کښې شامله شوه اوتعليمي کتابونه پکښې جوړ شول. هم په دې وخت يعنې د(۱۳۰۰ھ) څخه راايسته په صوبه سرحد کښې هم پښتو ته يوه تعليمي توجه پيدا کېږي ځکه چه په دغو وختو کښې قاضي مير احمدشاه دپښتو يوابتدائي ګرامرچه (واقيه) نومېږي دپښتو دزده کړې دپاره جوړ کړ، په دې وختو کښې دلغاتو راجع کولو کوشش ته هم دخلکو پام شو اوقاضي خيرالله په دې وخت کښې د(خيرالغات) په نامه يو کتاب وليکه .

پښتو مرکه: ددې دورې له مهمو کارو څخه يو دپښتو مرکې جوړېدل دي. ګمان کېږي چه دا به دپښتو يوه اومړۍ رسمي مرکه اوددې ټولنه وي چه دپښتو په مرکز کابل کښې جوړه شوې ده، په پښتو مرکه کښې دېرهو کسانو په واسطه دپښتو دلغاتو راټولو او، نورو لغاتوايښوولو اود پښتو دقواعدو دترتيب اوليکلو دپاره ه کوشش شوی دی، لکه چه په دغه وخت کښې يوابتدائي ګرامر د(پښتو پښويه) په نامه، يو دلغاتو وړوکی کتاب او بل د «يوازنی پښتو» څه برخه جوړه شوې اوچاپ شوې ده .په پښتو مرکه کښې دهرې خوا يو پوهرې موجود و ! چه دلغاتو په تحقيق کښې به ئې مرسته او کومك کاوه .

لنډه داچه دادوره او په تېره د ۱٤ پېړۍ اوله نيمه حصه دپښتو ژبې په ژوندانه کښې زياته برخه لري اوويلای شو چه په دې وخت کښې پښتو دپرمخ تګ اوترقۍ په لار ورروانه شوې ده اوښه ښه آثار پکښې ميدان ته راوتلي دي .

هوا ددې دورې يو بل خصوصيت دادی چه په دې وخت کښې پښتواخباري دنيا ته هم راوتلې ده؛ يعنې دپښتو اشعارو، مضامينو داخبارونو په پاڼو کښې خپل ځان ښودلی اوڅرګند کړی دی لکه چه دسراج الاخبار، اتحادمشرقي، طلوع افغان زېړې پاڼې ددې خبرې ګواهي ورکوي، ددې ټولو خبرو سبب البته چه حکومتي روزنه او پام ارنه ده ځکه چه هره برخه او خصوصاً تعليمي برخه ئې دحکومت له پام ارنې څخه عموميت نشي پيدا کولای نوويلای شو چه په دې دوره کښې دپښتو لږ و ډېره پرمخ تګ اوترقي همدې شيانو ته راجع کېدای شي اوپه آينده کښې به ئې هم داشيان دمقصود پړاوته رسوي ، ددې دورې دنثر ځيني کتابونه دادي .دمرادعلي تفسير يسير ددوست محمد تفسيربدرمنير ـ دغلام محمد دمدوجزر مقدمه ـ دمنشي احمد تاريخ افغانستان، تاريخ غزنوي، ګنج پښتو . هغه دغه؛ دقصه خوانی ګپ ـ دمير احمدشاه بهارستان اوشکرستان افغاني يوازنی پښتو ـ دنعمان الدين ظفرالنساء عبدالمجيد جمال افغاني .د ملاغلام ـ وال

(۱) له قصه خوانی ګپ څخه .

جواب د سید محمد عمر گلشن اشعار افغانی - د محمد یوسف توبة النصوح - د سید احمد پښتو متلونه - د صالح محمد د پښتو اومړی، دوهم او دریم کتاب او داسې نور په دې دوره کښې ځینې تاریخ کتابونه هم شته چه په فارسي یا عربي دي لکه د سلطان محمد تاریخ سلطاني - د سید جمال الدین تتمة البیان - د امیر عبدالرحمن تاج التواریخ

تبصره: که څه هم هر کار زماني او وخت ته منسوبیږي یعني محیطي او سیاسي عوامل په ډېرو شیانو تاثیر کوي. حتی چه ادب خو یېخي د دې شیانو تابع دی. مګر په ډېر افسوس وایو چه په پښتو کښې وړاندې ډېر آثار لیکل شوي دي لکن یو په هم دیو اجتماعي ضرورت له مخه نه وي لیکل شوي، زیاته توجه لکه چه په تېرو ادوارو کښې وینو، یا د تصوف خوا ته وه یا عشق او خط و خال ستاینه شو او یا په قصو او افسانو وختونه تېر بدل. د دې هرې برخې د ډېر والي اسباب مونږ د مخه بیان کړي دي مګر دا شو یلای چه دغه اسباب بې والي دومره مؤثر وو او ادب والي دغسې په یو غیر اجتماعي ډول پاته شو؟ په هر صورت بخوا چه څه شوي دي. هغه شوي دي مګر اوس ښایي چه پس له دې زمونږ ادب مونږ ته یو وازې د تېرو ګوتو نو کیفا ستل و نه ښيي بلکه باید چه زمونږ ادب ژوندي او دیو شریف او معزز ژوند لار ښوونکي وي. بخوانو شاعرانو چه په خوشۍ بې فایده قصو کتابونه سترې کړي دي له هغو نه اوس هیڅ فایده نشته د موجوده زماني تقاضا دا ده چه شاعران او ادیبان اوس د نیمبولا نیمو قصې پرېږدي د پېرېانو او دېوانو خیالي قصې نن ورځ د الوتکو الوتونکو بمونو را کښتونو او اتومي بمونو په حقیقي قصو بدلې شوې دي، نه له دې کبله او سني شاعران باید دا نوې قصې د شعر په الفاظو کښې بیان کړي او خلقو له هم ښکاره دي چه په هغو خوشو قصو نور خپل وختونه عبث نه کاندي. په دې کښې هیڅ شک نشته چه په پښتو او پښتنو کښې پوره استعداد موجود دی. لکن افسوس دا دی چه له دوی څخه تر اوسه په یو اجتماعي صورت کار نه دی اخستل شوی، یو شی نه چا سم نه دی متوجه کړی، لا رور نه چا نه د ښو دلي، دیو والي او راغونډولو کوشش نې چا نه دی کړی، هم دا وجه بخوا هر څوک خواره واره په بېله بېله لاره روان وو. چا د عشق سندرې ویلې، چا قصې جوړولې، څوک په ګوتو نو کښې ناست وو، چا څه کول او چا څه؟؟ دغه شیان دي چه د پښتو د ادب اصلاحي، تنقیدي خواوې کمزورې پاتې شوې دي هو اوس څه قدر د امید رڼا ښکاره شوې او د یووالي او بیداري نښاني پیدا شوې دي او امید کېدای شي چه د نیمګړتیا به هم پوره شي مګر هله چه په پاک زړه قوي اراده په دې لاره کښې قدمونه واخستل شي.

اوسنۍ دوره له ۱۳۵۰ھ ۱۹۳۱ څخه را په دې خوا

یا د نوي نهضت زمانه

دا دوره که څه هم په څلورمه دوره کښې حسابیږي، مګر هر کله چه له (۱۳۵۰ھ) څخه راپه ایسته د پښتو د ژوند په لاره کښې یو نوی حرکت پیدا کیږي، او دا ابتداء مده د پښتو د خدمت او آثارو د زیاتوالي نه حیثه د پخوانی وخت په ډېره موږ ه دوره ایسي، په دې لحاظ بنایي چه د دې وخت د پښتو یالنی او پښتو ادب په شا و خوا کښې څه نه څه ووایو. مګر لومړی غواړو چه د دې عصر پښتنانه پاچاهان بیان کړو.

Marfat.com

اعلیحضرت محمد نادرشاه او محمد ظاهرشاه: لکه چه معلومه ده: هغه وخت چه دامان الله خـان پاچاهي کمزوري شوه او د کـابل ښـار د (بچه سقاو) په لاس ورغی نو په دې وخت کښې اعلیحضرت نادر شا د وطن د نجات په نیت له (پاریس) څخه راوخوځېد د وطن سر حد و ته راغی د غلته ئې د پښتنو په مرسته جنـګونه شروع کړل، پس له لږې مودې جنـګ څخه ئې کـابل ونیو او په (۱۳۴۸هـ) کښې د کـابل د پاچاهۍ په تخت کښېنـاست.

اعلیحضرت محمد نادرشاه د پښتو دادب تاریخ ۱۴۵ مخ

نادرشاه د خپلې بادشاهۍ په لږه موده کښې د وطن د آبادۍ، ګټې او بهبود، د خلقو د آرام، تعلیم او پوهې او نور شیانو د پاره ډېرې غوره او حکیمانه نقشې او پروګرامونه جوړ کړل او په هغو ئې عمل شروع کړ. د وطن داویوا وړو په زړونو کښې یو مخصوص ګرانښت او خوږوالی دراود چه هر چاته محبوب ؤ: مګر له بده شامته چه دا نامدار او تدبیري بادشاه د څلورو کالو بادچاهۍ څخه وروسته په (۱۳۱۲ش) کښې د یو بد بخت له لاسه شهید شو او پر ځای ئې اعلیحضرت محمد ظاهرشاه د افغانستان د پاچاهۍ واګې په لاس ونیولې، محمد ظاهرشاه د افغانستان یو ځلمی او خیر خواه پاچا دی. د اعلیحضرت محمد نادر شاه پر قدم روان او هغه د پرو ګرامونو په پوره کولو بوخت دی. په دې دوره کښې د وطن ټولې چارې د ترقۍ او پرمختګ په لوري رواني دي. او په ډېره بېړه د مقصود د منزل په لوري قدمونه اخیستل کېږي.

پښتو او پښتو پالنه: لکه چه په دې وخت په هره حصه کښې یو نوی نهضت حرکت او نوی ایډیل کېږي د غسې د پښتو ژبې د ژوندانه په خوا کښې هم نوي ګامونه اخستل شوي او په دې ګـالبوت کښې د بیدارۍ نوی روح پو کل شوی دی، په دې دوره کښې د پښتو هنګامه زیاته او د بازار ېې ګرم شو. لمري کار چه وشو هغه دا و چه پښتو په مکتبونو کښې په زیاته اندازه داخله شوه،

د تعلیمي کتابونو د لیکلو کوشش شروع شو. په اخبارونو، جریدو او رسالو کښې د پښتو د ضرورت په باب ښه ښه مضامین میدان ته راووتل، د اخبارونو پاڼې د پښتو له مضامینو څخه ډکې شوې، او په دې صورت له هر کوټ، هر دېوال، هرې کوڅې، هر ځای څخه د پښتو پښتو آوازونه پورته شول.

هو، د اعلیحضرت نادر شاه قوي عزم او پاکې ارادې په دې حصه کښې زیات کار وکړ، ددې شاهانه توجه او میلان په وجه ډېر خلک په شوق او مینه په دې میدان کښې را ګډ شول، د پښتو په اطرافو کښې یې په لیکلو، بحثونو او خبرو نه او څېړنو ګوتې پورې کړې. ورو ورو په هره حصه کښې د کتابونو د لیکلو سلسله ونښته، په معارف کښې رسمي کتابونه چاپ او په تعلیم کښې شامل کړی شول. د پښتو ویلو او لیکلو ته هرچا توجه وکړه او په لږه موده کښې د پښتو لیکوال او شاعران له امیده زیات را پیدا شول. تقریباً څلور لس کاله پخوا یعني په (۱۳۱۱ ش) کال په قندهار کښې د پښتو پو انجمن جوړ شو د پښتنو دغه انجن پوهانو او فاضلانو په مرسته



اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د پښتو دادب تاریخ ۱۴۶ مخ

د پښتو خدمت ته ملا وتړله، او د کتابونو په لیکو یې لاس پورې کړ. په دغه وخت کښې د پښتو یوه مجله هم د دغه انجمن له خوا راووته، او میاشت په میاشت یې نشریدل او خپریدل شروع شول، دې مجلې د پښتو د خدمت په خوا کښې ښه برخه واخسته او ګمان کاوه شي چه په افغانستان کښې به دا د پښتو اومړۍ مجله وي. دغه انجمن بیا په (۱۳۱۴ ش) کښې کابل ته راوغوښتل شو، دلته د کابل د ادبي انجمن سره شریک شو او د کابل مجله به یې نیمه فارسي او نیمه پښتو رواه.

او س هم کېږي او بس له دې هم کېدونکی دی د دې مجمل نظر څخه وروسته غواړو چه د دې عصر چاپ شوي کتابونه او تالیفات وښیو او په دې ډول خپلې وړاندې خبرې ثابتې کړو.

په دې دوره کښې د پښتو چاپ شوي کتابونه

الف ــ د لغاتو کتابونه

۱ ـ پښتو سیند: د لغاتو لومړی جامع کتاب چه په دې دوره کښې لیکل شوی دی د پښتو سیند دی. د دې کتاب لیکونکی او مؤلف ښاغلی محمد ګل خان مومند دی، د ر پښتو ژبې په دې نوي نهضت او ژوند کښې پوره حقدار ګڼل کېږي په دې لاره کښې یې هم په خوله او هم په قلم ښه ښه خدمتونه کړي دي. په قندهار کښې د پښتو انجمن جوړېدل د ده په کوشش او توجه سره وو.

د پښتو سیند، په پښتو کښې د محمد ګل خان لومړی کتاب دی دا کتاب په (۱۳۱۶ ش) په کابل کښې چاپ شوی دی، د لغاتو معنی یې په فارسي ده

۲ ـ سفینهٔ پښتو: دا هم لغت دی چه په دې وخت کښې جوړ شوی دی. د دې کتاب ترتیب پر دې ډول دی چه اصلي ردیف وار لغات یې په فارسي دي او د هغو په مقابل کښې یې پښتو لغات راوړي دي، تقریباً اس زره پښتو لغات پکښې دي دا کتاب په ۱۳۱۷ ه په قندهار کښې چاپ شوی دی

۳ ـ اس زره لغات دا کتاب په (۱۳۲۰ ش). کابل له پښتو ټولنې څخه نشر شوی دی. د لغاتو معنی او تشریح یې په فارسي ده او د پښتو د جیبي لغت په نامه یادېږي: لیکونکی یې محمد اعظم خان او د پښتو ټولنې نور ملګري دي.

٤ ـ پښتو اصطلاحات او محاوري: د پښتو د اصطلاحاتو او محاورو مجموعه ده چه په دغه پورته سنه کښې پښتو ټولنې نشر کړې ده لیکونکی یې ښاغلی (نوري) دی. په دا کتاب کښې هم هغو پښتو لغات نه دي مګر د لغاتو په سلسله کښې شاملېدای شي.

ب ـ ګرامري کتابونه

۱ ـ معلم پښتو: په قندهار کښې د پښتو انجمن له خوا جوړ شوی او په (۱۳۱۴ ش) کابل هم هلته نشر شوی دی ژبه یې فارسي ده، د ابتدایي زده کوونکي د پاره ښه دی.

۲ ـ پښتو ښوونکی: محمد عثمان پښتو یې لیکونکی دی چه څه موده د پښتو انجمن رئیس او بیا د تعلیم او تربیه په ریاست کښې عضو و دی. په پښتو کښې د ځینو کتابونو خاوند دی، پښتو ښوونکی په (۱۳۱۶ ش) په لاهور کښې چاپ او له کابله خور شو. دا کتاب دوه جلده دی او د مبتدیانو د پاره ښه دی.

۳ - خود آموز پښتو : دمو لوي صالح محمد له خوا په (۱۳۱۳ ش) په قندهار کښې چاپ شوی دی .

٤ - دپښتو ژبې لياره : دا لومړی ګرامردی چه په پښتو ژبه ليکل شوی دی ، په دې ګرامو کښې پوره خواری شوی ده . جوړوونکی ئې محمد ګل خان مومند دې ، دا کتاب په ۱۳۱۷ ش کال کښې چاپ شوی دی . ابتدا ئی کسان تري ښه فايده نشی اخيستلی .

٥ - قواعد پښتو : دا ګرامر محمد اعظم ايا زی په فارسي ليکلی او په ۱۳۱۸ ش په کابل کښې طبع شوی دې . دنوی طرز ديپروی کوښښ پکښې ليدل کيږی . ښاغلی ايازی له پخوا څخه دپښتو په خدمت کښې شريك دی اول دقندهار په پښتو انجمن کښې عضو ، بيائې په پښتو ټولنه کښې عضويت دراود اوس دمعارف په تعليم او تربيه کښې په خدمت بوخت دی ،

٦ - پښتو ګلی ٦ ستمبر : يو درسي ګرامردی د کور سونو د تعليم دپاره په پښتو ليکلی شوی دی ليکونکی ئې صديق الله خان رښتين دی لومړی جزئې په (۱۳۲۲ ش) کښې چاپ شوی دی .

۷ - لومړی لارښوونکی : دا هم يو درسي لومړنی ګرامردی د کورسو دپاره ديو تطبيقي او تحليلي ګرامر په حيث « رښتين » ليکلی دی چه د (۱۳۲٤ ش) په اول کښې دپښتو ټولنی له خوا چاپ شو .

۸ - پښتو قواعد : دمعارف دمتوسطو مکتبو دپاره ښاغلی ايازی په پښتو ليکلی او په (۱۳۲٤ ش) کښې دمعارف دوزات له خوا چاپ شوی دی .

۹ - دپښتو لوی ګرامر : دا دپښتو يونوی او مهم ګرامردی چه په فارسي ژبه ليکل شوی دی او دپښتو په باره کښې ښه تحقيقو نه اری . ليکونکی ئې صديق الله خان رښتين او محمد شير ګل خان دی دا کتاب اوس د کابل په مطبعه کښې چاپيږی .

ج - تاريخی کتابونه

پښتانه شعرا اول ټوك : پښتو کښې دروستنی زمانی لومړی تاريخ دی چه په (۱۳۲۰ ش) کښې دپښتو ټولنی له خوا نشر شوی دی . ليکونکی ئې ښاغلی حبيبی او نور ليکوال دی .

پښتانه شعرا دوهم ټوك : دا ټوك په (۱۳۲۱ ش) کښې چاپ شو يدی ليکونکی ئې صديق الله خان رښتين او نور ليکوال دی ،

په دغو دواړو ټوکو کښې د (۲۱۰) تنو شاعرانو بيان راغلی دی .

پښتنی مېرمنی : دا کتاب په پښتو ژبه دافغانستان دښځو په بيان کښې ښاغلی عبدالرؤف بينوا ليکلی دی چه په ۱۳۲۳ کښې طبع او خپور شو . ښاغلی بينوا دپښتو يو مشهور ذلمی ليکونکی دی له ډير کالو څخه دپښتو په خدمت کښې لګيادی په پښتو کښې ځينې نور کتابونه هم لری

پټه خزانه : دا مهم تاريخی اثر (چه ذکرئې دمخه راغلی دی) دښاغلی حبيبی دفارسي ترجمی او نورو مفيدو تشريحاتو او بيانو نوسره يعنی دده په تحشيه او تعليق د۱۳۲۳ ش په آخر کښې دپښتو ټولنی له خوا نشر او چاپ شو .

د پښتو د ادبیاتو تاریخ: دا کتاب د ښاغلي حبیبي یو مهم اثر دی چه په څلور جلده کښې ئې د چاپولو خیال لري او لومړی جلد ئې چه د پښتو تاریخ تر اسلام د مخه ښیي د ۱۳۲۵ په سر کښې د ادبیاتو د فاکولتې له خوا نشر شو.

د – ادبي کتابونه

۱ – پښتو ملتونه: د پښتو ملتونو یوه ښه مجموعه ده چه په ۱۳۲۷ ش کال له پښتو ټولنې څخه خپره شوه او امین الله خان زمریالي د محمد قدیر خان تره کي په مرسته لیکلې ده ښاغلي زمریالی له اوله څخه د ادبي انجمن عضو او بیا د پښتو د څانګې مدیر و، په سالنامو کښې ئې د پښتو په باب ښې ښې مقالې لیکلي دي. او پښتو ته په خدمت کښې یو حقدار سړی دی.

۲ – د احمد شاه بابا دیوان: په ۱۳۱۹ ش کښې د پښتو ټولنې له خوا نشر شو، ټولوونکی ئې ښاغلي حبیبي دی چه یوه ښه مقدمه ئې هم پرې لیکلې ده.

۳ – ملي پسرلی: د ښاغلي حبیبي یوه کوچنۍ منظومه ده چه په قندهار کښې چاپ شوې ده.

٤ – د خوشحال او عبدالقادر دیوانونه: دا دواړه کتابونه ښاغلي حبیبي له قندهار څخه خپاره کړي دي چه د پښتو د ادب د پاره یو غوره او د قدر وړ خدمت دی.

٥ – بله دیوه: دا کتاب د پښتو په نثر ښاغلي ګل پاچا الفت لیکلی او په ۱۳۲۰ ش کال کښې پښتو ټولنې نشر کړی دی، هر ډول ادبي او نور مضامین پکښې شته. ښاغلي الفت د پښتو یو مشهور لیکوال او له ډېر وخت څخه د پښتو په خدمت کښې مصروف دی. په پښتو کښې ئې نور آثار هم لیکلي دي، اول په پښتو ټولنه کښې عضو و

٦ – پسرلي نغمه: د ښاغلي الفت یوه وړه منظومه رساله ده چه په ۱۳۲۰ کال کښې خپره شوې ده.

۷ – نوی ژوندون: د پښتو په نثر کښې د ښاغلي قیام الدین خان خادم اثر دی، ادبي ټوټې او ځینې نور ښه مضامین لري. په (۱۳۲۰ ش) کښې د پښتو ټولنې له خوا طبع او نشر شوی دی. ښاغلي خادم د پښتو له پخوانیو پوهو لیکوالو څخه دی. د قندهار د پښتو انجمن له وخته په دغه انجمن کښې عضو و، څه وخت د پښتو ټولنې د تألیف او ترجمې د څانګې مدیر، بیا د اتحاد مشرقي مدیر شو. په پښتو کښې نور کتابونه هم لري او په دې لار کښې یو مشهور او حقدار سړی دی.

۸ – ملي سندرې: د پښتو د ۳ زرو لنډیو مجموعه ده چه ښاغلي نوري ټوله کړې ده. دا کتاب په (۱۳۲۳ ش) کښې د پښتو ټولنې له خوا نشر شو. ښاغلي نوري د پښتو ټولنې په لغوي کار کوونکو څخه دی، چه قندهار په پښتو انجمن کښې هم عضو و

۹ - ملی هنداره : د ښاغلی نوری اثر دی چه اول ټوک یې په ۱۳۱۷ ش کښې چاپ شوی دی او دوهم ټوک یې په ۱۳۲۵ کښې چاپ شو . د پښتو د ځینو ملی قصو او افسانو مجموعه ده .

۱۰ - د مینې مینه : د معاصرو شاعرانو د اشعارو یوه کوچنی مجموعه ده او د راډیو د نشریاتو له خوا چاپ شوی ده .

د غنمو وږی : د ښاغلی بېنوا یوه وړوکی منظومه ده چه د احمدشاه بابا د تاج پوشی منظره بیانوی . د ۱۳۲۵ کال په سر کښې د پښتو ټولنې له خواه چاپ شو .

پښتو سندری : د ښاغلی الفت یو ادبی اثر او په پښتو سندرو یوه ښه تبصره ده . په ۱۳۲۵ کښې د پښتو ټولنې له خوا هم ځانله او هم د کابل په مجله کښې نشر شو .

د پیر محمد کاکړ دیوان : دا دیوان د ښاغلی بېنوا په تصحیح او مقدمه د کابل په مجله کښې نشر یږی .

هـ فقه اللغة او فیلولوژی

فقه اللغة پښتو : د ښاغلی یعقوب حسن خان اثر دی چه په فارسی یې لیکلی او په (۱۳۱۷ ش) کال طبع شوی دی .

لغوی څېړنه : د ښاغلی الفت اثر او په (۱۳۲۰) کښې طبع شوی دی . په پښتو کښې د فقه اللغی لومړی کتاب دی .

و - له خارجی کتابو څخه ترجمې

د کوچیانو اخلاقی پالنه : دا کتاب ښاغلی خادم ترجمه کړی او په ۱۳۱۷ کښې پښتو ټولنې نشر کړی دی .

نیکبختی : دا کتاب له انګریزی څخه په فارسی او له فارسی وڅخه په پښتو ترجمه شوی او په دغه وروانډی سنه کښې پښتو ټولنې چاپ کړی دی . د ښاغلی ارسلان سلیمی ترجمه ده .
سلیمی د پښتو یو ښه اخبار لیکونکی دی، پخوا د خان آباد د اتحاد مدیر و

په ځان باور . له انګریزی څخه د ښاغلی سلیمی ترجمه ده چه د اصلاح په روزنامه کښې نشر شوی ده .

د زړندانه لاری . دا کتاب د نقولای حداد مصری د (مناهج الحیات) پښتو ترجمه ده چه ښاغلی عزیزالرحمن سیفی ترجمه کړی دی او د کابل په مجله کښې خپریږی . سیفی د پښتو یو تکړه لیکونکی دی، پخوا د پښتو ټولنې عضو و

ز - درامی

په پټه د پښتو پلټنه : د اصلاح د دا پری له خوا د ۱۳۱۸ څخه پخوا نشر شوی ده او د برهان الدین کشککی اثر دی بله درامه یې « پټه مینه » نومیږی په دغه روزنامه کښې ځینې نوری درامی هم نشر شوی دی لکه « د وه سره مین ورونه » چه محمد رفیق فانع لیکلی ده .

ح - تعلیمي

پښتو خبرې: یو درسي کتاب دی، د معارف د وزارت له خوا په ۱۳۱۵ کال کښې چاپ او خپور شوی دی او ښاغلي پاینده محمد زهیر لیکلی دی.

پښتو ژبه: دا هم یو تعلیمي کتاب او دوه جزه دی، د ښاغلي مولوي صالح محمد اثر دی چه په ۱۳۱۶ کال کښې د پښتو ټولنې له خوا طبع او نشر شو، ښاغلي صالح محمد د پښتو یو ډېر پخوانی لیکوونکی دی، د امیر حبیب الله خان د زمانې څخه را په دې خوا د پښتو په خدمت کښې لګیا دی. په هغه وخت کښې یې د مکتب حبیبیه د پاره پښتو کتابونه جوړ کړي وو. دی څه موده په پښتو ټولنه کښې مبصر هم و.

لیکښوونکی: د پښتو انشاء ده، ښاغلي نوري لیکلی او د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی ده

پښتو کلي کاني: د پښتو کلي کانو یوه تعلیمي سلسله ده چه د پښتو ټولنې له خوا د پښتو د کورسونو او پښتو زده کوو د پاره جوړه شوې ده. تر اوسه پورې شپږ جلده چه ټول دولس جزو کېږي چاپ شوي دي، لومړی او دوهم جلد یې ښاغلي زمریالي او ښاغلي خادم، څلورم جلد یې ښاغلي بېنوا، پنځم جلد یې ښاغلي الفت او شپږم جلد یې «رشتین» لیکلی دی.

د پښتو قرأتونه: د پښتو قرأتونه په معارف کښې لیکلي شوي دي دا سلسله د اول ټولګي له قرائت څخه تر اتم ټولګي د قرائت پورې چاپ شوې ده، او په مکتبونو کښې ویل کېږي.

چه د پښتو د مشهورو لیکوالو آثار یې کښې ټول شوي او جمع شوي دي ځینې قرائتونه یو یو سړي هم لیکلي او یا یې ترجمه کړي دي،

د معارف نور کتابونه: له هغه وخت څخه چه پښتو د معارف په پروګرام کښې داخله شوې ده نو د پښتو کتابونو جوړولو د پاره په معارف کښې زیات کوشش شوی دی او کېږي. تر اوسه پورې د ابتدائي او متوسطه صنفونو ټول کتابونه پښتو شوي دي، او تر نهم ټولګي زیات جماعت پورې دا سلسله رسېدلې ده دینیات - حساب - جغرافیه - تاریخ - ساینس، او داسې نور کتابونه په پښتو اوښتي دي او په ابتدائي صنفونو کښې لوستل کېږي. هر کله چه معارف د ټولو راتلونکو ترقیو مونږ دی؛ نو ځکه د پښتو تعلیم په مکتبونو کښې یو اساسي شی دی او د حکومت له خوا هم ورته زیاته توجه کېږي.

په معارف کښې ځینې نور پښتو کتابونه لکه د معلم لارښوونکی او داسې نور هم چاپ شوي دي لنډه دا چه پښتو په معارف کښې تر ډېره حده مخکښې تللې ده، زیات کتابونه یې کښې لیکل شوي او جوړ شوي دي او نور هم دا کوشش جاري دی.

پرته له دې کتابو څخه چه بیان شول، په دې دوره کښې نور هم د پښتو زیات کتابونه (۱) ترجمه شوي او تالیف شوي دي، چه هغه اکثر قلمي دي او طبع شوي نه دي.

په صوبه سرحد (پېښاور) کښې پښتو آثار

څه رنګه چه دلته د پښتو نهضت او ژوند شروع او جاري دی؛ دغسې په پېښور او صوبه سرحد کښې هم دا حرکت له څه مودې څخه لیدل کېږي، هلته هم څه نا څه د پښتو د خدمت په لار کښې کوشش روان دی، تقریباً اتلس شل کاله پخوا (د انجمن اصلاح افاغنه) په نامه

(۱) د پښتو د کتابونو لست د کابل په سالنامو کښې شته هلته یې کتلی شی.

یو انجمن جوړ شوی و، چه هغه انجمن د پښتو په خدمت کښې ارخه اخستې وه او س د (ادبی جرګی) په نامه هم یوه ټولنه شته: چه د پښتو په خدمت کښې اکیاده سرپره په دې له څه مدې څخه د خټکو په اکوړه کښې د «بزم ادب» په نامه یو جمعیت موجود دی او د پښتو په خدمت کښې لاس اوښې خوځوی. کوم پښتانه چه د خپلو ژبې خدمت ته متوجه شوی دی، نو په پښتو کښې بعضې کتابونه لیکلی دي چه دا دی وروسته شوول کېږي.

لغات افغانی: د پښتو د لس زره لغاتو یو کتاب دی، چه سید راحت زاخیلی په اوردو ژبه لیکلی او په پېښور کښې چاپ شوی دی.

ګنجینهٔ افغانی: یو ابتدایی ګرامر دی، قاضی رحیم الله د پېښور د آبدری او سېدونکی جوړ کړی دی دا کتاب یې اعلیحضرت محمد ظاهر شاه ته منسوب کړی دی لکه چه وایې:
دانا چیز کوشش منظور کړی ظاهر شاه ته   مستفیض تري همګی افغانستان کړي

براور ییلی د کشنری: د پښتو د یرش زره متلونه او محاورې یکښې جمع شوی دی او د قاضی رحیم الله تالیف دی.

مکتوبات افغانی: د قاضی رحیم الله اثر دی چه د پښتو مکتوبونو مجموعه ده او په پېښور کښې نشر شوی دی. دا ظهار حقیقت - پښتو قاعده. ماډرن پښتو په نومونو نور آثار هم لري.

لغات انګریزی په پښتو: د میرزا سید محمد اثر او پېښور و لینډی کښې چاپ شوی دی (۱)

ګلدسته: د پښتو په نثر کښې یو اجتماعی او اخلاقی کتاب دی. د پېښور د چارسدې محمد اکبر خادم لیکلی او په (۱۹۳۷ ع) کښې چاپ شوی دی.

ښکلی رسول: د حضرت رسول د اخلاقو او اوصافو بیان کښې د محمد خان میر هلالی تالیف دی او په پېښور کښې چاپ شوی دی.

د سوات د ریاست تاریخ: دا کتاب په پښتو نثر د سوات د ریاست په تاریخ کښې سید عبد الغفور قاسمی لیکلی دی، او د (۱۳۵۶ ه) په حدودو په پېښور کښې چاپ شوی دی په دې کتاب کښې د سوات د ریاست متعلق ښه ښه معلومات شته او یو خوږ تاریخی کتاب دی.

د دې کتاب پښتو خوږه او خوندوره ده یوه جمله یې دا ده: «د سیدو شریف کټه چه کمو پښتنو ایښې وه، هغوی څه خبر وچه په دې ګلی به د ترقی عظیم الشان دور راځی»

مسئلهٔ خلافت: دا کتاب ملک سیدا خان شواری، د ابو الکلام آزاد له کتاب څخه په پښتو نثر ترجمه کړی او بیا یې (۲) طبع کړی او خپور کړی دی. دا کتاب د اسلام د حقیقت په بیان کښې یو غوره اثر دی.

پسرلی ګل: یو خوږ ادبی منظوم کتاب دی چه ښاغلی عبد الله جان «اسیر» جوړ کړی او په پېښور کښې چاپ شوی دی.

ګل کوهی - ادبی مرغلری: دا دواړه دوه منظوم ادبی کتابونه دی چه ښاغلی فضل احمد کوهی لیکلی او په هند کښې چاپ شوی دی.

---

(۱) د ۱۳۱۸ کال سالنامه (۲) مجلهٔ سرحد.

جنگنامهٔ انوربی: د سید راحت یو منظوم اثر دی چه د مشهور ترکی انور پاشا د ژوند حالات او د جنگونو بیان کوی. دا کتاب په پښتو کښې د نوی عصر یوه خوږه جنگنامه ده سید راحت په پښتو کښې نور کتابونه هم لری لکه (د زړه درد ـ شهید لیلی ـ داغستان راحت) مگر مونږ نه دی لیدلی.

ناول دماه رخ: په پښتو نثر د راحت الله «راحت» یو خوندور ناول دی. چه چاپ شوی هم دی. دا «راحت» غالباً هغه مشهور سید راحت دی چه (جنگنامهٔ انوربی) لیکلی ده.

خزان دافغان: یو پښتو نظم دی په قومی درد لیکل شوی او په پېښور کښې چاپ شوی دی.

حالات محمد: د پیدایښت نه تر وفاته پوری د حضرت محمد (ص) په حالاتو کښې یو لوی کتاب دی چه په (۱۳۵۲ھ) په ډیلی کښې چاپ شوی دی. د دې کتاب مؤلف امیر محمد نومېږی چه د پېښاور په (ترخه) کښې اوسی امیر محمد په اردو کښې د پښتو یوه قاعده هم لیکلی ده.

دپښتو ډرامې: په پېښور کښې نسبت نورو کتابونو ته ډرامې ډېرې لیکلی شوی دی، خو مره ډرامې چه مونږ لیدلی دی: هغه خوږی او خوندوری دی لکه درس عبرت او نوری کومې ډرامې چه مونږ ته معلومې دی او چاپ شوی هم دی دادی:-

درس عبرت: د عبدالله جان «اسیر» شهیده سکینه. خوږ ژوندون دا دواړه خوندوری ډرامې دی او عبدالخالق خلیق لیکلی دی.

درد: دامیر نواز جلیا یوه وړوکې خوږه ډرامه ده چه نثر او نظم دواړه لری.

دوېنو جام: دا ډرامه د محمد اسلم خټک اثر دی نوی روښنی او همت چه دواړه قاضی رحیم الله لیکلی دی جونګړه: لیکونکی ئی عبدالاکبر «اکبر» دی پردې ډول ممکن نوری هم ډېری وی،

تعلیمی: په تعلیمی حصه کښې هم ځینی کتابونه لیکل شوی دی، او لکه چه معلومه ده د اول. دوهم دریم. او څلورم جماعت قرانونه د مکتبونو د پاره ښاغلی عبدالخالق خلیق جوړ کړی او په پېښور کښې چاپ شوی دی ځینی نوری پښتو قاعدی هم هر دوږ به جوړی شوی او نشر شوی دی،

اخبارونه: په صوبهٔ سرحد او پېښور کښې د پښتو اخبارونه او مجلې له پخوا څخه شروع شوی او په دی حصه کښې ښه پرمخ تګ شوی دی.

مگر د هغه ځای دا خبارونه خبرونی یوازی په سیاسی خوا کښې دی او نورو خواته یې ډېره توجه نه ده کړی د پېښور څو مره پښتو اخبارونه او مجلې چه پخوا نشر بدلی او ځینی اوس هم نشرېږی دادی: د پښتون مجله (مؤسس او چلوونکی یې عبدالغفار خان دی) دازاد پښتو مجله ـ د سرحد مجله زلمی پښتون د خیبر مجله د جمهوریت اخبار د انګار اخبار د پیغام سرحد د افغان اخبار د نن پرون مجله (اوس نه نشرېږی) د ژوند مجله (له ډیلی څخه نشرېږی)

دموجوده عصر د ځینی لیکوالو او شاعرانو نمونه

په موجوده وخت کښې که څه هم ډېر لیکوال او شاعران پیدا شوی دی، او اشعار او آثار یې لېدل کېږی. مگر مونږ دلته صرف د ځینو یادو و کسانو نمونه اخلو چه په دې عصر کښې د شهرت

او د کتابونو او اثرونو خاوندان دي. او هغه دادي: محمد گل مومند. میر سید قاسم. عبدالحی حبیبي. گل پاچا الفت. قیام الدین خادم. سید حسن مرحوم. حاجي ولي محمد (۱) مخلص مرحوم عبدالرؤف بینوا. عبدالرحمن پژواك. محمد اعظم ایازي. محمد امین خوگیاني. سراج الدین سعید. شمس الدین مجروح. عزیز الرحمن سیفي. محمد یوسف ایازي. عبدالخالق واسعي. غلام جیلاني جلالي. محمد رسول پښتون. صالح محمد. برهان الدین کشککي. ارسلان سلیمي امین الله زمریالی. محمد عثمان پښتون. عبدالخالق اخلاص. محمد شیر گل خان. محمد گل نوري عبدالقدوس پرهیز. محمد هاشم پردیس. محمد نسیم نوري. محمد یونس مراد. غلام رحمن جرار. پاینده محمد زهیر. میراجان سیال. محمد عمر بلبل. محمد شریف جانان. رحمت الله. سید حسین رشاد او داسې نور. په موجوده میرمنو کښې حاذقه په هرات کښې، او حمیرا او روح افزا په کابل کښې د پښتو لیکوونکې دي.

د پېښاور د لیکوالو نمونه

د پېښور او صوبهٔ سرحد د موجوده وخت په مشهورو لیکوالو او شاعرانو کښې داور وسته شاغلي مونږ ته معلوم دي (سید رسول رسا. سید راحت زاخیلي. قاضي رحیم الله. عبدالغفار خان. محمد اکبر خادم. خانمیر هلالي. عبدالخالق خلیق. عبدالله جان اسیر. (مرحوم) صاحبزاده علي حیدر. فضل حق شیدا. سمندر بدرشوی. میا احمدشاه. امیر نواز جلیا. تاج محمد سر ادیب سوات. فضل احمد افغان. عبدالاکبر خان «اکبر» عبدالرؤف عندلیب. داود شاه برق. امیر حمزه شنواري. عبدالقادر عقیق زاخیلي. سید نصرالله. مفتي عبدالرحیم (وفات شوي دي)

حاجي محمد امین (د پښور یو مشهور شاعر او واعظ دی) عبدالغفور خان خلیل. محمد اجمل خان ختك منشي فاضل اوپه ا کوړه کښې د د بزم ادب ناظم دی عبدالکریم اتمانزي (یو پوخ سیاسي نثر لیکوونکی دی) د اکثر سیدانو ارالحق. فضل رحیم «ساقي». شر رانباډیري. سید عظیم شاه (داکوړې د بزم ادب مشراو ښه لیکوونکی دی)

قاضي عطاء الله. شیر محمد مینوش د اقبال د نظمونو په ترجمه کښې مشهور دی غلام سرور عبدالمالك فدا. محمد اشرف مفتون. طوفان سرحدي. او داسې نور د پښور په ښځو کښې الف جانه ختك. اقبال پروین یوسف زی او داسې نورې د پښتو شاعراني دي.

موجوده نثر

نثر د ادب یوه مهمه برخه او یو ضروري شی دی، یوه ژبه هغه وخت ترقي کولای شي چه نثر یې وسعت ومومي او د نثر لمن یې له هر ډول مضامینو څخه ډکه شي. د پښتو نثر په دې موجوده عصر کښې لکه چه گورو د ترقي پر لار وقدم ایښی دی هر ډول مضامین او نثرونه لکه تاریخي تعلیمي، ادبي اصلاحي، اجتماعي، فکاهي، سیاسي علمي او داسې نور پکښې داخل شوي دي د گرامري لغوي او د ډېرو مونثرونه هم پدې وخت کښې ورو ورو په ډېر یدو دي.

---

(۱) مخلص د قندهار یو نوموړی شاعر دی چه په ۱۳۲۲ ش کښې وفات شو او د اشعارو یو زبردست دیوان ورڅخه پاتې دی.

لنډه دا چه دزمانی دغوښتنی سره سم دپښتو په موجوده نثر کښی پوره تحول اوبدلون راغلی دی او هر ډول کتابونه پکښی که څه هم لنډ دی لیکل شوی او لیکل کیږی .

دنثر سبک ، دموجوده نثر سبک نزدې دمنشی احمد جان روان کړی سبک دی ساده او روان په محاوره برابر په پښتو لغاتو ښایسته ، په خوږ واو لنډو جملو ښکلی ددې وخت د نثر سبک ګڼل کیږی هو الکه چه په هر وخت کښی ځینی کمزوری اوخراب لیکونه وی نو په دی وخت کښی هم البته چه دغسی لیکونه شته مګر هغوته اعتبار نه ورکول کیږی دلته مونږ ځینی غوره لیکنی چه دقوی کسانو په واسطه چاپیږی تر نظر لاندی نیسو او ددې عصر دسبک نماینده بې او دپښور په خوا کښی هم خوازه لیکونه او قوی نثر لیکونکی شته ، مګر په عام لحاظ ملته دسبک دښه والی خوا ته عمومی توجه نه ده شوی ، داوجه ده چه په ځینی تحریرونو کښی دفرسی تر کیبونو رنګ معلومیږی بل دغه ځای په نثرونو کښی دګاونډی پتوب او نور نفوذ په وجه ار دو او انګریزی کلمی هم راګډی شوی دی . مګر ددې ځای په لیک کښی زیاد عربی اودفارسی کلمو استعمال نسبتاً ډیر دی . که څه هم دپښتو دموجوده ژوند روح په ټولو پښتنو کښی پوکلی شوی دی او ټولو پښتنو ار دی که ډیر دی خدمت ته ملاتړلی ده ، خو سره ددی هم دپښتو ټولنی او روزلو مهم مرکز افغانستان دی دلته د آثارو دډیروالی او دسبک ښه والی ته ښه توجه کیږی او دا کوشش جاری دی چه دپښتو یو خالص ، سوچه خوندور طرز او سبک پیدا او میدان ته راو وځی او پښتو ډیر و علمی آثارو خاونده شی سر بیره د پښتو ادبی او تاریخی ژوندیو لار کښی هم دلته ډیر کار او خدمت شوی دی .

علمی ترجمی ددې وخت په نثر کښی چه کوم مهم زیاتوالی راغلی دی ، هغه له خارجی ژبو څخه علمی او نوی ترجمی دی خو کښی هم ښایسته ښه کار شوی دی او له انګریزی ، فرانسوی ، اردو او عربی ژبو نه هر ډول مفید کتابونه ترجمه شوی او ترجمه کیږی دا ترجمی اکثری قلمی دی او چاپ شوی نه دی مګر یو لوی نقص چه په دی حصه کښی لیدل کیږی هغه دادی دا ترجمی ددا سی کسانو په واسطه کیږی (چه دهغو پښتو دپښتنی ماتوی) البته دداسی ابتدایی خلکو (۱) ترجمی او بلی ژبی دا ثر لاندی راو ستل دژ بی ملامتول دی . ددې دپاره چه په دې کده کښی سړی پری وځی دهغو کسانو دسبک پیروی پکار ده چه هغوی په دې لار کښی وړاندی دی .

او داسنتا ذی حق لری دا کسان ګه څه هم دګوتو په شمیر دی مګر ښه والی او غوره والی دسر ونه په زیاتوالی نه دی ، بلکه کیدای شی چه دیوه غوره طرزدراو یستلو سکه دیوه سړی پنامه وو هله شی .

اوس ددې عصر دنثر یو دوه نمونی وګوری .

اوله نمونه

دغمجنو سره

دوسته ولی خفه یی ؟ پیسی نشته ؟ دولت نشته ؟ یوروړی ؟ نې ؟ سیالی نه ده برا بره ؟ دا نو څه خمګان دی ، خدای لاس در کړی ، پښې در کړی ، عقل نې در کړی ، فکر نې در کړی کار وکړه ، کسب وکړه ، کوشش وکړه ، جدو جهد وکړه ، په ښه دستور او دینګ عزم خدای تعالی دهیڅا عمل نه ضایع کوی ،

---

(۱) لسکه داخبارونو دترجمو سبک او طریقه .

رفیقه! ولې داسې مراوی یې؟ د نا کامۍ سره مخامخ شوې یې؟ کامیابي نه ده شوې، کوښښ دې وکړ او ځای ئې ونه نیو؟ دا نو څه خبره ده؟ خفه نو ولې یې؟ سبق واخله پند واخله عبرت واخله. دا د قدرت تعلیم دی، په تا کښې نقص وی. ستا کوشش به په صحیح صورت نه وی. په قدرتي اساس به نه وی! څه په ځان کښې تغیر وکړه څه کار په فطرت برابر کړه بیا کوشش وکړه چه کامیاب شې او که نه نو ته خو بنده یې اسرداره! ولې غمګین یې؟ په څه فکر په څه خیال؟ د ملت لۀ غمه؟ د قام لۀ غمه! د وطن لۀ غمه؟ د وطن لۀ غمه رښتیا ده نن ملت کمزوری دی! نن قوم ضعیف دی - نن وطن محتاج دی او دا د مسلمان د پاره، د افغان د پاره او د صاحب وجدان د پاره شرم دی. عار دی، غم دی، الم دی، مګر وګوره دا خومره خوږ غم دی؟ دا خو ګه د مزې درد دی؟ په دې کښې خومره شیریني ده؟ خومره خوږ لني ده او خومره صاف زړونه، سپیڅلي دماغونه له تا سره په دې غم کښې شریک دي او دا غم خومره خوږه نتیجه لري؟

قیام الدین (خادم)

دوهمه نمونه

کشمیر چه لمر لا تو له مځکه په خپلو سپینو وړانګو نه وه روڼه کړې ما له او ړي څخه وښو کښتو او کړ او مځکو نه خبر ځیر کاته. د لمر لومړني وړانګې چه پردې شبنمو باندې خپرېدې. هغه کوچني کوچني څاڅکي چه د شپې د ې شنو او زرغونو وښو په څنګ کښې نیولي وو. داسې به ایښېده لکه مرغلري چه پر او ړېدلي وي! زه د دې ښکلي مځکې په ننداره بوخت وم چه ناڅاپه یو څو کوچني هلکان راغله د وی زه له هغه طبیعي خونده چه د مځکو او وښو په ننداره پروت وم یو بل خوند ته چه هغه هم د هر زړه وړونکې و بوتلم! ما واېده چه دا کوچني سپیڅلي سپین پښتانه هغه کوی چه ژر مکتب ته ورسېږي سره د دې هم کله کله په زرغونو وښو کښې سره ټولیږي او د کوچنو ټوپه خپرېو خوږ اتڼ اچوي او په خوراتو یو او سپیڅلو ږغو په خپله ملي ژبه د بېرغ ترانه وایي خدای په رښتیا خو ښیږي چه زه دې زړه وړونکي منظر خورا محو کړم او په زړه کښې مې هغه آمال او هغه هیلې سره وښور پدې چه دا وطن او د خاوره او دا د پښتنو بناد منه مسینه ئی دد ی کوچنو هلکانو وراتلونکې ژوندون ته اړې ماد ځان سره و ویل! څښتنه! دا خو د هغو مېړو او تور یالیو پښتنو زامن دي چه د تاریخ مخونه د دوی په مېړانه او ننګیالی توب ښایسته دی، او د دوی په بشر وکښي خو لاهغه د میرویس او غازي اکبر ویني په غور ځنګ دي

دریمه نمونه

په داسې ئی نوه زمانه کښې چه مشران په کښی د یسی شل خر څپېږي، او د مشر کشر بیلتون نشي کېدی په مشر او د هغه په مشري باندې خوله سپړل د ډېر وسوړه په او ټوو یشتل دی خو اوس یوه خبره ده چه مخې له راغلي د زمونږ پرې تو کل دی. مشری د هر سړي په خټه کښې اخښلی شوی ده هر څوک غواړي چه د هغه شه دې او په وي. دا غوښي د هر چا خو ښې دی. دا پله خبره ده چه د پېښو وړېسي کومی برابوزی د دنیا د مخ تنګ د پاره دا خبره لا ډېره ضروري ده چه هر سړی دې د بل نه دوړاندې تللو ګواخ لري او کم سړي چه دومره بې ښې شي چه لکه د شمشتي په خپل ځې کښې سرننه ویستي مدام په خپل حال خوشحال اوسی نو بیکار دی چه هغه مخ سرو ننغا ړی او دا خپل ځای بل چا ته پرېږدي. د قومي ژوندون او لوړتیا د پاره

په هر قام کښې د سړي سړي پکاردي خو د اکثر ځنګه چه د هر قام ځان ځانله سړیتوب دی دغه رنګ په سړي سړي کښې هم فرق دی. په سپین کښې د ېر کسانې زغري خو سپین کښې یو نیم پېښېږي. دغه رنګ په قومونو کښې پېدېږو خلقو کښې یو کس وي، چه هغه ته خلق درانه ګوري د هغه خبره ور ته د کسانو کرښه ښکاري او د هغه په خولې خلق مدام ځانونه په سپین لاهو کوي د دنیا ټول د داسې خلقو پېدېږد کېږي که هغه فرونه چه د آسمان د لاندې تېرې لاړې د دوي په پښو پرېوني دي د داسې یو کس د سره خلقو مدام سل کسه صدقه کړي دي، د دې کسانو د مخه دا دنیا آباده. د دوي د مخ پر دنیا خان غریب امیر و زیر او وزه او ته او بل ګرزو او د دوي د ژوند ورځ ورځ د دنیا د تار پخ میاشتې او کلونه وي

پاکه پاڼه

پاڼې په څو څو قسمه دي د قرآن پاڼه، د کتاب پاڼه د ونې پاڼه، د ژوند پاڼه. د تماکو پاڼه او د چایو پاڼه، اګرچه په خپل خپل ځای په هره پاڼه کښې څه صفت شته ولې زما امید دی چه نور شاغلي به هم پېدي خبره کښې زما ملګري وي چه په ټولو پاڼو کښې د قرآن پاڼه د ېره پاکه او مبارکه پاڼه ده. خو ډېره مده کېږي چه سېلي زمونږ وطن ته یوه عجیبه غوندې پاڼه لا چپړ ته نه راوړې ده دا وطن د دې پاڼې د ومره خوښ شو چه خپل ټول قام قبیله ئې په کمه دې وطن ته راوستل په لږو ورځو کښې ئې په ټول ملک قبضه وکړه او نوري ټولې پاڼې ئې شاته کړې، دا پاڼه د رنګه توره او د خوبه ډېره ترخه ده دې ته د چایو پاڼه وائي د انن سبا د هر چا د کور مېرمن ده، او د هر چا تن وجود دی. خلق دې ته د ومره محتاجه دي چه بې د دې د اجازت نه د کوره بهر ته نه شي وتلې په خوا به خلقو وختي سهر سترګې په جماعت کښې غړولي او د هر څه نه به ئې آګاه و د قرآن پاڼې ئې کتلې لیکن نن سبا دغه ځای د چایو پاڼې نیولی دی. او س هم خلق وختي پاڅي خو سترګې په چایو غړوي او تر څو چه ئې د اښکل کړي نه وي نو د کوره بهر ته وتی نشي (عبدالکریم اتمانزی)

موجوده نظم

اګر چه و پېښو پدې وخت کښې د پښتو نظم نوي نوي فکرونو او خیالاتو ته په خپله غېږ کښې ځای ور کړیدی سره د دې چه زوړ رنګ او پخواني خیالونه لا هم ایښې ورک نه دي د عشق ناري او د مینې چغې لا هغسې شته، مګر بیا هم ځینې ایدا رمغزه روښن فکر خلق موجود دي؛ چه هغوي د پښتو شعر په زاړه کالبوت کښې نوي روح اچول غواړي، نوي ترانې نوي نغمې وایل او له نوي رنګه خلق خبرول خپله وظیفه بولي دا وجه ده چه په موجوده نظم کښې بې خوږې ملي، قومي، وطني او اجتماعي منظومې لیدل کېږي د لفظ او ظاهر په لحاظ هم موجوده نظم څه نوي رنګ او نوي لباس قبول کړیدی، د دې وخت شعر او نظم له پخوانو پابندیو څخه آزاد دی. په هر طرز، هر شکل او هر اندازه چه چا یو خوندور موزون کلام و وایه هغه نظم دی، نور حدا وحدود له منځه وتلي دي ځکه چه دا د معنی عصر دی، پدې عصر کښې معنې مهمه ده، له الفاظو څخه معنی ځارول د پخوانو کار ؤ مګر بیا هم د پښتو نظم د مدني دنیا له نظم څخه وروسته دی نو ښایې چه دا نیمګړتیا وي پوره او د پښتو د نظم دنیا رنګینه او ښایسته کړو پدې عصر کښې ملي او ناخوانه شاعران هم شته چه هغوي اکثر له ښارونو

او مدنی ځای پوښته اړی دی چه ملی و زنو اشعار وایی، او ددغو او چار بیتو سره غړی راکاږی او س ددی ضرورت دی چه ښاروال (مدنی) او بانډه وال (غیر مدنی) شاعران سره غوږونه نږدی کړی له دوی ښخه فکرونه او له هغوی ښخه ملی وزنونه واخلی، مطلب دا چه ښاروال په ملی وزنو اشعار و وایی او بانډه وال نوی خیالات په خپلو اشعارو کښې ننباسی نو هغه وخت کیدای شی چه مونږ د یو غوره ملی ادب خاوندان شو. او س د موجوده نظم یو څو نمونې و ګوری

اوله نمونه

دوطن له خوا :

وا وره ای پښتو نه زه میراث ستا د نیکو یمه   ستا ښکلی زانګو یم ادیره ستا د پلرو یمه
خاوری می مه بوله په ښه سترګه راته ګوره ته   خاوری که هم یم ستا د نیکو نو د سرو یمه
ښه ښا یسته لعلونه سره یاقوت می په لمن کښی دی   ښکلی منظره له ګلونو که د ابد و یمه
ته می په خپل سوری کښی اوی کړی نازولی ئې   شین او سمسور باغچه که له ګلانو او میوو یمه
ښه سپینی خو زی پخی او به می دشو دو پشان   تا سی ته در کړی مورد تولو پښتنو یمه
مینه دی اری زړه کښې امیدو نه خپل اولا داره   ځکه زه نن تا ته په امید او په اسرو یمه
غوا ړ م چه تا هم لکه د تیر و پښتنو په شان   و و ینم میدان کښی ننګیالی یې دې آرزو یمه
خاوره او هو امی له غیرت او ننګه ډه د ه   ګوا بی ننګ غیرت چه زه وزمه ستاسی دغرو یمه
کلک عزم له سره تیر پدل په خپل ناموس باندی   ښیمه پښتون ته ډک له داسی تاثیر و یمه
څوک که می پوره حقیقت غواړی په سند رو کښې   زه الفت ستا یلی په خوږو خوږو بیتو یمه
(ګل پاچا الفت)

دوهمه نمونه

چه په بخپله مستقل یمه اسه ځا نه   څو تر څو کړم د نورو تقلیدونه
زما شعر دی نسیم که ګو هستا نه   وینبوی د پښتنو سپیڅلی زړونه
مداح نه یم چه په زیبات صفت څوک ستایم   نه له چا څخه می هیله د دنیا شته
ځو ژوندی یمه رښتیا رښتیا به وایم   په درواغو می له خولی ګله و نشته
قام به و یښ کړم لکه دم د مسیحایم   له غلیمه زما ګله څه پرواشته
تملق می منافی دی له و جدانه
مقید نه یم آزاد می دی بیتونه
دیار در ته نه یم پروت په ګدایی کښې   زرغونو درو کښی ښورم لکه باز
نه د شونډو ویه شراب یم په مستی کښې   له هر څه د وطن مینی کړم بې نیاز
د مطرب حاجت می نشته په نری کښې   چه په زړه کښې می شو میشت د وطن ساز
ملیت په کړم د نمر په څیر روښانه
نکړم نور د خال و خط زلفو غمونه
ګله تیز تر څه ویل کړم وملت ته   له هر اوری ور کوم سختی طعنی زه
ګله بولم خپل ملت خوی د وحدت ته   په پسته ژبه کوم دوی ته ګلی زه

بیا ئې ستوري کې وائه د م زاړه عظمت ته
ورپه یاد کړم بیا نې بت خوږې قصې زه
دا الهام مې راځي زړه ته له آسمانه
بیا د دې یا کې فصادي دا خوږونه

(بېنوا)

دریمه نمونه

ټپه په ټپر وشمار کړه او ته پر پرېږده پخوانی خبرې
ما باندې خوږې اېګې دا خپلې دلخوانی خبرې
ذکر د آسونو د ښکارو نو د بازونو کړه
هم د سپینو تورو توپکونو جهازونو کړه
باز یم اېګه باز په غرونو کرزم سیلانی یمه
لا خوزه زلمی یمه
پر ېږده داد مرګ سرې ستا یانی د بو دا خبرې
پر ېږده د پلټون او د وصال او د آشنا خبرې
وخت د سپینو تور و د خړ یا او د ښر ښکار راغی
وخت او س د مردي ا د مردانو د غوغا راغی
توره د همت زما په لاس ده ابدالی یمه
لا خوزه زلمی یمه
اوی رباب سور کړه نوی دوردی نوی ترنګ غبزو و
نوی جام پیدا کړه ای ساقي او نوی جنګ غبزو و
ستا زاړه شراب زړی پیاله کښې اوس د ښکو نه دي
نه ورته اعلوم نه وایي دا اوس د پېسو نه دي
زه خو درنه لا د م زه سالم په زړه غمی یمه
لا خوزه زلمی یمه
تنګ ستا د کبابو د شرابو د محفل نه شوم
دا خو سر دردي دي زه بېزار د دې غوبل نه شوم
نه ار و مه نوری ستا د چنګ خوشی غزلی دي
ژوند یکښې هېڅ نشته د امرګ ستړي ادلي دي
لا په ما کښې ژوندي زه د ژوند بیا پسته کالی یمه
لا خوزه زلمی یمه
دا زما وطن دی دا وطن د ښو ښو انانو پلار
دا ته توریالی به پسته معشوق دی زن صفت دی خوار
دا ته کښې میرویس او خوشحال خان او احمد شاه پیدا
دا ته کښې محمود او هم غوري او هم شیر شاه پیدا
زه هم شیر بچی یم جنګیالی او ننګیالی یمه
لا خوزه زلمی یمه (سید رسول رسا)

د پښتو د عامو ال سببونه

دا را ته معلومه شوه چه پښتو په دې عصر کښې د ترقی په یوه مهمه دوره کښې روانه ده د پر خلک د پښتو په خدمت کښې اېګیا او د پښتو کتابونه او آثار ورځ په ورځ په زیاتېدو دي نو د دې عمومت مهم سببونه د ادي :

۱- د حکومت توجه او د حکومت له خوا پښتو ایکوالو قدر او نمانځنه
۲- د پښتو د کور سونو جوړول ، او په مکتبو کښې پښتو داخلول
۳- په اخبارونو او رادیو کښې د پښتو خبرونی او نشریات
۴- د جایزو او انعامونو جاري کېدل .
۵- د مطبوعاتو د ریاست او پښتو ټولنی له خوا د پښتو په باب ښه ښه نشریات کول ،
۶- د پښتو خپله بېداري او تعلیم او علم ته مخه کول

په دې شان نور هم داسې ډېر اسباب شته چه د پښتو په عاموالی کښې اثر اري او اوس د پښتو د عمومیت او رواج اثر په هر چا ښکاره شوی دی ، ټول دفترونه دایرې ، موسسې او شر کتونه

کوښښ کوي چه خپلې سرلوحې، جدولونه او عنوانونه په پښتو کړي. اګر چه دا کار له ډېر وخت څخه جاري دی دا رنګ نوي نومونه چه اېښوول کېږي هغه هم اکثر په پښتو دي مثلاً د ښوراى شرکت، د روښان شرکت، ابري درملتون - نوي درملتون او داسې نور - نن هر پښتون به دې پوه دی چه دا د پښتو ولي ازمېښت او د مات او امتحان دی، په دې ازمېښت او امتحان کښې باید بريالی او کامياب راووځو، نه هميشه فرصتونه وي او نه مدام د زمانې دوران په يو حال وي، مګر دا مېدان وړل او په دې امتحان کښې کاميابېدل وښوب، بيداري، ملي پوهاوی او د زړه د ښېښې صفايي غواړي، راځئ چه نور د اوي احمد شاه په دې بېت خبره ختمه کړو

واړه يو دي که غلجي دي که اودال ښه هغه چه په ښېښه د زړه صفا ده

❀ ❀ ❀

د کتاب د تمامېدو نېټه، ۱۵، دلو ۱۳۲۳ ش

صديق الله «رشتين»

پوهنځي باید داشتونه

ددې کتاب دچاپېدو نه وروسته په ځینو یادداشتونو اونوي معلومات لاس ته راغلل چه لاندي ئې دضمیمې په ډول بیا نقل شول:

۱- حسین: دی په پښتو کښې یو کتاب لري چه د خلاصة الاسلام او نورو کتابونو څخه ترجمه شوی دی ددې کتاب موضوعات دیني دي دلیکلو طرز ئې داخون درویزه د مخزن الاسلام پشان دی یعنې په نیم منظوم نثر لیکل شوی دی. ددې کتاب یوه قلمي نسخه په پښتو ټولنه کښې شته چه د حسین لیکوالي ورڅخه معلومیږي. د حسین د ژوندانه زمانه پوره نه ده معلومه مګر د کتاب د سبك او طرز له مخه ئې داخون درویزه داولاد معاصر یعني د (۱۱۰۰ه) د څټو لیکوال ګڼلای شو.

❀ ❀ ❀

۲- محمد: د پښتو ټولنې په کتابخانه کښې یواوي قلمي کتاب موجود دی چه په (۱۱۱۸ه) د پښتو په نیم منظوم سبك لیکل شوی دی. دا کتاب (۲۱) بابه او (۵۰۸) مخه دی چه د محمد مصطفی (ص) د نور د پیدایښت، هغه د حالاتو او شمایلو بیان کوي، په آخر کښې ئې د یو څو نورو پیغمبرانو قصې هم شته ددې کتاب نوم که څه هم پوره معلوم نه دی مګر د مطالبو له مخه ورته (سیرت نبوی ص) ویلای شو. ددې کتاب مؤلف د کتاب په آخر کښې خپل نوم په دې ډول راوړی دی.

نکیه خدای کړه محمده امید وارشه له احده

ددې کتاب د سر بیتونه دا دي:

ای زما ربه خالقه - کل ثنا ده ستا لایقه - ته رحمان رحیم خدای ئې - د بخشش امید زما له تا نه کیږي ته قادر رب سبحان - زه عاجز بنده ناتوان - که توفیق وما ته راکړې - ستا د دوست صفت اوما په بیا نیږي.

❀ ❀ ❀

۳- (په ۶۳۴ مخ پوري مربوط) د آدم خان او درخو یوه قلمي قصه په پښتو ټولنه کښې شته چه د (۱۳۲۱ه) تحریر دی. مګر له دغې نسخې څخه ئې د مؤلف نوم نه معلومیږي له دې کېله دغه قصه د بناغلي حبیبي په روایت د (مسعود) تالیف بولو

❀ ❀ ❀

٤- (په ٤۹ مخ پوري مربوط) عبدالقادر خټك په پښتو کښې د قصیدې بردې ترجمه هم کړې ده چه قلمي نسخه ئې په لندن کښې شته او په پښور کښې چاپ شوي هم ده.

❀ ❀ ❀

۵- عبدالکبیر: دی په پښتو کښې د (جنت الفردوس) په نامه یو دیني اثر لري چه ټول (۳۸) بابه دی ددې کتاب یوه قلمي نسخه په پښتو ټولنه کښې چه په (۱۲۲۸ه) کال د عبیدالله نامي په قلم لیکل شوې ده، له دې نه معلومیږي چه دغه کتاب له (۱۲۲۸ه) څخه د مخه تالیف شوی دی، چه په دې اساس عبدالکبیر تر (۱۲۰۰ه) دوخټو شاعر ویلای شو. او دا ورته لیکلي دي چه حافظ عبدالکبیر د احمد شاه بابا په عصر کښې و، د احتمال

اري چه همدا عبدالکبير به وي. جنت الفردوس په پښور کښې چاپ شوی هم دی. د سر بيتونه ئې دادي:

اوس به وايم له کتاب   د کتاب له هره باب
د هر باب جدا ثواب دی   چه منقول له هر کتاب دی
د ثواب کارونه ډېر دي   حد ئې نشته تر حد تېر دي

* * *

٦ ـ عبدالله: دا سړی د پښتو شاعر دی د جنت الفردوس د قلمي نسخې په آخر کښې ئې يو څو شعرونه راغلي دي. دده ژوند زمانه د (١٢٢٨ه) حدود دي ولې چه په دغه سنه کښې ئې د جنت الفردوس يوه نسخه تحرير کړې ده دي د جنت الفردوس په آخر کښې يو مناجات اري چه د سر بيتونه ئې دادي:

مناجات اوس کاتب کاندي   که قبول ئې رب و کاندي
د کاتب نوم عبيدالله دی   طمع دار په له الله دی

د دې عبيدالله اشعار مستر ډېن روسي هم ليدلي دي او غالباً چه همدا به وي.

* * *

٧ ـ (په ١١٥٥ مخ پوري مربوط) عنوان الدين کاکا خېل اخلاق جلالي په پښتو اړولي دي، لکه چه نعمان الدين احمد کاکا خېل کتاب ظفر النساء په آخر کښې ليکي «چه اخلاق جلالي د فخر قوم ميا عنوان الدين کاکا خېل تصنيف دی چه په ١٣٢٢ه ئې د چاپېدو اراده هم شوې وه»

* * *

٨ ـ (په ١٢٢٠ مخ پوري مربوط) ملا احمد جان دوه نور کتابونه هم اري يو (قصه د درې يارو) نا اول سکندر نامه افغاني نو مېږي چه چاپ شوي هم دي.

* * *

٩ ـ (په ١٣١٠، ١٣٢٠ پوري مربوط) په دې مخو کښې ليکل شوي دي چه د امير عبد الرحمن سوال و جواب دولتي او نصايح نامه ملا غلام جان په پښتو ترجمه کړي دي، لاکن د نصايح نامې له نسخې څخه چه په کابل کښې چاپ شوې ده د مترجم نوم نه معلومېږي، له دې کبله مونږ د ښاغلي حبيبي په روايت دغه کتابونه د ملا غلام جان ترجمه بولو.

* * *

١٠ ـ (په ١٤٠٠ مخ پوري مربوط) د امير حبيب الله خان د زمانې له پښتو ليکوالو څخه يو عبدالهاديخان هم دی چه په سراج الاخبار کښې ئې پښتو مضامين نشر شوي دي، دی اوس هم ژوندی او په کابل کښې دی

١١ ـ (په ١٥٥٠ مخ پوري مربوط) د موجوده عصر له پښتو ليکوالو څخه يو عبدالعزيز خان هم دی چه پخوا د طلوع افغان مدير و، د غسې عبدالله خان افغاني نويس. غلام حسن خان صافي. فضل اکبر «پښتون» شمس الدين قلعه ګی. محمد رحيم عاصمي پاينده محمد بهاري هم د موجوده وخت پښتانه ليکونکي ګڼل کېږي. دا رنګه په صوبه سرحد کښې ميا جعفر شاه. فضل محمود مخفي عبدالودود سرحدي هم پښتانه ليکوال دي.

داشخاصو نومونه

پەدې کتاب کښې کەڅەهم‌دېرخلك ذکرشوی اوراغلی‌دی. مگرمونږ پەدې نوم‌لیك کښې یوازې د پښتنو شاعرانو، لیکوالو، عالمانو پاچاهانو او مستشرقینو نومونه راوړو . او داختصار پەغرض لەنورو نوموڅخه تېرېږو. دانو مونه د الفباد تورو پە اعتبار ترتیب شوی‌دی چەداپه حقیقت کښې د کتاب مفصل فهرست هم‌دی، ددی فهرست لەمخه هرڅوك خپل مطلوب شخص پیدا کولای او مطالعه کولای‌شی، داته مونږ دهرنامه پەمقابل کښې ئې‌ئې مهمې صفحې ښودلی دی.

(الف)

۱ امیر کروړ (شاعر، پاچا) ۹ـ ۲
۲ـ امیر نصر (شاعر، پاچا) ۱۰ـ۲٤
۳ـ ابومحمدهاشم (عالم، شاعر) ۱۰ـ٥٤
٤ امیر پولاد (امیر) ۲۳
٥ـ امیر ناصر (») ۲۳
٦ــ امیر ښنجی (») »
۷ـ امیرمحمد سوری (») ۲٤
۸ـ امیر بسطام (») ۲۳ـ۲٦
۹ـ امیر شماخ (») ۲۳
۱۰ـ اسمعیل سړبن (شاعر) ۱۲ـ۲٥
۱۱ـ بټاکبر (شاعر) ۱۸
۱۲ـ ابوالفتوح داؤد (امیر) ۲٤
۱۳ـ احمدبن سعیدلودی (مؤرخ) ۲۲ـ
۱٤ـ ابراهیم لودی (پاچا) ۲٦
۱٥ـ الله‌یار الکوزی شاعر) ۳٦
۱٦ـ ارزانی (لیکوال) ۳۷
۱۷ـ امیر (شاعر) ۳۹
۱۸ـ اخون درویزه عالم، (لیکوال) ٤۰ـ٥۸
۱۹ــ احمد (شاعر) ٤٤
۲۰ـ اخون قاسم (لیکوال) ٤٥
۲۱ـ اشرف‌خان هجری (شاعر) ٤۸
۲۲ـ امام‌الدین (مؤرخ) ٥٤
٤٦ ـ اکرم جان (شاعر) ۱.۹ ـ
٤۷ ـ احمد گل (شاعر) ۱۱۷ ـ
٤۸ ـ اسدالله (شاعر) ۱۱۸ ـ
٤۹ ـ اکبر (شاعر) ۱۱۸ ـ

۲۳ ابراهیم پښتنو (شاعر) ٥٥
۲٤ ــ اخوندچالاك (عالم) ٥٥
۲٥ ــ احمدشاه مولانا (») ٥٦
۲٦ الله‌داد (شاعر) ٥٦
۲۷ـ اسلام‌شاه (پاچا) ٥٦
۲۸ـ احداد (امیر) ٥٦
۲۹ـ الله‌یار اپریدی (شاعر) ۷۰
۳۰ـ اودل (شاعر) ۷٦
۳۱ ــ ابراهیم (شاعر) ۷٦
۳۲ـ ابوالقاسم (شاعر) » ــ
۳۳ـ احمدشاه (شاعر، باچا) ۷٦ ـ ۹۹
۳٤ ابراهیم خان (شاعر) ۸۰
۳٥ـ اکبر (شاعر) ۸۳ ــ
۳٦ـ افضل‌خان خټك (شاعر) ۸٤
۳۷ الله‌یارخان (لیکوال) ۸۸ـ۱۰۰
۳۸ـ امیرمحمدانصاری (لیکوال) ۸۸ـ۱۰۳
۳۹ـ الپوری حافظ (شاعر) ۸۹ـ
٤۰ـ امام‌الدین (شاعر) ۹۱
٤۱ـ انور (شاعر) ۹٦ـ
٤۲ـ امانت‌ملیار (شاعر) ۱۰۷
٤۳ـ احمد (شاعر) ۱۰۷
٤٤ ـ ارسلا (شاعر) ۱۰۷ـ
٤٥ـ اکبرشاه (شاعر) ۱۰۷
۷٤ـ بهرام (شاعر) ۱۰۷ ـ
۷٥ ـ برات (شاعر) ۱۰۷ ـ
۷٦ ـ بادر (شاعر) ۱۰۷ ـ
۷۷ـ یاراحمد (شاعر) ۱۰۷ ـ

Marfat.com

٥٠ ـ اشرف (شاعر) ١١٨ ـ
٥١ ـ احمددین (شاعر) ١٢١ ـ
٥٢ ـ احمد آخندخیل (شاعر) ١٢٢ ـ
٥٣ ـ احمد دیجکی (شاعر) ١٢٢ ـ
٥٤ ـ امیر علیخان (شاعر) ١٢٤ ـ
٥٥ ـ آدم (شاعر) ١٢٥ ـ
٥٦ ـ احسن (شاعر) ١٢٥ ـ
٥٧ ـ ابراهیم شاه (شاعر) ١٢٦ ـ
٥٨ ـ امان گوجراتی (شاعر) ١٢٦ ـ
٥٩ ـ امیر (شاعر) ١٢٦ ـ
٦٠ ـ اسلم شاه (شاعر) ١٢٧ ـ
٦١ ـ اکرم خان (شاعر) ١٢٧ ـ
٦٢ ـ اعظم الدین (شاعر) ١٢٧ ـ
٦٣ ـ آزاد خان (شاعر) ١٢٧ ـ
٦٤ ـ اسلام پور پاچا صاحب ١٢٩ ـ
٦٥ ـ امان الله خان (پاچا) ١٤٠ ـ

(ب)

٦٦ ـ بهلول لودی (شاعر، پاچا) ١٨ ـ ٢٦
٦٧ ـ بابر خان (شاعر) ٢٠ ـ
٦٨ ـ بابو جان (شاعر) ٤٥ ـ
٦٩ ـ بهرام (شاعر) ٠١٥ ـ
٧٠ ـ بای خان (شاعر) ٦٤ ـ
٧١ ـ بابو جان بابی (شاعر) ٦٦ ـ ٩٩
٧٢ ـ برهان خان (شاعر) ٨١ ـ ١٠٢
٧٣ ـ باقر شاه (شاعر) ٩٢ ـ
٧٨ ـ باره خان (شاعر) ١١٠ ـ
٧٩ ـ بهره مند (شاعر) ١١٠ ـ
٨٠ ـ برخوردار (شاعر) ١١٥ ـ
٨١ ـ بوعلی شاه (شاعر) ١٢٦ ـ
٨٢ ـ باز محمد ملا (شاعر) ١٢٦ ـ
٨٣ ـ بهرامی (شاعر) ١٢٧ ـ
٨٤ ـ بتخاک حضرت صاحب (عالم) ١٢٩ ـ

(پ)

٨٥ ـ پیر سباک (عالم) ٥٦ ـ
٨٦ ـ پیر محمد هوتک (عالم شاعر) ٦٧ ـ ٩٩
٨٧ ـ پیر محمد کاکړ (لیکوال) ٧٨ ـ ١٠٠
٨٨ ـ پیر معظم شاه (لیکوال) ٩٧ ـ
٩ ـ پردل خان (شاعر) ١٠٥ ـ ١٣٨ ـ
٩٠ ـ پاپاب (شاعر) ١٠٧ ـ
٩١ ـ پاچا گل (شاعر) ١٢٨
٩٢ ـ پیر محمد منشی (لیکوال) ١٣٥ ـ

(ت)

٩٣ ـ تامینی (شاعر) ١٤ ـ ٢٥ ـ
٩٤ ـ تیمور شاه (شاعر، پاچا) ٧ ـ ١٠٨
٩٥ ـ توکل (شاعر) ١١٢ ـ
٩٦ ـ تسلیم (شاعر) ١٢٧ ـ
٩٧ ـ تنگاو ملا صاحب (عالم) ١٢٩
٩٨ ـ ترنگزو حاجی صاحب ١٢٩ ـ
٩٩ ـ تاج محمد مولوی (عالم) ١٤٣ ـ

(ج)

١٠٠ ـ جلال الدین خلجی (پاچا) ٢٦ ـ
١٠١ ـ جمال خان (شاعر) ٤٨ ـ
١٠٢ ـ جان محمد (شاعر) ٨١ ـ
١٠٣ ـ جلات خان (شاعر) ١٢٦ ـ
١٠٤ ـ جمعه خان (شاعر) ١٢٧ ـ

(ح)

١٠٥ ـ حلیمه (شاعره) ٥١ ـ
١٠٦ ـ حسین خان افغان (مؤرخ) ٥٥ ـ
١٢٦ ـ خالقداد (لیکوال) ٤٢ ـ
١٢٧ ـ خواجه محمد بنگښ (شاعر) ٥١ ـ
١٢٨ ـ خانگل خلیل (شاعر) ٧٨ ـ
١٢٩ ـ خوشحال خان شهید (شاعر) ٨٧ ـ
١٣٠ ـ خانمیر (شاعر) ١١٠ ـ
١٣١ ـ خدای دوست (شاعر) ١١٠ ـ
١٣٢ ـ خدای رحم (شاعر) ١١٥ ـ
١٣٣ ـ خادم (شاعر) ١٢٥ ـ
١٣٤ ـ خواجه محمد ملا (شاعر) ١٢٦ ـ
١٣٥ ـ خالد (شاعر) ١٢٦ ـ

Marfat.com

۱۰۷ - حمید گل (شاعر) ٦۵ -
۱۰۸ - حسین (شاعر) ۱٦ -
۱۰۹ - حافظ (شاعر) ۸۳ -
۱۱۰ - حاجی میر ویس (پاچا) ۹۸ -
۱۱۱ - حمید گل (شاعر) ۱۰۷ -
۱۱۲ - حبیب الله خان کاکړ (شاعر عالم) ۱۰۷ -
۱۱۳ - حضرت علی (شاعر) ۱۰۹
۱۱٤ - حبیب گل میا (لیکوال شاعر) ۱۲۵
۱۱۵ - حسن (شاعر) ۱۲٦ -
۱۱٦ - حیدر خان (شاعر) ۱۲٦ -
۱۱۷ - حاجی اختر (شاعر) ۱۲٦ -
۱۱۸ - حمید الله (شاعر) ۱۲٦ -
۱۱۹ - حلیم ابا (شاعر) ۱۲٦ -
۱۲۰ - حسین (لیکوال) ۱٦۲ -

(خ)

۱۲۱ - خر ښبون (شاعر) ۱۲ - ۲۵
۱۲۲ - خوشحال خان ختك (شاعر) ٤٦ - ۵۸ - ۰۰
۱۲۳ - خلیل نیازی (شاعر) ۱۹ - ۲٦ -
۱۲٤ - خان جهان لودی (مؤرخ) ۲۳ -
۱۲۵ - خواجه صدرا کوزی (عالم) ۳۷ -
۱۵۳ - روزق الله (شاعر) ۹۰ -
۱۵٤ - رحمت داوی (شاعر) ۹۲ - ۱۰۰
۱۵۵ - رسول داد (شاعر) ۱۰۸ -
۱۵٦ - رشید (شاعر) ۱۲۵ -
۱۵۷ - رحمت (شاعر) ۱۲٦ -
۱۵۷ - رمضان (شاعر) ۲٦ -
۱۵۹ - رستم (شاعر) ۱۲۷ -

(ز)

۱٦۰ - زرغون خان (شاعر) ۱۹ -
۱٦۱ - زرغونه (شاعره) ۲۰ -
۱٦۲ - زعفران ملا (عالم، لیکوال) ٦۹ - ۹۹
۱٦۳ - زینبه میرمن (شاعره) ۷۵ - ۹۹
۱٦٤ - زبردست کاکړ (شاعر) ۹۳
۱٦۵ - زرداد خان (لیکوال) ۹۷ -

۱۳٦ - خدابخش (شاعر) ۱۲۷ -

(د)

۱۳۷ - دوست محمد کاکړ (شاعر) ۲۰ -
۱۳۸ - دولت (شاعر) ۳۸ -
۱۳۹ - دراز خان (شاعر) ٦۳ -
۱٤ - داؤد خان (شاعر) ٦٦ - ۹۹ -
۱٤٤ - درد و ستم (شاعر) ۱۰۷ -
۱٤۲ - دوست محمد ختك (») ۱۰۸ - ۱۳۹ -
۱٤۳ - دور محمد (شاعر) ۱۱۱ -
۱٤٤ - دارا شاه (شاعر) ۱۲۷ -
۱٤۵ - دچکنور ملا صاحب ۱۲۹ -
